د

# حمزه شنواري

# کلیات

څلورم جلد

پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي

د

# حمزه شنواري

# کلیات

PROPERTY OF
ACKU
12973

## شلورم جلد

---

ترتیب او تدوین ډاکټر راج ولي شاه خټک
" " محمّد جاوید خلیل

نظرثاني

پروفیسر پرېشان خټک

پروفیسر محمّد نواز طائر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00012473 4

ټول حقوق محفوظ دي

د پښتو اکېډېمۍ د مطبوعاتو سلسله نمبر ۹۳۴

---

د کتاب نوم ——— د حمزه شنواري کلیات
——— څلورم جلد
د مصنف نوم ——— امیر حمزه خان شنوارے
چاپونکے ——— ډائرېکټر پښتو اکېډیمي
پېښور یونیورسټي
د چاپ کال ——— ۱۹۹۷ء
نوې املا او پروف ——— محمد جاوېد خلیل
کتابت ——— لطف الله خوشنویس
شمېر ——— یو زر
قیمت ——— ۱۸۰/- روپۍ
سټوډنټس ایډیشن ——— ۱۵۰/- روپۍ

په اهتمام د محمد جاوېد خلیل په ملت پرنټرز لاهور کښې چاپ
شو او د پښتو اکېډېمۍ پېښور یونیورسټۍ نه خور شو.

# فهرست


| نمبر | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه — ډاکټر راج ولي شاه خټک | ۲۱ |
| | **و** | |
| ۲ | عالم کښې د عدم مې شو مضطر شباب بیا | ۲۵ |
| ۳ | دا اوښکې چې د زړۀ نه زما سترګو ته تکل کا | ۲۶ |
| ۴ | نن دې پښتنه چې اشنا زما د زړۀ کا | ۲۸ |
| ۵ | اوښکې مې لۀ ډېره ضبطه ډېره رواني کا | ۳۰ |
| ۶ | سر و مال مې لۀ تا زار کړو ایمان لا | ۳۲ |
| ۷ | شته په هر طرف کښې زمونږ پیام د بې نوا | ۳۳ |
| | **ت** | |
| ۸ | کۀ دې غونډ کړو د مکرې دنیا پۀ ست | ۳۴ |
| ۹ | د ګلشن لۀ زلمیتوبه بهار اُووت | ۳۵ |
| ۱۰ | څۀ کۀ په عشق کښې لاجوابه اُووت | ۳۷ |
| | **ټ** | |
| ۱۱ | د یار مینې په ما اوکړو اثر پټ پټ | ۳۸ |


۱۸۰۳

## ځ


۱۲ ځهٔ مې پوښتې له ژړا ، راشه اوګوره وریځ ۳۹


## خ


۱۳ ستاجمال دے نمایاں زما په مخ ۴۱
۱۴ پهٔ مخونو کښې ښائسته مې دے دیار مخ ۴۲


## د


۱۵ خرد ځېلې زړهٔ زما چې کیف دجنون اوموند ۴۳
۱۶ وایه ځهٔ خو ته دفراق لاس بنه دمےکهٔ بد ۴۴
۱۷ چې اخستے چا دمال او دکمال خوند ۴۵
۱۸ ما د فرقت سحر سبا اونهٔ لید ۴۶
۱۹ زړهٔ مې زخمي ځاځې ترې خون ماپرې پرهر اونهٔ لید ۴۷
۲۰ عشق مې محتاج دهېڅ هنر اونهٔ لید ۴۸
۲۱ خدائے زده ځهٔ مې دے مراد اوځهٔ مقصود ۴۹


## ر


۲۲ دغېرو ښکار نهٔ وے هیڅرې دشېرانو پکار ۵۰
۲۳ اوښکوګل رنګو ته مې ګوره حکایت ځه پکار ۵۱
۲۴ چرې نهٔ وي حق لېدونکې سترګه ترتر ۵۲
۲۵ دازهٔ یم چې حاصل راته عرفان دے دتعمیر ۵۳
۲۶ دنقطې نه دے د عشق زما سفر ۵۵
۲۷ زهٔ شوم ائینه چې ګورم ستا پهٔ لور ۵۸


ACKU

۱۸۰۴

## ړ

| | | |
|---|---|---|
| ۲۸ | د ښائیست ئې د سپین مخ حُسنې اشرلاړ | ۶۰ |

## س

| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | عاشق وي ېنولے تل په لاس کښې سرپاس | ۶۲ |
| ۳۰ | پټ شهٔ نهٔ پټیږي رانه اوس دهغې شپې نه پس | ۶۳ |
| ۳۱ | رقیب سور مې دے په سر لکه عسس | ۶۵ |
| ۳۲ | جانان مې ګلفروش دحقیقت چمن په لاس | ۶۶ |

## ق

| | | |
|---|---|---|
| ۳۳ | زهٔ چې ستا په چاکرۍ کښې یَمه چاق | ۶۷ |

## ګ

| | | |
|---|---|---|
| ۳۴ | عشق مې بنا کړے جوړوي دبقا رنګ | ۶۸ |
| ۳۵ | داچې راته وائې نه ئې ته زما په رنګ | ۷۰ |

## ل

| | | |
|---|---|---|
| ۳۶ | پهٔ تصوّر دیار ودان مې شو وطن دخیال | ۷۲ |
| ۳۷ | یو سره لښتي چې شو سیند وبه شول | ۷۳ |
| ۳۸ | زهٔ ئې څهٔ کړم چې اشنا دے دجبې ګُل | ۷۵ |
| ۳۹ | چې ما د محبت نهایتونه لټول | ۷۷ |

## م

| | | |
|---|---|---|
| ۴۰ | کیف او مسرّت چې د فنا او دعدم لرم | ۷۸ |
| ۴۱ | د اویس قرني سترګې لرم | ۷۹ |
| ۴۲ | ستا لیمهٔ مې اوکاتهٔ اوس څهٔ ګورم | ۸۰ |




ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۴۳ | شومه واصل چې بې نظر لاړم | ۸۱ |
| ۴۴ | د تا شربت د وصلت زهٔ بيمار د غواړم | ۸۲ |
| ۴۵ | ځان په الفت کښې د الف په شان لغړ غواړم | ۸۳ |
| ۴۶ | خدائے زده چرته يې کړم غونډ کله تړم | ۸۴ |
| ۴۷ | ستا مې افسانه کړه افسانه دې کړم | ۸۵ |
| ۴۸ | راز د مستۍ هيڅ را معلوم نهٔ شو بېنهٔ پوهېږم | ۸۶ |
| ۴۹ | التفات کښې د نظر که يارا ستاشم | ۸۸ |
| ۵۰ | زهٔ چې پښتونوا له لهٔ خپل زړهٔ ويستلے نهٔ شم | ۸۹ |
| ۵۱ | په چلم کښې مې دور نهٔ شو د اشناغم | ۹۱ |
| ۵۲ | بدرنګي دې په بنايُست کښې سينګار وينم | ۹۲ |
| ۵۳ | نن دې رنګ د ډېره قهره بدل وينم | ۹۴ |
| ۵۴ | د سبا کړم انتظار زهٔ چې وينښ سحر سبا يُم | ۹۵ |
| ۵۵ | زهٔ عاشق يمه لازم ده چې برباد يُم | ۹۶ |
| ۵۶ | د هستۍ د موړ په سترګه کښې حُبار يُم | ۹۸ |
| ۵۷ | د اثبوت به څهٔ کم نهٔ وي چې شاعر يُم | ۹۹ |
| ۵۸ | زهٔ د زړونو په افق لکه د نمر يُم | ۱۰۰ |
| ۵۹ | ګېر په جال کښې د عصيان لکه مګس يُم | ۱۰۲ |
| ۶۰ | اُميد وار يُم د کرم کهٔ بد قماش يم | ۱۰۳ |
| ۶۱ | چې مې غم کړو زړهٔ کباب په شراب خوښ يُم | ۱۰۵ |
| ۶۲ | تهٔ کهٔ شمع يې کهٔ ګل يې زهٔ پرې سوے په هر رنګ يُم | ۱۰۶ |
| ۶۳ | چې مې خيال د ستا د مخ وي که هر څو بد يُم خو ښهٔ يُم | ۱۰۷ |

۶۴ دم مې خوب د مېړتون شو غزاله يم ۱۰۸

۶۵ بې نيازه د ساقي د پيمانې يم ۱۰۹

۶۶ ستا ستمګاره زهٔ ممنون ولې يم ۱۱۰

ن

۶۷ داسرې غمجنې سترګې خوجلوت دے د ارمان ۱۱۲

۶۸ اسوېلو مې جوړ په زړهٔ کښې کړ طوفان ۱۱۴

۶۹ چې په يار شومه مفتون ۱۱۵

۷۰ وې په حقيقت کښې لکه ګل هسې خندان ميَن ۱۱۷

و

۷۱ کهٔ ده بلبل د تصرّف د ګلستان خسرو ۱۱۹

۷۲ عشق په زړهٔ کښې مقام اونيؤ ګريان ټېرشو ۱۲۰

۷۳ تهٔ مې هېرکړې خومهٔ وايه چې دردونه لاړه لبس شو ۱۲۱

۷۴ څو مې چې لټون کړو هغه ښکلي بهٔ معدوم شو ۱۲۲

۷۵ ښکارې اوس ارمانه سروکار دې جوړ لهٔ نوله شو ۱۲۴

۷۶ ذوق يې د ښکلا لهٔ هرې ددې چې کامل نهٔ شو ۱۲۶

۷۷ پهٔ اخر کښې چې زوال دے، څهٔ مطلب يې د شيندلو ۱۲۷

۷۸ دا څرنګې ژوندون دے چې يار نهٔ وينم پهٔ سترګو ۱۲۹

۷۹ راستون شولهٔ حجازه کاروان د پښتنو ۱۳۰

هٔ

۸۰ اُلفت دستا لرم چې زهٔ بيا يم اووايه بد په څهٔ ۱۳۲

۸۱ بدکوُوم کهٔ ښهٔ کوُوم د چا راسره څهٔ ۱۳۳

| | | |
|---|---|---|
| ٨٢ | لاړه خوشحالي مې یوړه غم جوړې واده شه | ١٣٤ |
| ٨٣ | ساقي جوړ خپلو مستو سترګو ته دې پیام اونه که | ١٣٦ |
| ٨۴ | نن څه به د باصر نه درته اووایم چې څه وه | ١٣٨ |

ه

| | | |
|---|---|---|
| ٨٥ | پکار مې شوه ژړا د انتظار په توره شپه | ١۴٠ |
| ٨٦ | سوز د اضطراب مې شو رسید د صبر مغزته | ١۴٢ |
| ٨٧ | ته متاع د وصال راکړه ماڅخه مې سر بها شته | ١۴٣ |
| ٨٨ | په نغمه کښې ئې د زړه سوز و ګداز شته | ١۴۴ |
| ٨٩ | غریبان د فن که شته دے په پښتو کښې غني هم شته | ١۴٥ |
| ٩٠ | چې مې غم د حد نه زیات شو لو غم نشته | ١۴٧ |
| ٩١ | چې ساقي راته وئیل چې شراب نشته | ١۴٨ |
| ٩٢ | زلفې دې نمر مخیه کړه ښکاره خپلو مینو ته | ١۴٩ |
| ٩٣ | جدائي مې یاره ستا شوله په برخه | ١٥٠ |
| ٩۴ | طبیب وائي چې دوا کړه دعا پرېږده | ١٥١ |
| ٩٥ | سینې لره راز عله تهمتر پرېږده | ١٥٣ |
| ٩٦ | د سحر سترګه چې راغلې نه ده | ١٥۴ |
| ٩٧ | په ملت راغلې بیا د جمعت نوې ځواني ده | ١٥٥ |
| ٩٨ | څوکه غرور وي ستا د نازه سره | ١٥٧ |
| ٩٩ | بې نوا ستا د رحمتونو د کماله سره | ١٥٨ |
| ١٠٠ | ساقي رامې وړه تسپې او شراب دواړه | ١٥٩ |
| ١٠١ | ستا په زړه کښې دې په جدا ډول روان دواړه | ١٦٠ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۲ | ښتونه چې فراخه دي وختونو مېخانه کړه | ۱۶۲ |
| ۱۰۳ | امامه تا څهٔ ابتدا اوکړه | ۱۶۴ |
| ۱۰۴ | چې په خوب کښې د بوسې دې ترې غلاؤ کړه | ۱۶۵ |
| ۱۰۵ | ستا په تبسّم يې حوصله اوکړه | ۱۶۷ |
| ۱۰۶ | مخ دې د نقاب نه د کثرت خوته ښکاره کړه | ۱۶۹ |
| ۱۰۷ | سر پهٔ صحرا لکه مجنون يَمه دستا د لاسه | ۱۷۰ |
| ۱۰۸ | اے د محبت يقينه توري اند ېښنې شه | ۱۷۳ |
| ۱۰۹ | ښکليه پهٔ ديدن کښې دې ګرانے د مهٔ جوړوه | ۱۷۴ |
| ۱۱۰ | يار مې نشته کور کښې څُکه ده زما ببديا خوښه | ۱۷۶ |
| ۱۱۱ | تاؤ د عشق زما جوسه کړله بد رنګه | ۱۷۷ |
| ۱۱۲ | بس خو لمتون دے چې زهٔ څهٔ ګورمه | ۱۷۸ |
| ۱۱۳ | مجنون دې کړم په عشق کښې صحرا ته لاړمه | ۱۸۰ |
| ۱۱۴ | ما خو بهٔ داوې چې زهٔ هم ستا شومه | ۱۸۱ |
| ۱۱۵ | د حقيقت نه دې خبر نهٔ شومه | ۱۸۳ |
| ۱۱۶ | زهٔ چې ستا د مينې پهٔ مجمر کښې سپيلنے شومه | ۱۸۵ |
| ۱۱۷ | زهٔ د هجران دورځې نول په ماسختن کومه | ۱۸۷ |
| ۱۱۸ | زهد ته مې خدايه نظر ورکړې رندانه | ۱۸۸ |
| ۱۱۹ | والوتمه ډېر خو زهٔ بهرنه شوم د څهٔ نه | ۱۸۹ |
| ۱۲۰ | ستا غمونه به ختمېږي هم کهٔ نه | ۱۹۰ |
| ۱۲۱ | هيڅ پوې نهٔ يم لتا چې شناسا يم اوکه نه | ۱۹۱ |
| ۱۲۲ | عاشقي بهٔ فنا نشي کهٔ پهٔ بل کړې اُورونه | ۱۹۲ |
| ۱۲۳ | داسې کيف مې کړو حاصل د مېکدې نه | ۱۹۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۴ | ژوندے به نهٔ شي پهٔ اشنا مینه | ۱۹۵ |
| ۱۲۵ | بت د عشق مې کړه هستي لکه نینه | ۱۹۷ |
| ۱۲۶ | څې مې د خولې نه ستالهٔ جورهٔ ځنکدن کښې وینه | ۱۹۸ |
| ۱۲۷ | قیاس د میني د قیاسه وهه | ۱۹۹ |
| ۱۲۸ | چې وتم د عشق لهٔ بحره داغوټه راله غوټه شوه | ۲۰۰ |
| ۱۲۹ | اوښکه چې بهرته راغله سپکه شوه | ۲۰۱ |
| ۱۳۰ | په سپرلي دخار په ژبه دګلونو افسانه شوه | ۲۰۳ |
| ۱۳۱ | دنیا کهٔ دې دحسن څهٔ غښتلې غونډې شوه | ۲۰۴ |
| ۱۳۲ | پلار چې زهٔ دوخت ودم پښتنو ته مې پرې نهٔ ښوه | ۲۰۵ |
| ۱۳۳ | وارولې ستړې دې چې بله پیمانه نهٔ وه | ۲۰۶ |
| ۱۳۴ | عشق ته مقابل چې شو لاهو شو پهٔ زور اووایه | ۲۰۷ |

## ي

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳۵ | دالفت مینه د صبر ستنه غواړي | ۲۰۹ |
| ۱۳۶ | څوک چې عاشق وي په رښتیا په زړهٔ کښې خارنهٔ لري | ۲۱۱ |
| ۱۳۷ | هغه ګردونه دراتلونکو قافلو نهٔ ویني | ۲۱۳ |
| ۱۳۸ | کهٔ په برخه مې دمستو سترګو مینه اورسیږي | ۲۱۴ |
| ۱۳۹ | رقیبان مینه دې زړهٔ عاشق وژل ته لري | ۲۱۵ |
| ۱۴۰ | ماته هغه ښکلي څهٔ کهٔ بد وایي کهٔ ښه وایي | ۲۱۶ |
| ۱۴۱ | ستا چې تصوّر په تخیّل د دیوانه کښې دي | ۲۱۸ |
| ۱۴۲ | وحشت مې د صحرا بیا په سر خاورې باده وي | ۲۱۹ |
| ۱۴۳ | اخر به ستا ظلم وستم جورو جفا تېره شي | ۲۲۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۴۴ | چا چې اُلفت د بې وفا سره وي | ۲۲۱ |
| ۱۴۵ | هیڅ نهٔ شوم پوه چې ستا رضا څهٔ بهٔ وي | ۲۲۲ |
| ۱۴۶ | چې وایم اوښکې مې پهٔ سترګو کښې اوس پاتې نهٔ دي | ۲۲۳ |
| ۱۴۷ | وختونه ددې ځلند انتظار څنګه خوابهٔ دي | ۲۲۴ |
| ۱۴۸ | رالره اوس نهٔ اندېښنې هغه اوږدې بس دي | ۲۲۵ |
| ۱۴۹ | پورته کړه نقاب دې چې دنیا لمحهٔ شي | ۲۲۶ |
| ۱۵۰ | اوښکې مې لاړې خو نابنادې سنهٔ دي | ۲۲۷ |
| ۱۵۱ | چې دنیا ئې پهٔ خېره کښې د اسلام تهذیب نهٔ وي | ۲۲۸ |
| ۱۵۲ | ستا مینه بازاري ده کله وي او کله سنهٔ وي | ۲۳۰ |
| ۱۵۳ | ستا کهٔ هستي د حوادثو لهٔ ادراکه اوچې | ۲۳۱ |
| ۱۵۴ | پهٔ ځیل فکر کهٔ واعظ سنادرې وائې | ۲۳۳ |
| ۱۵۵ | کله چې له ځله ځانه تېر شي لارې جوړې شي | ۲۳۴ |
| ۱۵۶ | قربان دې د کاکل نه شو ګېرې نهٔ قبلوي | ۲۳۵ |
| ۱۵۷ | زمانه بېرته پهٔ بېر شو عاشقان ئې دي بللي | ۲۳۶ |
| ۱۵۸ | اشنا د غم چې چې وي اوس تېرې غونډې دي | ۲۳۷ |
| ۱۵۹ | تل بهٔ کړې الوت چې دې وزرې حوصلې دي | ۲۳۸ |
| ۱۶۰ | لا مې خُمار لره لمبې پاتې دي | ۲۴۰ |
| ۱۶۱ | اوس د وخت پهٔ سترګو کښې عتاب نهٔ پیدا کېږي | ۲۴۲ |
| ۱۶۲ | اوس سپین لهٔ یاره وځیل ځان وته روان دي | ۲۴۳ |
| ۱۶۳ | چې د نورو سره هم د تا نه دا شي | ۲۴۵ |
| ۱۶۴ | مهربان چې پهٔ هر چا باندې مولا شي | ۲۴۶ |




ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ١٦٥ | ديلې كړو غمونو د زړګي مې صدا نهٔ راځي | ٢٤٧ |
| ١٦٦ | بلبل پوځې پهٔ عاقبت د ګل ژړا کړي | ٢٤٨ |
| ١٦٧ | ښکلې کهٔ کوتره وي چې يوناځاپه بازه شي | ٢٥٠ |
| ١٦٨ | ښکليو ته هردم چې بهانه راځي | ٢٥١ |
| ١٦٩ | چې نظر ديو د بله برابر شي | ٢٥٣ |
| ١٧٠ | پهٔ کوم سبب چې دروازه زما نظر ښکلوي | ٢٥٤ |
| ١٧١ | ستا اختر دې د اختر لکه اختروي | ٢٥٥ |
| ١٧٢ | ښکليه دا خلق چې ما نهٔ پېژني | ٢٥٦ |
| ١٧٣ | طلب د يار زړګيه پاسه په پالنګ نښتي | ٢٥٨ |
| ١٧٤ | پهٔ ښو غشو د ستا چې څوک ګهائل وي | ٢٥٩ |
| ١٧٥ | يار مې سر ديو بوسې په بدل وائي | ٢٦٠ |
| ١٧٦ | په ښپښتې وينه زرغون ښکاري | ٢٦١ |
| ١٧٧ | وختونه دي اړخونو بدلوي را بدلوي | ٢٦٣ |
| ١٧٨ | چې د عالم سره صحبت نهٔ کړې جاهل ته رسي | ٢٦٤ |
| ١٧٩ | حيف يې په ژوند، هغه چې ستا له ملاقاته ووځي | ٢٦٦ |
| ١٨٠ | بوې مې ديار د تورو زلفو عنبرو راځي | ٢٦٨ |
| ١٨١ | تا چې لاس زما د زړهٔ پهٔ وينو ولړي | ٢٦٩ |
| ١٨٢ | لړې لړې چې پهٔ ځايونو کښې سنبل ښکاره شي | ٢٧١ |

## ې

| | | |
|---|---|---|
| ١٨٣ | تا چې پلڼې د اُلفت په سر اخستې | ٢٧٢ |
| ١٨٤ | ستا پهٔ وصال کښې کهٔ هر څو دېرې ګرانې پرېوتې | ٢٧٣ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸۵ | کله مې وژني کله ماله جام دجم راکوي | ۲۷۵ |
| ۱۸۶ | کهٔ زړهٔ وته زما نوي داغونه راليږي | ۲۷۶ |
| ۱۸۷ | تا مې ارمانونه کړه همه دخاورو لاندې | ۲۷۷ |
| ۱۸۸ | چې دنيا کاندي حيرانه راپيدا کړه هنر داسې | ۲۷۸ |
| ۱۸۹ | پهٔ دوا څهٔ چې مرض وي پهٔ دوا کښې | ۲۸۰ |
| ۱۹۰ | ستا د بې نيازۍ نه پښتې شوې زما اوښکې | ۲۸۱ |
| ۱۹۱ | ګل دې نن دچا دپاره اېښے دے پهٔ سر کښې | ۲۸۳ |
| ۱۹۲ | هغه ځان بهٔ کله ځان شي پهٔ جهـان کښې | ۲۸۵ |
| ۱۹۳ | نن چې بلبلان او بوراګان دې پهٔ چرچه کښې | ۲۸۷ |
| ۱۹۴ | لهٔ رهزنه نشته هېڅ خطر پهٔ زړهٔ کښې | ۲۸۹ |
| ۱۹۵ | بويه بويه چې بهٔ بيا راسره يار شي | ۲۹۰ |
| ۱۹۶ | ورځه نهٔ تلې سـنهٔ راغـلې سترګې | ۲۹۱ |
| ۱۹۷ | پهٔ ديدن داشنا تږولېم سترګې | ۲۹۲ |
| ۱۹۸ | وې کهٔ دختونو څهٔ چې اوبهٔ اوبهٔ شوې | ۲۹۳ |
| ۱۹۹ | اوس تپوس مې چې پهٔ وروځو کړې کامل شوې | ۲۹۵ |
| ۲۰۰ | اوښکې مې راغلې خو څـهٔ ستنې شوې | ۲۹۷ |
| ۲۰۱ | دلبر چې پهٔ رنجو کـړې سترګې تورې | ۲۹۹ |
| ۲۰۲ | يو دي زما اوسـتا د زړهٔ خـبرې | ۳۰۰ |
| ۲۰۳ | چې پهٔ محفل کښې راتـه نهٔ راګـورې | ۳۰۲ |
| ۲۰۴ | پـه کاشانه زما پهٔ قهر جانان رامهٔ ولې | ۳۰۴ |
| ۲۰۵ | کله کله داسې غنيمت وي چې بهٔ څـه واځې | ۳۰۵ |




ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰۶ | دومره رانه پټ دومره ښکاره لکه خیال یې | ۳۰۷ |
| ۲۰۷ | خیاله دیاره تل په زړۀ کښې ما اوګرځولې | ۳۰۸ |
| ۲۰۸ | ډېر کرم اوسیلي سارۀ سارۀ خو تۀ تاوجن یې | ۳۰۹ |
| ۲۰۹ | چې مې په زړۀ کښې په لیمو کښې تۀ یې | ۳۱۰ |
| ۲۱۰ | اوس که زۀ هغه زۀ نۀ یم نو تۀ هم هغه تۀ نۀ یې | ۳۱۲ |

## ے

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱۱ | چې نظر مې شو نظر، نظر د چا دے | ۳۱۳ |
| ۲۱۲ | راوړے مې ستا قبر ته د ژوند عظیم خبر دے | ۳۱۴ |
| ۲۱۳ | چې په کار شي د سړي هغه سړے دے | ۳۱۵ |
| ۲۱۴ | زۀ یم چې د یار په پټ مې سر ورکړے دے | ۳۱۷ |
| ۲۱۵ | چا چې نړان ته خپل قدم په لاره سم ایښے دے | ۳۱۸ |
| ۲۱۶ | نن سمندر لوارګي ته په څپو راغلے دے | ۳۱۹ |
| ۲۱۷ | بېګا په خوب کښې ما ښکلے اشنا لیدلے دے | ۳۲۱ |
| ۲۱۸ | د دعوت مې رقیب کړے انتظام دے | ۳۲۲ |
| ۲۱۹ | یو نفس کښې بیابان مې بل نفس مې ګلستان دے | ۳۲۳ |
| ۲۲۰ | نن لۀ ورایه په خندان راته جانان دے | ۳۲۴ |
| ۲۲۱ | چې د یار غم نۀ وي بل غم په غم حساب نۀ دے | ۳۲۵ |
| ۲۲۲ | خو چې جام مې د شراب موندلے نۀ دے | ۳۲۶ |
| ۲۲۳ | هوښیاره راته وایه چې روغ څۀ لیونے څۀ دے | ۳۲۷ |
| ۲۲۴ | په خوشحالۍ او په خندا سره اختر راغے | ۳۲۸ |
| ۲۲۵ | افسوس دے په دعا کښې مې اثر رانغے | ۳۲۹ |
| ۲۲۶ | یار د وصال چاله نعمت خو میسّر رانغے | ۳۳۰ |

# نظم


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | دعا | ۳۳۲ |
| ۲ | شهید کربلا | ۳۳۶ |
| ۳ | پیر بابا | ۳۴۴ |
| ۴ | معصومه دنیا | ۳۴۵ |
| ۵ | سپېره دنیا | ۳۴۷ |
| ۶ | نسب | ۳۵۱ |
| ۷ | قومیت او مذهب | ۳۵۲ |
| ۸ | صوفي ته خطاب | ۳۵۴ |
| ۹ | د دنیا خوب | ۳۵۸ |
| ۱۰ | د ازاد قبایلي جذبات | ۳۶۱ |
| ۱۱ | خواست | ۳۶۲ |
| ۱۲ | نصیحت | ۳۶۳ |
| ۱۳ | قناعت | ۳۶۵ |
| ۱۴ | اتفاق او برکت | ۳۶۶ |
| ۱۵ | همّت | ۳۶۹ |
| ۱۶ | وحدت او مِلّت | ۳۷۱ |
| ۱۷ | انسانیت | ۳۷۲ |
| ۱۸ | معراج | ۳۷۴ |
| ۱۹ | درد | ۳۸۲ |
| ۲۰ | ژوند | ۳۸۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ | امید | ۳۸۹ |
| ۲۲ | انتظار | ۳۹۴ |
| ۲۳ | کار | ۴۰۰ |
| ۲۴ | سمه لار | ۴۰۱ |
| ۲۵ | بهار | ۴۰۴ |
| ۲٦ | زما اختر | ۴۱۲ |
| ۲۷ | زما اختر | ۴۱۴ |
| ۲۸ | نماز دیگر | ۴۱٦ |
| ۲۹ | شاعر | ۴۲۰ |
| ۳۰ | دکربلا سپوږ | ۴۲۴ |
| ۳۱ | ابر او مزدور | ۴۳۳ |
| ۳۲ | دعلامه اقبال په تصویر | ۴۳٦ |
| ۳۳ | دشاعر دزړهٔ اواز | ۴۳۸ |
| ۳۴ | جرس | ۴۴۳ |
| ۳۵ | نفس | ۴۴۴ |
| ۳٦ | دشهید نه تپوس | ۴۴۵ |
| ۳۷ | خواهش | ۴۴۷ |
| ۳۸ | خالق او مخلوق | ۴۴۹ |
| ۳۹ | ننګیالے خوشحال خان خټک | ۴۵۱ |
| ۴۰ | ژوند او مرګ | ۴۵٦ |
| ۴۱ | دفدا مطهر په مرګ | ۴۵۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۲ | لوټے جنګ | ۴۶۰ |
| ۴۳ | زغم | ۴۶۴ |
| ۴۴ | د حسن غم | ۴۶۵ |
| ۴۵ | پاکستان | ۴۶۶ |
| ۴۶ | انسان | ۴۶۹ |
| ۴۷ | کامل انسان | ۴۷۱ |
| ۴۸ | په تېره ارمان | ۴۷۳ |
| ۴۹ | ننني پښتون | ۴۷۴ |
| ۵۰ | لټون | ۴۷۶ |
| ۵۱ | ژوندون | ۴۷۷ |
| ۵۲ | مینه او بیلتون | ۴۷۹ |
| ۵۳ | پښتو | ۴۸۰ |
| ۵۴ | چي لوګے حج ته تلو | ۴۸۲ |
| ۵۵ | د ازادۍ جذبه | ۴۸۴ |
| ۵۶ | پښتو ژبه | ۴۸۶ |
| ۵۷ | خپله ژبه | ۴۸۷ |
| ۵۸ | د سپرلي يوه شپه | ۴۹۰ |
| ۵۹ | ښځه | ۴۹۶ |
| ۶۰ | يو اشنا ته | ۵۰۱ |
| ۶۱ | يو زاهد ته | ۵۰۳ |
| ۶۲ | ګرېجوېټ او ايډوکېټ ته | ۵۰۴ |

| | | |
|---|---|---|
| ۶۳ | زمیندار ته | ۵۰۷ |
| ۶۴ | پیر صاحب ته | ۵۰۹ |
| ۶۵ | د سحر چرګ ته | ۵۱۵ |
| ۶۶ | ډپټي اسلم خان ته | ۵۱۸ |
| ۶۷ | زمیندار ته | ۵۲۰ |
| ۶۸ | مراد علي ته | ۵۲۴ |
| ۶۹ | طالب علم ته | ۵۲۸ |
| ۷۰ | پښتون ته | ۵۳۰ |
| ۷۱ | د زلمي افغان سندره | ۵۳۳ |
| ۷۲ | یوه نعره | ۵۳۷ |
| ۷۳ | د چیلم نعره | ۵۳۹ |
| ۷۴ | نمر او ذره | ۵۴۵ |
| ۷۵ | چغه | ۵۴۸ |
| ۷۶ | خوشحال خان بابا د خپلې ژبې په حقله | ۵۵۱ |
| ۷۷ | خوبونه | ۵۵۵ |
| ۷۸ | پرېشان خیالونه | ۵۵۷ |
| ۷۹ | جونګنه | ۵۶۰ |
| ۸۰ | پښتنه فقیره | ۵۶۴ |
| ۸۱ | د سنه ۱۹۷۶ ئه د روزنامچې نه | ۵۷۲ |
| ۸۲ | صفائي | ۵۷۴ |
| ۸۳ | کفایت شعاري | ۵۷۸ |




ACKU

| | | |
|---|---|---|
| ۸۴ | خودي | ۵۸۰ |
| ۸۵ | دحسینؓ قرباني | ۵۸۳ |
| ۸۶ | په خوب کښې | ۵۹۱ |
| ۸۷ | دجمرود په دشت کښې | ۵۹۲ |
| ۸۸ | یوه زانې | ۵۹۶ |
| ۸۹ | شپون او شپیلۍ | ۵۹۹ |
| ۹۰ | هنر دې ښځه دے | ۶۰۳ |
| ۹۱ | سندر ایز پسرلے | ۶۰۷ |
| ۹۲ | مچ او چوارړے | ۶۱۱ |
| ۹۳ | تیتلے | ۶۱۳ |
| ۹۴ | جنګی پسرلے | ۶۱۴ |


---



ACKU

ACKU

بسم الله الرحمٰن الرحیم

PROPERTY OF ACKU 12473

# سریزه

دامیر حمزه خان شینواري دکلیاتو ځلورم جلد ستاسو په وړاندې دے ـ ددې نه مخکښې پښتو اکېډیمۍ دکلیاتو درې جلدونه شائع کړي دي ـ دڅلورم جلد په راوېستو کښې لږ ځنډ راغے ـ دڅغې ډېر اسباب دي ـ یوه داچې داکېډیمۍ په دغه منصوبه کښې دحمزه شینواري دمنظوم کلام کلیات په پنځو جلدونو کښې مرتب کول وو ـ دامنصوبه چې په کومو حالاتو کښې منظوره کړے شوه ـ او دبیرې کوم حالت سره مونږ مخ شوي وو ـ دهغې حال وخت په وخت لوستونکیو ته وړاندې کړے شوے دے ـ خو په دې کوښو کښې زهٔ دمحترم استاذ پروفېسر پرېشان خټک صېب ډېره ډېره مننه کوم چې دهغوئ په زیار او کوشش او هم دستر حمزه شینواري سره دمینې او عقیدت لهٔ وجې دکلیات شائع کېدل ممکن شول ـ دیونیورسټي ګرانټس کمېشن دچیرمین په حېث پروفېسر پرېشان خټک صېب ډېر پهٔ فراغ زړهٔ دا منصوبه منظوره کړې وه ـ او ټول مالي امداد هم دهغوئ په برکت تر لاسه شوے دے ـ دحالاتو دتقاضې په سبب پهٔ ډېره لږه موده کښې دکلیاتو درې جلده راایستل وو ـ چې دغسې دا منصوبه شروع واخلي ـ او باقي پاتې جلدونو او هم دکلیاتو د

نثر برخې ته لاره هواره کړې شي ـ ولې یواځې دنظم برخې دپاره
ګرانښت منظور کړې شو ـ مونږ د بېړې او له دغه تقاضې د مخه
د امیرالمتغزلین حمزه شینواري د هغه اشعارو (غزلونو) انتخاب
په وړاندېنو دریو جلدونو کښې وکړو ـ کوم چې په اسانه ترلاسه
کېدے شول ـ اګرچې په هغه وخت کښې هم مونږ په دې صلاح
او غور کړې وُ ـ چې دکلیات شائع کول بائد په روایتي انداز کښې
ردیف وار وکړے شي یا تاریخ وار درج کړے شي ـ چې پښتانهٔ د
سترحمزه شینواري د شوي فکر لهٔ ارتقاء څنې خبر شي ـ خو د
حالاتو تقاضا داوه چې مونږ دې زرتر زره وړاندېنې درې جلدُه نه
په چاپ شکل کښې د منصوبې د وړومبنۍ برخې په توګه شائع کړو ـ نو
د وخت دکمي په سبب مونږ نهٔ داکلیات ردیف وار مرتب کړے شول.
او نهٔ تاریخ وار ـ په تاریخ ترتیب مونږ کار شروع کړے وُ ـ خو د
سترحمزه شینواري بیاض لا لاس ته نهٔ وُ راغلے ـ نو په دا سبب
په وړومبنو درې جلدونو کښې هغه کلام شائع کړے شو چې مونږ
سره موجود وُ ـ په دغه درې جلدونو کښې نهٔ خو دځهٔ قسمه
ترتیب ممکن کېدے شو او نهٔ دداسې کلیاتو د ترتیبولو په روایت
پسې تلل ـ ولې داخبره هم ضروري وه چې پښتنو ته دسترحمزه شینواري
ټول منظوم کلام ورسولے شي ـ کهٔ په هر رنګ کښې وي ـ ددې کار او
منصوبې د ډېرې پزیرایۍ سره سره د دوستونکو لهٔ اړخه وخت په وخت
تنقیدي نظر هم مونږ ته راورسېدو او ورسره ډېرې مفېدې مشورې
هم چې دهغو دپاره مونږ د دوستونکیو او مهربانو ډېره منه کوُو. خو

شاید هغوئ زمونږ ددې مجبورۍ نه پوره خبر نهٔ وُو - ددې نه علاوه څه دکتابت څهٔ دطباعت او څهٔ د پروف غلطۍ هم دي - ولې دا هر څهٔ زمونږ په نظر کښې دي - کهٔ خېروي په بل ایډیشن کښې به دا هر څهٔ درست کړے شي -

ددې څلورم جلد پحقله د کافي غور او حوض نه مونږ دا غوره کړه چې د غلطیو امکان پکښې دکم نه کم کړے شي - ورسره مو د توستونکیو دا سانۍ دپاره د غزلونو فهرس هم ورکړے دے او کوشش موکړے دے چې د غلطیو امکان پکښې کم شي - ولې دا خبره هم ده چې په دې جلد کښې غزلونه د بیاض نه رانقل کړے شوي دي - او بیاض په داسې حالت کښې وُ چې لوستل یې په ډېر کړاو کېدے شو - نو کـهٔ داسې څه غلطي چاته په دې جلد کښې ښکاره شي او مونږ ته یې پهٔ ګوته کړي - نو مونږ بهٔ یې سره د مننې تصحیح کوؤ -

ددې څلورم جلد په حقله بله اهمه خبره دا ده - چې په دې جلد د ستر حمزه شینواري غزلونه تر سره کېږي - چې د هر غزل نمبر ورکړے شوے دے - او په دغه حساب ټول ۱۳۱۹ غزلونه جوړېږي.

د غزلونو سره سره په دې جلد کښې د نظم حصّه هم شامله کړے شوې ده -

پهٔ اخري یعني پنځم جلد کښې به متفرقات، فردونه، منظوم لیکونه سهرې یعنې هر هغه نظم چې ستر بابا په څهٔ نه څهٔ موقع وسُلے دے. شاملولے شي - کهٔ چا سره دغه قسم داسې اشعار موجود وي - چې په ذاتي توګه ورته حمزه بابا لیکلي دي - خو چې منظوم دي - نو مونږ ته

دي راواستوي - چې په اخري جلد کښې ئې ځائے کړے شو - داسې به نزدې نزدې د ستر حمزه شينواري ټول منظوم کلام په پنځو جلدونو (کلياتو) کښې ځائے کړے شي -

په آخر کښې زهٔ د محترم استاذ پروفيسر پرېشان خټک د سترې مرستې يو ځلې بيا مننه کووم چې د هغوئې په سبب د حمزه کليات شائع کول ممکن شول - ورسره زهٔ د ښاغلي مراد شينواري د ډاکټر مسعود او د هغه د ورور امجد علي شکريه ادا کووم چې د کلام راغنډولو او د کلياتو چھاپ په سپځلو مشورو ئې نماځلي يو -

زهٔ د اکېډيمۍ د ځوانې ډائرېکټر پروفيسر محمد نواز طائر صيب هم ډېره مننه کووم چې د کلياتو په اشاعت کښې ئې ډېره دلچسپي څرګنده کړې ده - او د هغهٔ زمونږ نه دا توقع هم ده چې د هغه نه پس دې ورومبے دا کار ترسره کړے شي -

زهٔ د خپلو ملګرو قاضي حنيف الله حنيف، ښاغلي محمد انور خان، ښاغلي لطف الله، ښاغلي محمد رسول، ښاغلي ارشاد خان هم ډېر ممنون يم چې د کار ذمه واري ئې تر خپله وسه په ښهٔ شان ترسره کړې ده - او په تېره تېره خپل ګران ملګري محمد جاويد خليل ته ډېره شکريه وايم - چې که د هغهٔ د شپ وروز محنت نهٔ وے - نو دا طباعت کهٔ ناممکن نهٔ وُ نو دشوار به ضرور وُ -

ډاکټر راج ولي شاه خټک

ډائرېکټر پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي

۱۸۲۴

ACKU

# ١٠٩٣

عالم کښې د عدم مې شو مضطر شباب بیا
شاید د مخ نه دور کړو دلبر نقاب بیا

هم درد وهم دوا ده ژړا ما لره د عشق
باران فناکړې هم ترې شي پیدا حباب بیا

واپس نهٔ ځي چې راشي چرې قاصدان د غم
اوس دا مې دے خیال نهٔ لېږم جواب بیا

صابر څو عشق دے ولې کویائي حسن کړے
زخمک خموش سرکړې پهٔ نغمو رباب بیا

نن چشم سرمه گین ته راځي عقاب بیا
مینا کښې خېل خمار کړو نشه شراب بیا

وحشت مې شو خروش کښې مُسکے چې یار شو
اوس بې خودي د عشق ده مخ کښې سراب بیا

حمزه جنون د عشق شو داعي تیار شه
اوس لار کړه اختیار د صحرا شتاب بیا

* * *

١٨٢٥

ACKU

# ۱۰۹۴

دا اوښکې چې د زړهٔ نه زما سترګو ته تکل کا
چستان د هغو مستو اشارو بهٔ څنګې حل کا ؟

د دوو مینو مینځ کښې چې څوک راشي خبرې نشته
دانه د ژوندانهٔ بهٔ ئې هیڅ‌ن دمیني دل کا

د هجر توري ګورې شپې خو بهٔ سبا کړي
بیکن د چا پهٔ وس کښې ده چې څور د زلفو ول کا

واعظ بهٔ څنګه پوهے کړم خو یوه دې زما واوري
بس دومره چې دا زړهٔ دې لږ زما سره بدل کا

منزل د عاشقۍ کښې چې پرېوتي نهٔ ورا نیږ ي
برېښنا بهٔ لاروو ته ښناني زما د سپل کا

همد مه ددې سیند لهٔ غواصانو تپوس اوکړه
څوک شته دے چې معلوم ې د اشنا د سترګو تل کا

۱۸۲۶

ACKU

چاړه د استبداد ئې چې غالبه په اصول شوه
دې بنګلې حوصلې ته اوس په کار دي چې سرکل کا

دوه کاره کړي ورېل د ښښتې چې په خوړون شي
يو ځاے کښې که ئې مړ کړي په بل ځاے کښې به اوربل کا

حمزه د محبت د تصرف نه به څه وايم
راغونډ يوه لمحه کښې د ابد سره ازل کا

پېښور
۱۵ ر اپرېل ۱۹۷۰ء

*

* * *

*

# ۱۰۹۵

نن دې پښتنه چې اشنا زما د زړهٔ کا
څېلې برنډې سترګې نهٔ پوښتې چې څهٔ کا

د ژوندي حُسن پهٔ مړو سترګو قسم دے
چې ډېر مړي بهٔ ژوندي کا ډېر بهٔ مړهٔ کا

د همّت ذلمیو زړونه کهٔ بای نهٔ کړل
نو بهٔ د... د خوشحالۍ بچُونې وادهٔ کا

دا هنر زما نظر ته مینې زده کړو
چې بار خو دې کله زیړ او کله سرهٔ کا

خېر کهٔ کم پهٔ تول محفل کښې زهٔ ښکاره شم
خو اشنا چې راته ډېر نهٔ ګوري ښهٔ کا

د سرښت لهٔ زوره تود نظر دې څهٔ شو
چې د غم ساړهٔ نبضُونه مې تاودهٔ کا



ACKU

تړون مې کښې یټې خپل حُسن پرده که در دے
په سپوږمۍ د ټخُلسم کښې به راتله کا

ته چې راغلې کوُم دې خوښ ځے چې یې اوکړم
تشکر څوڅوک په زړه اوڅوک په خوله کا

په ټُول ځمځ کښې یې بورا ستړګو ته ګوره
ته به وایې د مستۍ نه الواته کا

بړند بانه دې جوړې ټیټ کړل زما اوښکو
احترام د ښواږتي ښستانه کا

هغه ستړګې چې ور اوګوُرم کچه شي
څه کاروُنه په کچه کښې د پاخه کا

تغافُل کوه هم داسې ډېره ښه ده
چې ستا څوی یې ارمانونه ښستانه کا

ګوره ټیټ زما نظر ته که بانه کړې
ښستانه دي، ښستانه به مسلمانه کا

حمزه ښکارې چې اوس پوهه په مطلب شو
چې اوس تا سره خبرې په لمه کا

۱۸۲۹

# ۱۰۹۶

اوښکې مې لهٔ ډېره ضبطه ډېره رواني کا
سينه چې څومره ډب شي هومره سيمه طوفاني کا

پټ شي پهٔ وريځ کښې کله اوځي لهٔ وريځې
نمر مې د تودو سرو د ژوند ترجماني کا

شوق او انتظار او اضطراب پهٔ زړهٔ بوډي کښې
يا د کهٔ ملتفت شو ترې نه جوړه پهٔ ځواني کا

پوځ وې پهٔ خپل حُسن چې تکل د آئينې کړې
بيا پهٔ خپل ديدن ولې دا ښکلي حيراني کا

سترګو ته دې وايه چې دا ټيټ کاتهٔ ښه نهٔ دي
پوهه دا هند کې کړه چې خويونه افغاني کا

پټ چې پهٔ لباس وي خوښکر چې د حېرت وي
عشق ورته تصوير غونډې پهٔ برخه عرياني کا

۱۸۳۰

۱۹۷۶

ACKU

اوګوري په ترخ او بیا رقیب ته په خندا شي
کله ډېره ډېره چې په ما مهرباني کا

ما ته دي معلوم چې د بو د نفس یې اسیر کړے
ملک یې دے د زړونو مسخر، سلیماني کا

ځو چې حمزه وینه د سینو ارزانیږي
زیاته په دین کښې هومره بنکلي هم ګراني کا

*
* * *
*


۱۶۷۷

# ۱۰۹۷

سرومال مې لتا ذارکړو ایمان لا
تهٔ پهٔ ما ذبې وفا کړې گومان لا

یو خو هسې خونړۍ وې دستاسترگې
بل بانه پهٔ غشي روځې کمان لا

دستا خال چې نشانه دکوم نظر وي
نوم يې ورک شو لهٔ دنیا نه نشان لا

ستا دیدن بهٔ میسّر پهٔ کوشش نهٔ شي
کهٔ مې جان دجان سره شي اوجان لا

ستا رأت دتورو زلفو پهٔ رات پټ دے
تور کافر دے څوکیدار دي ماران لا

دغم یار بهٔ دې حمزه څهٔ رنگ اوچت کړي
چې عاجز ده ورته مزکه اسمان لا

*
* * *

# ۱۰۹۸

شته په هر طرف کښې زمونږ پام د بې نوا
ویړ په شش جهت کښې وینم دام د بې نوا

جام به د اسمان د ده محفل کښې په گردش شي
چاچې شونډې کښېښودې په جام د بې نوا

څوند د بادشهۍ به ئې سبب د انقباض وي
څوک چې له اخلاصه شي غلام د بې نوا

مسکه هې دنیا د بوترابؓ په تصور ده
زیات به له دې نور څه دي اکرام د بې نوا

خلاص ئې کړم د هرو سلامونو نه په ژوند کښې
یو کرت چې ما اوکړو سلام د بې نوا

دا د ذرې پولۍ هم هره ذره ده په معنی کښې
ښکاري چې برپا دے پرې خیام د بې نوا

راشه د حمزه دهر وښتنه نه ئې ونغوړې ه
غواړې که طالبه څه کلام د بې نوا

لواړگے
۸ ر ستمبر سنه ۱۹۵۲ ء

# ۱۰۹۹

کهٔ دې غوښ کړو دسکرې دنیا پهٔ ست
پهٔ عقبیٰ بهٔ دې نازله شي عسرت

د اوّل دُنبال اوّل شي د اوّل سنه
چې راستون شي ابتدا شي نهایت

خودي کور دے د ناپوهې پهٔ دنیا کښې
شته پهٔ کیف د بې خودۍ کښې معرفت

د نسبت غوښونه کښې دي اوازیو دے
د وحدت زینه دار کښه کثرت

د وصال حسرت مې اوُت کهٔ اونهٔ وت
اوس کوُمه پهٔ حسرت پسې حسرت

بناپېرې غونډې دنیا ده چې وې پېغله
بیا بلاشې چې ئې ستهر شي بکارت

د محبوب الهي لهٔ برکته
حمزه دے دې هریو شعر کرامت

* * *

## ١١٠٠

دګلشن لهٔ ذلیتوبه بهــار اوّوت
مئین زړهٔ لکه بُلبل ترې نهـار اوّوت

پهٔ توبـه کښې جوړ مستي وه دشرابو
چې لهٔ سترګو ېې اثر دخُمار اوّوت

خنده روے چې لهٔ فطرتـه لکه ګُل وُ
دخوشبوۍ غوندې ېې رُوح پهٔ قرار اوّوت

قافـله ېې دخاطـر پـهٔ ورکېـدو ده
چې لهٔ لاسه ېې دصبر مُـهار اوّوت

شمع رُویه ستا ژړا ېې ارمان وویست
نن ارمان دې چې زما پهٔ مزار اوّوت

زهٔ ایله دُم خپل ګریوان ته خبر شوے
کهٔ کاتهٔ ېې دګُلشن نه بهار اوّوت

١٨٣٥

ACKU

څې راتلې درنه راوړاندې شو نمر ځنیه
خو چې راغلې له دُنیا ځې سحار اوّوت

نفس کهٔ څو شولو بدل، خوئې ئې لا نهٔ شو
رنګ ئې نهٔ ځي کهٔ پوستکے د مار اوّوت

لیونې خو بس هم دې ته حمزه وائي
راز دعشق دې چې د خولې نه په چار اوّوت

لواړګے

۱۴ر جولائي ۱۹۷۰ء

⋆
⋆ ⋆ ⋆
⋆



ACKU

# ۱۱۰۱

څه که په عشق کښې لاجوابه اووت
ستا د محفل نه چې بې ابه اووت

زاهد د میو نه پرهېز اوکړو
څنګه نېکبخت ؤ له ثوابه اووت

بوږ اوږو سترګو دې تالا کړو حُسن
چې زړهٔ دِ اشکون دې له شبابه اووت

چا اوغندلو په اُلفت کښې جنون
ولې د مېنې له ادابه اووت

تولې پردې خو دچل ځان وې زما
هغه اشنا خو بې حجابه اووت

د ویښو سترګو تصوّر مې کړو پوخ
ځکه غفلت زما له خوابه اووت

اوس چې وحدت شو د حمزه په نصیب
خو د بنائست له اِنتخابه اووت

★
۱۸۳۷

# ۱۱۰۲

د يار مينې په ما اوکړو اثر پټ پټ
ښخ په زړهٔ کښې مې د روځو خنجر پټ پټ

سرايت مې داسې عشق اوکړو بدن کښې
لکه جُز مې د فطرت دے عنصر پټ پټ

د يار روځې دي خنجر بانهٔ دي غشي
چيچې زړهٔ مې د زلفانو اثر پټ پټ

چې نقاب په مخ وربر کړي داسې ښکاري
لکه يون کړي په وريځ کښې قمر پټ پټ

داسې زهٔ يې تهمتي شوم په الفت کښې
چې د خلقو ځنې کړم در در پټ پټ

په غلا غلا د رقيبانو له نګاهه
خوره حمزه د سرو لبانو ثمر پټ پټ

*

* * *

۱۸۳۸

# ۱۱۰۳

څهٔ مې پوښتې له ژړا، راشه اوګوره وريځ
چې باران او وروي، پسينه‌شي توره وريځ

څهٔ په دې غم کهٔ راشي، سترګې لمدې نهٔ کاندي
چې بې بارانه راځي، څهٔ بهٔ وي سپوره وريځ

فصل مو پوخ دارمان دادے رندانو شولو
وخت دغوبل مو راغے، شوله سمسوره وريځ

غم ژړا راوسته ځي، ورپسې نور بهٔ راشي
پهٔ پښه کال کښې راځي، نوره پهٔ نوره وريځ

اوس اسويلي مې اشنا چغوته ځان جوړوي
ساکنه نهٔ وي مُدام، دکه لهٔ شوره وريځ

سارهٔ اهونه بهٔ مې ستا تغافل اوسيزي
کړي تندرونه پيدا، لهٔ ځيله زوره وريځ



ACKU

د بېلتانهٔ لهٔ خيـاله ، د وصال خوند اوڅښتي
پهٔ شين اسمان شي پيدا ، لهٔ کومه لوره وريځ

د اسې د زُلفو سودا ، خلاص د سودا نهٔ کړمه
لکه د للمو پهٔ غم ، اوري غمـخوره وريځ

خوئ د کاکُل خوګوره ، غم کړي پېرزو په رقيب
پهٔ ورانه لاره لاړه ، حمزه ښکوره وريځ

لوارګے
۲۳ ر جولائي ۱۹۶۹ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۱۰۴

ستا جمال دے نمایان زما په مخ
ستا دې خدائے کړي نمایان رضا په مخ

کۀ هر څو د سوري سورے ليدۀ نۀ شي
ستا د زلفو سوري وينم ستا په مخ

ستوماني ترشاخته مۀ باسه بيا وايه
کۀ ښکاره کړې ملاحت سبا په مخ

تۀ ګُل قند د اننګو ورکړه مريض ته
طبيب څۀ کړي چې دې شته دوا په مخ

کۀ دچا په مخ خلاصے شته لۀ عذابه
نو باده هم شي روا دچيا په مخ

کۀ خولۀ نۀ راکوې هغه ادا وکړه
لۀ حيا کېده لاسونه بيا په مخ

پۀ فراق کښې دحمزه ديدن ښۀ نۀ دے
وي همدمه ئې مېلمه قضا په مخ

* * *

۱۸۴۱

ACKU

# ۱۱۰۵

پهٔ نخونو کښې بناٗسته مې دے دیار مخ
دے حبیب د تصویر بل رُخ د دلدار مخ

پهٔ لیدو ئې مړاوي زړونه تازه کیږي
عطا کړے ورته رب شـدا بهـار مخ

چې مشام د جان مدام بهٔ معطّر وي
د جانان مې دے داسې مشکبار مخ

شي غالب ئې رُعب د حُسن پهٔ خوبانو
پهٔ محفل کښې چې سرګند کړي ګلعذار مخ

کړې روڼې دې زما دیـار اوګوري
کهٔ پهٔ مخ کښې کتل غواړي د تلوار مخ

د حمزه ته دې رب بل مخ ترګند نهٔ کړي
چې ئې لیدلے ترخو نهٔ وي د ستّار مخ

★ ★ ★

ئے زما مرشد پاک

# ۱۱۰۶

خرد ځېلي ذره زما چې کېف د جنون اُومونده
کښېنې مې د قسمت له مغه پسته سمون اُومونده

برېښنا د مخ چې ونغښته د زلفو په تيرو کښې
ليمنو آرزوګانو زما ځکه سکون اُومونده

نن سترګې دې راګورې د صبا په نظر ماته
اشنا جوړې مفطر زړګې مې تللې پرون اُومونده

بيا ځاے د شونډو زلفو سترګو نه وې په وصال کښې
حريم د ذات کښې چرته چا درک د شيون اُومونده

اُلفت چې مرتبې وته د عشق اورسېدلو
بيا هلته حمزه ما، نه زيارت نه سمون اُومونده

لواړګے

۲۹ ر اپريل ۱۹۷۵ء

# ۱۱۰۷

وایه څهٔ څه ته د فراق لاس بنهٔ دےکهٔ بد
اے واصله وایه چې دې لاس بنهٔ دے کهٔ بد

څوک چې غلامۍ ته د شاهانو هوسیږي
دوئ زده دېږئ بنهٔ زده چې نخاس بنهٔ دےکهٔ بد

اصل وي محفوظ هله چې نقل ئې موجود وي
او دې پوښته نهم چې وسواس بنهٔ دے کهٔ بد

خط مې درلېږلے جذباتو سته ئې گوره
دا خیال اونهٔ کړې چې قرطاس بنهٔ دےکهٔ بد

خورې داشنا خال د عاشقانو وینې غوښې
او پوښته هندو چې خون او ماس بنهٔ دےکهٔ بد

ورځ مې په کتو په تصوّر مې شپه تېرېږي
پوهه شومه اوس د وصال اس بنهٔ دےکهٔ بد

څو حُله کرم پرې اشنا اوکړو شکر نهٔ کا
وایه حمزه زړهٔ دې ناسپاس بنه دےکهٔ بد

# ۱۱۰۸

چې اخستې چا د مال او د کمال خوند
پرې لازم شو چې به اخلي د زوال خوند

که بېلتون په دې خبر وے را به نغلو
چې په درد کښې ئې د وار ښته د وصال خوند

راز د عشق ورله کله پاتې ګل نه شو
چا چې واخست د پرهر د اند مال خوند

د عاشق ئې چې نصیب د لیدو نه وي
د مهرویو به وي څه د خط وخال خوند

د جنت پیالې د فکر په خوله شومې
ځوک چې اخلي د سرو لبو د خیال خوند

اے زاهده عافیت دې ستا روزي شي
ما اخستے د تهمت او د جنجال خوند

اے حمزه که سودائي شوې شکر وایه
چې دې واخستو د زلفو د شمال خوند

* * *

# ۱۸۴۵

# ۱۱۰۹

ما د فرقت سحر سبا اُونهٔ لید
یار مې په سوز او پهٔ ژړا اونهٔ لید

دا طائفه د معشوقو بې وفا
یو مې پکښې هم باوفا اُونهٔ لید

زاهد ویل طلب کوه ما کوو
یار مې پهٔ کور او پهٔ بېدیا اُونهٔ لید

تل شکایت د عاشقانو کوي
ما د چا یار لهٔ چا رضا اُونهٔ لید

دا سې کشتۍ کښې سور سفر کومه
ما پهٔ کشتۍ کښې ناخدا اُونهٔ لید

حیف وصد حیف دې ستا پهٔ ژوند وي حمزه
چې دې سپین مخ د بې نوا اُونهٔ لید

*

* * *

۱۸۴۶

## ۱۱۱۰

زړهٔ مې زخمي څاڅي ترې خون ما پرې بهر اونهٔ لید
عجیبه دا دیار پهٔ لاس کښې مې خنجر اونهٔ لید

کهٔ مې وصلت اونهٔ شو خوند مې د اُلفت خو اُولید
مېوه ئې خوري پهٔ څانګه چا ګل د انځر اُونهٔ لید

ارض وسما پهٔ کل حکمت کښې د فراق پهٔ انغري
حیف دے چې زهٔ شوم خاکتر یار مې جوهر اُونهٔ لید

چې بهٔ ئې شراب دیار دسترګو خمارو نوش کول
ځکه بل کس مې پې رِندانو پهٔ کوثر اُونهٔ لید

داسې اثر وو د اشنا د برندو سترګو پهٔ ما
اوکړه ندا راته رضوان چې دې محشر اُونهٔ لید

زهٔ د فراق زنجیر پهٔ غاړه پهٔ وطن کښې یم
تېرې شوې دوه میاشتې او ما غلام سرور اونهٔ لید

د بې نوا د غلامۍ مه کوه لاپې حمزه
چا وفادار پهٔ دې جهان لکه قمر اونهٔ لید

* * *

۱۸۴۷

ACKU

# ۱۱۱۱

عشق مې محتاج د هیڅ هنر اونهٔ لید
برق مې حصار په بال وپر اونهٔ لید

حیف په ژړا کښې مې اثر اونهٔ لید
ژاړې اثر چې ما اثر اونهٔ لید

چې کړې روڅې د اشنا نهٔ وینم
څکه هلال مې د اختر اونهٔ لید

د عشق په خوب کښې مې چې خوب اولیدو
د ځان په تن باندې مې سر اونهٔ لید

برق نظر د بې نوا چې راغے
حمزه وجود مې د عنصر اونهٔ لید

★
★ ★ ★
★

# ۱۱۱۲

خدائے زده څهٔ چې دے مراد او څهٔ مقصود
هیڅ خبر نهٔ یم په زیان او په بهبود

کړم پریشانه تر دې حده رقیبانو
چې وهي اوس راته ښکاري هر وجود

هرچې کړم هغه کوم د یار د پاره
او کهٔ یم همیشه ځان ته په سجود

دي موسیٰ او ابراهیم زما نوموته
هم په خپله زهٔ شداد یم او نمرود

یا خو هیڅ نشته دا واړه وهم د خیال دے
او کهٔ وي نو بس د یار به وي وجود

هم مراد یم هم مرید یمه په خپله
هم طالب یم سرګردانه هم مقصود

د خپل نوم نه هم ثابت لهٔ ما دعویٰ ده
یم حمزه د هر وجود سره موجود

* * *

# ۱۱۱۳

د غېږو ښکار نه وے مېچږي د شېرانو ښکار
د بل د خوان يخې ټکړې وي د شېخانو ښکار

د عشق غمونه په قوت به اوچت نشي له چا
د دوو د پاره لوي همت دے د مردانو ښکار

پير مغان جاري کړو حکم چې واعظ راولئ
په مېخانه کښې نن هغه دے د رندانو ښکار

لړي زنار د تسبيحو کړي د غاړې ځنې
داسې ځينونه دي اکثر د ملکانو ښکار

راضي به نه شي بې شرابو د الست دے حمزه
نه دې نور څه د بې نوا د ملنګانو ښکار

*

* * *

*



ACKU

## ١١١٤

او ښکو ګل رنګو ته مې ګوره حکایت څهٔ پکار
زهٔ چې ګوهر پهٔ مزکه شیندمه دولت څهٔ پکار

خفه رندان دي چې توبه مې کړې بیا لهٔ میو
دیو معلوم توبه شکن نه شکایت څهٔ پکار

پهٔ هزار ژبو مې خاموشه ښکلې یار دے خبر
رقیبه ځائے دے د ادب ستا وکالت څهٔ پکار

کهٔ عنایت پهٔ نهایت وي عنایت څهٔ پکار
کهٔ نهایت پهٔ عنایت وي نهایت څهٔ پکار

حیض ونفاس سبب د شرم وي مردانو لره
واعظه هوش کوه خواهش د کرامت څهٔ پکار

د ذرو کان د کمینه مزکې بطن نهٔ لري
رقیبه ستا مجاهده او ریاضت څهٔ پکار

نوم د حمزه چې پهٔ نامه د بې نوا ستایهٔ شي
هغه غلط وائي چې دا وائي شهرت څهٔ پکار

* * *

١٨٥١

ACKU

# ۱۱۱۵

چرې نهٔ وي حق لېد ونکې سترگه تر تر
سودا نهٔ پرېږدي دغېرو چې وي سرسر

معشوقې دي په بر ډېرې سرې کوزې
د دلبر د بر نه نشته دچا بر سر

څوک چې خاورې وي د پښو د بنا ستهٔ وُ
په اسرارو به يې چرې نهٔ شي سرسر

اننکي د اشنا او د رقيب شونډې
کې کې دي معلومه ده اوزر زر

ما بهٔ چرې د رقيب سره سم نهٔ کړي
اس خو اس دے خلق پوهه دي او خر خر

امتياز لازمي څېز وُ شک او نهٔ کړې
د يو ځز نه بنځه بنځه شوه او نر نر

چې حمزه د بوتراب د در تراب دے
څکه کې کې نهٔ کېږي نهٔ زر زر

* * *

۱۸۵۲

# ۱۱۱۶

دانهٔ یم چې حاصل راته عرفان دے د تعمیر
فطرت تخم نو رخهٔ دی، خو سامان دے د تعمیر

زغمجن اوسه، تخریب کهٔ د اُلفت وی پهٔ ظاهر
غافل چې نهٔ شې راز پهٔ کښې پنهان دے د تعمیر

لهٔ کلکې ارادې جهان باقي دهٔ عبارت
مېږے هم پهٔ دې لار کښې سلیمان دے د تعمیر

اے عشقه همه ګرانې دې اسانې کړې زما
اسان دې راته هغه کړو چې ګران دے د تعمیر

بنیاد د محبّت مې چې تر څو وی سلامت
ژوندے تر هغه وخته مې ارمان دے د تعمیر

پېړې د لیونتوب دې چې راځي پهٔ سړیتوب
روغ نهٔ شو، تل مې څېرې ګرېوان دے د تعمیر

۱۸۵۳

ACKU

سیلاب د پښتانهٔ کهٔ نړول کړي په داڅهٔ؟
همّت مې مېړنے، غښتلے ځوان دے د تعمیر

ټول ستا دیو نظر او اِلتفات دے برکت
تر اوسه زما عزم چې اُفغان دے د تعمیر

حمزه کهٔ څو لرمه زړهٔ دِماغ د پښتانهٔ
باک نشته دے چې زړهٔ مې مسلمان دے د تعمیر

* * * * *

## ۱۱۱۷

د نقطې نه دے د عشق زما سفر
ما سپوږمۍ کړو د جنت نه جوړ سقر

شي صافي زما نه روڼ کوي تنا مې
د دنيا نو په کثيف هم وي کدر

نسبت ورک شو چې راستون شوم ځان مې اوليد
ويني عکس د ائينې نه خپل بشر

عکس ويني خپل معکوس د ائينې نه
د نسبت ډوبې پرده ده يو بشر

د نسبت ائينه صافه شوه يار نه ؤ
ما به ځان ته ځان به ما ته کړ نظر

ستا خندا مې زيړ بشر شگفته نه کړ
د سحر په نماز ديگر نشته اثر

ځوانی څرنګ د سنګار اجازت درکړي
لېونتوب څو کړي د عقل نه خطر

غل د دید په بام مسکې شو ښکته یار ته
پورته بدر د راښکاره شو ښکته نمر

غړېو نیولي ارمانونه مې پخلا کړه
چې مې لرزنده ځواني ده په سفر

اِنتظار مې اسویلي ته جوړ شوتنبتي
اِضطراب کړي غزونې د محشر

حُسن ، عشق او معشوقه او عاشق یو دي
کله هغه کله زهٔ شم مرَور

کله کله د خپل شعر په اور سوزم
دا په دې چې مې اشنا دے سمندر

ستا ثنا لره بلبل زما دَ فکر
ګُله جوړ به شي چې خوري د زړهٔ ثمر

د سنګار په وخت څو تهٔ یا اینه وې
څو چې تهٔ نهٔ یې لهٔ عکسه کړې خطر



ACKU

ښکلے یار مې نا اشنا دے لهٔ حجابه
خو چې نهٔ رسي پرده شي خپل نظر

ګنګوسے دې په تیارهٔ او په چپیا کښې
په دې شور کښې اشنا نهٔ راځي بهر

ما حمزه حېران کړېوان په سحر څهٔ زده
چې دا اوښکې دي کهٔ پرخه د سحر

*
* * *
*

# ۱۱۱۸

زهٔ شوم ائینه چې ګودم ستا پهٔ لور
خیر کهٔ اوس نظر نهٔ کړې زما پهٔ لور

تهٔ د تل شړل کړه زهٔ وفا کوم
سترګې نو د سپي وي د آقا پهٔ لور

شو چې سپوږمۍ مخیه مې نظر پهٔ تا
نهٔ کړمه نظر د توتیا پهٔ لور

ګوره مې همّت چې ستا طلب کوم
پورته مې قدم د کبریا پهٔ لور

سترګو ته زما توري تیرې اوبې
تور بهٔ مو سپین سپین شي د سبا پهٔ لور

پرانزه لبان چې زهٔ رنځور یمه
بیځه اشاره کړې د دوا په لور

لور دي د هجران کړي دوه ټوټې زما
ګوري ما له رشکه نن زما په لوڼ

زه حمزه د زړه له کوره ستلی یم
یم لکه چې غږ وي د صحرا په لوڼ

★
★ ★ ★
★

# ۱۱۱۹

د ښائست يې د سپين مخ ځني اثر لاړ
ګويا ورځ په تېرېدو شوله چې نمر لاړ

زه ګهړۍ ساعت له ياره جدا نه يم
خدائے زده کله راغے کله نامه بر لاړ

خفه شوي رقيبان سره يخلا شول
د ورتلو يې د يار درته چې خبر لاړ

څه خندا ده چې غصه يې ښائسته کړه
ګويا اوخندل په شپه باندې سحر لاړ

د ښائست په جال کښې ګېر دے يار پخپله
کله شي چې د چمن ځني نښتر لاړ

سادګي د يار يې ګوره راسته وائي
په محفل کښې دې چې چا وته نظر لاړ

عشقه تا يې د زړهٔ سترګې کړې روښانه
ستا لهٔ سره دې وې زړکهٔ يې بصر لاړ

سرمايه يې چې د ډونه ورکړه آشنا ته
رهزنان د اجل نهٔ راځي خطر لاړ

زهٔ بهٔ دلته پهٔ صحرا کښې ګلزار جوړ کړم
کهٔ چمن ته پهٔ الوت کښې يې وزر لاړ

حمزه هله سر په سر د عاشقۍ شوې
چې پهٔ دې لار کښې دې ډک لهٔ عقله سر لاړ

*
* * *
*

# ۱۱۲۰

عاشق دي نيولے تل پهٔ لاس کښې سرپا سِ
تل غريږي ېُ پهٔ سترګو کښې جګر پاس

قرباني غواړي ديدن د تُورو سترګو
منتظر وي پرې د روځو دوه خنجر پاس

د عاشق د اٰه لوګے ېُ حاله شوے
کهٔ هرځو لرې اسمان کښې دے قمرپاس

د عاشق د صداقت نخښه هم داده
چې رقيب هم کښېنوي پهٔ سترګو سرپاس

پهٔ مکتب کښې د فنا چې طالب نهٔ شي
مهرويان دغهٔ نه کوي اکثر پاس

پهٔ محفل کښې ادب وائي ګوره بنګته
مستي وائي غنيمت دے يو نظر پاس

پهٔ ديګدان بانديې حمزه دعشق سوخته شه
چې خارج دي شي د کل ځنې جوهر پاس

★ ★ ★

# ١١٢١

پټ شه نه پټېږي رانه اوس دهغې شپې نه پس
لا ته راته ډېرېږي حجابه د پردې نه پس

ته يې هم هغه خو په ځل راته بدل ښکارې
شوق د تماشې شي لا سېوا د تماشې نه پس

ضبط په سړي چې راروان دے دا به څه کېږي
زور يې د خمار دے چې زياتېږي د توبې نه پس

بې واکه يې سترګې شوې راځي چې غصّه شوې ته
نښکې چينې تاندې شي اکثر د زلزلې نه پس

زړونه پرې اباد شول چې بهرې ترې نه اووېستل
اوګوره قسمت څو د بتانو د کعبې نه پس

ته لرې کېدلې چې څوڅو په وړاندې تلمه زه
ځان ته به نزدې شومه د ډېرې مرحلې نه پس

ستا له اداګانو ستا ښکلا ته رسېدلے يم
راغلم په نقطه کښې شومه ورک د دائرې نه پس

تاؤ د اننګو نه دې چې زُلفو ته په ښکته شوم
سيورې د ماښام ښه وې د تکندې غرمې نه پس

ډېرو دروازو ته حمزه لاړو خو ستا کامه شو
خبر ورته چا ورنه کړو د تا د دروازې نه پس

لوارګے

۱۵ / دسمبر سنه ۱۹۶۹ م

*
* * *
*

# ۱۱۲۲

رقیب سور مې دے په سر لکه عسس
په زور زور مې غږوي لکه جرس

په دا شان يې کړم عاري له عقل وهوشه
چې مې وهم شولو هر تار د نفس

په اتش به د هجران اخر سوخته شم
یم انسان په اصلیت نه یم ققنس

په صحرا کښې د الفت پښې ابله يون کړم
د ښنې نه يې سوا دے خار و خس

نه پوهېږم اوس تلاش په کوم طرف کړم
په فرقت کښې مې خطا کړو پېش و پس

سل قدمه چې اشنا وته نزدې شم
نو هزار قدمه پريوځمه واپس

زه حمزه په عاشقانو کښې يم داسې
لکه وي بې معالجې غوړ و عدس

* * *

# ۱۱۲۳

جانان مې ګلفروش د حقیقت چمن په لاس
ما هم ورته کچکول کړه د حسرت لمن په لاس

یو ځل په قبرستان مې د زړه راشه بې حجاب
ارمان به مې راپاسي د حسرت کفن په لاس

یو ځان په مخ د حسن چې پرده د عشق شي
تیشه شي د اجل او نیسي کوه کن په لاس

محفل کښې چې وحشت مې شکایت ته کړي تیار
بهانه د ادبې کړي صنم پټ دهن په لاس

دلبر مې څکه اخستې له ما لاس د اشنای
ډوس نه کړي د ښوا غونډې د ما سخن په لاس

حمزه له مړو بنز دے خو د ژوندۍ درکړو جام
محبوب الهی د نظامي حسن[1] په لاس

---

[1] خواجه حسن نظامي

* * * * *



ACKU

# ١١٢٤

زهٔ چې ستا په چاکرۍ کښې يمه چاق
د راحت عروس په درې شرطه طلاق

روح او تن مې مور او پلار دي ترې خلاف کړم
ياره ستا به شم چې دوی مې کاندې عاق

چې په طاق کښې د نسيان مې خودي کښېنوه
په ټولي کښې د عاشقو شومه طاق

سپوږمۍ مخ يې خاموشه دې ټول ګويا کړه
د ښائست خبرې ستا شي په آفاق

د اسرخي مې هنګامې نهٔ ده دسترګو
دا نه رنګ دے د حنا نهٔ د اشفاق

هر يو حرف دې ښائې پټه ښکاره نهٔ شوې
د هستۍ د کتاب ختم شو اوراق

شي قدسي به په معراج د حمزه عقل
چې تا وړے دے د سترګو په براق

* * *

١٨٦٧

# ١١٢٥

عشق مې بنا کړے جوړ وي د بـقـا رنګ
اوګوره په سترګو کښې زما د فنا رنګ

اے د مینې رنګه په دې رنګ مې خبردار کړه
ستا رنګ یې چې رنګ کړے په تا کښې د چا رنګ

رنګ د بې رنګۍ نه بې رنګي له رنګه جوړه
رنګ چې شي بې رنګه بې رنګي شي صفا رنګ

واړه ریاضت ؤ د زاهد د رنګ د پاره
تېر چې شو له رنګه شوے ملته خطا رنګ

زه لکه بلبل په نوا سرګرم رنګ د ګلو
ورکه که هستي کړم خو به دي بې نوا رنګ

رنګ دے چې یې سرکړه طالبان په بلو بلو
ځان وته لار بنایي د دلبر نه جدا رنګ

ACKU

رنګ لره بقا ده خو بقاې هم فنا ده
يو ځائے چې فنا شي د بقا شي فنا رنګ

دا هم يو تلاش دے چې حمزه يې تلاش نهٔ کا
ګوري چې کوم رنګ ته مغه وي دا شنا رنګ

*
* * *
*

# ۱۱۲۶

داچې راته واک نهٔ ئې ته زما په رنګ
ته چې ئې زما په رنګ زهٔ يم د چا په رنګ

څومره خوب فريب وُ د وصال په تصور کښې
اوچه سوړې هوسے شوم چې پرده وه ستا په رنګ

حال دې رهبر اووې خوله رنګه دې خاموش وُه
نهٔ لرې هيڅ وس بغېر له بوئې سبا په رنګ

مهٔ راځه تپوس ته پخوانۍ سترګه مې ګوره
شوه په ځنکدن کښې مې مېلمه قضا په رنګ

زهٔ د بوئې په طمع د وفا درته قريب شوم
اے کاغذي ګُله زهٔ دې کړم خطا په رنګ

ما ډيو سيرت په دين دنيا ډے غوره کړے
نهٔ يم له هغو چې ورکوي بها په رنګ

۱۸۷۰

ACKU

اے دګل رُخانو د زلفانو مستہ بویہ
ستا پۀ ھر یو دم کښې شتہ تازہ جفا پۀ رنګ

اے ظلمیہ وینہ مې د زړۀ درنہ قربان دہ
سرې سترګې راځہ پټہ ساتہ بلا پۀ رنګ

سوز بۀ بې لۀ دیدہ زیاتېدۀ دحمزہ ولې
کاندې بلبلان دګلستان نوا پۀ رنګ

*
* * *
*

# ۱۱۲۷

پهٔ تصوّر د یار ودان مې شو وطن د خیال
باغ د اِرم مې رنګینه شوې پهٔ دمن د خیال

نن پهٔ صحرا کښې د وحشت راغې سپرلے د سکون
پېوندوې ستن د اُمېد مې پېرهن د خیال

خاندې کهٔ ژاړې ستا رضا ګوپهٔ دې ځائے کښې شمعې
پس د مودې مې شو روښانه انجمن د خیال

د اُمېد ناوې چې پهٔ عقد کړه زلمې د خیال
حورې غلمان دې پهٔ معنه لونړه زامن د خیال

څهٔ شو پهٔ دې کهٔ دا فلک د ورځو شپو کوې خلق
مېده دنیا بله پېدا مې کړې ېمېن د خیال

پنجې د برق د باز لرې نهٔ کوې تلهٔ څو رسي
پر د هُما نه د مراد راوړې ښکارزن د خیال

ماته مهرو شو نن پهٔ تلوتلو کښې مُسکے حمزه
کهٔ شو اشنا د نوبهاره مې چمن د خیال

* * *

# ۱۱۲۸

یو سره لښتي چې شو سیندونه شول
څاڅکي چې را ډېر شو بارانونه شول

یو کڅ پښتانهٔ شي سره سخ چې دے
تیږو سینې ورکړې سره، غرونه شول

بس څو چې ښناګست څې د اشنا ولید
ګوره چې د سترګو کسې زړونه شول

سر پهٔ زنګانهٔ شول فکر واخستل
څوک چې پهٔ معنیٰ کښې اسمانونه شول

رنګ وو وفادار ورسره خاورې شو
بیل د ښکلي ګل نه نکهتونه شول

جوره څهٔ نغمه شوه د دې شور نه چې
کېږ چې په یو ترکښې اوازونه شول

۱۸۷۳

ACKU

څار دې د تماکو نهٔ ښلتونه شم
څوچې ډېرېږي هومره زړونه شول

حیف دے په پښتو مېږونو څهٔ اوشو
وس ورته زلمي مهٔ وایه ځونه شول

څغم مې خاموشۍ په زولنو کړلې
جوړ ترینه حمزه څکه شورونه شول

ورسک

۱۴ر فروري ۱۹۶۰ء

* * * * *

# ۱۱۲۹

زهٔ يې څهٔ کړم چې اشنا دے د جېبې ګل
خوښ مې نهٔ دے د ګلاب او د چنبې ګل

لهٔ چشمانو مې رونق پهٔ ژړا لاړو
مراوے کښې د باران چې وي شبنې ګل

پهٔ ديدن پسې د يار مې سترګې ګل شوې
چې نم ختم شي بنکاره شي د پنبې ګل

چې بنائست يې څو زياتيږي زهٔ سوزېږم
بلبل ژاړي چې څو څو کوي لمبې ګل

يار زما دے د رقيب يې تش ديدن دے
بنائسته څهٔ کړي د بنورې او د ملبې ګل

څوکيدار د يار د سترګو تور مژګان دي
کهٔ ساتي پهٔ حفاظت سره سنبې ګل

د زنځير ستم د بوئي پهٔ ژبه بنائي
پهٔ اوربل کښې چې تو مېلے محبوبې ګل

د ځوانۍ له بوشه ځیرې ګـرېوان کړي
د اخفا له زنـدګـۍ کوي توبې ګل

سترګې د دکړي د خمار شیندي کېفونه
خلاص له قېـده شي نکهت واکړي تمبې ګل

بې له تا زما نظر سـنه ځي بل خوا ته
په کاکل کښې اے صنم ولې تهومبې ګل

حمزه سترګې ورته فرش کړه چې ځي ال دي
لري پایـنه کښې چمن د زېنبې ګل

★

★ ★ ★

★

# ۱۱۳۰

چې ما د محبت نهایتونه لټول
په اصل کښې مې خپل حماقتونه لټول

وحدت یکښې دخیال وو نه دیار سره وحدت
ما هسې په الفت کښې راحتونه لټول

دا نن مې څنګه سترګو ته زما راوکتل
شاید چې یکښې یار شکایتونه لټول

بې ځایه دا ګیلې شکایتونه دي زما
چې ما دښکلي یار عنایتونه لټول

خواهش مې دیارانو وو پیدا مې کړه بسیار
وس پوهه شوم چې ما مصیبتونه لټول

ستا غم کړې رانه ورکې وې یو څو خبرې ستا
ټول عمر مې بیا ستا امانتونه لټول

حمزه جوروجفا او ستمونه داشنا
داواخله چې تا داسې نعمتونه لټول

لوارګي
۱۷ / اپریل ۱۹۵۹ء

## ۱۱۳۱

کیف او مسرّت چې د فنا او د عدم لرم
ځکه د الفت د عرش په سر باندې قدم لرم

اوښکې مې د زړه په وینو ځکه الوده ته دي
پټ مدام په زړه کښې حسرتونه د صنم لرم

فخر پرې کوم ځکه چې مخ پکښې د یار وینم
ښه به وي که اووایمه زه چې جام د جم لرم

ما ته ړومبۍ ورځ چې جام د چشمو التفات اوکه
لا د هغه مه تر اوسه زه سترګو کښې نم لرم

مارنه یم چې سورې له ورځم نو سر مې ښکته نه شي
زه مرۍ پخوانۍ یم مدام سر د نیاز خم لرم

هیڅ راته حمزه د اجلالت د بادشاهانو دے
زه چې فخر علم ذوی اللواءِ والعلم لرم

*

* * *

*

# ۱۱۳۲

د اویسِ قرني ستړکي لرم
یم دانا د لیوني ستړکي لرم

ستا دینې پهٔ مجمر په نظر مهٔ شي
واخله ما د سپېلني ستړکي لرم

ستا د در خاورو داسې نظر راکړه
یمامه د یمني ستړکي لرم

چې مې ستړکي ستا پهٔ ستړګو غړېدلي
ګلزاري او چمني ستړکي لرم

پهٔ تنګسه کښې مې کړه یاد کهٔ مې نظر کړه
یم چشتي د مېړني ستړکي لرم

چې پهٔ حُب د بوتراب مې زړهٔ چراغ دے
حَسَني او حسُیني ستړکي لرم

پهٔ ناخوله کبره مهٔ بدده قد مونه
زهٔ حمزه د غرڅني ستړکي لرم

* * *

۱۸۷۹

ACKU

# ۱۱۳۳

ستالېمهٔ مې اوکاتهٔ اوس څهٔ ګورم
تل وُم پهٔ دې غم کښې چې لېمهٔ ګورم

خوئ دځان ځانئ مې زباني کړو نن
ګرزمه پرېشانه پښبتانهٔ ګـــورم

توان د پښبتنو غشو دچابهٔ وي
نهٔ شم درکتے چې دې بانهه ګورم

تا خو آئینه راته عطا کـــړله
ډېره شکریه ، خو زهٔ لېمهٔ ګورم

خوئ چې وي د ښکلیو اېوتهه غونډې
داسې بهٔ راګورې چې زهٔ نهٔ ګورم

عشقه لهٔ جهاتو دې بېرون کړمه
پوهه نهٔ یم کوم طرف ته زهٔ ګورم

ځار دې شم شهلې پښبتنې ځوانئ
ته راته خبر ګورې کهٔ زهٔ نهٔ ګورم

لواړګے

۱۸ / جون ۱۹۵۷

۱۸۸۰

# ۱۱۳۴

شو مه د اصل چې بې نظر لارم
دا مې هنر شو بې هنر لارم

اوس اشارې راته کوې دننه
چې درپسې له ځان بهر لارم

څه خو خبر اومه پوهېږمه زه
دیار کوڅې ته بې خبر لارم

کښلې اشنا ځکه په لاس رااوت
زه چې مخلص سکه اثر لارم

اوس برابر راته کتې شي اشنا
زه دې په زړه کښې ووم خطر لارم

هغه اُفق ته، که یې عمر وو کم
زه په خندا سکه سحر لارم

حمزه هر در و د اشنا خونه و
ورپسې زه چې د دې په در لارم

پېښور
۲ر اپریل سنه ۱۹۵۲ء

# ۱۱۳۵

د تا شربت د وصلت زهٔ بیمار غواړم
لکه مجنون حال زبون شوم قرار غواړم

ورکه زما شوه خندا پهٔ فرقت کښې ستا
بالب شراب هم کباب هم خمار غواړم

دردِ فرقت کړه لت پت خوشنما ځواني
وصل د هجران دې اے جان وار پهٔ وار غواړم

ستا د ابرو خوبرو زهٔ قتیل یمه
روشن چراغ بناسُته باغ په مزار غواړم

خواهش د حورو قصور کړو رنځور زاهد
زهٔ ستا اے یار زلفو تار مشکبار غواړم

حمزه غریب کړو رقیب کورو کړې حد
هغه اسیر گدا پهٔ ویر خوارو زار غواړم

*

* * *

١٨٨٢

ACKU

# ۱۱۳۶

ځان په اُلفت کښې د الف پشان لغړ غواړم
چې بې وښتو مې کړي تندے هغه لوړ غواړم

ساګ وسوکړک او شوملو پیاز بې کولې او چې کړلې
اوس په غوړو کچو خولهٔ مخ او لاس ککړ غواړم

شوملې هم ښې دي کله کله چې کړې وي پکښې
زهٔ د مستو پیو د تا سه کله غوړ غواړم

پړانګ مزرې ته مبارک غوښه خوږه د پسه
زهٔ د ګیدړ پشانې یو پوستکے غوړ غواړم

صنعت حرفت او تجارت زراعت غواړي هنر
زهٔ کنډارې لره فقط د قمار پړ غواړم

حمزه غریب واڼې میوه دې عاشقان نوش کوي
زهٔ چې خپل اس ورته ترړم د دوڼې جړ غواړم

*

* * *



ACKU

# ۱۱۳۷

خدائے زړه چرته یې کړم غونډ کله تړم
چرته دړومم بار د مینې چرته وړم

بس خو دومره راته یاد یې که مې یاد یې
ته استاذے رالیږې زه یې شړم

لاس پېزوان ته بل د وروځو په منځ بوړ کړې
لاندې سور ملسوې پورته تور لړم

په کړه وړه مې ستا شباب دے راخور شوے
وایې مه کړه چې څه نه کړم څه به کړم

ستا وعدې مې کړې مړوې خو خوند یې نه و
ارمانونو د چینجو په شان خوړم

ته هوس کړه د دنیا سره کړه خوشحال اوسه
زه په دینو حسرتونه خپل لړم

ته چې ما څنګه ګڼې اختیار ستا دے
زه حمزه دې هم هغه شانې ګڼه

* * *

۱۸۸۴

# ۱۱۳۸

ستا ھی افسانه کړه افسانه دې کرم
وے چې ستا نښان ھی نښانه دې کرم

ستا وه د عاشق نه پرده غرض
مانه مرور شوې بهانه دې کرم

زهٔ دانه ناځینه ووم په خاورو کښې
اے د ذرهٔ قراره دُردانه دې کرم

عقل لکه شمع وم چیل ځان لره
تهٔ چې راښکاره شوې پروانه دې کرم

زهٔ چپه صحرا ستا له جلاله ووم
اے جمیله راچې غلې خانه دې کرم

خولهٔ شوه ددنیا کښېزه ستائې ھی
اے د حق مضرابه ترانه دې کرم

زار دې زهٔ حمزه شم دنګاه ځنې
کرم چې دیوانه نو فرزانه دې کرم

* * *

# ۱۱۳۹

راز د هستۍ هیڅ را معلوم نهٔ شو ښهٔ پوهېږم
درېغه مطمئن کهٔ شم په دې چې ښهٔ پوهېږم

زهٔ چې اشنا پوے شوم ستا د سترګو په خبرو
اوس مې شو دا حال چې د هر چا په زړهٔ پوهېږم

وې په هر انداز کښې دې بې شماره اندازونه
څوکه فکر وکړم نهٔ پوهېږم که پوهېږم

بس خو په بلنه دې ارمان راضي کومه
او کني ډېر ښهٔ د تا په نهٔ راتله پوهېږم

څه رباړه لاړه شه نن پخپله خپل رباړ یم
خپله خپل اشنا سره به خوله په خوله پوهېږم

۱۸۸۶

کیف دحُسن څخهٔ ورته عیان کړمه همدمه
هیڅ ویلے نهٔ شم کهٔ پوهېږم نهٔ پوهېږم

ولي ما حمزه ته بې لهٔ عشقه نور څخهٔ وائي
زهٔ یم دُنیا داره ، یو نے پهٔ څهٔ پوهېږم

پېښور
۱۸ ستمبر سنه ۱۹۶۹ء

*
* * *
*

# ۱۱۴۰

اِلتفات کښې د نظر کۀ یاره ستا شم
امید شته چې بۀ د غم ځنې رها شم

ما چې یو ورځې د رقیب څۀ پروا نۀ کړه
اوس چې مل ئې شو بې تۀ زۀ بۀ فنا شم

ما کالونه ستا د درخاورې رانجۀ کړۀ
اوس بۀ څرنګې د تا ځنې جدا شم

کۀ دې خوا زما پۀ مرګ باندې سرېږې
اشاره بوسیه چې تا باندې فدا شم

تا لاهو کړمه پۀ داسې سفینه کښې
نۀ پوهېږم چې ملاح کۀ مرجونها شم

مرور کۀ شې هزار بۀ دې پخلا کړې
اوکۀ زۀ شم نو پخیله بۀ پخلا شم

ستا رضا بۀ حاصل نۀ شې پۀ هیڅ رنګ
کۀ هزار ځله قربان پۀ تا حمزه شم

* * *

۱۸۸۸

# ۱۱۴۱

زه چې پښتونواله له خپل ذره ویستلے نه شم
تا به اشنا پرېږدم خو رقیب زغملے نه شم

ستا سره مې ښکلیه چې پېژندلے محبت دے
ستا راسره نشته محبّت؟ منلے نه شم

کله کله په شونډو کښې مُسکا په ما پېرزوکړې
ولې لکه پرخه د سحر ژړلے نه شم

دام د تورو زُلفو نه دے دام د ارمانُونو
هغه نه وتے شم خوله دې وتلے نه شم

ېې له غمه اوس پکښې بل چا لره ځائے نشته
نور د زړه حُجرې ته مېلمانهٔ بللے نه شم

بس دے لږ ه وینه مې ارمان لره پرې اېښې
ولې ستا په کور کښې نور گُلان کرلے نه شم



ACKU

تبنتي له جُنونه، ژوند دمينې ئې برباد کړو
اوس نو دا ئې خونده چِل شعور بخښلے نهٔ شم

کور د زړهٔ ئې بشکليه دے ودان په ارمانُونو
ستا د زړهٔ دپاره ماشومان وژلے نهٔ شم

کودم زهٔ حمزه چې ئې لباس دمينې واغوست
ځائے د احترام دے چې هوس کړلے نهٔ شم

يکم جنوري
سنه ۱۹۷۱ء

*
* * *
*

# ۱۱۴۲

په چلم کښې مې ډور نهٔ شو داشنا غم
لا مې جوش لکه چلم کوي سبوا غم

خوشحالي د غم کمي ته وايه کښېږي
د وصال په وعده کم شي د هرچا غم

خوشحالي نشته وصال کښې مدهوشي دي
پس د دې نه وي مدام سبا بېګا غم

نوشي د حد په هورته سم نوشي ده ے
انډېښنه کړي سره تنګ، نهٔ په رشتيا غم

ګرد الوډې وي مراة چې غم د غم خوري
او که نهٔ دے ائينې لره جلا غم

دا يو کيف د ملکوت دے خوشحالي ده
ناسوتي خلق يو ځين ګڼي جُدا غم

چې صدف نه ګوهر اوځي تاج ته رسي
اے حمزه څهٔ خوشحالي ده د قضا غم

* * *

۱۸۹۱

# ۱۱۴۳

بدرنګي دې په بنائست کښې سنګار وینم
دانقشونه نازکې لره بار وینم

چې په عشق کښې دخپل تن پاتې شوم سورے
یاره اوس راغلې په لاس کښې دې هار وینم

په رګ رګ کښې دې ځواني کړې غزوني
ورک دسترګو دعاشق نه ځمبار وینم

د اصول په نقطه ښخ لکه پرکار شوم
دګردش په دائره کښې قرار وینم

یم یو عکس پټ ښکاره له خپله ځانه
ځان پخپله ائینه دکردار وینم

کړه خورې زلفې ورېځې ګورې ګورې
چې په سترګو کښې دې ست دخمار وینم

په خندا مې مرغچن دځوانۍ ګل شو
چې په شونډو دې خندا دبهار وینم

دا سپرلے دے؛ چې په ویر دي څو بلبلې
څو ګلونه ګرېوان څیرې په دار وینم

بدرګه به دې کړي لوټ کاروان د حُسن
د رندې ځوانئ په لاس کښې مُهار وینم

دا په زړه کښې مې ستا مخ دے چې مسکے دے
که زه تندر په فانوس کښې حِصار وینم

حمزه پټ ئې د لیلیٰ درنه محمل کړه
دا پرده د اسویلو د غبار وینم

* * * * *

# ۱۱۴۴

نن دې رنګ د ډېره قهره بدل وينم
مستعد دې په خفګان او جدل وينم

چې نظر مې ستا د لب په بوسه سر شو
د بڼو په څوکو څکه عسل وينم

د کونتر پېر مې سترګې دې د بان کړې
په صورت کښې دې صورت د اجل وينم

په فتنه کښې فتنه اب شوه بخت مې بند دے
بهېدونکې دې په اوښکو کجل وينم

چې دندان دې د شانې بنخ کړه په زُلفو
منتشره شيرازه د ملل وينم

تعجب دے چې د عشق د عرش د سره
د هجران د سمندر بنکته تل وينم

بې د تا د اُلفت ناوې ده بې خاله
زه حمزه يې په بنايُست کښې خلل وينم

* * *

۱۸۹۴

# ۱۱۴۵

د سبا کړم انتظار زهٔ چې ویښ سحر سبا یم
چې بوی د زلفو راشي نو یقین مې دے چې بیا یم

چې دې خورشي بوی هوا کښې معطر شجر حجر شي
پس خورده هم که راشي د جانان نه خوښ په دایم

ئمه روغ نهٔ لیونے یم زهٔ دې داسې مضطرب کړم
چې په کور کښې مطمئن یم او نهٔ خوښ په بېدیا یم

لکه خس هسې بهېږم د فراق د سیند په مخکښې
چې د شپې په مخکښې تختي زهٔ هغه زېړه رڼا یم

سرگردان لکه فلک یم په سفر د یار په عشق کښې
چې روان شمه د ځایه یو ساعت کښې هلته بیا یم

نهٔ رقیب د چاړه سر شوم نهٔ قبول د یار په در شوم
چې کاروان د غم یې وران کړي په صحرا کښې نقش پا یم

چې سکون نهٔ وُ ژړا وه هغه هم جدا له ما شوه
زهٔ حمزه که اوس اوایم بې نوا نو بې نوا یم

سنه ۱۹۳۸ع

* * *

۱۸۹۵

ACKU

# ۱۱۴۶

زهٔ عاشق یمه لازم ده چې برباد یم
پهٔ ګذار کښې د ستم خو دې اباد یم

پهٔ شیرین خیال دې روغ کله رنځور یم
پهٔ یو تن امیرخسرو یم هم فرهاد یم

تهٔ خفه پهٔ دې چې کله بهٔ دې هېر شم
زهٔ خوشحال یمه پهٔ دې چې درته یاد یم

خوشبوئي شوه د حشتونه سپرلي راوړل
هې پهٔ پرده مې پهٔ بند کښې د صیاد یم

اے زما لهٔ پېرزوئنې نه پرېشانه
زهٔ خو ستا د ورانولو نه اباد یم

د خاطر پهٔ ائینه دې ګرد رامهٔ شه
زهٔ حېران چې یاره ستا د کوځې باد یم

چا وُد يې زړۀ ترې ارمانونه نه جاروځي
نامـراد يُم خو بيا هم دچا مراد يُـم

ماچې ناوې د اُلفت کـړله پـهٔ عقد
هسې څُکه د تهمت کـــره داماد يُم

پس لهٔ ما دې 'ائينـه کته مسکۍ‌شوې
کهٔ بې غم شوې زهٔ حمزه درباندې زباد يُم

*
* * *
*



ACKU

## ۱۱۴۷

د هستۍ د مود په سترګو کښې غُبار یم
لا پخوا د جګېدو نه په رفتار یم

د وحدت د ائینې په کون مې ګوره
له نسبته د یو عکس نه بسیار یم

د هستۍ له درانه باره نه خلاصېږم
بیا زه ولې د هستۍ د پاره بار یم

د ځوانۍ اومه شراب چې ئې سُرور لاړ
اوس له ځانه یم خفه هغه خُمار یم

اوس مې داغ د هر حسرت بله ډیوه ده
په بېدیا د بېکسۍ کښې یو مزار یم

یاره راشه ساه د صبر مې ډوبېږي
په واته یم اسویلې د انتظار یم

رقیب وینې خو ګلان د خپلو سترګو
زه حمزه یم پرې خندان لکه بهار یم

* * *

۱۸۹۸

ACKU

# ۱۱۴۸

دا ثبوت به څه کم نه وي چې شاعر یم
که نیغ نه ګودرم د تاته خو ناظر یم

په خاطر د خپلو سرو سترګو خمارو
پرېږده ډکه پیمانه وس په خاطر یم

جوړ په خوله کښې یمه ستا د حیرت ګوټه
چې تر منځه نیم دننه نیم باهر یم

ستا محفل به لکه نمر ساتمه ګرم
په دا څه که په دې سرای کښې مسافر یم

چې په شپه کښې دې د زلفو د رنګ غلا کړم
د بلا سترګې لرم هغه کافر یم

ته ستم کوه زه رنګ یم د نکریزو
چې مې څومره ټکوې هومره ظاهر یم

که مې تا د زړه دانه نه کړه قبوله
زه حمزه د ژوند په درمن کښې وافر یم

* * *

۱۸۹۹

ACKU

# ۱۱۴۹

زهٔ د ذړونو پهٔ اُفق لکه دنمر یم
چرته رُوح د سحر چرته مازیګر یم

پهٔ لمحو نقطو ېې مهٔ وېشه هوښیاره
د مکان او لهٔ زمانه بالاتر یم

دَر پهٔ دَر چې یم پهٔ دې ېې غلط نهٔ شې
کهٔ پوهېږې د اهمه دیار پهٔ دَر یم

سَر پهٔ سَر نهٔ وي د عشق پهٔ جوارګه کښې
د رقیب سره بهٔ ولې سَر پهٔ سَر یم

باخبره هُم چې وینم بې خبر دي
زهٔ هم داسې یم خبر چې بې خبر یم

غوږ د سترګو ېې ګونګې نظر ته مهٔ نږده
چې تصویر د حېرانۍ یم بې بصر یم

چې خبر په احاطه شوم ستا د حُسن
اوس نو چرته زه دننه نه بهر يم

نور مې نوم د آشنا مه اخله ناصحه
کوري نه چې د زړا نه لروبر يم

د بلتون د سحر پرخه حمزه څه کړم
انتظار کښې چې په خپله کړېوان تر يم

لوار کې
۸ رمارچ ۱۹۷۰ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۱۵۰

ګیر په جال کښې د عصیان لکه مګس یم
خراب شوے په خواهش او په هوس یم

یو هستي یم نه د بنو او نه د بدو
د صحرا یو بې فائدې غوندې جرس یم

مستولي په کېږي زما اجـــل دے
سور په واړ په تله راتله د هر نفس یم

کړه صیاد په ما هوا د دنیـــا بنــــده
زه بندي له ډېره وخته په قفس یم

التفات ته منتظر د خپل اشـــنا یم
ولې داچې زه حمزه غریب بېکس یم

*

* * *

*

# ۱۱۵۱

اُمید واریم د کرم کهٔ بد قماش یٔم
پرورده بې نوا ستا پهٔ نان واش یٔم

هغه رُوح د محبّت دې رانه واخست
هغه ژوند چې پهٔ ژوند شمارې زهٔ ېې لاش یٔم

چې شتر ته د نازونو دې تینګ نهٔ شوم
زهٔ د خپل انسانیت د زړهٔ خراش یٔم

اوس شوه ماته دا معلومه چې ستا راز وُم
چې مې ستا پهٔ زړهٔ کښې کور اونهٔ کړو فاش یٔم

شرافت مې رعایت ستا د نظر وَو
کښې خنګه چې اوباش اومه اوباش یٔم

ستا اختر خو مبارک دے مبارک شه
د دې ستوري برکت دے چې بشاش یٔم

۱۹۰۳

چې لهٔ تا مې سکون بیا نهٔ موندو څهٔ کړم
لهٔ فطرته یو جهان د ارتعاش یم

تهٔ خورشید د هدایت یې فخر علمه
خجل نشته هېڅ لهٔ تا خو زهٔ خفاش یم

ما بهٔ ستا په دُر دانو کښې ځان ګڼلو
زهٔ حمزه په دې څهٔ پوې وم چې خشخاش یم

لوارګی

۲۷ رمی سنه ۱۹۵۴ء

*
* * *
*

# ۱۱۵۲

چي مې غم کړو ذړهٔ کباب په شراب خوښ يم
کهٔ وحشي يم پهٔ نعمت د شباب خوښ يم

کهٔ فنا د عشق پهٔ سيند کښې ده ژوندم شته
دوانې کښې پهٔ مثال د حُباب خوښ يم

کهٔ نغمه شاهد او مې د خوب عالم وي
اے غافل اودهٔ عالمه پهٔ خواب خوښ يم

خاموشي د يار لهٔ وصفه وفا نهٔ ده
زهٔ ګويا د هغه ښکلي پهٔ باب خوښ يم

د نوکر پهٔ علامې کښې عزت چرته
چاکرې د ازادې کښې حساب خوښ يم

اضطراب مې د ارمان لهٔ زېږګو جوړ شو
زهٔ حمزه لکه ډک جام پهٔ افتاب خوښ يم

*
* * *
*

# ۱۱۵۳

تهٔ کهٔ شمع يې کهٔ ګل يې، زهٔ پرې سوے پهٔ هر رنګ يم
تهٔ کهٔ ګل شې او کهٔ شمع، زهٔ بلبل يم کهٔ پتنګ يم

داچې هر ساعت بدليږم داچې دَم پهٔ دَم څهٔ نور يې
تهٔ دچا سره پهٔ جنګ يې زهٔ خوچا سره پهٔ جنګ يم

ښو تعميرې بدل نهٔ کړې داصقل بهٔ دې حيران کړې
زهٔ ښځيله چې دځلې، آئينې دپاسه زنګ يم

کشرې مشرې دوارهٔ اضافې غوندې ليدهٔ شي
کهٔ لحاظ دلوے وارهٔ دے، ولې زهٔ هم ستا پهٔ منګ يم

کله کله پهٔ اُلفت کښې زړهٔ پراخه کله تنګ شم
دا خو څُکه زهٔ دا وايم، کله کله زهٔ اورنګ يم

ستا ديدن کهٔ ښو ګران دے خو ګران نهٔ دے ما حمزهٔ ته
خو زهٔ ښيله چې دځلې آئينې دپاسه سنګ يم

لواړګے

۵ دسمبر سنه ۱۹۷۰ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۱۵۴

چې مې خيال د ستا د مخ وي که هر څو بد يم خوښه يم
چې مشغول دې په ثنا يم نو زه پوهېږم چې زه زه يم

چې زه زه شم نو ته نه یې حېران تلے یم په فکر
په خرام خرام راتله کړې اے دلبره چې زه نه يم

د جونګړې ته مې راشه ضو فګنه شه زه وایم
چې ته ته نه یې هم زه یم او زه زه نه یمه ته یم

که صغیر دې د اعلےٰ نه په اسفل کښې چرې واورم
بیا به پاتې دلته نه شم د علیین چې زه مارغه یم

ته چې وائې د جلوس نه مې خالي نشته یو ځائے هم
که یو ځل راشې صنمه زه حمزه وایه په څه یم

*
* * *
*

ACKU

# ۱۱۵۵

دم مې خوب د مېړتون شو غزاله يم
په ښکارزن د يار د سترګو حواله يم

وايه څه به مې خريد کړي څه به راکړي
چې بائعه يم هم بخپله قبــاله يم

په ناله مې ئې چپيا خبره نه شوه
چې په سينه کښې شي فنا هغه ناله يم

تېر و تل په رنګ د ښکليو داغ د زړه شي
د سپرلي له جوشه چاود په زړه لاله يم

زه حمزه به وم صافي خو بد ده نفسه
تل له مکره دې په خوله کښې نواله يم

* * * * *

ACKU

# ۱۱۵٦

بې نیازه د ساقي د پیمانې یم
باده نوش چې د الست د میخانې یم

چې زمانو لا رهین د حوادثو
واورئ واورئ زه د هغې زمانې یم

زه په هره زمانه کښې په بیل رنګ یم
خو عنوان مدام د خپلې افسانې یم

هغه ساز یم چې یې هره ادا سوز ده
زړه د شمعې یم اشنا د پروانې یم

زه قاصد یم د مضراب د تار تر منځه
که چپه د ملکوت د ترانې یم

زه پخپله د ځان یار یم چې حمزه یم
بې نیازه د هر چا له یارانې یم

*
* * *
*

۱۹۰۹

ACKU

# ۱۱۵۷

ستا ستمګاره زهٔ ممنون ولې یم
چې درنه لاړمه راستون ولې یم

ورځه نو تا چې زهٔ لیدے نهٔ شمه
بیا نو پهٔ تا باندې مفتون ولې یم

روغه عالمه چې مجنون مې ګڼې
لږ خو مې پوهٔ کړه چې مجنون ولې یم

خط دې چې راشي زهٔ يې نهٔ پرانيزم
وايه چې پوې يې پهٔ مضمون ولې يم

ويره د سر د کم ظرفۍ نخښنه ده
زهٔ بهٔ پهٔ څېر د افلاطون ولې يم

ACKU

د کائنات افسون هې نهٔ بوګنوي
خو ستا له سترګو له افسون وړی یم

خامې لهٔ تا اوکهٔ لهٔ ما ده اشنا
زهٔ د اغیارو پهٔ لمسون وړی یم

چې د زړهٔ زړے سلامت وُو زما
حمزه په وهېږم چې زرغون وړی یم

لواړګے
۵, اکتوبر ۱۹۵۸ء

*
* * *
*

# ۱۱۵۸

دا سرې غمجنې سترګې خو جلوت دے د ارمان
پرسان د زړهٔ ئې مهٔ کړه چې خلوت دے د ارمان

ماشوم چې وي پهٔ مم د تصوّر هم شي پخلا
توبه توبه شباب خو قيامت دے د ارمان

دا خوئې دے د هوس چې پهٔ طلب وي د وصال
حاصل د محبّت خو محبّت دے د ارمان

زړګيه ځان چې ژغورې د رقيب د ناکړدو
راغلي دي ښکارېږي چې شامت دے د ارمان

ښلتون مې کهٔ پرېشانه شيرازه کړي د شعور
بيا بيا چې شي راجمع کرامت دے د ارمان

ارمان مې مطمئن دے چې بهٔ نهٔ شي ځواني مرګ
چې ښکليه ستا پهٔ زړهٔ هم حکومت دے د ارمان

۱۹۱۲

ACKU

زاهد هسې عبث د ناکامۍ کړي شکايت
اګاه نهٔ شو دې لاره کښې ضرورت دے د ارمان

پيدا پهٔ کښې ورو ورو بهٔ شي ستا خوئ د تغافل
چې ستا د تصوّر سره صُحبت دے د ارمان

حمزّه پهٔ دې نقطه کښې شي فنا همه لمحې
بس کيف خوله يو انه عبادت دے د ارمان

★
★ ★ ★
★

# ۱۱۵۹

اسوېلو مې جوړ په زړهٔ کښې کړ طوفان
يارهٔ لاړ شه چې هنګام دے دباران

ستا پهٔ غشو دستم مې ديد سپوا شو
نهٔ درېږي پهٔ بڼو باندې چشمان

مګر تا وته معلوم نهٔ يُم ناجانه
چې ستم کړې پهٔ بهانه دامتحان

حيرانېږم چې زهٔ څنګه درته ګران يُم
ښکلیه تهٔ چې زما خون ګڼې ارزان

هر چې غواړې دحمزه پهٔ سر اوسترګو
ولې نهٔ پهٔ بهانه دامتحان

*
* * *
*

۱۹۱۴

ACKU

# ۱۱۶۰

چې په یار شومه مفتون
ځکه شوم سکه مجنون

عشق په ما بل کړے اُور دے
چې سوخته مې شو لړمون

په ښو عشق مې اُولې
شو خوراک مې جګر خون

په ظاهر مې روغ صورت دے
سوے لوے اندرون

نه مې خوب نه مې خنداشته
یم ډېره په مېږه تون

دا مې حال شو چې مې اوکړو
د ښاسُتوو پښوستون

یوه ورځ تر بل بتر یم
راته ښه ښکارې پرون



ACKU

پهٔ وصال کښې دې مهجور یُم
لکه تږے اب کښې نُون

ما حاصل کړلو پهٔ عشق کښې
درد و غم سودا جنون

هیڅ دارو علاج مې نهٔ شي
د حکماؤ پهٔ معجُون

بې اشنا مې دارو نشته
څهٔ لقمان څهٔ افلاطون

پهٔ ساعت کښې بېدا اودم
د الینا راجِعُون

پهٔ ما جور او جفا کاندې
داغیادو پهٔ لمسون

خدائے دې چا ته بنکاره نهٔ کړي
د حمزه حالت زبُون

*
* * *
*

۱۹۱٦

# ۱۱۶۱

وي په حقيقت کښې لکه ګل هسې خندان مېن
څه که په ظاهر درته ښکاريږي پرېشان مېن

خدائے يم پيدا کړے په اسلام او مسلمان مېن
ځيله هم افغان يمه او هم يم په افغان مېن

عشقه په وحدت کښې دي دوئي څرنګه راغله نن
هم يم په اشنا مېن او هم يمه په ځان مېن

وي لکه نکهت، په ګل کښې هم وي هم بهرترې چې
څه شي په ظاهر که وي له يارہ ګرځان مېن

دا قابليت دے دا سينګار د ائينې نه دے
ځيل حسن که ګوري راشه اوګوره حېران مېن

او پېژند و ځان يې چې د خدائے دستر ګو کسے دے
بيا د ذرې د تل نه به انسان شي په انسان مېن

مُشت اوګرځواني مې چې يوځل کړې ديار سره
څهٔ وحشته اوس خويمه زهٔ پهٔ خپل ګرېوان مئين

نوښ مې سباوُن دے خولسُون د نسيم نهٔ زغمي
پورې چې ګړکۍ کړه پهٔ سپرلي کښې د زندان مئين

بس خپله جونګړه کښې لهٔ سوزه تاوُ راتاوُ ښهٔ يم
نهٔ يمه پهٔ شان د بربوکۍ پهٔ بيابان مئين

پټ کهٔ پهٔ پردو کښې ئې خو هر چا ته ښکاره ئې تهٔ
خلق خوئ وينې کهٔ تهٔ نهٔ وينې عريان مئين

څهٔ کهٔ د ديدن ارمان اونهٔ وتو ، اونهٔ وتو
اوس ديار پهٔ ځائے بهٔ وي حمزه پهٔ خپل ارمان مئين

پېښور
۷ر نومبر سنه ۱۹۶۹ء

*
* * *
*



ACKU

# ۱۱۶۲

کهٔ ده بلبل د تصرف د ګلستان خسرو
د شاعرۍ هم وو طوطي شېوهٔ بیان خسرو

خود اندازه د شخصیت به ئې اسانه نهٔ وي
چې وُ محبوب د الهي ته د اسې ګران خسرو

د زمانې د بوږۍ ګونجې به ئې ورک نهٔ کړي
تل به ئې ښکاري په تندي کښې درخشان خسرو

سحر جبینه خندا اوکړه شاعرۍ او ادب
ګړو ددې فن د تاریکۍ ځیرې ګرېوان خسرو

لکه د شمعې څڅېدلو په خندا خندا
وُ د ماحول په تیرو بانډې ګریان خسرو

د چا د زلفو جمعیت وو زرهٔ راښکون ورکړے
نهٔ وو نکهت غونډې بې واکه پرېښان خسرو

حمزه پیدا ئې انقلاب کړو په دنیا د ادب
زرهٔ په درزاکړلو د هند او د ایران خسرو

د جشن خسرو په دوران
پېښور
۱۲، اکتوبر ۱۹۷۵ء

## ۱۱۶۳

عشق په ذره کښې مقام اونیوهٔ کړیان تېر شو
د وصال کعبه جوړیږي طوفان تېر شو

چې پخلا شو اشنا راغے ژړا لاړه
وریځ ورکه شمه را اوخت باران تېر شو

د بېلتون غبار مې پرېښو د زړهٔ په لاره
قاصد نشته جرس تت شو کاروان تېر شو

اے قاصده دروغ وائې یار که یاد وُ
داد اوس زما د زړهٔ په بوستان تېر شو

چې جنون د عشق نه عقل ماتې وکړه
که د غم له ګرانو ګران وُ اسان تېر شو

حمزه مخ ئې چې ښکاره کړو بیا ئې پټ کړو
لکه برق مې د سترګو په اسمان تېر شو

★
★ ★ ★
★

۱۹۲۰

ACKU

# ۱۱۶۴

ته بې هېر کړې خو مه وایه چې دردونه لاړه بس شو
که لمبه د اور شوه تېره خو بخري یو په لس شو

د الفت رنګین خوبونه د ځوانۍ په ګلستان کښې
چې خزان د پیرۍ راغې تعبیرونه د هوس شو

ړنده مینه په ګړنګ ؤ پېچ ضمیر له پرهو تو کړه
یا په توره نیمه شپه کښې اوازونه د عسس شو

نظر ستړے شو پرده شوه ګني یار دے بې حجابه
چې منزل ته رسید نه شو مغوئي ځکه را واپس شو

د ښو ستنې دې راوړه چې خلعت د وصال جوړ شي
په شلېدو د ورستې ورځې ټول تارونه د نفس شو

ده لیلی هم مضطر به فکر مه کوه مجنونه
یو د بل نه بې قرار شي دا بانګونه د جرس شو

رقیبان ئې که د مینې دعویدار دي حمزه څه شو
سر شیندل د پتنګ کار دے نه په برخه د مګس شو

* * *

۱۹۲۱ء

# ۱۱۶۵

ځو ېې چې لټون کړو هغه ښکلي به معدوم شو
حد ېې چې د علم چرته ختم شو، معلوم شو

هغه چې تل سره له عقله هم ماشوم شو
ذړې د احساس وُ چې په ذړهٔ سره موسوم شو

ما باندې يې چرې برند نظرهم پېرزو نه کړ
وي به که سخي وي خو زما د پاره شوم شو

ما وې زهٔ به تل يم ستا د غم سره يو ځاې
جوړ په دې وحدت کښې د کثرت ځنګه هجوم شو

راغلي يو ناڅاپه حيرانۍ يم ځکه ورې
زور او تصرف د مايوسۍ راته معلوم شو

بس چې يو ذلمي نظر مې اوکړو هغه شوخ ته
ما ورته کاته په رپ د سترګو کښې ماشوم شو

هېر مې چې خپل نُوم شو ستا د نُوم په یا دولو
اوس راته دا ښکارې چې هر شے زما په نُوم شو

تا چې راته اوکړه اِشاره او څـهٔ دې اُووې
ورک رانه په کښې هم الفاظ هم مې مفهُوم شو

خېر دے دا به هم په محبّت کښې یو مقام وي
څهٔ شي که حمزه په کښې محرُوم او نا محرُوم شو

لواړګے

۲۶، مارچ سنه ۱۹۷۰ء

*

* * *

*

ACKU

# ۱۱۶۶

ښکاري اوس ارمانه سروکار دې جوړله نوُله شو
یار چې نن مُسکے راته خلاف لهٔ چَل معمُوله شو

نوَیٔ بهٔ د حیوان یا د ملک پرې غالب شوے وَ
ښهٔ شو، د انسان انسانیت ئې ترمنځ پوُله شو

عشقه کهٔ پوهیږې ستا ژوندُون خو هُم په دې کښې دے
حُسن خو ژوندے دے هُم پهٔ دې چې بې اُصوله شو

غم بې چې د مینې تربیت اوکړو کامله شوه
ورک ورځنې نقص د افاقو لهٔ نزوله شو

دا بهٔ وي دروغ چې لهٔ اسلامه ئې مخ ستوُن کړلو
ټوک چې رښتیا د پښتانهٔ غیرتو لهٔ کوُله شو

خوښه د اشنا ده چې قابل هُم قبول نهٔ کاندي
زور پرې د چا څهٔ دے چې قبول ئې ناقبوُله شو

۱۹۲۴

ACKU

عشقه ځوچې څوک دې دکثرت نه په وحدت کړلو
خلاص د افتونو د نسیان اوله ذهوله شو

بس ځوپه یوه نقطه یوځین دځه نه څه جوړشي
لرې له زحمت چې شو رحمت ئې رانزوله شو

فکر کړه حمزه چې ضابطه د زړه دې سمه وي
غلا له هغه کوره کېږي ورې چې بې چوله شو

پښنور

۲ ر جنوري سنه ۱۹۷ع

* * * * *

# ۱۱۶۷

ذوق يې د بنکلا له هرې ددې چې کامل نهٔ شو
ما ته هغه کس په هیڅ ډګر کښې مقابل نهٔ شو

تېره شوه ځواني خو ما يې قدر پېژند لے وُ
نهٔ ده تېره شوې چې حسرت ترې نه حاصل نهٔ شو

یَم هغه سُلطان چې د ماضي نه خراج اخلمه
حال د مستقبل له تقاضې راته حائل نهٔ شو

جار دې د اُوبدو غشو بڼو نه سترګې پورته کړه
هغهٔ ته شاهد وئیلے نهٔ شي چې قاتل نهٔ شو

ذرهٔ يې د شکم له غمه ورکړو بې نیاز غوندې
شکر چې حمزه د هغه لوري ته مائل نهٔ شو

بونېر پیربابا
۱۲ / اپریل ۱۹۷۰ء

*

* * *

*

# ۱۱۶۸

پهٔ اخر کښې چې زوال دے، څهٔ مطلب يې د شيندلو
چې حاصل يې فنا کېږي، څهٔ د تخم په کرلو

سپرلي راشي ګلان راوړي، لاړشي تېرشي ګلان يوسي
څهٔ مطلب يې د راوړلو، څهٔ مطلب يې وي د وړلو

هسې وايي پهٔ اخر کښې دا جهان بهٔ فنا کېږي
څهٔ مطلب د جوړولو، څهٔ مطلب د ورانولو

دا افراد چې د بشر دي، پيدا کېږي فنا کېږي
څهٔ مطلب د زيږولو، څهٔ مطلب د مړکولو

کهٔ هر کار دے بې مطلبه، بې مطلب خوهم مطلب شو
بې مطلبه مطلب څهٔ دے، څهٔ مطلب د کار کولو

کهٔ خندل دي کهٔ ژړل دي، يو لهٔ بله پيدا کېږي
کهٔ خندل او ژړل نهٔ وے، بيا بهٔ څهٔ وو د کولو

داجهان چې اول نهٔ وو اواخر کښې به هم نهٔ وي
پهٔ اوسط کښې راته وايه کوم دليل يُ د منلو

چې وهمي امر ډېر زيات شي بديهي ګڼلے کېږي
بديهي اووهمي يو دي دوارهٔ دي د غور ځولو

کهٔ عرفان پهٔ وسيله وي، زهٔ خپل ځان ثرنګ منمه
کهٔ زهٔ دوه نهٔ يَم نو وايه، کوم مقام ديو منلو

لوارګے

۳۰ رمی سنه ۱۹۷۰ء

* * * * *

ACKU

# ۱۱۶۹

دا څرنګي ژوندون دے چې يار نه وينم په سترګو
لا کيف يې دے عذاب چې بهار نه وينم په سترګو

رباب نه مې د زړه نغمې را اوځي په رنګ رنګ
شهباز د چا په لاس کښې دے، تار نه وينم په سترګو

تيارهٔ د بېلتانهٔ ده که دا څهٔ دي نه پوهېږم
يم ړوند په دواړو سترګو غبار نه وينم په سترګو

عاشق شته په دا ګره کښې چې د يار له غمه ژاړي
لوګے يې راته ښکاري که نار نه وينم په سترګو

حمزه ته خلق وائي چې په سترګو کښې دې اوسي
زهٔ وايم دے پکښې خو خمار نه وينم په سترګو

*

* * *

*

ACKU

# ١١٧٠

راستون شوله حجازه کاروان د پښتنو
الله کړو په احسان پوره ارمان د پښتنو

شهید لے په یثرب دے د اُلفت له بې واکه
خندان دے د سحر غوټې ګرېوان د پښتنو

خاونده جمعیت يې کړې بدل په پرېشانه
هر چا چې جمعیّت کړلو پرېشان د پښتنو

خاونده دېر يې عمر کړې سره د مملکت
ساقي چې دومره خیال شه[ے] افغان د پښتنو

بطحا دې ترې بهر وي په عراق او هم په کوېټ
هیبت وو هم چې پرېوت په ایران د پښتنو

د پاک نبي صلی الله علیه وسلم په نوم يې شه نصیب جهان باني
مېړه دې په معنی شي سلیمان د پښتنو

---

ے شاه افغان

بیا به‌یې ته راواپس چې شو په خیر او په خوبه
دخدای د رسول مینه وه سامان د پښتنو

حمزه کوه دعا چې اتحاد یې شي نصیب
پاک رب دې هر مشکل کاندي اسان د پښتنو

دقندهارنه دکابل
په لار

۲۵ ر مارچ سنه ۱۹۶۹

* * * * *

# ۱۱۷

اُلفت د ستا لرم چې زۀ بیا یم اووایه بد په څۀ
زر چې لري بها د ځان، څوک به ئې کاندي رد په څۀ

پاتې دیک نه کاتبین داوُ اثر د وصف ستا
وي کۀ حساب د تا سره، وے به غني صمد په څۀ

ما لره کل رقیب لۀ اُور یو مُو د عشق جوش دے
خپل دې دمړ یو کس نصیب، کاندي به څوک حسد په څه

کم دې همّت شوسوړې شوې جوشه د عشق دا ولې
غواړې د سرو شرابو نه، خودبین نن مدد په څۀ

وائي چې عشق دیوکوه بیا هم د خلقو پېښت مدام
واعظ اوبنائي ما لره، داسې په حد کښې حد په څۀ

قلب وَ دستا که موم وُ آئینه وه حجر شو اوس
حمزه د نرمو کرمو نه داسې شوې اشد په څۀ

۱۹۳۲

# ۱۱۷۲

بد کوم که ښه کوم د چا راسره څه
خوښ یم هر چي زه کوم د چا راسره څه

حال د زړه مي څه پوښتي مئین یمه مئین
دا اقرار په خوله کوم د چا راسره څه

لوی دي که واړه دي خوښ زده کړي پېغورونه
زما زده هر چي زه کوم د چا راسره څه

ما په دواړه کونه کښي خپل یار دی غوره کړی
زه ورپسي تله کوم د چا راسره څه

یار ته مي خوږه هره ادا ده لکه شهد
اے که زه تراخه کوم د چا راسره څه

پوري دي د عقل کړي رانجه چي دیده کي سم شي
ښه ده زه کاږه کوم د چا راسره څه

زه حمزه بل کار بغیر د یار د نوم له ورده
نه کومه نه کوم د چا راسره څه

* * *

۱۹۳۳

ACKU

# ۱۱۷۳

لاړه خوشحالي مې يوړه غم جوړې واده شهٔ
ساز د ناکامۍ او د حسرت پکښې واهه شهٔ

عشق چې نظر ډکړ د ادم د سينې ده ته
جوړه شوه پکښې يوه تهاکه نوم يې زړهٔ شهٔ

دا تمهيد د راز ؤ چې ظاهر ابن منصور کړ
پټ پاتې شو ځکه چې د خولې نه پهٔ واته شهٔ

عشق زما لهٔ خوبه يو تپوس د خودۍ اوکړ
او تښتېد و خوب مې چې جواب ترېنه اونهٔ شهٔ

مهٔ پوښته زما او د اشنا لهٔ ملاقاته
وې به رهبر دا دے مابه داويل چې څهٔ شهٔ

نشته د سپوږمۍ نه بل حاصل بې د رڼا نه
بد کهٔ ډېر رقيب دے پهٔ محبت د اشنا ښه شهٔ



ACKU

یار چې ویخ لهٔ خوبه شي دیدن یې هله کېږي
اوس مې وظیفه او عبادت پهٔ نمرخاتهٔ شهٔ

دوه چې شوه دوېي حمزه پهٔ لاره تېرېدلو
نهٔ وه د نظر څهٔ امتیاز پهٔ تلهٔ راتلهٔ شهٔ

# ۱۱۷۴

ساقي بوړ څېلو مستو سترګو ته دې پام اونهٔ کهٔ
تهٔ چې دا وائې چې ما قدر ستا دجام اونهٔ کهٔ

پهٔ يو ديدن کښې دې بخښنه دعرفان وه هسې
چې پهٔ هيڅ څېنرې هم اِظهار داستفهام اونهٔ کهٔ

سر مې اونهٔ کړه ملګرتيا د ټيټو سترګو سره
پښتون اِحساس مې زيات ددې نه اِحترام اونهٔ کهٔ

شو بې اسره مې اسويلے چې دنسيم سره لاړ
ړوٌ ترې غلط شو کهٔ تکل مې ستا دبام اونهٔ کهٔ

نن مې ستا مخ وُ پرې پېرزو ډېوه مې بله نهٔ کړه
تهٔ چې راتلې نو مخ روښے مې دماښام اونهٔ کهٔ

ښکليه معيار دمېنانو نن سبا شي بدل
کار دسينګار بهٔ دې خفه کړي کهٔ دې خام اونهٔ کهٔ

۱۹۳۶

ACKU

تهٔ خو راغلے یې حجابه خاصو عامو ته وې
څهٔ خو سبب وُ چې دیدن دې خاص وعام اونهٔ کړهٔ

زاهده مے وُ محترم چې یې حرام او بلل
جوړې محرم نهٔ یُې چې تا یُې احترام اونهٔ کړهٔ

وراندې چې تېر شوې د ناکامه عاشقانو ځنې
حمزه تا ولې دخپل قام سره ناکام اونهٔ کړهٔ

پښنبور
یکم مارچ ۱۹۳۷ئ

* * * * *

# ۱۱۷۵

نن څهٔ بهٔ د باسر نه درته اووایم چې څهٔ وَه
هېڅ بد په دې کښې نشته چې دا اووایم چې څهٔ وَه

یو ګل وَه نو نرګس غوندې یې سترګې تیټې نهٔ وې
اشنا ته چې په ترخ یې نهٔ کتل هغه لمحهٔ وَه

چې ګړه بهٔ په سخن شو، تر پایه بهٔ زبان شو
چې وخت بهٔ د احساس شو سر تر پایه بهٔ یو زړهٔ وَه

مرغۍ ته د سخن بهٔ یې چې ویړ کړو دام د فکر
کتل یې ورته ما چې نهٔ بهٔ وینې نهٔ بهٔ اودهٔ وَه

ناقص بهٔ یې اعلیٰ کړلو چې ورته یې قلم کړو
پخپله یې د نقص چې یې په لاس کښې قلم نهٔ وَه

وه آئینې غوندې ظاهر باطن یې یو وُ
هېڅ فرق یې نهٔ کېدهٔ کوم یې خُله اوکوم یې زړهٔ وَه



ACKU

ورځ په ورځ یې تله د الفت چې درنږد له
شاید چې دا سبب وه چې زمونږ نه په تله وه

دهغه ښکلي لفظ غونډې چې ځلند په ادب وي
بآصر له هر څه وړاندې جوړ اجل ته ور په خوله وه

حمزه د ژوند کمندې ښه لیدو چې دارسه شلیږي
بآصر یې پروا نه کړه مخ په پورته په خاته وه

لواړګے

---

۲۶/اپریل سنه ۱۹۵۲ء

# ۱۱۷۶

پکار مې شوه ژړا د اِنتظار په توره شپه
خندان مې نه دبخت شو راغلو يار په توره شپه

دځان ښودنې شوق يې بې نياز دے لهٔ رڼا
اشنا لره چې ځي کوي سنګار په توره شپه

نورکړه وړه چې وانخلي ستا د ذهن ائينه
پرسان لره دې راشه دبيمار په توره شپه

داغونه مې د زړهٔ کړې چراغان په دهر فراق
اسمان په ډېرو ستورو شي ګلزار په توره شپه

ډېرې د ارمانونو دې زما په زړهٔ کېنې ګُل
سودا مهٔ کړه اشنا ددې بازار په توره شپه

کړه ورکه دچپيا خبر بوځي ستا تصوّر
اوس اورم د مژګانو دې ګُذار په توره شپه

۱۹۴۰

چې واخسته ستا د زلفې شپې په رڼا ورځ
سم سم به ولې نهٔ کړمه رفتار په توره شپه

خالونه دې په ما د اسـمان ستورې اوشمېرل
سودا د زلفو ما لـــرې بېدار په توره شپه

حمزه د زړهٔ کاروان دې چې کړو عشق ته حواله
ړاندهٔ ته ورکوې د زړهٔ مهار په توره شپه

★
★ ★ ★
★

ACKU

# ۱۱۷۷

سوز د اضطراب ېې شو رسيد د صبر مغز ته
ځکه چې رانغلو اجابت د اثر مغز ته

سر کښېږي مې دماغ پکښېږي خيال پکښېږي صورت د يار
ګويا رسېدلے دے چينجے د ثمر مغز ته

څرته مسرّت د عاشقانو په دې دهر کښې
ځي ئې چې په څوکو د مژګانو نظر مغز ته

عشق لکه عرض غونډې محتاج وي جسم حسن ته
څنګه چې محتاج د خپل وجود دے هنر مغز ته

رنګ لکه اوبه څرکنده وي په بيل بيل لوښيکښې
خيال د يار چې کړي د سِر اخفا نه ګذر مغز ته

لوله دوباره ئې که يو ځل پژبانه ئې پوه شي
لاربه د حمزه اوکاندي نظم نثر مغز ته

*

* * *

*

# ۱۱۷۸

ته متاع د وصال دا کړه ما ځنه مې سر بها شته
ستا لۀ تورو سترګو زار شم ما ځنه ځانې د بلا شته

چې صورت د یار دې ځانې کړه پۀ لیمو کښې انتظاره
د خمبار سره رادرومه نوې نوې تماشه شته

پۀ اوبو د عشق اوبایه پۀ دې سیند کښې د زړۀ کبه
پۀ نخوش د ښکاري نفس کښې دې چینجي د دین دنیا شته

د ساده اشنا پۀ مخ کښې مې کړۀ ورۀ د سوالې جوړ کړۀ
ګوندې دا پوښتنه وکړي وایه څۀ دې مدعا شته

چې بوسه مې بې تپوسه درنه واخسته خفه شوې
خیر خیر بلا دې واخلم چې انسان لره خطا شته

چې خبره د وصال دې کړه پۀ نیمه کښې راغوڅه
نیمه هېره نیمه واوره د حیاد سره رضا شته

صاحبان د زمانې بۀ ولې رشک نۀ کوي یاره
چې پۀ خاورو ستا د در کښې د حمزه پشان ګدا شته

* * *

۱۹۴۳

# ۱۱۷۹

پهٔ نغمه کښې ئې د زړهٔ سوز وګداز شته
پهٔ هر تار کښې د شاعر د زړهٔ اواز شته

هر یو شے ورته جلوه پهٔ بیل بیل رنګ کا
پهٔ رڼا کښې د افشائې شپه دراز شته

د پتنګ غوندې شي شمع د خپل سوز سره
پهٔ خرمن کښې ئې د زړهٔ راز و نیاز شته

کهٔ شراب د حقیقت غواړې سالکه
د شاعر پهٔ پیمانه کښې د مجاز شته

د تشبیه ناوې ځې دے در ته سنګار کا
او به وائې دلته څهٔ کار د مجاز شته

پهٔ صفت د رد العجز على الصدر
دوه به کړي یوه مصرع هسې اعجاز شته

*
* * *
*

۱۹۴۴

# ۱۱۸۰

غریبان د فن کهٔ شته دے ، پهٔ پښتو کښې غني هم شته
د هوښیارو پهٔ ټولي کښې لیوني فلسفي هم شته

ما داخپل هم راخپل نهٔ کړل د پردو نه څه ګیله ده
خپلو خپل مقام که پرېښود ، دې مقام ته پردي هم شته

پهٔ ظاهر چې درته ښکاري ، د هوسۍ غوندې معصومې
خبر نه یې په دې سترګو پښتنو کښې زمري هم شته

د چا سر به د امتمه ، چې پهٔ پښتو کښې د بادار وي
نو یو څو پهٔ پښتونخوا کښې ، خدایګو سرپهٔ تلي هم شته

کهٔ مرحب د زمانې دے ، سر تر پایه پټ پهٔ زغرو
خیبري مزاج ژوندے دے ، ذوالفقار دعليٌ هم شته

چې وي کندې هر دښمن ته یې د برندې شملې ګوبنجې
چې زاړهٔ دي خو زلمي دي ، دلته داسې زلمي هم شته

۱۹۴۵

ACKU

کهٔ اغیار کښې خوې دسپي وي ، پهٔ دې سیمه کښې پړانګان دي
کهٔ پهٔ شان دسړي راشي ، پهٔ جواب کښې سړي هم شته

دخیبر شړله سیمه ، پهٔ دې کاڼو مهٔ تېرېږه
هم پهٔ دې ډېرو کاڼو کښې ځلانده غمي هم شته

کهٔ هغه بې وفائي کا ، خو دے ښکلے ورله ښائي
حمزه خپله مینه ځړ کړه ، پهٔ هغې کښې کمي هم شته

لوارګے

۶، اګست سنه ۱۹۷۲ء

★
★ ★ ★
★

ACKU

# ۱۱۸۱

چې مې غم د حد نه زيات شولو غم نشته
چې ژړا مې ډېره ډېره کړه نم نشته

تصوّر دې بيا زمانه مرور دے
معلومېږي نن سبا دې ستم نشته

عاشقۍ دې راله هسې دَم راکړے
دم مې شته دے کهٔ پهٔ دَم کښې مې دَم نشته

ستمونه دې د حد نه شو بې حده
هيڅ وتنه مې پهٔ زيات او پهٔ کم نشته

تهٔ د وروځو پهٔ خنجر کړه گذارونه
زهٔ الف يم کهٔ غوڅ شمه خم نشته

د هوسۍ سترګو دې ښکار يم کهٔ مې وينې
لا هغه شانې وحشي يم خو رم نشته

نوے نوے تخيّل نن د حمزه دے
خو پهٔ جيب کښې يې کاغذ او قلم نشته

* * *

۱۹۴۷

# ۱۱۸۲

چې ساقي راته وئيل چې شراب نشته
جوړ باقي مې اوس سرور د شباب نشته

تهٔ چې واځې ولې زړهٔ بائيلم پهٔ بنګليو
تا ګټلې دهٔ ناصحه جواب نشته

چې وحشت مې د لباس نه تار پرې نښود
اوس زما د يار ترمنځه حجاب نشته

زړهٔ مې وينې د چا پهٔ غم وُ د پخوانه
اوس چې څک يم پهٔ لمبهٔ کښې مې خواب نشته

پولې چرته؛ ګرمې اوښکې مې ځي زړهٔ ته
د باران لهٔ څاڅکو ژوند د حباب نشته

څوک چې کب شي د اِخلاص د عشق پهٔ سيند کښې
کهٔ صحرا پرې ټول جهان شي سراب نشته

سرکوزي لهٔ حمزه مهٔ غواړه رقيبه
چې پهٔ توره کښې د لمسي دې آب نشته

* * *

۱۹۴۸

# ۱۱۸۳

زلفې دې نسخیه کړه ښکاره خپلو مینو ته
ځکه چې علاج لره تیرې بویه لېونو ته

ګرد چې د بې وزلو د زړه نهٔ شي کهٔ ځلاغواړې
ګوره ائینه چې ورنخ نهٔ کړې اسویلونو ته

لا مې لېونتوب چې د ګنهون لهٔ درده واخلي خوند
ورم د زړهٔ ګرېوان ځکه د یار د ښو ستنو ته

لرې کړي مزاج د اختلاف د دین دنیا ځنې
ښهٔ مېړهٔ ضامن د اِتحاد ګڼه دوه ښو ته

لوې وي هم سپین روبي وي خوزهٔ ورته حیران شمه
خلق چې نسبت د سرېتوب کړي ځنو ځنو ته

هېر بهٔ فلک هم د مغو بچونو یت اوننګ نهٔ کا
تهوله شپه پهٔ کار، سحر بهٔ ناستې وي هیچنو ته

داخهٔ لیونتوب دے چې حمزه پهٔ بیابان کښې زهٔ
لاس بې دا شنا د ښو خیال واچوي غنو ته

ACKU

# ۱۱۸۴

جدائي مې ياره ستا شوله په برخه
ستا زما سره کاڼي ده دغه نخښه

ترخ زما شو ستا صورت په خپل مرآة کښې
ګني توره د ستم دې وه نسيم کښه

ښه ده ښه ده مراد مند دې رقيبان کړه
د دوئ خوا دې په تذليل زما کړه يخه

تعجب څه دے که زه ملنګ صفت شم
چې مې قوّت د خپل بدن شوه وينه خوښه

په اوبو دې د وصال يم صيقل شوے
فکر هيڅ ويره مې نه شي له دوزخه

ستا د ناز او د ادا په توره مړ يم
ځکه ماته عاشقان وائي چې بخښه

چې ستارې نو مستور هيچرې نه يې
دا خبره د حمزه ده په زړه بنخه

* * *



ACKU

# ۱۱۸۵

طبیب وائي چې دوا کړه دُعا پرېږده
حبیب وائي چې دُعا کړه دوا پرېږده

څو څو ځله کړې بیا بیا خو بیا را نهٔ شې
بیا بهٔ ګورو خو اوس راشه بیا پرېږده

ستا پهٔ تلهٔ کښې ده شفا خو خندا وکړه
دلجوئۍ ته مې غنچه د شفا پرېږده

یار مې میږدے د کاروان د تصوّر مې
اے رقیبه بې ادبه غوغا پرېږده

غوټۍ سبل د ګلستان پهٔ خندا سر کړه
طمع قطع کړه بلبله نوا پرېږده

چې مسکۍ مې مرغمجنه ځواني بیا شي
حجاب لرې کړه د مخ نه حیا پرېږده

هوش مې بیا د نصیحت دفتر پرانستے
اے دیار د کوڅې باده جفا پرېږده

۱۹۵۱

د سبا سترګه وه تندر د وصال شپې
درته څا وې چې لمن د سبا پرېږده

د مخ مالګه دې شوه ورکه شوې بې ابه
ما خو وې درته په عشق کښې ژړا پرېږده

اوس مې قدر کړې د خاورو ګوهر شینند ې
پس له مرګه مې په قبر ژړا پرېږده

رقیب هم په دې اور سوزې خفه نه یُم
اشنا څا درته ویل چې جنا پرېږده

اے حمزه چې کړې اُلفت د زړهٔ له صدقه
را شه طمع د وصال او جزا پرېږده

★
★ ★ ★
★

# ۱۱۸۶

سیمي لره را زغله ټېټمر پرېږده
استعمال د ټېلیګراف کړه لیټر پرېږده

د مسواک زمانه لاړه سګرټ راغے
اوس فېشن دِ ټمل ښهک دے هنټر پرېږده

چپړاسي که مقرر شي شکر باسه
تصوّر د مجسټرېټ کلکټر پرېږده

پلار او مور فرزند او رور فقط دوستان دي
دا موهوم د محبّت کېرکټر پرېږده

اوس مزې د اېرو پلېن دي نوې نوې
بې وزرو خوارخسته دے موټر پرېږده

چې مشام دې د دماغ تر و تازه شي
دست بوسي کړه د اېکټرس و اېکټر پرېږده

اوس دي ښې نګارخانې د فلم جوړې
هلته ورشه نور منت د پېنټر پرېږده

دال خورے کړې داسې دل چې شوې بې دا له
اے حمزه اوس راشه ماش خوره مټر پرېږده

۱۹۵۳

# ۱۱۸۷

د سحر سترګه چې راغلې نهٔ ده
وې بهٔ سحر خوشې لا تللې نهٔ ده

د ذرې دُنیا هم خامُوشي نهٔ مني
ستا د چوپیانه بوګنېدلې نهٔ ده

لیونۍ اوښکه په بڼو شوه پهٔ خود
څوکهٔ راغلې ټخنېدلې نهٔ ده

یوه سلګۍ ده چې بې تانه اشنا
ما ځنګدن ته هم ساتلې نهٔ ده

چې اشنا راغے، حمزه چا اوسیل
چې د نمر سترګه راختلې نهٔ ده

لوارګے

۲۰، مئی سنه ۱۹۷۰ء

* * * * *

# ۱۱۸۸

پهٔ مِلّت راغلي بیا د جمعیت نوې ځواني ده
اوس نا توانه غونډې ښکاري زړه شوې ځان ځاني ده

د ملّت ناوې پهٔ لاس کښې د تنظیم ګمنځ ښکارېږي
زړهٔ ئې ورو ورو جمع کېږي چې روانه پرېشاني ده

د وختونو چې دروې ستا د پاره نهٔ اَو دربېږي
د بېړې د پاره کله د سیندونو رواني ده

ویښې ذهنې ئې د پښتون کړې د ملّت ګراني اساني
د لته ګراني دي اساني چې د وینو ارزاني ده

چې اَئین د سرېتوب ئې مونږ پلرونو ته ښودلے
هغه مونږ ته توره برېښې دي حېراني ده حېراني ده

چې دوه دروُنه یو تر بله پهٔ خوږه خوږه کښې بېل کا
پهٔ مېراث کښې ورته پاتې دا د چا نه شیطاني ده

۱۹۵۵

ACKU

زۀ کۀ څوئمه یو موتے دا خوربښم لکه زهر
دا برېښنا زما د تورې ګویا تندر اسماني دۀ

ننګ او جنګ مې لۀ فطرته لا پېدۀ وینه کښې ګډ شوے
تېنګېدے ورته څوک نشي چې حمله ئې طوفاني دۀ

لواړګے

---

۲۷ رمی ۱۹۵۱ء

*

* * *

*



ACKU

# ۱۱۸۹

څوکهٔ غرور وي ستا د نازه سره
مل مې پښتو ده د نیازه سره

ورک په عالم کښې د سکوت یمه زهٔ
تللے یم ستا د یو اوازه سره

زهٔ خو فضا یوه پنجره گڼمه
بیا مې څهٔ کار شو د پروازه سره

ته دې خورے په هیڅ یو رنگ نهٔ شمه
یم دې اشنا د هر اندازه سره

یادې ژوندون دے خو نغمه نهٔ شوله
مل وي زما د زړهٔ د سازه سره

وینه مې نوش کړه واخله یاده دیار
نور دې څهٔ کار د زړهٔ د رازه سره

سترگې مې زړهٔ ته رانږدې شوې حمزه
کونترې خوښې شوې د بازه سره

لوارگے

۱ ر جون سنه ۱۹۵۹ء

# ۱۱۹۰

بې نوا ستا د رحمتونو د کماله سره
د اطمینان ورېځې راغلې ستا د کاله سره

ستا له جلاله چې سترګې دخودۍ شوې تېتې
غاړه غړې مې شو نظر ستا د جماله سره

د رته مارغان دي منتظر د بې قرارو زړونو
بې نوا راشه د رنګین نظر د جاله سره

ذړکیه ستا نه به طواف کوي عالم د مثال
چې شوې اشنا شاهٔ ستار د بې مثاله سره

څوک چې ختلې په رښتیا دے ستا د مینې په ټال
د جهان سترګې ئې جلب کوي د ټاله سره

ته په خاطر د واقف شاه او مظفر خاونده
خپل التفات دې کړه شامل زما د حاله سره

اوس د بخوړنه د مسکین حمزه خبر اخله د ېر
وختونه ډېر دي مخالف د بې مجاله سره

لواړګے
۱۰ر جولائي ۱۹۵۵ء

# ۱۱۹۱

ساقي راځي وړه تسپې او شراب دواړه
چې همدم کړمه ثواب او عذاب دواړه

زړهٔ مې څاد ستا دښو نه تاؤ دې کم کړه
چې اونهٔ سوزېږي سيخ او کباب دواړه

په څوانۍ کښې يا ديوشه يا دبل شه
سره نهٔ بنائي مستي او حجاب دواړه

فيصله دهوا لاس اوکړه ثالث شو
سره وران وو ستا جبين او نقاب دواړه

ياره قد دې قيامت شو و حمزه ته
ترېنه هېر دې کړل حساب او کتاب دواړه

*
* * *
*

# ۱۱۹۲

ستا پهٔ ذرهٔ کښې دي پهٔ جُدا دول روان دواړه
بيا ئې د ځـــان سره يقين اوګومان دواړه

دين او دُنيا دواړو ته کهٔ تا اِمتزاج ورکړ
ورک بهٔ شي پهٔ تا کښې دِامکان او زمان دواړه

ښکاري چې وفا ئې هم د طمعې پيداوار دے
يو چې دي پهٔ خوئ کښې حريفان او سکان دواړه

يو حريص د تمام ښېګړه ، بل غرض د ځان کـا
څهٔ کهٔ يو روزګار کوي ميړني او ځان دواړه

ګران مې ليونتوب دے د هموږ ليونو سـه
ما چې ودان کړے دے صحرا او مکان دواړه

اوس راته خوانهٔ تراخهٔ دتا' تراخهٔ خوانهٔ شي
ما دې چې خوانهٔ تراخهٔ قبول کړهٔ پهٔ ځان دواړه

ولې نو واعظه پهٔ يو کور کښې هشته نهٔ وو
ډېره زمانه، سره وو خدائے او بتان دواړه

پوهے چې پهٔ مطلب شوم هله پس اوپوهېدلم
ستا نام ونشانِ وُ ، نما نوم او نشان دواړه

وران پهٔ نصيحت د واعظانو حمزه نهٔ شو
اوګوره حرم او بتکده دي ودان دواړه

پېښور
۲ر مارچ سنه ۱۹۷۰ء

* * * * *



ACKU

# ۱۱۹۳

پښتونه چې فراخه دې وختونو مېخانه کړه
ښهٔ ځوانه ، د مېخوا نه دې وس لويه پېمانه کړه

کامل کړه فرديت لهٔ هغه پس اجتماعي شه
د کلي د استوګنې نه پخوا جوړه خانه کړه

دا نورې استانې بهٔ د رښتيا وُ استانې شي
وړومبې کهٔ څله خاوره د وطن دې استانه کړه

دا نوے ژوند دې ښهٔ دے خو شعور دې پخوانے وي
پښتونه راستنه دې هغه تېره زمانه کړه

پهٔ خوئ اُور اور کے شه پهٔ ځلا خوبې لهٔ تاوه
پهٔ وخت د قربانۍ لهٔ ځانه جوړه پروا نه کړه

دا سترګې پهٔ ترځو د تند رونو درته سرې وي
پهٔ بڼ کښې د برې وونو ورشه جوړه اشيانه کړه

زبېږګو ته تسلّسل دیو مقصد دپاره ورکړه
پیدا ددې ذړا نه سلا تړلې ترانه کړه

پیدا به د ژوندون په پرېشانو کښې جمعیت شي
داکړې وړې زلفې دپښتو خودې شانه کړه

حمزه د زړه په تل کښې دا بې صبره غونډې اوښکه
دوزه ئې د ملّت په غم ترې جوړه دُردانه کړه

کابل

۲۹ ر اګست ۱۹۵۸ سنه

★
★ ★ ★
★



ACKU

# ۱۱۹۴

امامه تا خهٔ اِبتدا اوکړه
بس د ایثار دې اِنتها اوکړه

د سرې توب د اننګو رونقه
تا د الحاد سره غزا اوکړه

ستا د اکبر پهٔ زلمي توب مې قسم
عشق ئې لهٔ جوشه اِرتقاء اوکړه

پهٔ موسېدو شو د اصغر پرهر
چې سکښتې ورته ژړا اوکړه

وې چې قاسم ته لاړشه وړاندې لهٔ ما
وېش دکوثر پهٔ ځائے زما اوکړه

ستا پهٔ لاشه چې انبیاء ئې کوي
هغه ادا زین العبا اوکړه

ستا د رحمت ؤ سېځلي کښې عطا
هغه حمزه ته بې نوا اوکړه

لواړګے

۸، ستمبر سنه ۱۹۵۹ء



ACKU

# ۱۱۹۵

چې په خوب کښې دبوسې دې ترې غلا وکړه
یو ځل بیا دیخه زړګیه خطا وکړه

ستا د تورو خمارو سترګو په غم کښې
ټوله شپه مې لکه پرخه ژړا وکړه

چې غمان دې دیل نه شي ګرد د لارې
دښکالو نه پټه پښه په ما وکړه

د وصال دشپې سحر چې سندریز شي
یار اوده کړه د زړه سازه نوا وکړه

بې لتا هم د تیاره په فراق جنو
شپې ته څه د راز خبره سبا وکړه

چې همه عمر بې ستا رضا نیولې
یاره یو ځل خو زما هم رضا وکړه



ACKU

په لیدو یې دې خورې زلفې کړې ټولې
په هیبت کښې د پردې دې بلا وکړه

بوږ حمزه به یاره تا ویشتلی نه وي
په خندا چې ورته وایې دوا وکړه

١٩٦٦

# ۱۱۹۶

ستا په تبسم یې حوصله اوکړه
اوښکو بوګنېدونکو مې شبه اوکړه

ګرمې غصې ستا مې اوښکې اوچې کړې
اور په اوبه څنګه غلبه اوکړه

ستړیه دکثرت څه خو راستون شه ته
لږ څه خو په ځان کښې ننداره اوکړه

نن په تیتو سترګو ارمانونو مې
ستا په پښتنو سترګو جرګه اوکړه

ښه ماتې دې ورکړه عشقه هرځلې
غم که د دوران بده حمله اوکړه

اوس راته زاهد وائي چې پرېږده عشق
حیف چې د صهبا نه مې توبه اوکړه

۱۹۶۷

یارو ته چې تلم خو عشقه ستا په داې
شوه په ویښو سره چې مې اسره اوکړه

پوې د خپل نظر په ګستاخۍ نهٔ یم
ستا دې اننګو څنګه خوله اوکړه

بیا به سبا لاړ شې اوس یواځې یم
ګرانه اِنتظاره نن خوشپه اوکړه

ویښ چې شي حمزه دا خیبري زلمي
پاڅه حیدري غونډې نعره اوکړه

پښور

۱۹ ، جنوري سنه ۱۹۷۰

★
★ ★ ★
★

# ۱۱۹۷

مخ دې د نقاب نه د کثرت خو ته ښکاره کړه
بیا به د وحدت په ننداره شي ننداره کړه

بې مقصده ګرځم پرېشان لکه نکهت یم
ګُله ستا خندا مې د خرد جامه پاره کړه

شیخه د تسبو او د مسواک په بدله کښې
ښکاري چې دُنیا او هم عُقبې دې اواره کړه

یو ځل چې واعظه ستا په پند مې غوږ او نه نیو
ګوره ناپوهي چې تا خبره دوباره کړه

عقله چې له عشقه دې سیالۍ ته اراده وَه
راشه نو اوّل مې ارمانونه اواره کړه

ماڼي د دُنیا بې وفـایي ثابتولـه
ستا د نظر خوي ېې د غزل اِستعاره کړه

خوب د ټول عُمري اِضطراب ځکه حمزه اولید
ستا په تصوّر ئې چې بیا بیا استخاره کـړه

لوارګی

۸ ر اپریل ۱۹۷۰ء

★

★ ★ ★

★

# ۱۱۹۸

سر په صحرا لکه مجنون یمه دستا دلاسه
په زړه زخمي دستا د زلفو د بلا دلاسه

تا دي هم خدای کاندي مفتون د چا په تورو سترګو
چي نوش کوي ډکي پیالي د سم دچا دلاسه

سوړ اسویلي دشپې زړا دي دسحر شه نصیب
سوی جګر لوغړن پرېوځي دجفا دلاسه

خوب دي دسترګو نه فرار شه دبېلتون په نشه
ورک دي قرار شه دسحر باد صبا دلاسه

تا مي جاري په ځای داوښکو کړو دسترګو نه خون
خوراک دي وینه دجګر شه دحنا دلاسه

یو ځلي رنګ شي په تهمت باندي پښتاني زما
په کورو کلي کښي رسوا شي داشنا دلاسه

د سوي لوي ذړهٔ پهٔ درد باندې بهٔ پوهٔ شې هله
سوخته پهٔ برق چې شې دچشم فتنه زا د لاسه

ستا کهٔ شعار جور و جفا وي نو جفا کوه تهٔ
ولې مجبور يمه حمزه خپلې د وفا د لاسه

# ۱۱۹۹

اے د محبّت یقینه تورې اندېښنې شه
اے د صدق سپينې ورځې راشه تورې شپې شه

څو به ځې د ځان په معرفت له هوشه لرې
راشه چې دې پوځې کړمه لږ ځان ته رانژدې شه

ستا په التفات مې هم قرار د ذرې رانغے
څکه درته وائمه بيا بيا چې رانژدې شه

خواست کوې په سترګو په محشر کښې هم تګې کا
اے د انتقام جذبه سوړ نۀ شې وريې شه

سل سره پيدا کړه کۀ مقام د اشنا غواړې
دا داسې منزل دے حمزه ټول ښپې ښپې شه

لواړګے

۲۸ ستمبر ۱۹۵۰ء

# ۱۲۰۰

ښکلیه په دیدن کښې دې ګرانۍ مه جوړوه
پام کوه د وېنو ارزانۍ مه جوړوه

تېر شو وخت چې تا به کړې د صبر سره لوبې
بس کړه راته سترګې پخوانۍ مه جوړوه

بو دیدن دې کم ؤ چې تصویر دې د حیرت کړم
نورې پرې د پاسه عریانۍ مه جوړوه

ګرانې به درېښې دا تکل د خوشحالۍ کړې
پرېږده غم، په غم کښې اسانۍ مه جوړوه

ما خو وې چې غم د زړهٔ د کور کوه چې وران دے
چا درته وئیل چې ودانۍ مه جوړوه

ستا د هوسو سترګو چې زهٔ ښکار یمه کافي یم
نورې نو وحشت وته ځوانۍ مه جوړوه

۱۹۷۴

ACKU

پرېږده پښتني جذبه مې اے دميني جذبه
پام کوه په دوئ ځېلې خانه مه جوړوه

هسې نه نصاب دې د ښکلا شي د نظره
هره ورځ اختر د قربانۍ مه جوړوه

نوښ په دې حمزه دے چې انکار له وفا وکړي
نوښې بهانې خو "افغانۍ" مه جوړوه

تار په تار واعظه کړې مغو کافرو زلفو
پرېږده د حمزه مسلمانۍ مه جوړوه

لواړګے

---

۳۰، مارچ ۱۹۷۰ء

*

* * *

*

# ۱۲۰۱

یار مې نشته کور کښې ځکه ده زما بېدیا خوښه
کور مې د زړهٔ وران دے ځکه ده زما صحرا خوښه

یار زما ویېلي وو چې خوب زړونه دي خوښ زما
ځکه مې ده ډېره د خندا په ځائے ژړا خوښه

نهٔ لرم طاقت د بېلتانهٔ د سینه چیږو ته زهٔ
ځکه وایم زهٔ چې مې د یار نهٔ ده رضا خوښه

زهر وي که شهد خو د یار د لاسه خوند کوي
ده د یار د لاسه مې جزا په ځائے سزا خوښه

درد مې دے په زړهٔ کښې د جانان ځکه ثنا کوم
څه لا ړشه طبیبه چې زما نهٔ ده دوا خوښه

خلق دي لیونے راته شي ورځ وائي زما پرخهٔ
عقل مې پکار نهٔ دے د یار مې ده سودا خوښه

سر د نیاز نښکته په چوکاټ ورته حمزه ایښے
اوس که کړي وفا او که جفا د بې نوا خوښه

* * *

۱۹۷۶

# ۱۲۰۲

تاؤ د عشق زما جوسه کړله بد رنګه
وعاشق ته ده ښائسته د ګل تر رنګه

عاشقۍ لره تکميل په هجران ښه وي
پائيدار بوټی کېږي وي تل په لنګه

ورمعلوم نه شو نظر د امتياز مې
امان غواړي عاشقي زما له جنګه

د ظاهر په صفای کښې کدورت وي
ائينې لره خلاصې نه وي له زنګه

که مې خومره تجارت اوکړ د مينې
هيڅ پرې زيانه کمه نه شوه زما پنګه

د اشنا د سترګو مې درپوړې نه وي
چې جګر لره راځي خوږکان خدنګه

زه حمزه يم د هرڅه نه ازاد شوے
مننګان چرې زړه نه وي له قلنګه

* * *

۱۹۷۷

## ۱۲۰۳

بس خو ښتون دے چې زهٔ څهٔ ګورمه
خدائے زده چې بد ګودم کهٔ ښهٔ ګورمه

پېدا مې نهٔ کړهٔ څهٔ چې زهٔ ګورمه
عمر مې تېر شو پښتانهٔ ګورمه

چې راته نهٔ ګورې در ګورمه زهٔ
چې راته ګورې درته نهٔ ګورمه

ښکلا کړي ډېره خو پښتو لاړه شي
تېښت دې لهٔ شرمه چې بانهٔ ګورمه

ملګرو اوس مې ايله زړهٔ اوپېژند
زهٔ چې د زړهٔ پهٔ صلاح زړهٔ ګورمه

ژوند عبارت دے د کړو سمو نه
چا ته بهٔ سم چا ته کاږهٔ ګورمه

## ۱۲۰۴

د زړهٔ حجره کښې مې غوغا شوکمه
څم د غمونو مېلمانهٔ ګورمه

سترګې کړه ما سره بدلې اَشنا
چې هغه اوګورې چې زهٔ ګورمه

بغېر لهٔ زړهٔ د زړهٔ بهاء نشته دے
زړهٔ ورکوم خو چرته زړهٔ ګورمه

بې ستا له مخه مې بل مخ اونهٔ لید
پهٔ نمرخاتهٔ پهٔ پرېواتهٔ ګورمه

د تېږو سترګو نه مې داد مهٔ کوه
د تا پهٔ سترګو کښې اوبهٔ ګورمه

ستا پهٔ نظر کښې چې دے سپک واعظه
زهٔ هغو سپکو ته درانهٔ ګورمه

جار لهٔ ترخو دې زهٔ حمزه یَم اشنا
چې پهٔ ترخو کښې دې خوږهٔ ګورمه

۱۹۷۹

* * *

ACKU

# ۱۲۰۵

مجنون دې کړم پهٔ عشق کښې صحرا ته لاړمه
بېګانه شوم د عقل نه بېديا ته لاړمه

دا ستا ښکلے بشر بهٔ فراموش نهٔ شي پهٔ ما
هر څو لهٔ دې جهانه کهٔ عقبا ته لاړمه

مشغول چې يو ګړے شمه دستا پهٔ تصوّر
ګويا د عشق يو دګې دنيا ته لاړمه

سودا دستا د زلفو مې سودا دځان کړه مَل
بازار دښونتوب ته دې سودا ته لاړمه

ما سر ترپايه ياره تماشا بهٔ کړله ستا عشق
ناتوان د حالِ زار دې تماشا ته لاړمه

محروم بهٔ نهٔ حمزه نهٔ شم لهٔ فضله دستّار
پښې ابله چې د درد مداوا ته لاړمه

*
* * *

ACKU

# ۱۲۰۶

ما خو بهٔ داوې چې زهٔ هم ستا شومه
هیڅ نهٔ وُم اګاه چې دهر چا شومه

ستا پهٔ تصوّر ىسکه دستا شومه
څوک بهٔ شي رسوا کهٔ تماشه شومه

غر دررته چې بنکلیه دصحرا شومه
چرته به راستون شمه چُپیا شومه

ستا د ښرنګو نه خبر هیڅ نهٔ وُم
څومره چې اشنا وُم نا اشنا شومه

حرف دتمنا دي محبّت کړمه
څهٔ کړمه چې بیا شومه بیا بیا شومه

چل مې دمنصُور نه دإخفا زده کړه
سرچي وعالم تهٔ پهٔ افشا شومه

داځه عجب سر دے چې واصل به وم
شکلیه! په کوم دم به چې بې تا شومه

نه پرېږدي بې ذکره مې، نوم زما
عشقه د تاجار چې زه اولی شومه

غم راته رنګ رنګ د ژړا حیل اوښود
تا چې ستم اوکړو په خندا شومه

داکه وي دروغ د لیونتوب خبر
بنده به یې بیا ځه کړې که رښتیا شومه

بوږ مې نه دے عشق د زمانې سره
بوے یې که هر ځو په تقاضا شومه

سروم دځیل ځان په لټون ورک ومه
ستا په لټون سر شومه، پیدا شومه

عشقه په اخر کښې چې مقصد ته وې
نه شوه چې مجنون اونه لیلی شومه

ځو که همایون مې وَ حمزه کلام
اوس خوخلق وائي چې عنقا شومه

لواړګے

۳۱ رمی ۱۹۷۰ئ

# ۱۲۰۷

د حقیقت نه دې خبر نهٔ شومه
چې د نظر نه دې بهر نهٔ شومه

ډېرې مې اوښکې شپې درپسې
نو په خندا لکه سحر نهٔ شومه

تهٔ خو په کسیو کښې نظر یې زما
زهٔ دې په کسیو کښې نظر نهٔ شومه

څکه بې دریغه پائمالېږمه زهٔ
چې پائمال د چا په در نهٔ شومه

تا ته کهٔ هم زهٔ د سپېدې یمه
خو د خپل ځان ځنې بهر نهٔ شومه

په هر منزل لهٔ خپله ځانه بغېر
چا سره څرته سر په سر نهٔ شومه

ستا پهٔ محفل کښې که زهٔ نهٔ ښکارم
خو چې دننه ووم بهر نهٔ شومه

ستا چې بُرجل دبرنه بر دے آشنا
خبر دے کهٔ زهٔ دبرنه بر نهٔ شومه

غېرت نشته خو بیا هم شته حمزه
چې دآشنا نه بې خبر نهٔ شومه

پاړه چنار
۳۰ ستمبر سنه ۱۹۶۹ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۰۸

زهٔ چې ستا دَ مينې په مجمر کښې سپېلنے شومه
لاړمه فنا شومه، خو ستا په زړهٔ کښې سوے شومه

نن يې په کړهٔ وړهٔ کښې د غضب نخښې ښهٔ کمې وې
ډېر دې مبارک وي موده پس ايله مُسکے شومه

ګوره عجيبه ده چې مې دے د زړهٔ نه اووتو
دا خو ماته دے ترمخې دے وُ چې زهٔ دے شومه

ټول په مخکښې تللي نا اميده را واپس شولو
عشقه خفه نهٔ شې کهٔ وروستے وُمه ړومبے شومه

ماوې د پرېشانه زُلفو خيال به مې زړهٔ جمع کړي
راغلې زولنې راته شايد چې ليونے شومه

ماوې شمع رويه رقيبان ولې خوشحاله شي؟
زهٔ خو دې محفل نه دلوګي غونډې وتے شومه



ACKU

پوے شوم چې ادراک د حقیقت پهٔ ما شومتوب کښې وي
لوبه دانړے راته ښکاره شوه چې سړے شومه

زهٔ دې د خپل حُسن اٰئینه کړم پهٔ دې خوښ نهٔ دُم
دې حیران اباد وته پخپله هم راتلے شومه

زهٔ حمزه چې ستا پهٔ کائنات کښې ځایېدے نهٔ شوم
تهٔ زما په زړهٔ کښې او زهٔ ستا پهٔ زړهٔ کښې ځائے شومه

پېښور

۲۱ ، دسمبر ۱۹۷۰ء

*

* * *

*



ACKU

# ۱۲۰۹

زهٔ د هجران د ورځې نول پهٔ ماسختن کوُمه
پهٔ ځنکدن کښې ارمانونوله کفن کوُمه

عشق کښې بینا شوسپین د سترګو مې د تورو پشان
پهٔ ورځ د زلفو ئې پهٔ شپه د مخ دیدن کوُمه

خالي لهٔ زرو د پزکر د دوکان خاوره نهٔ وي
څکه باور د عاقلانو پهٔ ګفتن کوُمه

زهٔ پهٔ دله کښې د خیال د سخن سیند راولم
رفت و آمد ګویا پهٔ ستړکه د سوزن کوُمه

چې سپرلے نهٔ راځي ګل نهٔ وي خوسپرلے هم نهٔ وي
یار چې مخ پټ کړو زهٔ بهٔ څهٔ غم د سوختن کوُمه

حمزهٔ پهٔ شهد وکښې ثوځله اشنا د دکړهٔ زهر
بیا مې توبه شه چې باور ئې پهٔ ګفتن کوُمه

*
* * *
*

# ۱۲۱۰

زهد ته چې خدایه نظر ورکړې رندانه
مے د اُلفت راکړې د ضمیر په پیمانه

لولم چې په دې چې چې عنوان انسانیت دے
خدایه د مستۍ چې تا ویلې افسانه

ګرد د محنت کش د مخ غازه دې د ملت کړې
اوښکه د غریب د ناکامۍ کړې دُردانه

مونږ ته زاړهٔ شراب په نوي جام کښې راکړې
هغه ځواني مستان چې بیا کړې فرزانه

بله کړه محفل کښې د مستۍ دامن شمع
هر سړے د هر وطن په دې کړه پروانه

مونږ اُور اُورکي کړه چې دنیا وي سوے مونږ وي
ستورو غوندې مسکه کړې زمونږ زمانه

جام دې د پښتون وي خو باده دې یثربي وي
وي دادې اصول او د حمزه دې یارانه

مزار رحمٰن

۲۳، فروري ۱۹۵۲ء

## ۱۲۱۱

والوتمه ډېر خو زۀ بهر نۀ شوم د څۀ نه
ونه دانړي د ه بيا په ونه باندې ونه

کله مُنقلب شي نمر خاتۀ پرېواتۀ دواړه
اوس شومه بې غمه د خاتۀ او پرېواتۀ نه

هر خوا ته که لاړمه سفر مې وُ په زړۀ کښې
لاړمه د زړۀ نه خو اونۀ وتم د زړۀ نه

مينې له بنګلا، بنګلا له مينې ژوندُون اومُوند
جوړ شو په اخره کښې وحدت د تۀ او زۀ نه

عشقه! له کړو سمو دې اووېستم بهر ته
خلاص شوم د ښکلې او د بدې د زولانۀ نه

ډُوب چې وي په سيند کښې ترې قلم وي پورته شوے
څۀ به يې زاهد وائي د سم او د کاږۀ نه

څومره تقسيم شوے زۀ حمزه وُمه حيران يُم
اوس شومه خبر چې تللے زۀ ومه د زۀ نه

پېښور
۴، دسمبر ۱۹۶۷ء

# ۱۲۱۲

ستا غمونه به ختمیږي هم کهٔ نه
دا دردونه بهٔ جوړیږي هم که نه

ستا وعدې د نن سبا خو راته وایه
چې بهٔ چرې وفا کیږي هم کهٔ نه

د سوختوؤ پهٔ نعرو او پهٔ ژړا څهٔ
کله زړهٔ دې پرې زهریږي هم که نه

نهٔ مې ځائے شته پهٔ صحرا کښې نهٔ پهٔ کور کښې
ګودم ځائے مې چرته کیږي هم کهٔ نه

لږ خو واوره پهٔ دنیا کښې ستا د ظلم
افسانې ونیلے کیږي هم کهٔ نه

لږ خو ئې اوپوښته چې ستا پهٔ درد و غم کښې
پهٔ حمزه بهٔ څهٔ تیریږي هم کهٔ نه

*

* * *

# ۱۲۱۳

هیڅ پوې نهٔ یم لټا چې شنا سا یم اوکهٔ نه
زهٔ ستا پهٔ تماشا کښې تماشا یم اوکهٔ نه

هیڅ پاتې اعتبارې د وېنا نه دے پهٔ ځان
اشنا زما پوهېږي چې ګویا یم اوکهٔ نه

برهم پهٔ دا مهٔ شه چې زهٔ وس بې نیاز شوم
اوس دے دغه سوال چې شېدا یم اوکهٔ نه

پرسان دې لهٔ پرېشانو تورو شپو کوه اشنا
چې ستا د تورو زُلفو پهٔ سودا یم اوکهٔ نه

عالم متغیر، متغیر هره لمحه
لږ ما کره پوهه یاره چې حمزه یم اوکهٔ نه

* * *



ACKU

# ۱۲۱۴

عاشقي به فنا نشي که په ما بل کړي اورونه
په خاشاکو که لاس بروي په لوګي نشته زورونه

ته چې عقل اے واعظه لما غواړې په الفت کښې
که توانيږې ورشه جوړ کړه په سيندونو کښې کورونه

ستا جلال ديروي هغه چې يخيله لوړ اوچت وي
د صحرا ترې څه نقصان دے زلزله دې کړي شورونه

چې پسين مې زما په عشق کښې تورکوړے شو غزا او شوه
که مې په اشنائي کړه خو راپورې شو تورونه

په دنيا د عشق کښې پل پل د عاشق د نوم يادګار وي
چې فنا يې حوادث کا دا هغه نه دي کورونه

د رقيب نه پټ وصال چې د حمزه او د ياد او شو
خدائے زده وس به په څه خلاصي چې ناغوښتي دي پردونه

*

* * *

*

# ۱۲۱۵

داسې کيف مې کړو حاصل د ميکدې نه
چې توبه به اوس کومه د توبې نه

ضد د حُسن به هم حُسن درمعلُوم شي
خېر کړه ژوند د مخالفې زاوې نه

د ساقي سرُور احساس مې دلته اوشو
شوم راستون د ميخانې د دروازې نه

تر دې دمه ديوې نه پاڼې سنهٔ دُم
څنګه پاڼې شوم د هرې قافلې نه

دٔ احساس مې د ساقي د کرم چرته
چې باده مې توبېدله د کاسې نه

اِنتظار مې چې غافل دے راسره دے
چې مې خېبرې يوه شپه د بلې شپې نه

ستا په مخ که حجابونه هر څو ډېر دي
خو امان غواړي زما د حوصلې نه

ستا د مخ څه عجیبه غونډې رڼا ده
رسوي مې چې یتارې ته د تیارې نه

کړې چینې د لېمو اوچې کله تاندې
څه یې وایم د غضب د زلزلې نه

سرچپڼ د بېلتانه یم که نمانځې مې
د باد څو د کړې تکنډې غرمې نه

ایله سترګې مې راډکې وې چې لاړې
وچ په وچه وېرېدلې د شبنې نه

بخت یې ګوره چې په زړونو کښې مېشته شول
کوم بتان یې چې بهر کړل د کعبې نه

نمر د مخ یې لا پرېوتے له مانه دے
حمزه څوک به یې کړي ډار د غرغرې نه

پېښور
یکم فروري ۱۹۷۰ء

* * * *

# ۱۲۱۶

ژوندے بهٔ نهٔ شي پهٔ اشنا مېنه
شولې غلط پهٔ مسيحا مېنه

مينه ئې تل پهٔ برېښوکيو کښې وي
مينه خو تل ده پهٔ صحرا مېنه

لهٔ هغه مخ او زُلفو هم شه خبر
اے پهٔ سبا او پهٔ ښکلا مېنه

د ښکليو مينه پهٔ دروغو نهٔ شي
مينه خو تل ده پهٔ رښتيا مېنه

د انتها ئے هم احساس اولره
اے د اُلفت پهٔ ابتدا مېنه

ګوره تکل د محبّت او نهٔ کړې
اے پهٔ دُنيا او پهٔ عقبیٰ مېنه

ACKU

بنکلیه نخواهش دي د نمود شي پوره
خبره که ده مینه په افشا مینه

شور به د ذرې په کوم طرف یوسم
که خاموشي ده په ښیدیا مینه

ستا په سبب کړي رقابت ورسره
ټوله دُنیا ده په حمزه مینه

لوارګی

۳۰ ر جولائی ۱۹۷۰ء

*

* * *

*

# ۱۲۱۷

بت د عشق مې کړه هستي لکه نینــه
لا سره پرې د رقیب نهٔ ده کینـه

پهٔ ښنو مې د سینې دېوال سوري شو
منوّر پې(ه) یار په حسن شــوه سینه

چې پولې شي بیا په سطح داوبو شي
چوب چې اُوچ شي نوملـه شي سفینه

وُم سنګدل ولې اُلفت داشنا موم کړم
خارجینې تل د کاڼي نـه چینـــه

زهٔ حمزه د شهٔ[۱] ستار د دَر فقیر یُم
کهٔ پوشاک مې وي زربفت او پشمینه

---

۱ شاه

# ۱۲۱۸

څې مې د خولې نه ستا له جوره ځنکدن کښې وينه
د زړۀ د داغ هسې مې داغ شوه په کفن کښې وينه

زما د خوڼ زړګي ساغر دے د شراب وسنه ډک
يا موجزن ده د لالا په پيرهن کښې وينه

ما به اودس د عشق نماز سره په وينو اوکړو
د يار مژګانو مې پرې نښتوده بدن کښې وينه

په جامو سپينو به بهر د يار د دره نۀ شم
د بلبلانو خو تويېږي په چمن کښې وينه

په مېنځ د روځو کښې چې بل د اشنا راشي چرې
ورکه له خوفه شي په دوست او په دشمن کښې وينه

ستا په دارو بانديې صحت نۀ دے ممکن د حمزه
بيا به پېدا نۀ شي په عاشق غمژن کښې وينه

★
★ ★ ★
★



ACKU

# ۱۲۱۹

قیاس د مینې د قیاسه وهه
یاس همېشه قلعې د اسه وهه

چې دې رقیب د پاسېدو نه اوځي
داسې ئې تل د سر د پاسه وهه

نوم دې د یار چې پکښې شکلې نهٔ وي
نامه د بل زړهٔ د قرطاسه وهه

تا ته پهٔ سر چې داشنا خوري چغلي
سر پهٔ خنجر خپل لهٔ خناسه وهه

داسمندر د یار پالنګ اوګڼه
پکښې غولې تهٔ بې وسواسه وهه

چې بې نوا ته دې اسرې شوې حمزه
ژاړه خپل سر په دواړه لاسه وهه

*

* * *

# ۱۲۲۰

چې وتم د عشق له بحره دا غوټه راله غوپه شوه
یو ناوتے اسویلے مې د خرد هره چپه شوه

ماله سوزه د یار مخکښې کړه په زړه کښې کړله جوړه
چې د ژبې سرته راغله ساز ئې واخستو ټپه شوه

د سپین مخ نه په منګز چې یار زلفې وارولې
انتشار د فطرت زړه شو چرته ورځ او چرته شپه شوه

اے مطربه ترانه کړه چې وې روح پیدا کوونکے
د تن تن هره صدا دې د منزل د عشق کړپه شوه

د کوم څیز پکښې کمې ده چې سوغات ئې ورله یوسم
د جوړې حاصل مې زړه ته بس د ټول عمر جوپه شوه

یو حمزه د پښتو شعر بابا دم وُ لاړو ستړ شو
ترې پیدا د شاعرانو په سرحد لویه ټپه شوه

*
* * *
*



ACKU

# ۱۲۲۱

اوښکه چې بهرته راغله سپکه شوه
څوکۀ مرغلره وه کُنجکه شوه

ژوند ډېر يوځښين په اعتدال کښې دے
ډېره چې شوه مينه ورکه شوه

تښتي د نظر د پلوشې نه مې
دا خو د شبنم غونډې نازکه شوه

ډېره مُوده پس مې هوس اوپېژند
دا څرنګه مينه ده چې کرکه شوه

ملا مې چې کړه شوه ډيندې په ځېر
اوس مې تمنا ايله ناوکه شوه

غېرو ته د سوال ئې چې عادت اومُوند
خولۀ د پښتونوالي ماته ځکه شوه

راوستمه نیاز د اشنا غېږې ته
پورته د سپوږمۍ د پاسه زمکه شوه

حیف دے چې جذبه د پښتونوالۍ بې
لاس کښې د اغیارو شوه ننځکه شوه

غوره پښتنه لره حمزه مُدام
ښه ده که شینوارې کهٔ ختکه شوه

*

* * *

*

# ۱۲۲۲

په سپرلي د خار په ژبه د ګلونو افسانه شوه
چې وصال د اشنا اوشو بیابان کهٔ وُ خانه شوه

چې مې سترګې ستا په لور کړې د پرهېزله قیده خلاص شوم
چې کوزه د اوداسهٔ مې شکسته کړه پیمانه شوه

زهٔ په عشق کښې بُت پرست شوم جوړه لویه بهانه شوه
په حرم په بت خانه کښې ځنګه جوړه یارانه شوه

رِندهٔ راشه ترې اوباسه پکښې مے د معرفت شته
چې زما په خونړه وینه زرغونه د زړهٔ دانه شوه

تهٔ مغنی کبریا یې زهٔ مغنی بې نوا یم
شته په ما لکه پخوا وهنهٔ چې تېره زمانه شوه

کړې بلا په دام کښې ګېره د بلا قوت لرې تهٔ
چې دې بند په کاکل کښې د هزار غاښو شانه شوه

هغه شمع د زړهٔ سوز ته د حمزه چې په کتو ده
په سلګو او په ژړا شوه په غورځنګ شوه پروانه شوه

★ ★ ★

۲۰۰۳

# ۱۲۲۳

دنیا کهٔ دې د حُسن څهٔ غښتلې غونډۍ شوه
اوس څهٔ چې زما مینه تېرېدلې غونډۍ شوه

ظلمې ظلمې ستُونه دې چې پېغلې سترګې کړې
ځواني مې پهٔ تک تک کښې پښه نیولې غونډۍ شوه

پهٔ سترګو کښې دې ګواښ د خوږهٔ سوال غونډۍ لوا
جذبه د شکایت مې ځکه غلې غونډۍ شوه

چې اوکړل سترې مشې مې د سر پهٔ اِشاره
جرګه د حال پهٔ اصل پوهېدلې غونډۍ شوه

حمزه او بدګومان پهٔ ښتنه ژبه دا څهٔ؟
بېکن هغه وعده مې ځنېدلې غونډۍ شوه

*

* * *

*

# ۱۲۲۴

پلارچې زه د وخت ووم پښتنو ته مې پرې نه ښوه
برنده زمانه وه خو پښتو ته مې پرې نه ښوه

ګویا تمنا وه څڅېدو ته مې پرې نه ښوه
اوښکه پښتنه وه بهېدو ته مې پرې نه ښوه

شونډې مې د "ب" په ټکي بندې اوساتلې
ناڅاپه توبه راغله وتو ته مې پرې نه ښوه

کار د سوزېدو نه د پکار، د وصل شپه وه
ځلنده ډیوه وه بلېدو ته مې پرې نه ښوه

څوچې سمه ما سره جل بل نه شوه په اور کښې
ښعه مې شمله وه کږېدو ته مې پرې نه ښوه

هوړ د پښتني تصوّر څه پوښتې له ما نه
ستا د مخ سپوږمۍ وه خپلو شپو ته مې پرې نه ښوه

ما حمزه ځوانې چې کړه پیدا په خپل غزل کښې
زوړ که شومه زه خو زړېدو ته مې پرې نه ښوه

کابل

۲۳ ر اګست ۱۹۶۹ سنه

۲۰۰۵

ACKU

# ۱۲۲۵

داړولې سترګې دې چې بـله پیمانه نهٔ وه
هرڅهٔ دوساقي ولې څهٔ نوره بهانه نهٔ وه

خود بهٔ مړکېدم چې خال مې نهٔ لید داشنا د مخ
خلق بهٔ هم داوائې چې پاتې ئې دانـه نهٔ وه

پټ دانې څرګند شه د بناګوښت پلوچې لرې شه
شمع بلېده او پهٔ محفل کښې پروانه نـهٔ وه

يار چې لهٔ محفله لاړنو زهٔ رقيب طلب کړمه
خبر اوکړو صياد د پسرلي چې نښانه نـهٔ وه

يار چې موده پس راغے حالت د حمزه دغه وُ
مات ئې ساز د زړهٔ وُ پهٔ لب پاتې ترانه نهٔ وه

*
* * *
*

# ۱۲۲۶

ACKU

عشق ته مقابل چې شو لاهُو شو پهٔ نُور اووایه
حق دې داوئيل لکه دسيند ئې پهٔ شور اووايه

چُپ شولې بوې تهٔ دنصيحت ردِّ عمل کُورې
بُويه چې ئې اوګورې واعظه خونور اووايه

ذرهٔ دې چې مئينه دوصال پهٔ بدل ورکړلو
خدائے دپاره عشق خو ورته مهٔ وايه پور اووايه

فصل د وعدې خودې يخلي ته نـزدے شوے دے
بنه کهٔ پهٔ خولهٔ نهٔ وائې د دروځو پهٔ لور اووايه

زنګ د ماسوئ چې ائينې د ذرهٔ نه پورته شو
اوس چې شوې بې لوره نوهر لورې ته لور اووايه

۲۰۰۷

مینې مېلمنه شوې د پښتون بې پته کېږه مه
اوس لکه مېرمنې غونډې زړه ته مې کور اووایه

ژوند د دُنیا څۀ دے؟ د فطرت د پسرلي یو ګُل
جمع حمزه ښکاري په ساعت ورته خور اووایه

لوارګے

۶ ر مارچ سنه ۱۹۷۰ء

*

* * *

*

# ۱۲۲۷

د الفت مینه د صبر ستنه غواړي
دي پکار د انتظار ورلره لاړي

د تهمت لوځوالے بنهٔ دے نهٔ پندونه
څهٔ پکار د عشق جامه د عقل ټماړي

د عاشق لهٔ جذبه څوک زده عاشقان زده
وي وېنا ئې عقل من ته شاړي شاړي

معشوقي چې لهٔ ازله بې پروا دي
عاشقان زده کهٔ خندا کوي کهٔ ژاړي

اُور د عشق وته واسنهٔ د مستۍ څهٔ دي
د همّت خسي پهٔ دې اخور شو زاړي

رقیب لوټےکاڼي اوکړي بیا منکر وي
لکه څوک چې اوبش د باره سره نغاړي

د خِرد سخوندره وخت د پسرلي شو
راشه وار دی شوکهٔ ئوري دعشق غوباري

حمزه ئوندلا دوصال اخستې نهٔ وي
رقیب راشي دبېلتون پهٔ لاس زوباري

*

* * *

*



ACKU

# ۱۲۲۸

څوک چې عاشق وي په رشتیا په زړه کښې خار نه لري
د رقیبانو په غوغا هډو څه کار نه لري

نه راځي ځکه خریدار زما د یار د خیال
چې بې له غمه مې سودا د زړه بازار نه لري

زړه یې زما دے خو افسوس چې د رقیب له غمه
کورته زما په تله راتله خو اختیار نه لري

دا ئینې د زړه نه بار دیو وښتبته اوپوښته
زما په زړه کښې غر د غم کېدے نوبار نه لري

زه په ځنګل کښې د عشق باز یم چرچنړک نه یمه
چې د تنزري کوي ښکار په دانه کار نه لري

که محبّت وي د ذِلّت سره نو مرګ به ښه وي
د سرکوزي وصف صفت خو کوهسار نه لري



ACKU

یار بهٔ د عشق د پاره پرېږدم خوشېک نهٔ منم
اور سلامت چرې دځان سره یو تار نهٔ لري

پهٔ برکت د ابوتراب سر د حمزه پهٔ فلک
څهٔ شو پهٔ داکه سجاده خرقه دستار نهٔ لري

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۲۹

هغه ګردونه د راتلونکو قافلو نهٔ وینې
پاتې نقشونه چې د تېرو زمانو نهٔ وینې

پخپلو ډکو درمنونو خو دښمن کوي ناز
زما پهٔ وینه کښې برقونه پهٔ چپو نهٔ وینې

قام دې د علم ښکورې ته پښوا بند اوتړې
د ورځې ستورې څهٔ د کار چې ئې پهٔ شپو نهٔ وینې

زهٔ پهٔ طلب د هغه نمر کښې رنګینې نهٔ وینم
ځان کښې شبنم لکه بهار د ګلوشو نهٔ وینې

دا بهٔ څهٔ رازوې چې واعظ د مېخانې نه سېوا
دوئمه لار اوکهٔ ګودر چرته د تلو نهٔ وینې

*
* * *
*

# ۱۲۳۰

که په برخه مې د مستو سترګو مینه اورسېږي
نو جذبه به په مې مطلب ته مخ رنګینه اورسېږي

شه مُسکۍ سترګې په سترګې چې بارخو دې حیا سره کړل
چې زما مړوني ارمان ته، تازه وینه اورسېږي

ستا د وروځو بڼو زلفو، عِلم کله زده کېدے شي
که له هند او له تاتاره، اَن تر چینه اورسېږي

که فرهاد شي په معنیٰ کښې د تېشې کارول زده کړه
کړه باور چې ستا په برخه، به شیرینه اورسېږي

حمزه کم به یې دوستان وي، هم به توربرې وایه کېږي
چې خبره په فطرت کښې د چا سپینه اورسېږي

*

* * *

*

۲۰۱۴

# ۱۲۳۱

رقيبان مينه دېږي زړهٔ عاشق وژل ته لري
کهٔ لاس يې بر نهٔ شي نو ژبه نوکښل ته لري

د دنيا کنډره بهٔ ذلمي پهٔ نکاح نهٔ کړي چرې
چې ورسره غاړه غړې وي هوس بل ته لري

پڅيله هم شي تار پهٔ تار چې عاشقان کړوي
ناڅهه قصد اول د ناوې تود اُوربل ته لري

غشے د سوق چې څومره پڅ وي هومره تېزې ګُمهه
ملاشي د پير لکه ليندهٔ خوسينه جل ته لري

ستا د کاکل تورې مستې د پسنو دم ترړے
ليونے زړهٔ پهٔ توره شپه مينه څنګل ته لري

دجا ملانو خوئَ زغمه ترينه کار اخله حمزه
عاقلان خيال د بارې خرونو کېې زل ته لري

*
* * *
*

# ۱۲۳۲

ماته هغه ښکلي څهٔ که بد وائي که ښهٔ وائي
نهٔ پهٔ دي پوهېږم چي پهٔ خوله او که پهٔ زړهٔ وائي

منع د شرابو خدائے زده نوي که زاړهٔ وائي
ورشه د واعظ نه خو تپوس وکړه چي څهٔ وائي

ښکليه چي ماته کړې منتخب پهٔ کائناتو کښې
خلق چي مېن ته وائي رُوند او وايه ښهٔ وائي

سره يې انګي شي چي پهٔ ما يې نظر پرېوځي
ډېر څهٔ راته اووائي که هيڅ راته اونهٔ وائي

ګوره چي يې ښکته پهٔ ګستاخ نظر د چا نهٔ کړې
ستا برندو اوږدو ښو ته خلق پښتانهٔ وائي

مينه د کړو سمو د قيد نه خو آزاده ده
ماته همه ښهٔ ښکاري که سم او که کاږهٔ وائي

خولې ته وار خطا خبرې راغلې د ديدن په وخت
يار په تبسّم خلقو ته اووې چې داخه وائي

ستا د خوږو عشقه ماته هغه وخت احساس اوشي
کله چې اشنا په خوږه خوله راته تراخه وائي

خير دي ارمانونه بې حمزه د زړګي وينو ته
چار کړي پښتانه ورځنۍ څه چې مسلمانه وائي

لواړګی

۱۱, فروري ۱۹۷۰ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۳۳

ستا چې تصوّر په تخیل د دیوانه کښې وي
ګویا میخانه چې په ورکوټي پیمانه کښې وي

څۀ به دلچسپي زما او ستا په افسانه کښې وي
سول وي که سېزل د غه په شمع ، پروانه کښې وي

بې نیازي او دورنګي ستا کړو دا حالت زما
یو قدم مې کور کښې وي او بل په ویرانه کښې وي

سترګې د الست د مېو ډکې ګرځوي زما
کله بندول د خوبۍ صفت په پیمانه کښې وي

پوهه دے اشنا په عشق تپوس مې چې د خال کوي
داده مدعا چې د بیمار په خصمانه کښې وي

ذرۀ ته به جګر زما د قهره ولې سور نۀ وي
ډکه اے حمزه چې خزانه په خزانه کښې وي

*
* * *
*

۲۰۱۸

# ۱۲۳۴

وحشت مې د صحرا بيا په سرخاورې باده وي
زړګي مې د حسرت ښهر شوي خلق ياده وي

ايجاد کړلو صياد ستم لُطف نُما بـل
لذت تا د صحرا نوردے مـــا ازاده وي

هيڅ شک په مهرويانو نهٔ کېږي د قتل وخون
نازک د ګل د رنګ هسې صورت کښې ساده وي

هرګز نهٔ يم غلط په تبسم د زهرو ډک
خندا نهٔ ده هغه چې سوي زړونه بناده وي

حمزه نار د خمار به دې تر حشره وي تازه
سرشاد دې چې زړګے د بې نوا پرې باده وي

* * * * *

ACKU

# ۱۲۳۵

اخر به ستا ظلم و ستم جور و جفا ټېره شي
په ما به هم ښه وي که بده دا دنیا ټېره شي

ظلم و ستم دې بې قرار کړلو قرار زما
ستا به هم دا ښائسته ځواني د ناز خندا ټېره شي

صحرا نورد شومه یو ځائے کښې مې قرار نشي
لکه هوسۍ په منډو منډو ورځ په ما ټېره شي

چرته مې ځائے د شکایت نشته بې تا څه اوکړم
تا ته ګله چې کړم لتا نو په خندا ټېره شي

ستا د طرف نه راوړي تل ما ته پیغام د اجل
په بستره مې چې هوا د پسین سبا ټېره شي

تل به په تا جور و جفا نه وي هم داسې حمزه
ذره کښې وفا به کله یا د بې نوا ټېره شي

★

★ ★ ★

★

۲۰۲۰

ACKU

# ۱۲۳۶

چاچې اُلفت د بې وفا سره وي
شپه ورځې کار یې د ژړا سره وي

نخښه د غیض وه پېچ و خم د زلفو
څهٔ به ګذران تورې بلا سره وي

غرق به یې کړي چپې د عشق اخر
څو کهٔ تر څنګه ناخدا سره وي

قضا به بې د راتلو نور څهٔ کوي
چې د قضا قضا قضا سره وي

فریاد مې زړهٔ بنکاري د مژګانو کوي
دوا د هر مرض دوا سره وي

غم د دارینو هیڅ کنه حمزه
ستا چې الفت د بې نوا سره وي

*

* * *

# ۱۲۳۷

هیڅ نهٔ شوم پوه چې ستا رضا څهٔ بهٔ وي
ددې ستم چې مدعا څهٔ بهٔ وي

وصل د فرقت مې هیڅ پکار نهٔ شو
اوس ددې درد مې دوا څهٔ بهٔ وي

تل چې پنجه ئې وي د رقیب پهٔ مرد
داسې بې بس کهٔ کړي ژړا څهٔ بهٔ وي

ستا پهٔ ابرو چې راشي بل لږ شان
بل کهٔ صورت وي د قضا څهٔ بهٔ وي

هرچې عاشق کوي دپاره د ستا
کهٔ کړي روا و ناروا څهٔ بهٔ وي

ستا د ښائست ذکوٰة یو بوسه
کهٔ شي عاشق وته عطا څهٔ بهٔ وي

بل ته حمزه اونهٔ کړې چرې
کهٔ شي خبر پرې بې نوا څهٔ بهٔ وي

* * *

ئے زمادمرشد پاک لقب

# ۱۲۳۸

چې وايم اوښکې مې په سترګو کښې اوس پاتې نهٔ دي
وائې دروغ دي چې دا سترګې دې لا سپينې نهٔ دي

زهٔ په فرقت چې ژړا د هېره درده کوم
وائې اثر چې پرېږده اوښکې دې لا وينې نهٔ دي

چې وايم ترېمه په تا د مال وسره څنې
وائې جامې دې په تهمت کښې لا رنګينې نهٔ دي

زهٔ ترې نه سوال په وېرٌ وېره د بوسې چې اوکړم
وائې چې سم دي د وارهٔ لبې مې شېرينې نهٔ دي

وائم پتنګ يم مخ دې شمع وائې دروغ مهٔ وايه
چې سوخته نهٔ يې معلومېږي چې دا مينې نهٔ دي

چې ورته وائمه زړګے مې کړو سوخته غمونو
وئې طالفې کومې د عاشقو چې غمګينې نهٔ دي

وائم چې ستا مينې الفت کړمه شاعر زهٔ حمزه
وائې مصرۍ خو دې څهٔ داسې بهترينې نهٔ دي

★ ★ ★



ACKU

# ۱۲۳۹

وختونه ددې ځلند اِنتظار څنګه خواږهٔ دي
شاهد چې دې کېدونکي هر هغه چې مې پهٔ زړهٔ دي

د اګواښ یې څهٔ غضب شو زما جذبهٔ مېړنیه
لښ راځي وله خولې ته اسوېلي پهٔ پرېواتهٔ دي

بانه یې بې قرار دي څوکهٔ سم نهٔ ګوري ماته
کهٔ سترګې پېرنګۍ لري بانه یې پښتانهٔ دي

بس دا مې وو اثر د اسوېلو د تمام عمر
کاتهٔ چې کله کله راته هم کوي ساړهٔ دي

چې برندو پښتې سترګې دې نهٔ کړې اسوېلو ته
بې واکه بې نوا دي دُعاګویه مېلمانهٔ دي

زهٔ ستا لهٔ اِلتفاته اجازه غوښتلے نهٔ شم
زما پهٔ زړهٔ چې څهٔ وو راغله ټول زما پهٔ خولهٔ دي

حمزه اوس دې ځوانې شوې د سخن نه مرورې
جامه ورکوه نوې کهٔ خیالونه دې زاړهٔ دي

لوارګے

۲۶ر اکتوبر ۱۹۵۷ء

۲۰۲۴

# ۱۲۴۰

دالره اُوس نهٔ انديښنې هغه اُوبدې بس دي
ماته د زلفو د فکرونو سلسلې بس دي

د يار پهٔ سترګو کښې انداز د بې خيالۍ شو پيدا
د سترګو ستا ته مې داګونګې اشارې بس دي

سترګې د يار مې پام غلط پهٔ اِنتظار کښې ساقي
د ذرهٔ پتنګه دغه دوه بلې ډيوې بس دي

د ليونې دالاس اوښې وصل عبث خو نهٔ دي
روغه عالمه اوشوه دومره زولنې بس دي

اوس کهٔ حالاتو اِلتفات ئې ياغي کړے حمزه
ماته ئې بيا هم هغه تېرې ورځې شپې بس دي

لواړګے

۲۶ ، نومبر سنهٔ ۱۹۵۹ء

*

* * *

# ۱۲۴۱

پورته کړه نقاب دې چې دنیا لمبه لمبه شي
را دې شه په مړو چې مسیحا لمبه لمبه شي

راشه کړه د ګل او د نرګس جګړه خلاصه
هغه چې غوړ غوړ شي درته دا لمبه لمبه شي

زړه په زړه داغونه چراغان یواځې نه یم
ستوري به هم ټول درته ښکلا لمبه لمبه شي

ګواښ د ښېښتنو ښو که څو وي په دروغه
زخم به هریو ورته رښتیا لمبه لمبه شي

هر شے د دنیا درته په څېر دے خفه نه ئې
برند شي چې کوم دم درته حمزه لمبه لمبه شي

کراچۍ
۲۵، اکتوبر ۱۹۵۹ء

*
* * *

ACKU

# ۱۲۴۲

اوښکې مې لاړې خو ناښادې نهٔ دي
دا خو په دې چې آدم زادې نهٔ دي

هېرې سندرې را یادېږي ولې
تېرې قصې خو راته یادې نهٔ دي

سترګې کهٔ واړوې چې جام شته زما
مړې مې ارمان سترګې مې مړاوې نهٔ دي

دا حوصلې په محبّت کښې زما
ځوانې دي ځوانې خو آزادې نهٔ دي

دا خو هوښیارې وې ساده شوې ولې
ښکارې چې سترګې دې صیادې نهٔ دي

تېرې خو ورځې د ځوانۍ شوې حمزه
تېرې به خود وي چې برباده نهٔ دي

لواړګي

۲۰ ر جون ۱۹۵۵ء

# ۱۲۴۳

چې دنيا يې په خبره کښې د اسلام د تهذيب نه وي[۱]
زما څه پرې که دا وران شي، بل ودان شي جهان نوے

د پرون د قدم نخښه، افسانه د سبا څه زده
بو ږنېدلے نن مې غواړي، يو مسکے اطمينان نوے

نه لرمه د امتياز او، نه په ژبه کښې زور پاتې
د وختونو سترګې برندې د حالاتو زيان نوے

د فطرت کرښې نوکوره چې هم هغه زوړ مضمون دے
پرې پټنګ ټيم خو چې وي يې څه انداز د بيان نوے

نوے هيڅ په جهان نشته، جهان نوے لباس ورکړو
نه لباس د فطرت زوړ شو، نه پېدا شو انسان نوے

زوړ پوستکے مار ګذار کړي، ولې رنګ يې بدل نه شي
د مغرب د تهذيب زهر، ژوند کښې مسلمان نوے

---

۱ اصل هم دغسې دے .

غرېو نيولې برېبوکې یې د ملّت په ورانېدو  ده
بيابان په ختمېدو دے خو دابل بيابان نوے

د مذهب د آزادۍ نه حمزه څهٔ درته حاصل شول
خو بس دا چه زوړ زندان دې غوره کړے زندان نوے

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۴۴

ستا مینه بازاري ده کله وي اوکله نهٔ وي
داخهٔ دوکانداري ده کله وي اوکله نهٔ وي

چې اوخاندې سر داؤکړم چې خفه شې درنه تښتم
بس دا مې جواري ده کله وي اوکله نهٔ وي

خېره د حکمت لیوني پرله پسې نهٔ کړې
وېنا د شنواري ده کله وي اوکله نهٔ وي

زما نه همېشه دلداري مهٔ غواړه، دا مینه
یو وهم و بیماري ده کله وي اوکله نهٔ وي

ضد پرېکړه مخالف عاشقان واړه درته یو شول
دا راسیمه شماري ده کله وي اوکله نهٔ وي

زاهده کله مخ ته مې شي ذېر کله تسپو ته
زما خهٔ مېخواري ده کله وي اوکله نهٔ وي

* * *

# ۱۲۴۵

ستاکهٔ هستي د حواد ثو لهٔ اِدراکـــــه اوځئ
نهٔ شي کېدے چې بهٔ حالات د تالهٔ واکهٔ اوځئ

څو چې په دارِ د محبّت دې نهٔ شي هوش او شعور
څرته باده ؟ چې د خَم خَم زُلفو لهٔ تا کهٔ اوځئ

کهٔ الوده يَم د دُنيـا دا سې فطرت راکـــړه
لکه ايلې چې دا وبو لهٔ مېنځه پاکه اوځئ

بس څو يوه د ذرهٔ دانه ده چې فنا نهٔ مني
تېغ د بقاء د جنګ پهٔ لاس اخلي له خاکه اوځئ

ستا د همّت د کوتاهۍ او ناتـــوانۍ نخښنه ده
دا چې نعرې دې پهٔ ډېر زور کښې لهٔ افلاکه اوځئ

خاورې ايرې وي هغه ذرهٔ چې محبّت نهٔ لري
بيا دې څهٔ کار وي وايه' اور چې لهٔ خاشاکه اوځئ



ACKU

په اشنایانو ازښت د صداقت مه کوه
بیا یې څه خوند د تعلق چې تش تپاکه اوځي

مغه نمر مخې زړه ته داغ چې وحشت راغې
څکه دنیا مې د کږیوان له هره چاکه اوځي

د حمزه لورسته د رندانو سترګې واوړېدلې
ساقي چې غبن کړو د محفل نه دې کاواکه اوځي

لواړګې

۳ رمی سنه ۱۹۷

*
* * *
*

# ١٢٤٦

په خپل فکر که واعظ ننداري وائي
بې له عشقه نو غزلې سړې وائي

رقيبان لکه د سپو بنګلې اشنا مې
کړي دا اِشکي او بيا کوډې کوډې وائي

خوب تر ساخت که دې پرده شي چې کوڼه دے
سترې په حال دې اپوټه چيتړې وائي

په هستۍ کښې شور زموږ ټول نه بويه
د شاعر د تخيل وزرې وائي

چې هر څوک د يار په سرو لبو شيدا وي
که په اُور کښې وي ولاړ شکرې وائي

عاشقان که په ژړا که په خندا وي
په هر حال لکه بلبل سندرې وائي

د حمزه ساده خبرې دي رازونه
د نزدې په رنګ کښې لرې لرې وائي

* * *

# ۱۲۴۷

کله چې له خپله ځانه تېر شي لارې جوړې شي
دوه مېئن چې یو د بل په خبر شي لارې جوړې شي

یاد چې داسې یاد وي چې نور هیڅ ورته یادېږي نه
بیا چې هغه یاد هم ترې نه هېر شي لارې جوړې شي

لارې پیدا نه کړي که ئې تنده د لمتون وي څه
بس خو چې له ټولو لارو سېر شي لارې جوړې شي

ګرانه ده خو ورته د وصال چې ورسېږي څوک
هو که ما سوئ ورته ګنهر شي لارې جوړې شي

لا خو حمزه کم د چې په ډګو در پوهېږي نه
هو که چرته غم د حد نه ډېر شي لارې جوړې شي

*
* * *
*

# ۱۲۴۸

قربان دي د کاکل نه شوګیري نهٔ قبلوي
ارمان مې داوبه دې د مچ شپې نهٔ قبلوي

جوړ بنکلي پهٔ لوټه کښې شول دخدائے نه م سوا
اشنا مې ورته ګوره چې توبې نهٔ قبلوي

پهٔ سترګو کښې ئې سترګې چې وانهٔ چوې ساقي
رندان دې بې نشې سبهٔ دې کاسې نهٔ قبلوي

نور هیڅ مې پهٔ خاطر کښې نهٔ ځائیږي بې اشنا
اغیاره میین ذرهٔ خو وسوسې نهٔ قبلوي

رهبر ئې چې بې خوفه پهٔ دَوُ دَوُ پهٔ مخکښې ځي
دلارې د صحرا خو قافلې نهٔ قبلوي

شاید چې تماشه شم د اشنا پهٔ تماشه
بې ذوق چې د بنکلا مې تماشې نهٔ قبلوي

حمزه چې ورته راشي هغه نمر د حقیقت
بیا داسې زړونه چپرې تیارې نهٔ قبلوي

پېښور
۲۴ ر اکتوبر ۱۹۶۹ئه

# ۱۲۴۹

زمانه بېرته په پېرشوه عاشقان ئې دي بللي
رقيبان شول دکټ ستوري جوړې تلې ژړېدلي

يوه ورځ چې په محفل کښې عاشقان شولو راجمع
ساده توب دا شنا کوره وي چې ولې دي راغلي

په شوخۍ کښې د شفق نه چې سوا حنا د يار ده
دواړه لاس ئې ترمنګلو دي زما په وينو دللي

د ماښام بېخودي راوړه د سحر د مستۍ پورې
چې ناکامه ارمانونه مې پراته وي دم ختلي

نن زما د هوش لمن ده په پنجه د ليونتوب کښې
په محل کښې صحرا نې ئم په بېديا کښې وينم کلي

د وصال د اُميد شمع چې وي بله زه صابر يُم
اسويلي د ځنکدن مې نا اميدۍ لره ساتلي

کړې زما سره صلاح هم کوي بيا خپله رضا هم
ما حمزه واړه منلي کوم چې ما نه دي منلي

* * *

# ۱۲۵۰

اشنا د غم چپې چې وې اوس تېرې غوښې دي
وعدې خوږې خوږې دي له ما هېرې غوندې دي

لا ډېر شراب مې څښل چې به توبې کړې ډېرې ما
اوس کم شو خو توبې مې هسې ډېرې غوندې دي

نن هم مې زړهٔ ډاډه کړ ستا پهٔ بیا چې رانه تلې
سنګه مې پهٔ دې دام کښې راګیرې غوندې دي

راتګ دې وُ ناڅاپه خفه کېږه مه اشنا
دا اوښکې بهٔ کړم توې چې رابوسېرې غوندې دي

دا ټوټې بلاګانې ستا د زلفو د لېمو
قربان چې د حمزه نه راچاپېرې غوندې دي

پجګي

۵ جنوري سنه ۱۹۵۳ء

# ۱۲۵۱

تل به کړي الوت چې دې وزرې حوصلې دي
فتح به وي ستا چې دې بنکرې حوصلې دي

زمکه یې رښتیا وې چې په بله وارولـه
چا وته عطا چې غـابـنـورې حوصلې دي

پام کوه چې ځان دې په وړوکیو کښې شمار نهٔ کړې
ستر به شې وړوکیه که دې سترې حوصلې دي

ساز د کـائنات یې منتظر دغږ ولو
پټې ستا په زړهٔ کښې چې سندرې حوصلې دي

خدایه چې نامه به وي د بڼکو پرې چا ایښې
زهٔ چې ورته ګورمه خو نرې حوصلې دي

تښتي مې له مخې بـلاګانې د حـالاتـو
ګوره بدرګه مې سر ببرې حوصلې دي

نغوتې دُنیا او دعُقبىٰ شوې بې اثره
ما سره ملګرې قلندرې حوصلې دي

وي دي حوادث په توره برېښ کښې په دې څه شي
ځم به مخ په وړاندې چې بې زغرې حوصلې دي

سوزي به حمزه که وي ډيرې ډيرې غمونه
ما ته عطا شوې اور د سرې حوصلې دي

کابل

یکم اکتوبر ۱۹۷۰ء

*

* * *

*

# ۱۲۵۲

لا مې خُمار لــره لمبې پاتې دي
ځو تندرُونه د توبې پاتې دي

د مينې ژوند وي په منزل کښې منزل
تل په دې لار کښې قافلې پاتې دي

نور به مې څهٔ په بې خودۍ کښې وي ياد
بس هغه ښکلې سترګې سرې پاتې دي

مرې که ديوې د انتظار شي ، څهٔ شي
لا حوصلې زمـا د شپې پاتې دي

تر څو چې رانهٔ شي حصاره به وي
لا د سنګين مې حوصلې پاتې دي

ستا مُلاقات لره ساتلي دي ما
اوښکې هم څومره نو دوه درې پاتې دي

نظر مې تېکنديږي غـر مې اوبهٔ کړي
چې پهٔ بارخوږي لاخولې پاتې دي

دپښتونوالي څهٔ پوښتنې کوي
نهٔ پښتانهٔ نهٔ پښتنې پاتې دي

خودچې اوربل دپښتنې نهٔ وي لا
څهٔ ننواتې څهٔ جرګې پـاتې دي

حمزه پهٔ عشق کښې هم فریب اوختو
چې ئې تراوسه وسـوسې پاتې دي

لواړګي

۱۱راګست سنه ۱۹۷۰ء

*

* * *

*

# ۱۲۵۳

اوس د وخت په سترګو کښې عتاب نهٔ پيدا کېږي
ځکه چې زما تللے شباب نهٔ پيدا کېږي

چا وئيل چې جزو د خپل کُل په خلافه نهٔ ځي
ولې نو د سيند ځنې ګرداب نهٔ پيدا کېږي

ستا ځلا د حُسن تر جوهر هم وارخطا شي
هيڅ په آئينه کښې ستا جواب نهٔ پيدا کېږي

څوکه ستا ليمه مستې شراب نهٔ پيدا کېږي
خدائے ګو زما زړهٔ غوندې کباب نهٔ پيدا کېږي

ښکليه چې قامت دې د قيامت نه بې خبر کړم
سوال د هيڅ حساب او د کتاب نه پيدا کېږي

چرته خارجي او ناصبي او ښار د علم
ور ورله بې لهٔ بوتُراب نهٔ پيدا کېږي

څهٔ کړمه حمزه خپله ښکلا راته بلا شوه
ځکه بې نظر د اِنتخاب نهٔ پيدا کېږي

ACKU

# ۱۲۵۴

اوس مېن له یاره وخپل ځان وته روان دي
پوه په حقیقت چې شو جانان وته روان دي

خبر دي اشنا غواړه اوس د دړو ځا بونو
ګورې مې لاسونه چې ګرېوان وته روان دي

کمې جوړ د خاورو د مېنو بربوکې شوې
څه روغ لیونې چې بیابان وته روان دي

نه ګړل پښه نیولې، نندارې د زړه چاودون هم
خلق په سپرلي کښې ګلستان وته روان دي

خام ګڼې خپل حسن چې تکل دا ئینې کا
ګوره څو حېرانو ته حېران وته روان دي

فتح د سپوږمۍ څه عجیبه شوه چې دا خلق
تل له یو جهانه بل جهان وته روان دي

دا خونړی سترګې دا ستړی ۀ پنجې غابنونه
دا بنيٰ ادم دي خو انسان وته روان دي

ښکاري پښتانهٔ لکه مېږي غونډې دُنیا ته
دا پهٔ دبدبه کښې سلیمان وته روان دي

ځې بهٔ تاترین ته داچې حق ته مقابل دي
څوکهٔ حمزه هغه ن اسمان وته روان دي

کابل

۲۷ اګست سنه ۱۹۶۹ء

*
* * *
*

# ۱۲۵۵

چې د نورو سره هم د تا نه داشي
کۀ یواځې دې پۀ ما پورې خندا شي

چې همه ګناه ګناه شوم ګناه چرته
څنګه سورے بۀ د سورې نه پیدا شي

فراق اوږد شي چې بند يې د بندېز کړي
چې تیارۀ نۀ کوي یون کله د نها شي

زۀ بناسټوئیم پۀ سترګو کښې اختے
د چینو ولې چې یو ځائے شي دریا شي

وحمزه ته ستمګر توره را واخلي
چې صادره د رقیب ځنې خطا شي

✦
✦ ✦ ✦
✦

ACKU

# ۱۲۵۶

مهربان چې په هرڅا باندې مولا شي
نو اخته د تورو زلفو په سودا شي

په فنا ئې د بقا خوندونه اخلم
چې فنا د حده تېره شي بقا شي

حسن و عشق لکه فتحه کسره شمار کړه
چې بهر شي ترې الف الف پيدا شي

خيل محل چې کړي مرض لکه د ځان خيل
چې په سم سره جګر سم شي دوا شي

په وفا کښې که وفا غواړې جفا ده
معلومتيا د تعلق هم په جفا شي

ما کلمه کړه سراسر مې غلطي وه
بې نوا له چې څوک ورشي بې نوا شي

دے زما ابوتراب ثبوت ئې دا دے
چې شامل د حرفِ لي سره حمزه شي

* * *

# ۱۲۵۷

ویلې کړو غمونو د زړګي مې صدا سنهٔ راځي
نم مې د الفت په اورکښې اوس وژړا نهٔ راځي

نشته بوئې د زلفو د سبا نه هم شو پټ صنم
زهٔ یم په دې فکرکښې چې بادِ سبا نهٔ راځي

نقش مې په فرقت کښې په دماغ د مرګ صورت شو
هره ساه چې اوباسم نو وایم چې بیا نهٔ راځي

زهٔ طالب د یار یمه رقیبه د جنګ نهٔ یم
مرد چې وي ګونګټ هسې بیا کورته پښا نهٔ راځي

داسې دو رنګي د خپل اشنا متحیر کړ مه
غم کښې ژړا ماله خوشحالۍ کښې خندا نهٔ راځي

خلق داسې وائي چې د خوف سره رجا وي مل
ولې مې د زړهٔ تودې کوټې ته رهبر نهٔ راځي

لطف اوکهٔ جفا کړې همه بنائي بې نوا لره
بل څهٔ د حمزه په ژبه بې د ثنا نهٔ راځي

★

۲۰۴۷

# ۱۲۵۸

بلبل پوهٔ پهٔ عاقبت د گُل ژړا کړي
گل يې پوهٔ نهٔ دے پهٔ ژبه چې خندا کړي

د سپرلي پهٔ تلهٔ راتلهٔ کښې فکر ښهٔ وي
چې طلب د رنګ او بوئ کوي خطا کړي

د خيل نفس سره ډېر جنګ مهٔ کړه عاقل شه
هسې نه چې چرته صلح پرې بنا کړي

لهٔ شېخانو لرې ګرځه که راز غواړې
ښهٔ رِندان دي چې وېنا صفا کړي

ګُل د خار سره يو ځائے راځي بهار شو
عاشقان بهٔ پهٔ تش ست صنم ځلا کړي

زهٔ سپوږمۍ د يار لهٔ نوره يم خبر شه
چې د نمر نه ګواهان غواړي خطا کړي

کهٔ زاهد پهٔ کرامت مست وي نو وي دې
خو تر کومه بهٔ د بام پهٔ سر ګړا کړي

د وصال د بې خودۍ نه به څه وايم
چې په دوو مېنو کور لکه بېديا کړي

ځان د ځان په اٰيېنه کښې ګوره پاسه
څوک چې ورکشي په حيرت کښې تماشا کړي

عاشقان به ولې زيړې ګونې نه وي
د بنا اَلست ميانۍ چې سرۀ پېدا کړي

چې د درد په اوبو عقل اودس اُوکا
سهوه نشته که بيا مونځ د عشق ادا کړي

مېلمستيا د زړۀ د غوښو کړم ښه مه
کړي اغزي رنګين اودس د ګُل ثنا کړي

زۀ حمزه د چا د سوي زړۀ لوګے يُم
چې فنا مې منزلونه تر بقا کړي

*
* * *
*

# ۱۲۵۹

ښکلې کۀ کوتره وي چې يو ناڅاپه بازه شي
بس نو پس د دې نه حقيقي يارانه سازه شي

اوس دې اِلتفات وينم خوسوال د وصال نۀ کړمه
ښکاري چې تکميل ته مينه اورسي بې نيازه شي

اوس د مينې زړۀ د مغه کيفه سره خوښ نۀ دے
خدائے زده اشنا ولې؛ چې اوس د دارمې ستالۀ نازه شي

غنۍ نوراته اوشو اِجازت کۀ يکتائۍ راکا
هار د جدائۍ مې پۀ جواب لۀ خپل اوازه شي

تۀ پۀ خپل مکان کښې د ومره نُور وسعت نو راوله
خېر د زړۀ مارغۀ مې کۀ بيا پاتې لۀ پروازه شي

خدائے زده چې فُتور دے د وصال اوکۀ څه بل سبب
ن د غېريت جلوه چې ستاله هراندازه شي

عشقه د حمزه پۀ خوله دې ښۀ چې مُهر اواهۀ
حُسن بۀ بې اب شي کۀ پرده پورته لۀ رازه شي

# ۱۲۶۰

ښکلیو ته هر دم چې بهانه راځي
خدائېګو چې ئې چا ته بهانهٔ راځي

تا چې سبا اوکړو سبا نهٔ راځي
راشي پهٔ هر چا خو پهٔ ما نهٔ راځي

بیا ئې نو پهٔ بیا دے څهٔ باور پهٔ کار
څو حُله بیا اوکړي خو بیا نهٔ راځي

ښکلیه چې مُسکے پهٔ تیتو سترګو شې
هیڅ دې اندازه د ښکلا نهٔ راځي

غواړي چې هر څوک د خوشحالۍ ورځې
چا وې دغم شپې دې پهٔ چا نهٔ راځي

اووایه واعظ ته ګناه زهٔ کړمه
زور خو ئې نېکبخته پهٔ تا نهٔ راځي.

ACKU

بس خو یو ګوهر د محبّت نـه غېر
نور څهٔ خو هیڅ ېې لهٔ بها نهٔ راځي

ستا د کږو برـندو بڼـو دا غشي
هیڅ ئې پهٔ ویشتو کښې خطا نهٔ راځي

خدائے دې مېین ډېر کړه چې بنېړې کوي
هیڅ راسته نور چل د دُعـا نهٔ راځي

ېې څهٔ دې تندے د کوڅې برند نهٔ دے
هیڅ پهٔ کښې بن غبن د ګدا نـهٔ راځي

هیڅکله ممکن نهٔ وي تیندک دوخت
ستا پهٔ تغافل کښې خطا نـهٔ راځي

عشق دے لکه وخت اوسه حمزه پهٔ کښې
تل وي پهٔ تګ بېرته پهٔ شا نـهٔ راځي

لواړګے

۱۱ر جون سنه ۱۹۷۰ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۶۱

چې نظر دَیو د ښـــــله برابر شي
کهٔ جيب دي کهٔ عدو وبـــله سرشي

ښکار د عشق چې ئمه ښکار د مرګ بهٔ نشم
غشے څهٔ کا چې سپوږمۍ د چاسپر شي

ستا خيال دے چې پهٔ ځکښي مې مُسکے دے
سپوږمۍ خانۍ پهٔ رڼا چې مخ پهٔ نمر شي

پرېشان لکه دګل شوې خاـــنده خاـــنده
د هجران شپه دې پهٔ غم ولې سحر شي

زېړګلاب پهٔ لاس کښې ځکه ورم اشنا تـــه
ګونډې چرته ئې زما پـــهٔ مخ نظر شي

عاشقان ئې ارماني يارپهٔ ګوشـــــه کښې
خضره څنګ اوبهٔ د ژوند بهٔ ميسّـــر شي

حمزه تـــل چې کړي صفت د زلفو سترګو
د قلم به سياهي مشک و عنـــبر شي

★ ★ ★

# ١٢٦٢

په کوم سبب چې دروازه زما نظر بنکلوي
دابېدار نهٔ شو اجابت کهٔ ئې اثر بنکلوي

مژه دلبو مې مطلوب وه خو رقیب شوه زما
په بې تابۍ جوړې ضیاء نخ دګوهر بنکلوي

خدائے زده نظر کهٔ مقناطیس کهٔ انقلاب حشر
هوش مې فرار شولو هریو ګ مې نشتر بنکلوي

نظر مې بنکل کړي اننګي بوسې ئې اخلي بصر
بلبل دګل له وصله پس هم خپل وزر بنکلوي

په تصوّر کښې مې خاوند دجبین دي دیاں
داسې مادغهٔ لرم چې ګل دپېغمبر بنکلوي

چې بې وفا اشنا ته یاد شوې نومې ستا اولیکه
مړهٔ حسرتونه دې حمزه داچې مسطر بنکلوي

*

* * *



ACKU

# ۱۲۶۳

ستا اختر دې د اختر غوندې اختر وي
تل په مونږ دې د ستا سور بختور وي

په هر ځاے چې د حضور قدم رنجه وي
تر قيامته دې مغه مشک و عنبر وي

خدا ے به عمر کړي عطا د خضر تا ته
په دعا کښې که زمونږه ښه اثر وي

که څوک غوث وي که ابدال وي که اوتاد وي
ستا نشان ته د نياز دې ښکته سر وي

طالبان د العطش نعرې به نه کا
پښبور کښې چې موجود حوض کوثر وي

حمزه ستا د درد علاج به اخر اوکړي
که هر څو دې حال د مړو نه بتر وي

*
* * *

# ١٢٦٤

ښکلیه د اخلق چې ما نهٔ پېژني
هغه خو ځکه چې تا نهٔ پېژني

ګله بېګا ګله سبا کړي اشنا
بوږي بېګا او سبا نهٔ پېژني

ستا تبسّم به پهٔ سېن څهٔ وُکا
هغه د تندر ځلا نهٔ پېژني

ګوره چې ځان ئې څهٔ ناجانه کړلو
لکه لهٔ سره چې ما نهٔ پېژني

ښوئ ئې چې ستا د زُلفو او پېژندو
هغه بیا نورې بلا نهٔ پېژني

نوي مېن ته څهٔ وئیلے نهٔ شم
اوس ښوګرم نهٔ دے چې تا نهٔ پېژني

چې پښتنو سترګو ته حُسن ګوري
خو پښتانهٔ دي قضا نهٔ پېژني

پهٔ زړو سترګو ورته ګوره اشنا
زړهٔ مې ستا نوې ادا نهٔ پېژني

مینې حمزه او اشنا یو کړل هسې
څوک يې وبله جُدا نهٔ پېژني

لوا‌ړګې

۲۰ر فروري شنبه ۱۹۷۰ء

ACKU

# ۱۲۶۵

طلب د یار زړګیه پاسه په پالنګ نه شي
هغه صادق نه دے چي یار لیسي ملنګ نه شي

ځکه حیران یم چي لاسونو د صنم له حنا
د زړو زړونو که وي خون نو به په رنګ نه شي

منزل چي شپه کړه اختیار په سینه ورځ مکره یون
واصل به شمعي سره بي د شپي پتنګ نه شي

دریغه پیوه د سپین بشرکه را عطا کړي صنم
چي بي قرار زړه مي په تور لحد کښي تنګ نه شي

ما وازه خوله لکه برزخ په انتظار نیولې
حیف چي دلبر مي پس د مرګه هم ترخنګ نه شي

چي په کوڅه د فخرِ علم کښي لتاړ نه شي
ستا به حمزه چاپي د عشق په خم کښي رنګ نه شي

★

★ ★ ★

ACKU

# ۱۲۶۶

په ښو غشو دستا چې څوک گهائل وي
تر قیامته به سورې په زړه بسمل وي

چې د گل دپاسه ناسته کړې په مینه
د لکې د لاندې شور څکه بلبل وي

په خرام خرام روان دې قتلول کړې
لکه سیند چې بې نیازه د ساحل وي

ځان به پېچ کړي څوک په څه شان د مغه نه
چې وسله په لاس کښې نه لري قاتل وي

عاشق ځکه سست کاهل وي زیر زبېځلے
چې په حال کښې د قیام ئې هم منزل وي

په قسمت چې میسر ورته وصال شي
نو د رعب ئې پرده ترمنځ حائل وي

چې عاشق ئې په جمال شي نو په ورځ کښې
د حمزه ښتان به ئې سل ځله وژل وي

* * *



ACKU

# ١٢٦٧

یار مې سر د یو بوسې په بدل وائي
زړشه زړشه راته یار د اجل وائي

رقیب سپک لکه د یخ دے خو ګرم نه دے
خپلو شونډو ته اشنا چې عسل وائي

چې له یاره چې خالي شي کور د فکر
صاحبان د عقل دې ته خلل وائي

خوږ اشنا مې که بند بند پرې کړي اشنا دے
دانایان کله ګڼي دېته نل وائي

سیه مست مې یو تربله بسته کړي
د خړې اوږده قصه مې ول ول وائي

د الفت په سیند کښې کب د سوي زړه مې
د هجران د نهنګ سختې په تل وائي

حمزه ذار دې تخت و تاج شي له دې فخره
سمندر درته بادشاه د غزل وائي

★ ★ ★

# ۱۲٦۸

پهٔ پښتنې وينه زرغون ښکاري
چې پهٔ دې بڼ کښې زړهٔ راښکون ښکاري

د پښتونخوا پهٔ زړهٔ کښې ناست ئې مه زهٔ
چې پهٔ رګ رګ کښې مې ژوندون ښکاري

"نن" د پښتون نوي لېمهٔ کړه پيدا
ورته "سبا" او هم "پرون" ښکاري

د ملّيت جنون نه ځان دې شمه
چې هر افغان دې افلاطون ښکاري

جوړ بهٔ ماحول ئې کړي مسکا د ګلو
دا برکت د زړهٔ چاوډون ښکاري

د پښتنې فضا د ژوند نبضونه
تونده او تاوده سکه پښتون ښکاري

لاس ئې ورواچوو کړيوان ته د وخت
څومره هوښيار د غه مجنون ښکاري

راغلي د ستوريو نه مُسکا شُوکوي
خپر زما اوښکي په شب خون ښکاري

"نن" لکه نن چي د ے پخوا به نهٔ و
پکښي "سبا" او هم "پرون" ښکاري

غږ د جرس رانږدې کيږي حمزه
زمونږ کاروان بېرته راستون ښکاري

کابل
۲۱ر اگست ۱۹۵۷ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۶۹

وختونه دي اړخونه بدلوي رابدلوي
اسمان دے نظرونه بدلوي رابدلوي

اشنا مې نظرونه بدلوي رابدلوي
زړګے مې هم اړخونه بدلوي رابدلوي

تقدير چرې ډاډ ورنهٔ کړلو زړهٔ ته دضمير
هرڅو کهٔ قسمتونه بدلوي رابدلوي

هوښيار خو داسې نهٔ مې وُو مارغهٔ دتصوّر
پر نهٔ کړي خوځانګونه بدلوي رابدلوي

فطرت چې د الفت دې له ښاسته عبارت
ښاسُت خوشي دامونه بدلوي رابدلوي

شايد چې بدلولے د انسان نهٔ شي فطرت
داڅوک چې نظامونه بدلوي رابدلوي

پوستکے حمزه خبر دے کهٔ بدل کړ لکه مار
پښتون کله رنګونه بدلوي رابدلوي

پېښور
۱۴ / دسمبر ۱۹۵۲ء

# ۱۲۷۰

چې د عالم سره صحبت نهٔ کړي جاهل ته رسي
چې يې پهٔ حق نهٔ وي نظر هغه باطل ته رسي

چې دې پهٔ مخ د غم څپې واخلي مراد به مُومي
موجونه تلل د سيند پهٔ مخ کوي ساحل ته رسي

هغه قطره شه چې قرار دې بې لهٔ بحره نهٔ وي
چې د ناقص نهٔ کړي صحبت هغه کامل ته رسي

خوب د جمود کله پرېږدي بانګ د عمل د جرس
قافله تېره شي ګردونه يې غافل ته رسي

پهٔ لبونو پورې خندا د عقل مند د ه عبث
څهٔ زده هغوي چې تېر د سر نهٔ شي څهٔ دِل ته رسي؟

د ناتوانه نه پسې شوې پهٔ چپيا کښې چغې
قيس د جرس نه بې خبر وائي محمل ته رسي

پل کهٔ غبار بانګ د جرس کهٔ کاروان دے همه  
د یو عاشق د منزلونو نه منزل ته رسي

ګوره حمزه لا پوره نهٔ وي چې هوس شي پوره  
څنې ترې کور ته دي واپس څنې منزل ته رسي

ACKU

# ۱۲۷۱

حیف يې په ژوند، هغه چې ستا له ملاقاته اوځي
چرته چې لاړ شي د مړ چا له التفاته اوځي

اوس په راتلو ده په محفل کښې هنګامه د مستۍ
وايه زاهد ته چې بهر له خراباته اوځي

دا سخاوت دے د ساقي او که رندان بدے نوے
چې د محفل نه پیمانه ماته اوځي

څو چې سبق د محبت نه، د وحدت زده نه کا
نه شي کېدے چې د کثرت له اضافاته اوځي

ایله به پوهه په رموز د جواري شي د عشق
چې په دې لار کښې د کمات او له بلاته اوځي

مئين هغه چې مينه کوي د پښتو په محک
څه شي که بشکليه هغه ستا له عناياته اوځي

ما ته چې اوګورې نظر په بل طرف واړوې
خدایګو قیامت دے چې پښتون له مداراته اوځې

یو د ړندې مینې تیندک وې راته کم مه ګوره
څه شې اشنا که مې له خولې خبره زیاته اوځې

د بر دې نصاب شه چې حمزه ته ئې عطاکړې اشنا
دا به څه کم وې چې زکواة دې له زکواته اوځې

پښنور
۸ ر مئی سنه ۱۹۷ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۷۲

بوئې مې د يار د تورو زلفو عنبرو راځي
د زړهٔ بلبل ځکه ګلشن ته پهٔ نعرو راځي

اوس محافظ د عاشقانو دې ستۀ شه مولا
جانان محفل ته نن پهٔ ناز او پهٔ نخرو راځي

صومعه نهٔ ده دغه ده صحرا د عشق واعظه
دلته لړلي ليوني پهٔ وينو سرو راځي

سُم قاتل واخلي پلوشې واړه جهان کړي مسموم
سحر چې نور د يار په زلفو منګرو راځي

د عشق رنځور سره دوا ده رنج وغم د حبيب
دا مېن نهٔ دے چې صحت ئې په دارو راځي

د حمزه جوش اوسته وارمو راغے اوس مرحبا
ډکې پيالې د يار د سترګو خمار ډو راځي

*

* * *



ACKU

# ۱۲۷۳

تاڅې لاس زما د زړهٔ پهٔ وینو ولړلي
رقیبان دې نظارې ته دي بللي

ناست ځکه رقیبان شو ستاپهٔ در کښې
چې د خاورو دې پهٔ ماجوړې کړې غلي

یو ځاے ماسره پهٔ کور غریبان کښې
واړه مل دي هغه تاڅې دي رټلي

هلاهل دې پهٔ پیاله دستر ګو راکړه
د لبانو مې دې چا لـره ساتلي

داسې مړهٔ دي پس د مرګه د مړو تېر دي
د ښو پهٔ غشو تاڅې دي وژلي

نهٔ جنت وینې نهٔ حورې نهٔ قصرونه
کور دي تاڅې پهٔ دنیا نهٔ دي کتلي

۲۷۰

امېد شته چې په مرقد مې پېره راوړې
ما بې حده منتونه دې منلي

په مرقد د حمزه هله راتله بويه
چې ګلونه په دستار دې وي ټومبلي

# ۱۲۷۴

لړۍ لړۍ چې په ځايو نو ګېنې سنبل ښکاره شي
وايم سپرے شو د اشنا به مې کاکل ښکاره شي

چې زنګ يې لرې کړو د زړهٔ نه اوس ژړا څهٔ پکار
قطره د آب د اٰيینې په سترګه ګل ښکاره شي

د ازادۍ د سپرلي عيش ګېنې وې مارغهٔ مې د زړهٔ
کله د يار چې په پنجره ګېنې د منګل ښکاره شي

لکه شفق چې ارزاني يې د ديدن نشته دے
پس د ژړا نه د باران په سپرلي ګل ښکاره شي

مالګې د مخ يې څهٔ کانې د رباڼې اوکړې حمزه
ليونے جزکړې څهٔ به شي خدائے زده که ګل ښکاره شي

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۷۵

تا چې پښه ږدې د الفت په سر اخستې
اوس په کار د اشنا کېږې ولې سست يې

په لمسون د رقيبانو دې يار پرېښود
بيا په کوم سبب اووايه حق پرست يې

دعوه مه کوه د عشق چې بې وفا يې
په اصول د عاشقۍ کېږې نادرست يې

هغه هم وويو ساعت چې يار د پاره
وديدن ته خلقې به دې راوستې

بنا ګسته جانان په در کېږې تورې خاورې
تا په سر به لګه مشک او عنبر لوستې

اے حمزه چې ذره دې غېرو ته مائل شو
شوه معلومه په کعبه کېږې بت پرست يې

* * * *

# ۱۲۷۶

ستا په وصال کښې که هر څو ډېرې ګرانۍ پرېوځي
خو چې بها په کښې د سرشوه اسانۍ پرېوځي

عجیبه دا چې په تا پرېوځي ورځ دې چې کړه
چې د فضا له اینې دې حیرانۍ پرېوځي

د شخصیت د زړبوړۍ ئې هیڅ مه کوه
چې د کمر نه د عصمت کولي ځوانۍ پرېوځي

مینې ارمان، چې ولې ته زمانه سازه شوې
که د معیار نه د مینو قربانۍ پرېوځي

مینه! ښنې چې د اخلاص او توکل دې نه وې
ځکه په لار کښې د همت له ناتوانۍ پرېوځي

چې اسوده به ئې په سیورو مظلومان وو مدام
ښکلې مانۍ او هغه د ښکې ودانۍ پرېوځي

ساقي عطا دې هغه شان ده خو سُرور نهٔ راځي
چې دلبمو نه هغه ستا مهربانۍ پرېوځي

داسې تصوير دې د حېرت پهٔ يو ديدن کړم اشنا
شته مې لباس خو پهٔ قسمت مې عُريانۍ پرېوتي

حمزه طوفان مې جوړ پهٔ بحر د سخن راځي نن
چې مې چپې د طبيعت د روانۍ پرېوتي

کابل

۳، جولائي ۱۹۷۰ء

*
* * *
*

# ۱۲۷۷

کله بې وړنې کله ماله جام د جم راکوې
کله عسل د سرو لبانو کله سم راکوې

کله ګدا مې د در در په بې نیازۍ کړې یاره
کله مې کښېنوې په تخت لاس کښې قلم راکوې

کله په بحر د وجود کښې مې لاهو کړې وجود
کله غوټې راله په سیند کښې د عدم راکوې

کله عاري د بصارت او بصیرت نه کړې ما
کله مراة د کوم رشکِ جامِ جم راکوې

کله خلّت د ابراهیم راته عطا کړې په شوق
کله اِخلاص هم د آزر راته صنم راکوې

کله نظر غلط انداز هم په ما نهٔ کړې چرې
کله مسکې شې راته ډک لاس د کرم راکوې

کله یو دم لکه د خان کړې بې نوا حمزه
کله په لاس د حکومت راته علم راکوې

*



ACKU

# ۱۲۷۸

کهٔ زړهٔ وته زما نوي داغُونه راليږي
قُربان دې دکړم نه چراغُونه راليږي

ارمان مې کهٔ دا ښکلې شي پهٔ اغزو کښې څهٔ پروا
هردَم چې د وعدې ښکلي باغُونه راليږي

ساقي کهٔ پهٔ محفل کښې باده نهٔ راکوي خبر
هر دم د مستو سترګو اياغونه راليږي

اوس ستا چې تصوّر راورې پيره پهٔ هر ساعت
اشنا د وړي زړهٔ مې سراغونه راليږي

اے عشقه د حمزه دې تول غمُونه اوسپړل
دُنيا ته د خاطر مې فراغُونه راليږي

لواړګے

۱٦ر جولائي سنه ۱۹٦۹ء

*

* * *

*

# ۱۲۷۹

تا مې ارمانونه کړه همه دخاور لاندې
څې مې کېنې لکه غبار په فضا باندې

واړه بلبلان چې یو په تا پسې ژړا کا
اے ګلابه وایه ته دچا دپاره خاندې

ټوک درته نظر کړے شي په چا سترګې زیاتې دي
راشه یو رواج دې چې لوګے کړم درته سپاندې

ګړونګوډې د وروځو بې اختیاره په ژړا کړم
راغله زلزله او چې چینې ئې کړلې تاندې

ما چې په سپرلي کښې توبه اوکړه له شرابو
ځکه دخزان سترګې په تلو نهٔ دي نغلاندې

ما حمزه رته لکه دسپي خو په خلوت کښې
خاندهٔ رب دپاره راته ته د رقیب وړاندې

*
* * *
*

# ۱۲۸۰

## چې دنیا کاندي حیرانه راپیدا کړه هنر داسې

> دا طرح د دېرو کارپردازانو اېښې وه - په دې طرح
> زما پرومبے نظم براه کاست شوے وو.

ټکه زه د غم جوړې کړم او به یې نه کړې تجر داسې
رقیب داسې یم وهلے چې څوک نه وهي خر داسې

د ابلیس نه هم سېوا دي بو ډاگان په شیطانۍ کښې
خر به هم څوک مست نه کاندي لکه دوی په جرجر داسې

په مسواک او په سګرټ کښې په عصا او تتل ستک کښې
فرق به تا ونه ظاهر شي د ملا او مستر داسې

په ظاهر چې شیخ صورت وي په باطن ابلیس سیرت وي
د دېرکي ځني رانیسه د لرم دے منتر داسې

دېره سر یې که او دده کړه کور د سپین ږیرو لوټ شو
چې څوک صافه چارابروکه دے پکار قلندر داسې

د چکلي د بوډاګانو یو علاج دے که پوهېږې
که وتل یې دوبارنه وي بنځوله یې ژور داسې

په ظاهر فیشن برښتونو د خانانو غلط مه شه
په چیتړئ سرګنجے کړي ټکوي ئې ټبر داسې

په ډبي کښې د قینچي مې د رډلیمپ[1] سګرټ وي اېښے
بې پیسو ټکو کړم خلقو سینما او ټهیټر داسې

د حقې په پهلوان کښې د ناشکې په پاندان کښې
خان سوخته واړه جائیداد که دیکه او پدر داسې

اوس کثرت د ډاکټرانو حال زبون که د خورانو
چې زخمي ئې روغ صوړشي سګوي پلستر داسې

که هر څو نکتې بیان کړي خو حمزه جاهل پښتون ئې
چې دنیا کاندې حیرانه راپیدا کړه هنر داسې

*

* * *

*

---

[1] رډلیمپ او قینچي دواړه یو قسم سګرټ وو۔



ACKU

# ۲۸۱

پهٔ دوا څهٔ چې مرض وي پهٔ دوا کښې
پهٔ شفا څهٔ چې شفا نهٔ وي شفا کښې

زېړ او سُور رنګ د عاشق لکه منه وي
چې ئې يار ساتي پهٔ خوف او پهٔ رجا کښې

سوز د سوز د وېرې داسې غائب شوے
چې مسکن ئې پاتې نهٔ دے پهٔ ژړا کښې

د مجنون او بنکې چې خلاصې شوې بدن کښې
غېرت لاړو ليلې شو پهٔ ليلا کښې

چې رندان د زمانې ورسته مشتاق وي
رعونت دے څکه داسې پهٔ مېنا کښې

د شرابو د الست پکښې لذت دے
اے حمزه ستا د سحر پهٔ واويلا کښې

*

* * *

*

# ۱۲۸۲

ستا د بې نیازۍ نه پښتنې شوې زما اوښکې
راغلې خو د سترګو نه ستنې شوې زما اوښکې

سترګې مې تروې تروې زبېښې لذّت یې اخلې
تاوُ د محبّت نه څهٔ خوږې شوې زما اوښکې

پټې شي لګه شي ، اشنا ستا پهٔ راکتلو
ستا د دوه لېمو غونډې پخې شوې زما اوښکې

پام چې پهٔ ځوانۍ دې چرته نهٔ شي تندرُونه
ښکلیه شه خبر! کهٔ درپسې شوې زما اوښکې

ستا لهٔ تغافله ځان پهٔ ځان شوې نهٔ غونډېږي
اوس د مرګې نه د جرګې شوې زما اوښکې

ستا له دې راتګه یخ روښے دماښام اوښو
راغلې زما سترګو ته ډیوې شوې زما اوښکې

بوړ په ختمېدو مې دي د عُمر همه ماني
وار د وینو راغے چې نن سرې شوې زما اوښکې

ستا دیوني غرور نه څنګه تاؤ راتاؤ شوې
جارېَ له شېبې چې زولنې شوې زما اوښکې

ښکلے ېَ حمزه که په محفل کښې بې پردې کړو
نهٔ دے دا قیامت چې بې پردې شوې زما اوښکې

لواړګے

۷، جولائي سنه ۱۹۷۰ء

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۸۴

ګل دې نن دچا دپاره اېښے دے په سر کښې
کوم يو بختور ته اشاره ده په هنر کښې

توت ؤ که ګورګرې چې تور داغ دې شو په لبو
ولې دې جش لره ځائے ورکړو په کوثر کښې

وخت دسپرلي دے تماشه دخپل سنګار کړه
جوړې ائينې شولې په ګل دپېغمبر کښې

قدر به ئې هغه کړي چې حال ئې ورمعلوم وي
زهٔ يم کيميا بوټے شګفته په دهګذر کښې

غنچ دخپل شکست يم او رېبد هٔ زما فنا ده
بيا هم دکثرت دبقا نوب کړم په هر سر کښې

رنګ بې نوا راکړو زهٔ رنګين او بې نوا شوم
ګل يم دبقا دهر بلبل په شور و شر کښې

پرا مې نن شپې کې په نکهت صبا لرلې
راشي قاصدان دې چې لا زهٔ يم په بستر کښې

يو د سحر کيف وې خمزه بل ئې وې د خوب
څکه پا سېدو ته نشي زړهٔ په لوئے سحر کښې

★
★ ★ ★
★

# ۱۲۸۴

هغه ځان به کله ځان شي په جهان کښې
ځو چې ځان د جهان ځاے نه کړي په ځان کښې

که له اُنسه څه جوهر وُ په اِنسان کښې
ائينې غوندې ساده شو په نسيان کښې

د سپرلي د بې بسۍ نه به څه وايم
د بلبل سندرې اورم په خزان کښې

د سپوږمۍ غاړونه وائي په واز کوګي
لا پټې دي مقصدونه په اِنسان کښې

د تخليق د پېر زوئينې ستم کوره
په مَلک او په اِنسان او په حيوان کښې

شوم پېښلے په دُنيا کښې تر دې حده
چې مې لوبه د ژوندون شوه په ډېران کښې



ACKU

# ۱۲۸۵

شوې د عقل نه مغلُوب وې وحشته
څو نارُونه فریادي دي په ګړهوان کښې

د نقطو او د لمحو شعُوره وایه
څه وحدت دے په زمان او په مکان کښې

دُ رنړا په طلب تللیو لاړو یو
د تیرو شعور مُوښته دے په وجدان کښې

د پرېوونو داجرګه چې شي پرېشانه
پس له هغې به شي دوغه په افغان کښې

درنه خیله پښتو لار غلطه نهٔ کړې
هر تو که خلق ګډ شوي په کاروان کښې

برېبوکې که یونۍ ګړا راز دهٔ کړي
کندې جوړې کړي او بو په بیابان کښې

حمزه تنده د فطرت چې نهٔ ماتیږي
چې ناوې ته کاسه نیسم په باران کښې

پښور ۱۶

۱۰ر جون سنه ۱۹۷۰ء

۲۰۸۶

*

# ۱۲۸۶

نن چې بلبلان او بوراګان دي په چرچه کښې
داغ په سرلې پيدا شو بويَ هره غنچه کښې

سوزي کرم چند ورته خو هيڅ کولے نهٔ شي
نن کباب جمع کړي روپۍ په صندوقچه کښې

ما مُنشي ته دا اووې چې دوه او څلور څو دي
وې ګرګو څټ چې او بهٔ ګورم کتابچه کښې

ښځې بهٔ په وعظ نصيحت څوک سمې نهٔ کړي
ښغه بهٔ څوک نهٔ کاندي دسپي لکۍ نيچه کښې

اوکړلو تپوس هسې پوښتنه د بلبل نه
څومره موډ شوې چې يې ډېره په باغچه کښې

اے رقيبه ته دسړي توب څله دعوىٰ کړې
ستا پښان سړي خو بهٔ زهٔ جوړ کړم په سانچه کښې

غله پهٔ کندهر لاس پورې کړو وېښ دکور خاوندوُ
وې چې وېښېږو سرې کړو څرګند پهٔ درېځه کښې

غل چې شوښکاره ښځې خاوند ته وې چې وُله
وې چې ښځې نهٔ یې شته کارتوس په طماچه کښې

نغاره دکم ظرفو نه دي ځان یاري د سیال کړه
فرق اے حمزه وُکړه پهٔ بوټه او پهٔ سوځه کښې

*
* * *
*

# ۱۲۸۷

له رهزنه نشته هیڅ خطر په زړه کښې
کړي خیال دي د اشنا ګذر په زړه کښې

ستا ضمیر مې دے اشنا رقیب ته تلیه
غزونې مې کوي خبر په زړه کښې

بیا لاله د زړه د داغ قصه کړه نوې
پسرلي مې کړه پیدا بهر په زړه کښې

ستا په بام د غزونې تصور دے
ستا د مخ نه مې ده شپه سحر په زړه کښې

دا ژوندون دے که هوا ده یا د مینې
چې خواهش مې شو د مرګ وزر په زړه کښې

ستا د وروځو د خنجر له زخمه زار شم
اوس خوراشه چې دې جوړ کړو ور په زړه کښې

د حمزه ژبه به ولې خوږه نه وي
ستا ترخو ئې کړو پیدا اثر په زړه کښې

★ ★ ★



ACKU

# ۱۲۸۸

بویه بویه چې به بیا راسره یار شي
اے نمر مخېږه چې په ما به تللې وار شي

بې نیازي نو زما په زړه کښې اوسي
طفل نه یې چې زانګو کښې په قرار شي

دا زما د عشق جوهر به فنا نه کړي
تپ په توره د اجل کښې که ګذار شي

د وصال دي قافلې چې عقله درومي
که په لاس کښې د ساروان د عشق مهار شي

د حمزه سره یاري د غرض پرېږده
هله یاري چې دیار د پاره یار شي

*

* * *

*

# ۱۲۸۹

ورځه نه تلې نه راغلې ستړې
ستا دې وي خپلې زما خپلې ستړې

پوهېږې ؟ څرنګه وي ښکلې ستړې
ښکلې هغه وي چې وي غلې ستړې

اوښکې دې نهٔ پرې باسي تندر اشنا
کړه دې مسکۍ دا ژړېدلې ستړې

زما نظره ګستاخي وکړه نن
خوښې زما دې بوګنېدلې ستړې

اخر موجوړ شول د ښو نه غشي
چې يو ترېله جنګېدلې ستړې

اوس اموخته شوم کهٔ الفت ولړ ډېر
پښخوا چې ستا نه بربنېدلې ستړې

حمزه تيرې د ښلتون وبوګنېدې
چې د اشنا وځلېدلې ستړې

پېښور
۱۸ر نومبر ۱۹۵۸ء

# ۱۲۹۰

په ديدن د اشنا ټول يم سترګې سترګې
چې دروغ هم اورېږے شي غوږ خونهٔ يم

جوش د عشق مې رابرڅېره جنون نه کړه
چې د سينه په مخ پېدا شي ځګ خونهٔ يم

که رنځور يم خو د حال د ښه صفت نه
اے طبيبه قال ويونکيه دګ خونه يم

زهٔ که تور يم او که سپين يمه ډېر ښهٔ يم
شکر دادے په يو حال يم برګ خونهٔ يم

سياحت د بنګالې دې عبث ښکاري
دعوېداره ستا پښتان ته ټګ خونهٔ يم

چې يې بې آبه حلال کړي غږ ونهٔ کړي
زهٔ حمزه يم زور اوره من خونهٔ يم

* * *

# ۱۲۹۱

یې کهٔ د وختونو څهٔ چې اوبهٔ اوبهٔ شوې
ستا دهر قدم لاندې لمحې اوبهٔ اوبهٔ شوې

جار لهٔ خپلو اوښکو چې مُسکا یې کړه ستا ویښه
اوس ایله اوبهٔ شوې چې لیمې اوبهٔ اوبهٔ شوې

څهٔ شوې سپوږمۍ مخیه د سپرلي بلمده فضا ده
ستا د مخ دیدن ته زما شپې اوبهٔ اوبهٔ شوې

زهٔ د چا لټون پهٔ بې جهته لا رو سر کړم
ځکه مې قدم ته فاصلې اوبهٔ اوبهٔ شوې

تېر مې چې شو تاؤ د محبّت تړ لیونتوبه
ځار دې د وحشت چې زولنې اوبهٔ اوبهٔ شوې

تېز نظر مې هله سرهٔ بار خو خولې کړل
اوګورئ چې تمکندې غرمې اوبهٔ اوبهٔ شوې

ستا د کوثري لبو يوه د ناز خبره
نشته ورپسې که درې خولې اُوبهٔ اُوبهٔ شوې

ولې دې واپس کړې ښښتې چې ستا بللې
کنګل د تا ذرهٔ دے خوجرکې اُوبهٔ اُوبهٔ شوې

خدائے زده چې سرلې بې څهٔ خُمار ته حمزه اووې
هيڅ ترې خبر نهٔ شوم خوتوبې اوبهٔ اوبهٔ شوې

لواړګے

۲ر مئی سنه ۱۹۷۰ء

★

★ ★ ★

★

# ۱۲۹۲

اوس تپوس ھی چي په ورو څو کړي کامل شوي
بوړ په کار د تورو پوهه شوي قائل شوي

ستا د مخ سختي وه پټه په ښکلا کښې
د سپوږمی نه ایله کېتي ¹ را حاصل شوي

په خندا خندا چي نن تري انکاري يې
د راتلو وعده دي کړې وه قائل شوي

حُسنه! ستا چي حقیقت اوويني پوهٔ شي
په زوال د خپل محل کله زائل شوي

زهٔ خو تا و ته حاصل وُم لهٔ اوّله
ښه خو دا شوله چي تهٔ راته حاصل شوي

په کمال د تصوّر کښې وحدت گوره
په صحرا کښې بربوکې راته محمل شوي

---

¹ اشاره ده د سپوږمی تسخیر ته

دا سې ښکارې چې جوړ زۀ د تا منزل وُم
ښکاره نۀ شولې چې تۀ زما منزل شوې

پۀ دا سېک فطرت چې کړ شوې سیند د عشق تۀ
چپو یوړې لکه خلے پۀ ساحل شوې

چې غندنه کړې زاهد کۀ کرم پۀ دې ئې
میخانې نه چې خارج او نۀ داخل شوې

بل رقیب ئې ، بې لۀ تا نشته دے رشکه!
د حمزه او یار تر مینځه چې حائل شوې

لواړګے

۱۲ر فروري ۱۹۷۰ع

*

* * *

*

# ۱۲۹۳

اوښکې مې راغلې خوځه ستنې شوې
جوړ څه هندکۍ شوې څه پښتنې شوې

تپوس له چا کړم، بېداره عشقه
هم ته رهبر شه، لارې اوږدې شوې

د زُلفو خوئي وُ، ترخو به سم وُ
چې په دې بې کښې، لارې کږې شوې

ستا غوندې ښکلې به ستا ښېرې شي
که دُعاګانې مې درپسې شوې

اوس دې د زلفو خبرې نه کړې
جوړ مرورې، زمانه شپې شوې

تاچې وې کړې، ترخې خبرې
چې وخت تېرېږي هومره خوږې شوې



ACKU

چې ننواتې تبُوله نهٔ شوه
اوس څهٔ جرګې شوې څه مرکې شوې

چې لچه نهٔ شوې پهٔ حُیں کتوې
ښکارې چې اوس دې ستړګې پټې شوې

حمزه عجب ده چې ترجمانې
دسنګدلانو ژبې پستې شوې

لواړګی
۲۳ ر دسمبر ۱۹۷۰ء

*
* * *
*

# ۱۲۹۴

دلبر چې په رنجو کړې سترګې تورې
لمبې د شپې د سر نه شوې راپورې

پیالې شوې پهٔ پیالو باندې نسکورې
محشر شو چې شوې دوه سترګې څلورې

عاشق ئې پهٔ کاکل د یار رقیبه
درځار کهٔ د لستوڼي ئې منګورې

شیرین سم قاتل ده لیلی توره
قاتل سپینې سودا ورکوي تورې

دے کم ئې جوړ نظر د انتخاب
جانان چې راته کاندې سترګې سپورې

خاموش حسن دے پهٔ زر زبانه
اے عشقه تهٔ پهٔ زر ژبو پهٔ شورې

پروانې د حمزه د نظر څهٔ کړې
ناپوهې پهٔ پرواز د چا پهٔ لورې

* * *

۲۰۹۹

ACKU

# ۱۲۹۵

یو دي زما او ستا د زړهٔ خبرې
څهٔ کهٔ جُدا مودي پهٔ خوله خبرې

زمُونږ ترمېنځه اوشوې څهٔ خبرې
اغياره پرې ږې بدده تهٔ څهٔ خبرې

څو کهٔ پهٔ خولهٔ راځي د زړهٔ خبرې
څو د زړهٔ نهٔ راځي پهٔ خولهٔ خبرې

څهٔ عجيبه کړُو زهٔ اوتهٔ خبرې
چې سره نهٔ کړو زهٔ اوتهٔ خبرې

تهٔ آئينې وته قهرېږې ولې؟
کړې آئينه دچا د زړهٔ خبرې

ګونګ دې نظر شو کهٔ هوښيار شوې آشنا
کهٔ دې کړې هرې پهٔ لمهٔ خبرې

ACKU

چې ئې ليواله د ترخو کړمه زهٔ
دومره خوږې دي دغهٔ خبرې

لهٔ پښتني خُويه دې جار شم اشنا
نهٔ دې پهٔ تلهٔ نهٔ پهٔ راتلهٔ خبرې

د زړهٔ ائين بهٔ دې صيقل کړي حمزه
چې اوس ئې زده کړې پهٔ بانهٔ خبرې

*
* * *
*

# ۱۲۹۶

چې پهٔ محفل کښې راته نهٔ راګورې
نو زهٔ پوهېږمه چې ښهٔ راګورې

زهٔ شمه پوئے چې غافل شوے یمه
ما ته چې تهٔ اُودهٔ اُودهٔ راګورې

چې دې اغیار ته پهٔ خندا اوکتل
زیات بهٔ ددې نه راته څهٔ راګورې

پهٔ زړهٔ را اوګوره بینا بهٔ شمه
څهٔ کهٔ ړاندهٔ ته پهٔ لمهٔ راګورې

کله دې سترګې پهٔ بل لور وې اشنا
نو زهٔ پوهېږم چې پهٔ زړهٔ راګورې

چې کله کله مې زلمي شي احساس
زهٔ پهٔ دې پوهه شم چې تهٔ راګورې

ستا د ښنو د فنکارۍ نه توبه
سم ئې ویشتل وي که کاڼه راکوي

لا یخه خویه خو به ښه وي آشنا
ماته چې ته هسې تاوده راکوې

زه حمزه پوهې شم بې لوظي کړې یاره
ماته چې ته سکه دغله راکوې

*
* * *
*

# ١٢٩٧

په کاشانه زما په قهر جانان رامه ولې
خدایه چمن ته د وصال مې خزان رامه ولې

د یار د جور او د جفا گله زما په دهن
پاکه خاونده د محشر په میدان رامه ولې

په نورستان مې د وصال چې منور شي زړګے
بیا شبستان پرې د فراق او هجران رامه ولې

وصل و هجران دې وي د ستا صحوه او سکر زما
د ما سوی خیال مې په زړه کښې سبحان رامه ولې

چې بل وجود سوا د تا څخې موجود اوګڼي
د خوار خسته حمزه په زړه کښې ګومان رامه ولې

*
* * *
*

ACKU

# ۱۲۹۸

کله کله داسې عینیت وي چې به څه وائې
داسې راته ښکاري چې زه نه وایمه ته وائې

تا چې راته اوکتل او ما هم درته اوکتل
نور به درته څه وایم او ته به راته څه وائې

څه که دې هندو بانه زُلفان دې څوکۍ کوي
زه په دې کشمش له سره تېر یمه نور څه وائې

حُسن ته ښو ګوره چې یې یو او ژبې دوه لرې
هغه چې په خوله وائې اشنا په لمه نه وائې

بس دا دینډے دې د هندوانو که ترې لرې کړو
بیا به وي رښتیا که دې ښو ته پښتانه وائې

رنګ د پښتو نواله کښې مدار د رقیبانو دے
مونږ ته کوربانه وائې هغو ته مسلمانه وائې

مینې دې غریب غونډې احساس دکمترۍ راکړ
زه ویټلے نه شم ته مې او پوښته چې څه وائې

ولې فکرمن شوې؟ معمولې غونډې خبره ده
زه به درته اووایم که ته راته څه نه وائې

زه دتا د خولې په دې ترخو اوپو خوږو نه یم
سترګو ته دې ګورم چې تراخه اوکه خوږ وائې

بې دغیر دلسې نه تحریک د حیا چرته وي
سره دې دښکلا وي ورته ته چې شرمیده وائې

ماوې داغیار په مخ کښې هم کله راګوره ته
وې چې حمزه ښه وائې خوماد پاره ښه وائې

*

* * *

*

# ١٢٩٩

دومره رانه پټ دومره ښکاره لکه خيال يې
دومره راڅرګند يې دومره پټ لکه جمال يې

نوم دې چې څوک واخلي وازه خولهٔ ورک يې ځمارشي
ګرځي يې پهٔ ژبه د حيرت هغه سوال يې

تهٔ يې تصور د مخ د زلفو دې شپه ورځ وے
تېر نهٔ شوې پهٔ ما ته هغه دولس مياشتې کال يې

شته دِغم وريځ يې پهٔ زړهٔ هم داوښکو څاڅکي
دې خواکړه ليندې وروځې پهٔ ما دبوډۍ تال يې

ځکښې يې ازمېښت د پاره ژرنده د ستم دې
ګوره بهانه اوس امتحان لره غربال يې

تش اسويلي نهٔ څئ د ېلى د زړهٔ محمل ته
تېره قافله شي تهٔ غبار يې پهٔ دنبال يې

تاوته خو داخلق جميل وائ بې حده
وايه چې بيا ولې خوار حمزه لره جلال يې

* * *

# ۱۳۰۰

خیاله دیاد، تل پهٔ زړهٔ کښې ما اوګرځولې
اوس لهٔ چېله کوره وایه چا اوګرځولې

سترګو یې زما لهٔ سترګو اُوربل ے خبرې
ځکه خوې سترګې پهٔ بل خوا اوګرځولې

زړهٔ قتل د مینې طبیبانو خو لاڅهٔ کړې
سترګې رانه بل خوا مسیحا اوګرځولې

زهٔ فلکه ستا د زمانو پهٔ وس کښې نهٔ یم
څو دغم مېچنې دې پهٔ ما اوګرځولې

ګوره نو رهبرته پهٔ اخرې راته اووې
څهٔ حمزه! پخپله ما خطا اوګرځولې

پېښور
۲، مارچ ۱۹۷۰ئه

*

* * *

*

# ۱۳۰۱

د پر کړم اسويلي ساړهٔ ساړهٔ خوتهٔ تاوُجن ځې
اے زما زړګيه تهٔ لمبه يَ کهٔ خوږلن يُ

سترګې دي د عقل پهٔ رڼا اوبرېښېدلې
نن شوم پهٔ دې پوهه زما عشقه چې لېمن يُ

بيا نو د ترخو نه د مرګې ولې ترهېږې
تهٔ چې خوږه ژونده تمام عمر ځنکدن يُ

دې زما پهٔ زړهٔ کښې دې ارمانه څهٔ ليدلي
دا خو راته اووايه چې تهٔ د کوم وطن يُ

بس کړه ګله بس کړه د خدا نه پهٔ شا مهٔ ځه
لاس به مې ګستاخ کړو خو پوهېږم چې اغزن يُ

پښتون

۹ر مارچ ۱۹۵۲ سنه

# ۱۳۰۲

چې مې په زړه کېږي په لېمو کېږي تۀ يې
ځکه زما په ورځو شپو کېږي تۀ يې

درکتے نۀ شم خولېدے دې شمه
زما د سترګو په ککو کېږي تۀ يې

نۀ به اوږدۀ نۀ به سارۀ وي اشنا
خو په اُوږدو او په سارو کېږي تۀ يې

زۀ دې يو ښکلي مېئن نۀ يمه
خو دې يو په موسېدو کېږي تۀ يې

کۀ مسلسله قهقهه يې اشنا
د صراحيو په سلګو کېږي تۀ يې

مينې ته خلق رنده ولې وائي
ښکليه مُدام چې په پردو کېږي تۀ يې

ACKU

د ذړهٔ پرولې مې دي تازه اوسي تل
خوښ چې په دې ښکلو کېږدو کښې ته يې

د دلاسو عجيبه خوږې لرې ته
هم مې د ذړهٔ په تلوسو کښې ته يې

حمزه په روغو کښې هم تا وينمه
هم په ټولي د ليونو کښې ته يې

لواړګی
۴، اګست ۱۹۶۹ء

★
★ ★ ★
★

# ١٣٠٣

اوس که زه هغه زه نه یم نو ته هم هغه ته نه یې
چې زه ته ووم ته هم زه وې زه چې زه یم ته هم ته یې

اے چې خوښې ورانول دې شېوه شوې د ازل نه
هسې په زړه زمونږه چم ته نن سبا کښې په راتله یې

اے د نمرغونډې جانانه چې جفا دې هم وفا ده
په یو ځائے کښې چې پرېوځې په بل ځائے کښې په خاته یې

چې دې نشه د استوګنه په خلوت او په جلوت کښې
ولې ژوند زما د زړه یې ولې وِرد زما په خوله یې

د بل کس له سترګو نه وي دے نظر ستا له جماله
ځوک چې تا وته نه ګوري ته هغه ته په کاسه یې

که تیاره دې په فطرت ده اموخته شه چې رڼا شې
چې د یار تر څنګه ناست یې اے عامي شنواریه سبه یې

د رقیب په رهبرۍ کښې چې تلې یار ته باریاب نه شوې
حمزه غل شوې خود پخپله چې روان د غله په پله شوې

★ ★ ★

# ۱۳۰۴

چې نظر مې شو نظر، نظر د چا دے
چې رګ رګ مې شو خبر، خبر د چا دے

خاندې څېرې کړې ګرېوان په وينو ژاړې
دا د تېرې سپېرې شپې سحر د چا دے

دوه په دوه يُو، خو نظر دے بوګنېدے
اشنا وايه در سره خطر د چا دے

زهٔ چې چرته ؤمه، هلته يُم تر اوسه
دا عمرې سفر زما سفر د چا دے

زهٔ که پروت يُم په سجده دا اشنا درته
سنه واعظه زما سر په دَر د چا دے

لهٔ فنا بقاء چې تېر په يو قدم وي
عقله! اووايه چې دا هنر د چا دے

ستا نظر چې په هېڅ هم نهٔ مړېږي
حمزه اووايه چې دا نهر د چا دے

★



ACKU

# ۱۳۰۵

راوړے مې ستا قبر ته د ژوند عظيم خبر دے
کاروان د پښتنو د ترقۍ په لاره سر دے

ډېر ډېر وي جرسونه خو جلا پکښې ستا غږ دے
منم پکښې تورسم شته هم فدا او هم شرر دے

منزل ته رانژدې دے چې کاروان دې د مراد وو
که خدائے کوي مقصد ته رسېدلے دا سفر دے

چې شپه د وصال راغله له نمانځه لا اوده شوې
راويښ شه چې اوس غشے په لېندۀ کښې د سحر دے

خادمه د ملّت له مخدومانو چې غائب يې
دا څکه چې د مغو په ککو کښې ستا نظر دے

وه ستا د ليونتوب چې ميراثه شوه ورته پاتې
دا هغه ميراثه ده چې شاعر په دې خبر دے

پښتو پښتو به وايو که موشوک اولې په کهتو
خادمه دا مو هم زده کړے تا نه يو هنر دے

د محمّد اکبر خادم په وفات

۲۱۱۴

# ١٣٠٦

چې پهٔ کار شي د سړي هغه سړے دے
ګڼي ښهٔ ترې نه دېت پهٔ حقله بچے دے

چې دې ذرهٔ متکيّف عقل فنا شي
بې لهٔ شکه هغه اوګڼه چې دے دے

چې پهٔ سترګو کښې ئې آب د حيا نهٔ وي
د ذرهٔ د ونې مسې اوګڼه چې لے دے

د عدم چې دي قائل ورته حېران يُم
چې لا شے ئې هُم پهٔ فکر کښې يو شے دے

تېر دې مه کړو دښمن، ذرهٔ دې راټک شو
ورته خود د محبّت راغلے قے دے

سليمانٌ کهٔ پهٔ معنیٰ ئې خو مبين ے شي
څوانه ورک کهٔ د همّت درنه غمے دے

تږي ده بر د حقيقت پرې سترو تلي
چې په ځائے د اوبو ډک له هوا ژے دے

خپل دې مغه چې په خوئ درسره يووي
خپل دې هُم په خوئ پردے که وي پردے دے

حمزه خيال چې د شاعر څومره زړسربي
که له هرې خوائ اوګورې زلمے دے

لوارګے

۱۲ ر جون سنه ۱۹۷۰ ء

★

★ ★ ★

★



ACKU

# ۱۳۰۷

زهٔ يَم چې د يار پهٔ پټ مې سر ورکړے دے
ما پرې ننګ و نام او خپل هنر ورکړے دے

رُوح بهٔ مې مُسکے تل پهٔ تيرو وي دعصيان
تندر ته د حق مې خپل نظر ورکړے دے

ځار د دې اغزو نه چې اشنا راته راکړي
ما رقيب ته ګل او هم ثمر ورکړے دے

بس کړه اے "دعا" تر څو به سر تندے وهې
ما پهٔ کوټ دهو خپل اثر ورکړے دے

واک مې نهٔ پهٔ زړهٔ شته نهٔ پهٔ سترګو هېڅ قدر
يار ته مې دننه هم بهر ورکړے دے

څنګه پهٔ خندا خندا کښې راغله پرې سلګۍ
څه خبر خو شمعې ته سحر ورکړے دے

چاته دې دولت کرامت ورکړو بې نوا
خدائېګو چې حمزه ته دې نظر ورکړے دے

لواړګے
۳۰ر جولائی ۱۹۵۲ء

# ۱۳۰۸

چاچې نړاں ته څل قدم پهٔ لاره سم اېښې دے
سائیں صاحب ورته پهٔ خوبٔ زړکي ملهم اېښې دے

طالب د حق بهٔ ئې د دره نه محروم ځي ولې
محمّدؐ عظیم پهٔ لامکان رومبې قدم اېښې دے

ورشه مالک له د کشمیر چې نعم دې ورکړي همه
د قسمتونو ئې خالق لاس کښې قلم اېښې دے

دغه لوئې ده د سائیں چې پهٔ درگاه د خواجه
دده امین پهٔ دروازه بالاعلم اېښې دے

فنافي الله کړي پهٔ یو ځل نګاه کوي لو سره
پهٔ مېنځ د دوځو کښې ئې عرشِ معظم اېښې دے

خوشحال خندان دې همېشه دې اهلِ بیت د سائیں
دوئې کښې پاک رب جود وسخا لطف وکرم اېښې دے

راز د حیاتِ ابدي بهٔ در معلوم کړي حمزه
زمونږ د پاره معنئ سائیں رقم اېښې دے

* * *



ACKU

# ۱۳۰۹

نن سمندر لوارګي ته په څپو راغلی دے
ناوې ته د عشق د دُرو لړ راغلی دے

اے خاونده تهري وربانده کښېنوي بې واره
نن چې طلاقي رقیب په پَړ راغلی دے

نن شولي مشهود ته د ساون نظارې یادې
څرته په ږیچم څرته په زوَړ راغلی دے

ښځې وې بسې راکړه خاونده اووې چې ولې؟
ښځې وې بهر نوے لوړ راغلی دے

چاچې واده اوکړو همه عمر به دا وینی
خوله کښې کړه د خواښې تول انګړ راغلی دے

غني د ماد هوری د و لکه برق وي د وریځ
څوک قمیص پغاړه څوک لغړ راغلی دے



ACKU

او خوشو وصال اندرپا یه راوړم لهٔ کومه
ډېر پهٔ جنګجګو مې اشنا لوړ راغلے دے

داسې بوج زما د رُعب پرېوت پهٔ رقیب
وُس لکه دخر هسې پهٔ تړ راغلے دے

بنې سترګې چې باغ لره راتلو دادې اونهٔ وې
فکر کړه حمزه ښکنبې جغړ راغلے دے

*
* * *
*

# ۱۳۱۰

ېګاه په خوب کښې ما ښکلے اشنا ليد لے دے
دا خوب وينم که خوب په خوب کښې ما ليدلے دے

اے چشمِ شوق بند شه او بې ادبه مه شه
دا دے فقط خيال که هر چا ليد لے دے

شک نشته دا منم چې مې رشتيا ليدلے دے
طائرُ د خپل نظر مې په جليا ليد لے دے

چشمِ نظر مې زلفو د پردې نه عکس د رُخ
د شپې په سترګو مخ د سپين سبا ليد لے دے

مرغِ سحر په هغه کښې دا رشکِ زاهد ده؟
اشنا پتنګ د ځان په توتيا ليد لے دے

بې زخم د بې سوزه خو عاشق نه وي حمزهؔ
پروانه چا له شمعې بې نوا ليد لے دے

*

* * *

*

# ١٣١١

د دعوت مې رقیب کړے انتظام دے
خدایه خبر کړې نوے رنګ د انتقام دے

برندې سترګې مې دیدار ذرهٔ ته پهٔ څېر شوې
بیا حبشو پهٔ کعبه سترے لام دے

ساقي جام دې داله هسې سبق راکړ
چې مقصد لهٔ صد ګردشه یو قیام دے

هیڅ خامي دې نوره نشته پهٔ سنګار کښې
نو بس دومره ائینه چې ګورې خام دے

د فراق د سحر شوره چې رانهٔ شي
د حسرت مې خاموشۍ ته څهٔ پیغام دے

پهٔ پیاله مې د شرابو پام غلط دے
چې پهٔ ذرهٔ مې ستا د برندو سترګو پام دے

ویره ویره مزل لرې حمزه ستړے
بدرګه د تصوّر وائي یو ګام دے

★ ★ ★

٢١٢٢

# ۱۳۱۲

یو نفس کښې بیابان یې بل نفس یې ګلستان دے
یو وجود یې د اغیارو بل وجود یې د جانان دے

د تمثیل نقشونو اوویې په ژبان د حېرانئ
که هر شے د دهٔ پېشان دے کله دے د چاپېشان دے

ویخ شو زلفې یې کړې پورته دا بد شپه مقدّر شوه
دیار مسته غزونې د ازل سحر خندان دے

د کثرت له شور و شره غلط مهٔ شه لار یوه ده
جرسونه بې شمار دي یو منزل او یو کاروان دے

بند د تن سېلاب د مینې یوړو یو شو دواړه کښته
د تېمتر په ځېره ځکه ځیرې ځیرې ګرېوان دے

هر یو توپ د غمژن زړهٔ یې جوړ سلګئ د تمنا وي
زهٔ چې مرم او نه د غېږم د غهٔ عمر جاودان دے

د حمزه د اسوېلو نه د زړهٔ داغه خفه مهٔ شې
چې پروا د دیوې نهٔ کړي عاشقي هغه طوفان دے

* * *

۲۱۲۳

ACKU

# ۱۳۱۳

نن لهٔ ورایه پهٔ خندا راته جانان دے
اے زړګیه خبردار شه امتحان دے

ستا د مخ بناګُست لهٔ بلې ډېوې نهٔ دے
چې ماخذ دے د قران هغه قرآن دے

جدائي مې دې پهٔ زړهٔ داغونه کېښول
وصال داوړه تیارهٔ نشته چراغان دے

بیا بهٔ فکر کړې چې څهٔ خو راند ورک ذي
کهٔ زما د هېرولو کار اسان دے

ګوتې مهٔ راوړه زما د زړهٔ نګین ته
د یو صفته امانت د سلېمان دے

ژوند کهٔ مرګ دے خو د دوو سلګو ترمینځه
د تخلیق تخریب ترمیانه یو جهان دے

خفه مهٔ شه د یقین مېرنے زور دے
چې یقین هم د حمزه لکه ګومان دے

★ ★ ★

۲۱۲۴

# ١٣١٤

چې د یار غم نهٔ وي بل غم پهٔ غم حساب نهٔ دے
پهٔ عشق د میو چې مخمور نهٔ وي خراب نهٔ دے

واعظ چې کاندي مذمت دے قصور ئې څهٔ دے
د عشق ئې لوستے د مےکش حُني کتاب نهٔ دے

بل دې پهٔ میو پهٔ کوګل کښې چې سُور اُور نهٔ وي
ستا عبادت د رب پهٔ در کښې مستجاب نهٔ دے

نهی د میو حقیقت کښې د حکمت ده نفی
کهٔ تهٔ دا کار څهٔ د ثواب کښې ثواب نهٔ دے

رُخ د ساقي وي منعکس پهٔ پیمانه کښې زما
پلو نیول مخ ته سبب ئې د حجاب نهٔ دے

پهٔ بحر و بر او ملکوت کښې کوم نفس دے حمزه
چې د خرمن نه خوشه چین د بوتراب نهٔ دے

*

* * *

*

# ۱۳۱۵

خو چې جام مې د شراب موندلے نهٔ دے
هيڅ لذت مې د شباب موندلے نهٔ دے

پهٔ پالنګ کښې د غفلت د يارۍ ځائے شو
ما پهٔ يو بستر کښې خواب موندلے نهٔ دے

پهٔ زکوٰة د سپينه خوله کښې انکار نهٔ کړي
نو حساب ئې د نصاب موندلے نهٔ دے

چغې پرېږده ګنبد نهٔ دے چول د عشق دے
چا پهٔ دې ځائے کښې جواب موندلے نهٔ دے

عشق خو پټ دے لمبهٔ ګوره ژړا سپين کړهٔ
چا د سيند پهٔ تل حُباب موندلے نهٔ دے

لا دې وينم چې مې اوليدې قسم دے
ما تر اوسه ستا نقاب موندلے نهٔ دے

زهٔ حمزه چې تر ابد يم سپرې نو مړے
هيڅ لهٔ ياره مې خطاب موندلے نهٔ دے

* * *

# ۱۳۱۶

هوښیاره راته وایه چې روغ څهٔ لیونے څهٔ دے
ساقي ته پهٔ زړهٔ کښې هغه راز د ما پهٔ خوله دے

یارو! د مارلرم اوده دې یاقي شوه چې کاره
خوږلے زُلفو ورُوځو خو د مرګ پهٔ خوب اوده دے

مینو! ټولې لارې یوې لارې ته راګرځي
چې یو نه یاقي نهٔ شي دغه راز د ژوندانهٔ دے

ننه سترګې مې وحشته پهٔ یو کس څنګه خوږې شوې
لږ پرېږده تذکر مې چې داده اوکهٔ دانهٔ دے

حمزه وار دي خطا شو پهٔ ارمان وې ددې ورځې
'اشنا چې درته وايي' وایه وایه حال دې څهٔ دے

لواړګے

۲۹، مئ سنه ۱۹۷

* 
* * *
*

# ۱۳۱۷

پهٔ خوشحالئ اوپهٔ خندا سره اختر راغے
هلال د دوځو پهٔ صورت کښې دخنجر راغے

د بڼو غشے مې سينې ته برابر راغے
ګويا رګ رګ سره دعوت مې د نشتر راغے

راشئ رِندانو چې افطار پهٔ مېخانه کښې کوُو
د مخ څڅکانو مېخانې لره لښکر راغے

کېف وسرور بهٔ د اختر شي پهٔ شرابو دوچند
کېف وسرور کهٔ پهٔ زړهٔ کښې د سحر راغے

سُرخي د مخ راځني يو ړله افسوس مېئو
رنګ مې پهٔ مخ کښې د مېنا او د ساغر راغے

پهٔ مے نوشانو کښې يُ تهٔ هم اميدوار اوليدې
نوم د حمزه د يار پهٔ ورکښې پهٔ مسطر راغے

★
★ ★ ★
★

# ۱۳۱۸

افسوس افسوس دے په دُعا کښې مې اثر رانغے
بې نوره سترګو له زما د عشق نظر رانغے

زما هستي په التفات ئې رشک طور نهٔ شوه
زما دیار د تبسم برق و شرر رانغے

په فال زما چې اختر نحس شو اختر چرته دے
فلک د تن مې په ګردش دے پرې اختر رانغے

رونق د ګل د مخه ځي ورته بلبل کړي ژړا
مړاوے به نهٔ شي ځک د شبنم بادِ سحر رانغے

ما خو ویل دیار وصال به مسیحا شي زما
هجران وهلے مې پتوس له د پرهر رانغے

برے به یونسې په یو کار کښې هم پوښه حمزه
که دې په خوله د بې نوا اسم اطهر رانغے

* * * * *

# ۱۳۱۹

یار د وصال چاله نعمت څو میسّر رانغی
چې ورسره پکښې پېلتون د ځم وزد رانغی

تل چې وریځ راوړي باران پکښې برېښناوي دبرق
اه د ژړامې ډ شېه ورځ پکښې اثر رانغی

ذه محبّت کښم وصال نه ملاقات د اشنا
سر خوبدوي هسې ناصح زما باور رانغی

د کافر تورې زلفې جال د جادو سترګې دې کې
داسې اثر دے ترې واپس پیامبر بورا نغی

هغه رومبے ګذار دیارځهٔ شو لذت ئې حمزه
وروسې زوړ دې شو حسرت هغه منظر رانغی

*
* * *
*

# نظمونه

ACKU

# دُعا

ما ارادہ کړې وه چې يوه صحيح امام نامه بهٔ ليکم
او دا بهٔ ئې وروستې دُعا وي -

اے ربه اوّل پهٔ پاک نوم دې ابتدا کوم
ثربه مې د ذهن کړې گويا چې ستا ثنا کوم

دا زما ثنا ده چې لايق دې د ثنا نهٔ يم
دا سزا مې بس ده چې لايق دې دسزا نهٔ يم

زهٔ خپلې خطا کړم د رحمت پهٔ اميد وارو کښې
زار لهٔ هغه خوفه چې وي تل پهٔ گنهگارو کښې

بس يوه توښه زهٔ د درود او د سلام لرم
پائم پهٔ دې آس چې محمد صلی الله علیه وسلم خيرالانام لرم

ال د محمد صلی الله علیه وسلم مې خپل نجات لره مونډلے دے
عشق مې د صفاتو هغه ذات لره مونډلے دے

نوم د محمد صلی الله علیه وسلم مې پهٔ ايمان کښې دننه راولي
نوم د بوتراب مې پهٔ وجدان کښې دننه راولي

خیال د محمد صلی الله علیه وسلم می تخیّل کړي دائین په شان

خیال د علي رض ذره کړي زما مُسک دځیل جبین په شان

ښهرته د علم داخله بې له دې چرته شي

یا علي رض چې وائم دروازه یې راته بېرته شي

مینې د زهرا رض د مصطفیٰ نظر کړده کرمه

فخر د مریم رض د مرتضیٰ نظر کړده کرمه

مینې د زهرا رض د حیا پښکه را عطا کړله

خم کښې د طاعت یې رنګ زما هره خطا کړله

ما ته لږه برخه یې عطا کړه دځیل غم ځنې

خلاص یې کړم د نورو صاحبانو د کرم ځنې

مینې د حسن رض غنا را زده کړه که محتاج یمه

تل تر تله ډک یم په ظاهر کښې که تاراج یمه

زهر د باطل لره وجدان زهر مهره لرم

زه د کفر سم لره ایمان زهر مُهره لرم

جوړ د محبت نه د حسین رض دې کړو خمیر زما

ځکه د ګناه په خوب اوده نه شو ضمیر زما

ځکه زما اوښکې د ګلانو رنګینې لري

ذره می د حسین رض دخوږې مینې شیرنې لري

تا ته وسیله می دا نسبه د پیغمبر کړي

داوه چې تکمیل یې د فضل د داخر کړي

راولې د زړهٔ په آئينه کښې مې جلا د درد
عکس د هر کړهٔ وړهٔ مې صفا کړې رانُما د درد

ژبه مې په غوځه د سخن کړې ذوالفقار مسې
شرنګ مې د الفاظو کړې د وحې نغمه بار مسې

فرد کښې مې معنیٰ او مطالب د ديوان راولې
خيال مې کهٔ دانهٔ دے پکښې لوے ګلستان راولې

زور د صحابهؓ مې ورکړې مټو د همت لره
مينه د هغوئ مې بل قوت کړې دې قوت لره

تار د زړهٔ د غوږ کهٔ مې کړې يو د سر د غوږ سره
دوه غوږه کړې يو او يو کړې لر او بر د غوږ سره

ستا ثنا صفت مې دې يو غوږ شي ګويا بر د غوږ
وصف د سيّد مې چې بل غوږ شي ګويا لَر د غوږ

غوږ مې داسې غوږ کړې چې هم اورې هم کتلے شي
هسې څهٔ باور پرې چې دروغ هم اورېدلے شي

تل دې پسرلے وي د حواسو په چمن زما
وصف د بلبل غوندې په ژبه د پنجتن زما

پخ کړې عناصر مې د مرګي د انفصاله نه
څو خبر څلور ګوټه پښتون نهٔ شي د حاله نه

ما کهٔ کړې قابل د دې چې حال په قال کښې راولم
مست چې څوک د قال وي چې هغوئ په حال کښې راولم

ژبه د الهام کړي إلهي چي ده خامه زما
واخلي په دربار کښي د قبول امام نامه زما

زه چي کړمه ستا د پاک حبیب صلی الله علیه وسلم د خاندان صفت
ګران لکه د ځان کړي دا په هر یو مسلمان صفت

شي وېښته زاکه ئې چي د غشي د سنان په شان
خم په اوربېدو دي بیان شي د کمان په شان

سوز د قربانۍ ئې چي پیدا شي د پتنګ په څېر
شمعې ته د مخ چي د حسین شي د ملنګ په څېر

پوهه چي په دا شي چي ایمان په قربانۍ کښي دے
راز د معرفت همه پنهان په قربانۍ کښي دے

*

* * *

*

# شهید کربلا

هغه حُسن چې په ذات د کبریا کښې ځلېدهٔ
هغه نمر چې پـــهٔ افق د منشاء کښې ځلېدهٔ
هغه نور چې د هستۍ په ابتدا کښې ځلېدهٔ
د عدم وجود پـهٔ لا او پـهٔ اِلاّ کښې ځلېـده

جوړه دید لره خالق ئې ائینه کړه د هستۍ
بیا پهٔ ځېل حُسن سینه ئې ګنجینه کړه د هستۍ

دغه حُسن ؤ نبيّ چې ئې کامل انسانیت کـړ
پهٔ دربار د سړي توب کښې ئې سرخم ملکیت کړ
پهٔ اخلاقو د خالق ئې چې د خلقو تربیت کـړ
د الحـاد و کفر و شرک ئې لهٔ دنیا لرې لعنت کړ

پـهٔ همٶ لویو. لویو مرتبـو ئې د ے نمانځـلے
بس خو یو لهٔ خدایه پسته د ے پهٔ ټولو کښې بنائلے

مئین توب ؤ اوکۀ مینه وه کۀ راز ؤ کۀ نیاز ؤ
کۀ فراق ؤ کۀ وصال ؤ کۀ دمینې سوز او ساز ؤ
پۀ هر څۀ کښې محمد (صلی الله علیه وسلم) پۀ انبیاءُ سرفراز ؤ
نبوّت کۀ امامت کۀ ئې معراج لره پرواز ؤ
شهادت ئې هم د نورو انبیاو نه بلند ؤ
نکه نمر په روښنائی کښې پۀ همه ستورو څرګند ؤ

مکمل ئې شهادت کړل پخوانې شهادتونه
مکمل کړل محمد صلی الله علیه وآله وسلم د خدائے د دین عمارتونه
شهادت د حسنینؓ کوي دا اشارتونه
پکښې پټ دي د نبي د شهادت حقیقتونه
شهادت د ځل نسي ئې دنیکۀ اوکښه عین
دے حدیث حُسَین مِنّي وَاَنَا مِنَ الْحُسَین

سپوږ پۀ اَس د تصوّر شه چې دې بوځم کربلا ته
دي راغلي د جفا لښکرې زوئې د مرتضیٰ ته
نمر د تندر پرده اوکړه نظر نۀ کوي دنیا ته
چې تېرو هم د جنګریز حوصله کړې ده رڼا ته
څۀ خیمې دي د سپدانو د رضا پکښې چپیا ده
څۀ خیمې د یزیدیانو د ستم پکښې غوغا ده

دا حسینؑ دے چې تسلیم ئې اُس نیولے لهٔ جلبه
د هستۍ نبضونه تېز دي په امکان راغلي تبه
څوله ورکه لهٔ هیبته، ده ګرمۍ راوښتې ژبه
چې جلوې د رسالت پرې قربانېږي لهٔ یثربه
ده حسینؑ د قربانۍ نه پس په خپله راوتلے
د حجت اتمام په هغو کاندي چا چې رابللے

چې صورت د امن صلحې په امکان کښې پاتې نهٔ شو
چې هیڅ شک ئې د جګړې په طوفان کښې پاتې نهٔ شو
چه یو دوست ئې ګېر چاپېره په دښمان کښې پاتې نهٔ شو
کهٔ یو حُرّ وُ هغه هم په دې جهان کښې پاتې نهٔ شو
دهٔ به پېش ورته قرآن کړو هغو تورې بربښولې
چا به غشي ګُزار تول او چا نېزې به نیغولې

امام پورے شو چې اوس وخت د شهادت د اکمال راغے
شو منزل د جمال ختم اوس محل د جلال راغے
یو ئې توره ته کړه هېبل یو لاس ئې په ډهال راغے
دا جل په لاس کښې ښکار ژوند انهٔ لره جال راغے
ذوالفقار چې کړې بهر په لاس کښې زوې د حیدر وینو
قدوسیانو په هیبت د اسمان مخ ته سپر وینو



ACKU

ذوالفقار چې ئې میړانه لهٔ جوهره ځارېده
ذوالفقار چې هره توره ئې لهٔ پرهره ځارېده
ذوالفقار چې تل ئې فتح لهٔ حیدره ځارېده
ذوالفقار چې بادشهي ئې لهٔ قنبره ځارېده
هغه توره چې پهٔ برېښنې کېښې ئې رفتار وُ داجل
هغه توره چې پهٔ شرنګ کېښې ئې ګفتار وُ داجل

جوړ شته وه داجل دامام لاس کېښې ښکارېده
پهٔ یو وخت کېښې هر یو کس ته اوبه دېده اولنېده
اوچېده او څځېده کږېده او سمېده
برېښېده اوځلېده ، تهرېده اوموسېده
نهٔ پهٔ خود اونهٔ پهٔ زغره نهٔ پهٔ ډهال ایسارېده
نهٔ پهٔ زور د زوراور اونهٔ پهٔ سوال ایسارېده

لکه برق بهٔ ئې دوح یو ړلو پرهر بهٔ پیاتې نهٔ شو
غړېدې بهٔ بڅې سترګې څو نظر بهٔ پیاتې نهٔ شو
څهٔ حساب دلسو شلو دے ښکر بهٔ پیاتې نهٔ شو
چې کوم سر بهٔ ځان ته سروې هغه سر بهٔ پیاتې نهٔ شو
چې برېښنا بهٔ ئې دخلقو پهٔ نظر ننوته
دابهٔ تېره وه د ذرې نه پهٔ ځیګر ننوته

کوم دښمن چې نظرباز او توریالے ؤ هغه ړوند شو

پۀ برېښنا د ذوالفقار کښې هوش او عقل کله موند شو

کۀ ؤ ډهال لکه کیکوړے نو د غر پۀ شانې دروند شو

هغه دروند شو خود بۀ دروند شو چې ئې خپلو وینو لوند شو

دلته شرنګ او هلته برېښ او بیا پۀ پنجه د امام کښې

پۀ هر صف کښې به هر سر ؤ ګویا ؤ پۀ هر مقام کښې

دیو څټ نه پۀ بل مټ وۀ بیا د دې نه بۀ بهٔروه

لا بۀ دلته برېښېده او لا بۀ بیا د بل پۀ سَروه

لا بۀ زغره پۀ فریاد وه پۀ ټټر وه پۀ ځیګر وه

لا بۀ ځچه ښکارېده پۀ رپ د سترګو کښې بۀ تر وه

لکه څبه د اجل بۀ ئې د زړۀ وینه څښله

ګویا وینه د صفین د شهیدانو ئې ګټله

نۀ مقدادؓ ؤ نۀ بوذرؓ ؤ نۀ سلمانؓ ؤ تماشاته

نۀ عمّارؓ ؤ نۀ قنبر ؤ تنهائي ؤ مرجباته

علمدار ئې ؤ پۀ وړاندې نۀ اکبرؓ قاسم ئې شاته

ذوالفقار ئې ؤ پۀ وړاندې او د آس ګردونه ملاته

میمنه میسره قلب کۀ د ښکر مقدمه وه

د ترتیب ښځه ئې لاړې تار یۀ تار شوه که ساقه وه



ACKU

چي په ټېښته به شو څوک ترې ذوالجناح به په ستنه شو
تار په تار به يې يوصف کړو بيا به بل پسې پره شو
چي به غبرګې نېزې راغلې ذربه دې ورته په دوه شو
سرتر پايه د دښمن د توري برېښ ته به لمبه شو
د دښمو غونډې راتاو به يې په غاښو کښې کړه نغره
څنګه وهل يې ذوالفقار ته اشاره بويه چي نغره

چرته سم لکه د غشي چرته کوږ لکه کمان تلو
څنې سر به وې په مزکه څنې سروې په آسمان تلو
برېښوکې وه چورليدله له په خپل ګرد کښې پنهان تلو
جمعيت يې و په ځاې کې يونوا بل خواته ګردان تلو
په کوم ځاې به چي و بس وو به ددې سمونه پاتې
په ميدان به وو کوفيانو لره بس صفرونه پاتې

ذوالجناح چي ګېرچاپېره کړه قتلا د سرو ماته
بې له اذنه د امام يې ځان رسيد کړو تر فراته
امام اوتېاوه وې چي ذوالجناحه خوش صفاته
نه اکبر شته نه اصغر شته اوبه يوسم وايه چاته
ځوړند سر د ذوالجناح شو چي ورو ورو بېرته راستون شو
وې پکار چي د امام نه شو عبث زما ژوندون شو

ACKU

ندا راغله لاس دې اونیسه فرزنده د بتول
ستا جمال او جلال دواړه دي د خدائ په درقبول
جنګ دې نهٔ دے اے امامه د ملکونو د حصول
نهٔ د جنګ د پاره جنګ ؤ دا خو جنګ ؤ د اصول
سر ئې خم کړو د تسلیم او ځان ئې او سپاره قضا ته
مخ ئې ستون کړو لهٔ دښمنه مخامخ شولو رضا ته

عمر سعد ته خو اوګوره چې څهٔ اوې شقي
وې چې پرېږده ګذارمهٔ کوه دا اس دے د نبي
ته نسبت ته د اس ته ګوره او نسبت ته د نسي
ځان او تن د محمد ؤ وینه غوښه د علي
ذوالجناح اوښکې راماتې د خېمو په لوري سرشو
پېغمبر د خېل امام بنا غلے اس د پېغمبر شو

یو په زهرو بل په توره د نبي چې فرزندان وو
یو نظر پرې د نیکه ؤ کهٔ دا دواړه ئې چشمان وو
ځوانې مرسلان واړه شهید شوي ېخپل ځان وو
ولې دا د نبي ځان وو بیا لهٔ ځانه ورته ګران وو
دا یوه کړه وه پاتې په زخمېں د شهادت کښې
امامت کړه د پوره په سلسله د رسالت کښې

چې کوم سوال د پاک نبيٌ د شهادت ؤ هغه حل شو

د حسينٌ له شهادته شهادت ئې مکمل شو

دا چراغ زمونږ د پاره د قيامته پورې بل شو

هر منکر وته حمزهٌ په مخکښې دا دليل اول شو

شهادت د حسنينو ځکه ؤ د نبيٌ عين

پورته تن ئې د حسنٌ ؤ ښکته تن ئې د حسينٌ

*

* * *

*

# پیر بابا

چې راغې په نظر ښکلې دربار د پیر بابا
مستي په ماطاري کړله دیدار د پیر بابا

سید علي ترمذي ورد زما شو په لسان
شاهان نسکور پراته وو په مزار د پیر بابا

پراته به ولې نه وي بادشاهان دده په در
الله چې دے پخپله عاشق زار د پیر بابا

ثاني مشکل کشا دے په صورت هم په سیرت
تفسیر دے د واللیل زلف تار د پیر بابا

مظهر د پنجتن پاک دے په بونېر کښې ضوفګن
مثبت د والضحٰی دے سپین رخسار د پیر بابا

طواف ئې د مزار کړي ملائک سبا بېګاه
حمزه کړو لیونے چشم خمار د پیر بابا

ACKU

# معصومه دنیا

پهٔ وریځ کښې د سپرلي هغه روان روان کورونه
پهٔ ساعت کښې دلته وران هلته ودان کورونه
کله غونډ لکه ګنبد چرته مکان مکان کورونه
پهٔ ساعت کښې غرونه غرونه د شفق پرې اېشارونه
مونږ بهٔ واچول تمالونه پلوشې زرې تارونه
زهٔ او تهٔ بهٔ پهٔ معصومه دنیاګۍ کښې ژنګېدو

فانوسونه د جلوو وو ترند ترند نکهتونه
لکه مست هوسې زمونږ بهٔ ورپسې تله نظرونه
اطلسي ناڼې وې هلته د مینې د زړهٔ داغونه
دارمان پهٔ لاله زار کښې بهٔ ماحول وُ شمې شمې
هلته تول اور اورکې وو پتنګان د سوې طمعې
زهٔ او تهٔ به یُو پهٔ منځ کښې لکه ستورې ځلېدو

د پریانو لوپټې وې شفقې سپکې وریځې
شپې ته غږ به اوکړو ورځې چې راځه که دلته سوځې

فردوسي احساس به اووې دلته شپې شته د سے نه ورځې
رنګیني په دې جهان کښې د حورانو د رخسار ده
شیریني په ګنګوسو کښې د غلمانو د ګفتار ده
ته به یو شوې زه به بل شوم په رنګ رنګ به بدلیږو

لکه ختمکې به شوه پاتې داهستي زمونږ ترشا
زمونږ زغل و هغه زغل چې شوه د "حد" به دوبه سا
بیا په رب دستر کوتا ته تابه ماته وې چې "تا"
زه به شوم په "تا" کښې ورک ته به شوې په "ما" کښې ورک
عشق به زه اوبست له منځه او به مونږ په "تا" کښې ورک
شوه دوئي به ائینه، دوه به یو ته موسیږدو

ورځ به وه زمونږ غازه توره شپه به تندي خال
قال زمونږ په حال کښې ورک او حال به و زمونږ ته قال
د جمال په اشاره به بیا جوړه وکړه وصال
بیا به داسې کیفیت و په هغه شکلې جوړه کښې
چې به ستورو ارمان اوکړو چې وې ستا په لوپټه کښې
شو غبار د کهکشان په ذره چې مونږ به ستریږدو

* * *

۲۱۴۶

# سپېره دُنیا

وایيُ تماشه ده تماشه خو دا دنیا نهُ ده
کومه چې نیمګړې پاتې کېږي تماشا نهُ ده
زېږ عُمر ته او وایيُ چې ستا ده او زمانهُ ده
زهٔ وایم د هرچا ده خو بیا هم د هیچا نهُ ده
څوک يې تول عمري خندا ژړا کښې خودا نهُ ده
خدائے خبر چې څهُ ده خو خندا نهُ ده ژړا نهُ ده

څومره خلق د دلره راشي خو مړاتې شي
کوم یو دُوح چې راشي نو دنیا ترینه پهٔ ماتې شي
دا چې سوغاتونه ترې ولجه کړي هغه پاتې شي
ټېر ورته کالُونه کړي شپه ورځ پهٔ ننواتې شي
دا ولجې روے خوري خوږه او کهٔ ترخه اخلي
دے څخه توبه چرته د نورو نه توبه اخلي

ACKU

وائې دا ولې دے د خواهش چې پم شي کم د چا
خلق ورته وائې خوشحالي چې غم شي کم د چا
وائې چې پخلا شو، په ژړا چې نم شي کم د چا
هغه ته منزل وائې کوم ځائے چې دم شي کم د چا
وائې درکوم چې بیا ئې غواړې درکول نه وي
وائې ذرکوم چې وائې ذرکړه ذرکول نه وي

کوره مه تېروزه د مکرې دنیا په ست چړې
کړوې پکښې زهر دي نه ځنې شربت چړې
پېغلې غونډې اونه کړې ددې کښې عزت چړې
تا به کړې لت پت نو دا به اونه ساتي پت چړې
تا سره ترخوا، بل ته خیال په تا ئې کار نه وي
درې کسه په یو پلنګ کښې هیچرې پکار نه وي

شته هغو ته وېلے شي د صفونه چې د شتو لري
پاتې به نظر شي څوک چې کسي د کتو لري
هغه داخلېږي چې طاقت هم د وتو لري
څوک چې ولاړېږي احتمال د پرېوتو لري
نشته کله شته د برېوکې ځني سپوا نه ده
خوب دا رواځونو دے زه وائم چې پیدا نه ده

داکهٔ پهٔ اِحساس کښې پټ پټانې کړي بربنډه ده
غونډه لکه شعره ده پهٔ زړهٔ په سترګو پنډه ده
یا د څو ناشونکو خواهشونو ناسته غونډه ده
چول کښې د اُمید پهٔ مرادونو پسې منډه ده

ګوره پهٔ معنیٰ چې د ښکارزن ئخکښې هوسۍ نهٔ وي
یا د روح پهٔ کورکښې د حواسو ګنګوسۍ نهٔ وي

داکهٔ خوشبوئي وي خوشبوۍ لره قرار نهٔ وي
داکهٔ رنګیني وي رنګیني د سترګو خار نهٔ وي
داکهٔ یو بهار وي خزانونه په بهار نهٔ وي
داکهٔ هار د ګلو وي خوهار د غاړې مار نهٔ وي

زهٔ بهٔ پرې غلط یُم خو داویُم چې ګلزار نهٔ دے
ځکه چې بلبل زما پهٔ دې کښې پهٔ چغار نهٔ دے

او ښکه د حسرت ده د دړمن د سترګو توري نه
پرق دے معلومیږي راجدا د سپېره ستوري نه
بیا نشته پهٔ لاس کهٔ پهٔ لاس راشي دیو لوري نه
دا سپېره دنیا ده یو وجود د چا د سوري نه

ده یوه ناشونکې خوشحالي پهٔ شپو او ورځو کښې
یا د بوږۍ تمال دے پهٔ خورو خورو ورځو کښې

---

ـه زما شاګرد ګل زمان

ACKU

ګرم ماشوره ده تاوشي تار د اطمینان پکښې
سوم د ستني واخله د دنیا ګوره طوفان پکښې
وینم ئې ذره د رنګینئ ګذشته جهان پکښې
زه وایم چي هیڅ ښکاري چي نشته ګلزمان پکښې
څه که د سخن له بویه ډک لکه د ګل یمه
نه چي وائي ماته چي حمزه زه دي بلبل یمه

څه شوه هغه ژبه چي پرې تکے د انکار نه وُ
څه شوي هغه پښې چي ئې د شپې ورځې قرار نه وُ
چا دیمې شپې ورته غبرګرے چي بیدار نه وُ
چرته دے چي وُ د بل په کار کښې خپل ئې کار نه وُ
بل لره چي دے وُ په ګردش نوم به ئې ورک نه شي
حیف چي لاهو بیا به را واپس لکه فلک نه شي

اوس ئې د بېتمک فضا خاموشه له یارانو ده
خوري د ګرد غمونه چي خالي له شاعرانو ده
هم له فاروقانو اخترانو ناظرانو ده
پاتې له جوهرو له سیمابو باحرانو ده
اوس ئې دروازې ته مشهود نه راځي څادر په لاس
او نه چرته ښکاري بو جنګئ د سمندر په لاس

* * *
۲۱۵۰

# نسب

فوقیت دیو نسب کۀ پۀ بل نۀ دے
ولې داچې یو نسب وي نسب بنۀ دے

د دنیا د مدرسې طالب العلمه
علم زده کړه خو ترې پاسه ادب بنۀ دے

ادب څۀ دے؟ د شر پېښو ته پکړې دي
لۀ هغه چې ادب نۀ وي، عقرب بنۀ دے

کۀ هرڅو بې لۀ خپله اصله بهتر نۀ وي
پۀ دریاب کښې دادم ځنې کب بنۀ دے

چې پۀ ذات او پۀ صفت پۀ هرڅۀ فرد دے
د هرڅۀ نه پاک بزرګ څکه رب بنۀ دے

شنډ تجر دا سې خر نۀ پیدا کړي
بې محل چې پیدا نۀ شي سبب بنۀ دے

* * *

# قومیّت او مذهب

پهٔ دُنیا کښې کهٔ اِنسان دے دیو ذات
دي اقوام ئې مختلف لکه صفات

چې وجُود د ګندېرې زغملے نهٔ شي
حقیقت منلے نهٔ شي د نبات

دا اجزا د ناوې حُسن ته یو کُل شي
دي خالُونه د نداسه کهٔ زېورات

اِختلاف خو دمستې رُوح روان دے
اِرتقا ساتي ژوندۍ اختلافات

دے مجرم د اِرتقاء د بند ولو
چې کوُم قام فنا کړي خپل امتیا ذات

مار کهٔ پوست لرې کړي رنګ ئې هم هغه وي
د فطرت سره دي ګډ تشخصات

چا چې خپل خصوصیت پرېښود فنا شو
څوک ئې نهٔ ګورې چې زنګ واخلي مرات

د جهان پالنه ده د قام پالنه
وي خپل قام ته د هر چا ښه احساسات

په خپل رنګ کښې ځان ساتل دامن روح دے
قبلول د پردي رنګ دي فسادات

بيا داتول دي ضابطه کښې د مذهب وي
په ژوندون اجتماعي کښې مساوات

هغه لوئ حکيم پيدا چې زه پښتون کړم
څه پکار راته تهذيب د سومنات

که باده مې دے اسلام پښتو مې ظرف دے
مزه کاندي په خپل جام کښې مشروبات

لوارګے

يکم جون ۱۹۲۹ء

★
★ ★ ★
★

ACKU

# صوفي ته خطاب

پهٔ معنیٰ چې زېږېږي ونکے لهٔ نبيؑ شوې
کهٔ سیّد نسبي نهٔ وې حسبي شــوې

باب د علم پرورش د د کړے تا ته
مظهر ځکه تهٔ د اِنّما ولي شوې

چې نژدې پهٔ نوافلو شوې پاک ربّ ته
حامل ځکه د صفاتِ رباني شـوې

شیرازه چې د اِسلام خوره وره شوه
هغه تهٔ وې دین دمیو چې ساقي شوې

تهٔ د کفر پهٔ تیارهٔ او ظلمت باندې
د اِسلام صبح صادق وې چې طاري شوې

کهٔ صادق[1] او بایزید[2] وې پهٔ یو وخت کښې
نو پهٔ بل وخت کښې جنید[3] شوې هم شبلي[4] شوې

تا بهٔ نمونځ کاوهٔ پهٔ دار ابن منصور[5] ه
هغه تهٔ وې چې رومي[6] او غزالي[7] شوې

د توحید رڼا شوه هند کښې ستا لهٔ مخه
چې داخل پکښې حسن سنجري[8] شوې

چې بهٔ قهر وکړو تا د خدائے د پاره
د فلک جامې بهٔ واړه شفقي شوې

هغه زمکه اسمان هغه ورځې شپې دي
سپین وې تور شوې بلند وې خو پستي شوې

حیرانېږمه چې اے روح قدسه!
وې مارغهٔ د علیین ولې سفلي شوې

---

[1] امام جعفر صادق عَلَيْهِ السَّلَام

[2] بایزید بسطامي رحمة الله علیه [3] سید الطائفه حضرت جُنید بغدادي .

[4] ابوبکر شبلي د حضرت جنید صاحب خلیفه .

[5] حسین ابن منصور حلاج

[6] مولانا جلال الدین رومي رحمة الله علیه

[7] امام محمد بن الغزالي رحمة الله علیه

[8] خواجه معین الدین حسن سنجري رحمة الله علیه

سرگردانه په نکتو د معرفت کښې
منقلب شوې ولې عقل عزیزي[1] شوې

وې عامل په مُوتوا قَبل اَن تموتوا
اوس د خان او د نواب خوشامدي شوې

نهٔ دې ورع نهٔ دې جوش او اشتیاق شته
څهٔ په دې کهٔ تهٔ چشتي او قادري شوې

ستا پنجه د مُریدانو دي جیبونه
ورکوونکے په ظاهر باطن ترکي شوې

تا په لاره د صفا قدم کښې نهٔ ښود
خو جامې دې د صوف واغوستې صوفي شوې

جُوته خور شي چې راهب لکه کیدړشي
خپل خواهش لره چلي کوې غاري شوې

چې په داک دې عناصر او حواس نهٔ دي
په دا څهٔ کهٔ چاریاري او پنجتني شوې

چې دې ترک روحانیت کړو شوې بې حِسه
د علي په لاره نهٔ شوې عراقي شوې

ستا تسلیم د صحو جوش د سکر څهٔ شو
اے صُوفي تهٔ جمالي نه جلالي شوې

---

[1] مادي عقل

کهٔ صاحب وې د مقام او د منزل تهٔ
د تمکین او تلون ځنې عاري شوې

اے د حُورو د جنت نه بې نیازه
یوه سترګه دُنیا بینه خُماري شوې

نفساني خواهش دې دور د مخ دنها کړه
د تیرې مخکښې دنها نماز دیګرې شوې

بیا نظر لره د ستړ یو به مرکز شې
د شرابو د اَلست کهٔ تهٔ ساقي شوې

د بقا خُمار بهٔ راشي ستا پهٔ مٹے کښې
د پخوا غونډې لهٔ نفسه کهٔ فاني شوې

کهٔ یقین لرې د ابن عربي[1] تهٔ
سبهٔ ده بهٔ پهٔ استدلال کښې کهٔ رازي[2] شوې

پهٔ اُلفت کښې د مالک د دین حنیف شه
پروا نشته شافعي کهٔ حنبلي شوې

حمزه نوم بهٔ دې ژوندے وي هم د شعر
کهٔ پهٔ لاره د ستار[3] او نظامي[4] شوې

---

[1] حضرت محي الدين ابن عربي [2] امام فخر الدين رازيؒ دوئ ته ابن عربي ليکلي وو چې ترڅو به د استدلال پهٔ رنګينو کېږئ ۔ د قال د شړلو د حال ګُلستان ته ورانډې شه ۔ (حمزه) [3] زما مرشد حضرت فخر العلماء والاولياء عبد الستار شاه صاحب چشتي نظامي نيازي ۔ [4] حضرت خواجه حسن نظامي صاحب چې د هغوئ نه هم ما فيض مونډلے وُو ۔ (حمزه)

# د دنیا خوب

> په ۱۵ اپریل سنه ۱۹۲۵ء په دهلي وېړ یو کښې د پښتو یو مشاعره وه چې زهٔ
> یې هم پکښې بللے وُم . په دې سحر زهٔ د شاه جهان د جامع مسجد په پوړو
> کښې ناست وُم او دا نظم مې ییکلو . (حمزه)

نن سحر د جمعې دے چې زهٔ ناست یُم
په پوړو کښې د دهلي د جماعت

د معاش د جنګ شروع اوشوه رڼا ده
وریځ تتـه ، نمر یوه نېزه اوچت

په دې ځائے کښې لکه پل دے لتاړ شوے
د خرّم اورنګزېب شان و شوکت

بازار ګرې غزوُنې راویښ شــوے
خو د خوب نخښې لا ښکاري په صُورت

پهٔ پوړو کښې لا اُودهٔ ډېر فقیران دي
دے بالښت ئې د خرم ټول حکومت

څوک راویښ دے لهٔ ببرېه لوګي اوباسي
څوک د دوکان ته ځیر د چاپو پهٔ حسرت

شپه تېرېږي کهٔ پهٔ تخت وي کهٔ پهٔ مزکه
وخت روان دے کهٔ څوک ټیټ وي کهٔ اوچت

واقعات همه دوخته سره لاړ شي
شي راتلونکي وخت ته پاتې حکایت

دُنیا پهٔ خوب کښې خوب ویني داخلق
بیا داخلق هم دے خوب پهٔ حقیقت

هر یو ذات وي مجموعه د څو صفاتو
او چه خورشي نهٔ ئې ذات شته نهٔ صفت

هغه ذات دے چې د ذات پهٔ حقیقت کښې
دے نمود ئې ، د صفت نه عبارت

شاه جهان و وکهٔ اورنګ کهٔ شاه عالم وو
لاړهٔ تېرشو، شته ئې پاتې حکایت

دُنیا د واصل ځائے او شي پهٔ سترګو
پهٔ زړهٔ ځائے شوي واصل داخرت

دخرم او د اورنګ عمارتونه
پهٔ نظر کښې دکتونکي دي عبرت

نمر خاتهٔ ته د سرمد[1] قبر ته کوره
څهٔ پهٔ نیاز ئې خلق کاندي زیارت

د محبوب الٰهي[2] پهٔ روضه بساندې
وي سروُنه تل پراتهٔ د عقیدت

قطبُ الدین چې دخواجه مُعین نائب دے
لا ئې پاتې دے پهٔ زړونو حکومت

داجهان یو هسې کور د اینې دے
چې مېلمه ئې دے فنا کوربهٔ حیرت

د حیرت پهٔ کور کښې بې لهٔ نشه څهٔ وي
څهٔ کهٔ وي نو وي لهٔ نشته عبارت

د پښتو مشاعرې د پاره راغلم!
نن بهٔ ورشم تر سبا بهٔ شم رخصت

بیا بهٔ وایم چې نهٔ تلے نهٔ راغلے
د قیام او سفر یو دے حقیقت

*
* * *
*

[1] یو سالک مجذوب چې اورنګزیب وژلے وو.

[2] حضرت خواجه نظام الدین محمد اولیاء محبوب الٰهي.

# د
# ازاد قبائلي جذبات

ګو ښے که غریب یمه ازاد یمه ډېر ښهٔ یم
شوم که چا کښې محو چې دا زهٔ یم بیا بهٔ نهٔ یم

زهٔ هم په دې حال کښې د مسلم پکار ېږے شم
بیا بهٔ د هیچا نهٔ یم که یو طرف ته زهٔ یم

زهٔ لکه د خپلو غرونو سر نهٔ ټیټومه
پورته په همّت او استحکام کښې لاله غرهٔ یم

ننګ په مسلمان زما د وینې سره ګډ دے
ځکه د مِلّت د اننګو د پاره سره یم

ژوند یم چې د رزه ېږم په تهمت د مسلمان کښې
بلوخه په چل ځان زغملے نهٔ شم لکه ذرهٔ یم

لوا ړګے

۲۰ رمئی ۱۹۲۹ء

# خواست

چې بې تا چا ته تیټ نهٔ شي، ننګیالے زما ځوندُون کړه
زړهٔ زما دې مسلمان وي تفکُر مې د پښتُون کړه

زړهٔ لهٔ وختهٔ کیله نهٔ کړم چې بنادي ئ لهٔ ما يوړه
خو کاروان مې د همّت او استقلال بېرته راستُون کړه

کُوم سبا چې رادوان د ے چې د نن سره کڼه نهٔ شي
زما نن واخله پرُون کړه او د نن په ځائے پرُون کړه

په تېجنه زمانه کښې د حالاتو زېبرې کې اورم
ته حکمت زما د حفظ[*] اندېښنه دافلاطُون کړه

خدايه زيات کړې يو په لسه د ښېښتو د ليلیٰ حُسن
بيا زما مينه هم زياته، يو په لسه تر مجنُون کړه

را عطا لګه د ګُل کړې جمعیت په پرېشانئ کښې
چې حاصله ترې خندا وي، خوبن مې هغه زړهٔ چاوُدون کړه

په ګُلشن ئ کړې بدلې، دا زما واړه شړلي
هر يو زړے د مِلّت مې تېغ په لاس کښې دازغون کړه

زړهٔ دې وچ هډوکي تشبیلم، خو مِلّت يې دې سلطان وي
دا زما د سخن سورے، په معنیٰ کښې همايون کړه

چې احساس د کمترۍ مې شو د غېر لهٔ تهذيبُونو
دا چیچے[ل] د دِق او سل مې د کالبوت ځنې بېرون کړه

---

ل چینجے

# نصیحت

چې عمل بې مُدعا وي، ژړا چرته خندا چرته
نابینا ته ضرورت وي، د ښکلا او سبا چرته
په تیاره د بې کارۍ کښې د عشرت دا دنیا چرته

د نیکۍ په گُنبد ونه، او کړه آوازونه
چې ذرې د کائنات یې، شي نغمې لره سازونه
په صحرا د بې کارۍ کښې راستنېږي صدا چرته

د عمل په لار چې تله کړې، شه د وخت سره ملگرې
چې د وخته سره یو شې شوې د بخت سره ملگرې
بخت د وخت یو حرکت دې چې زرنه وي بها چرته

څو ورزده نه کړې نظر ته، د مُضطر زړه اندازونه
د دولت تارو به نه شي ښکار د عقل په بازونه
چې ښکاروزن وي بې همته، مومي ښکار د صحرا چرته

لهٔ عنصرو سبق زده کړه چې څلور دې کارې یو دے
هر یو کار په اتفاق کړي کهٔ سکون دے او کهٔ دو دے
اے ناري خاکي څهٔ پوهٔ شوې دړې دې آب وهوا څرته

دې بې آبه ملغلرې، شرمنده دې لهٔ خوارے دې
چې حاصل په زړهٔ چاودون شي، هغه ستا لاس کښې مرے دې
چې ګلګونې اوښکې نهٔ دې، څهٔ اثر د ژړا څرته

د طوفان په رنګ پښتونه کهٔ افلاس دې رابرسېر شي
دا په دې چې زر زر جوړ شي، زر زر خور شي زر زر تېر شي
چې یو ځل شي مخکښې تېره، بیا څپه د دریا څرته

ACKU

# قناعت

پښتونه څا ويل چې جمع د اموال ښه نه وي
نو جمعيت مه شه د زړه چې انفصال ښه نه وي

غايۍ علت د مرکب خواره افراد کړي جمع
څومره پرېشان د کور خاوند وي چې دېوال ښه نه وي

ښکه چې پاتې شي د ښکلي په رنګ ښکه نه ده
د شوق نظرې چې تالا نه کړي جمال ښه نه وي

سرمايه هغه چې مارغه د ضرورت کړي اسير
که وي په کور کښې خو چې نغښتې دې وي جال ښه نه وي

د اقناعت نه دے د بخل يو جمود دې ګڼه
چې بې مصرف د کيميا غونډې کمال ښه نه وي

غبرګوټي ورونه هم شبيه دي قناعت او بخل
کول په عکس د عکاس هسې خيال ښه نه وي

*

* * *

# اِتفاق او برکت

د غرور وي بخره خواره په دا خه که يې کثرت دے
چې وحدت يې د خيال اوشي، ډېر دلبر و جمعيت دے

دے طاقت له اتفاقه، حکومت دے له طاقته
ازادي له حکومته ، حکومت کښې مُسرت دے

د اِنسان دُنيا ته گوره چې حواس يې اِنتظام کړي
ديوې حاسې بېلتون هم د مرکز نه قيامت دے

چې د اَبره سره مل شي يخ بادُونه باران اوشي
اتفاق په اسمان اوشي په زمين يې برکت دے

اِتفاق راته دا ښايئ جُزدې خاورې شي په کُل کښې
ديوې دانې له مرگه د ژوندون څومره کثرت دے

د کامياب ژوندون تفسير خو په دوه حرفه کښې کېدے شي
د حواسو جمعيت دے د کامل علم دولت دے

چې سرونه يو تربله، لرگي ورکاندي اُور بل شي
په ځان ځان له سوزېدو کښې سوزېدو دي هم حسرت دے



ACKU

چې لوګے لهٔ خپله کوره ځان جُدا کړي پرېشان شي
غوړېد لي ګُل ته ګوره، خنده زن چې په نکهت دے

چې لهٔ بحره جدا ځان ته مسي جوړه کاندي. اوچوي
حباب ډک وي د هوا نه، ځکه ژوند ئې يو ساعت دے

دا ښځه دا تفاق دي چې لباس د ژوندون جوړ کړي
ګرېبان چې سره بيل کړي دا نفاق دے که وحشت دے

کهٔ دا لفظ د اِتفاق اينه د چا د ذره شي
هر يو عکس بهٔ دا بناني مسخر دے شش جهت دے

بيلې لارې د قامونو د فنا منزل ته رسي
اِتفاق ورله روح دے، ژوندکهٔ نوم د حرکت دے

دين دينا لازم ملزوم دي، لکه دوه ولونه د يړي
بې رنها روحانيت دے چې جدا ترې سياست دے

مختلف صفات چې راشي ديو بنهٔ اصول پهٔ قيد کښې
بس هم دغه اِتفاق دے او هم دا روحانيت دے

د خاکي تن سره راغے قُدسي روح چې متحد شو
پهٔ دُنيا د حيوانيه کښې راپيدا اِنسانيت دے

د دُنيا و کارخانې ته، بنکته پورته نظر اوکړه
کار جُدا د هر يو څيز دے پهٔ مرکز کښې ئې وحدت دے

د قدرت انتظام ګوره، د فطرت پهٔ لاره تلل کړه
هم پهٔ دې کښلې اصول کښې پټ موجود موفقيت دے

کوري يو څهٔ واړي بل څهٔ اوري يو څهٔ کاندي بل څه
تهٔ چي تهٔ نهٔ يې نو ځوک يې ستا چي ستا نه شکايت دے

دا نخيس نهٔ دے کړيده دهٔ چي نخيس کړيده کړي شي
پرانستل ترل بهٔ څهٔ کړي چي پريشان دي جمعيت دے

دبلا دغريبيه نه ويره مهٔ کوه پښتونه
هميشه لهٔ اتفاقه پيدا شوے برکت دے

پښتون

مئی سنه ۱۹۲۳ء

*

* * *

*

# همّت

چې اصا د ذرهٔ بوډېد د نقاهت ده
د ذرهٔ شمع ده رڼا د بصارت ده

پلوشه ده چې رفعت بنائې شبنم ته
ګویا ساه د ارادې او حرکت ده

چې مېږے هم ترې حاصل سلېماني کړي
لوېه پنګه د تسکین او د راحت ده

چې نا شوندکي يې کښل نهٔ ده پهٔ رفعت کښې
د تقدیر خاصه پهٔ لاس کښې د قُدرت ده

پېدا نهٔ دے د حرص او د هوَس نه
يوه پاکه ولوله د محبّت ده

چې بنیاد يې د تعمیر دے لهٔ تخریبه
د حرص خمه لړلي پهٔ حسرت ده

اسویلي د ناکامئ يې وي تړلي
زولنه د لېونتوب او د وحشت ده

د اِنسان پهٔ بزرګئ کړي اِنسان پوهه
يوه ژبه ترجمانه د فطرت ده

د فساد چپه څپېړه په خپل ځخ شي
بوړ پښتي د خلافت د عمارت ده

چې په خپله فنا بیا راشي پېدا شي
رواني د ژوند د سیند چپه صورت ده

د مرکب د وقت قبضه لري په لاس کښې
بد نظمي ته کروړه د سیاست ده

د خوشحال خټک د زړه په لاس کښې تُوره
جوړې برېښنا د اورنګزېب په بصارت ده

چې ئې درمن د جهان یوه جولۍ دے
"په جهان کښې لویه بخره د همّت ده":

د حمزه په زړه چاوُدون به ادب مسک شي
خوشبوئ په دې کلۍ کښې د حکمت ده

مشاعره یوم خوشحال خان

پېښور ۲/۴ ۲۰

*

* * *

*

# وحدت دِ ملّت

وحدت د عمل راشي چې وحدت اوشي دخيال
کثرت د غم جوړېږي چې په قام کښې ځان ځاني شي

ولې رسي سيندونو ته، سيندونه سمندر ته
اخر نو رسېده دي، خو بېدا چې رواني شي

ملّت شو هغه کس چې ځان ورک کړو په ملّت کښې
يو سيند شي سمندر په سمندر کښې چې فاني شي

تا رونه د خيال دې مختلف وے بارې څه شو
نغمې ديو اصول ته چې په تړ شي اساني شي

په باغ کښې بوټے باغ وي بې له باغه بخيل نوم وي
بېلتون له جمعيته، و چوبې پرېشاني شي

يو فرد لکه د ځاځکي نه پرې لوند نه پرې خړوبه
سرسبزه شي چې جل و هلې مزکه باراني شي

دک کور د آئينې وي د کثرت نه د عکسونو
له خپله ځانه روند وته وريا تې حيراني شي



AOKU

# اِنسانیت

د هستۍ له درانه بار که دوګردان شي
په خپل ځان باندې په خپله به تاوان شي

د عالم په حقیقت کښې سرګردانه
ته له مزکې وتے نه شې که اسمان شې

تخیّل دې اٰئینه د جستجو کړه
ستا فطرت به شي لاځلند چې حېران شي

حېرانتیا دې لا نبنان د ماشومتوب دے
خپل جوهر به هله اووینې چې ځوان شې

د عالم نظام چې جوړ دے له اضدادو
ځکه ته چا سره جوړ چا سره وران شې

دا شریکه دُنیا واړه ځان ته غواړې
ځکه داسې په دُنیا کښې ځان په ځان شې

لا خواهش د ناممکنو ستا فطرت دے
که انسان یې د جذبې لاندې حېوان شې

ضبط د نفس کښې دې تکمیل د عقل پټ دے
مال څه شي چې لاسونه په ګرېوان شې

ACKU

چې کور به د جهان بل د ستانه څه ځي
ته مېلمه يې ولې تنګ په بل مهمان شې

ستا عمل دے روڼ دليل ستا په اسلام شي
چې راجمع سره ټول په دسترخوان شې

د مذهب دعوه دې پرېږده سړي خوره
ستا دعوه هله صحيح ده چې انسان شې

پحلکه

۲۷ر جنوري سنه ۱۹۷۹ء

★
★★★
★

ACKU

# معراج

هغه نن د هغې شپې چې نامزد شو په سبا
لا چې هیڅ نه وه پېدا ابتدا د ابتدا
چې موسوم شو په ازل یو احساس د هستۍ
یو اساس د هستۍ په تیرو کښې وه برپېښنا
هغه نُور او عقلِ کُل چې علّت د ممکن
چې صورت د ممکن چې بابا د هرچا
کُلیّت کښې شو ښکاره کړه پاک رب چې ننداره
بل شو چا ورته کتے کُل د کُل وه نظاره
یو احد د بل احمد د په میم سره جُدا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

لا تکمیل د سرې توب نظرونه کړمول
په لمحه کښې د قدرت ئې ارخونه بدلول
خلاصې چې د انسان په ذاتکو کښې د عدم
د.پچو په شانې خپل ارمانونه زنګول
لا خو زیرې دتخلیق غزونې کړې ورځ ده
بوګن ورک شو د فنا په ورو ورو ئې خندول

یوه بنکلې نظریه چې وه پړه په جمال
چې ظاهر شو ترې جلال منتهی د هر کمال
په خارج کښې محمّد شپه د قدر وه هم دا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

ACKU

چې په علم کښې د خدائے دستی جوړ وُ میدان
وه ئې ګوټې د ارتقا د عمل ئې وه چوګان
سپوږمۍ نمر او ستورې تول ددې ګوټې ماتې ذرې
کړه یرغل د میږنو جوړه لار د کهکشان
په فطرت کښې د مخلوق شو نظام لکه د روح
بنکته پورته شو محسوس شو معلوم مزکه اسمان

خلاصه ئې د انسان کړه په شکل د آدم
په صورت کښې د ماشوم ارتقا شوه د عالم
ضد شو ضد لره پیدا هم خنده شوه هم ژړا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

پروردش د ارتقا کړو په غېږ کښې زمانې
د رندانو ظرف شو لوئ لوئ بویه پیمانې
زلمې توب د سرې توب د اسې ساز شو لکه سان
د احساس تارونه روغ وے بې (جـــرره) ترانې
شمع راغله د توحید وه فانوس ئې عبدیت
اصلي حسن شو څرګند شوې مضطرې پروانې
ټنګ ټکور شو د وادۀ چې شوه پېغله ارتقـــا
جهالت او کفر و شرک په لغمو کښې شول فنا
کړه مضراب د رسالت رابهر ترې د اینـدا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

چې عِلّت ؤ د ممکن کړو معلول ئې مکمل
کړو انسان په علوي کۀ له جنسه ؤ اسفل
تصوّر د رب د ذات تعین ئې د صفات
د ادنیٰ نه شو اعلےٰ د جمیل نه شو اجمل
د شب قدر اعاده او کړه بیا غـــني صَمَد
چې پیدا شي اتحاد د آخر او د اوّل
یو رو حق نه پاک نبيّ چې رو داد ؤ د هستئ
حقیقت د بلندۍ چې کوم راز ؤ د پستئ
دغه شپه وه د معراج دغه شپه وه د اسرئ
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

شو انسان وته حاصل لوړ مقام د عبدیت
عاجزي کړو ورحاصل بلند بام د عبدیت
د توحید د مئے سرور د حدوث اثر کړو ورک
د کثرت جهان شو غرق په یو جام د عبدیت
د ازل نه تر ابد د اول نه تر اخر
د فنا نه تر بقا شو یو ګام د عبدیت
شو حاصل ترینه وصال د وصال نه محویت
محویت اوس وه دوئي بس نو پاتي شو وحدت
د لته لري شوه پرده د قوسین او ادنیٰ
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

د زرمیاشتو هغه شپه په طاعت شوله حساب
هغه شپه شوه مور د شپو بیا په شپو کښې د حجاب
ملائک او ارواحان د سلام جلوه په لاس
په وریځو کښې د نور د رحمت په لاس طناب
شو دنیا وته راکوز شو باران د تسلیٰ
هم د وچي شوي شپې د رحمت راغلو سیلاب
په خاطر د محمدؐ اوازه شوه د بخشش
ال اولاد د محمدؐ دروازه شوه د بخشش
جوړ و جشن د معراج په زمین او په سما
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

ښکته شوے چراغان پورته جوړ ؤ دانونیان
ښکته واړه پتنګان پورته شمع وه دناز
په ښتیو دشهاب داسمان فضا چمن
یا په سترګو دشیطان کړې جلووغوټې دباز
سندره ایزؤ په طٰهٰ نغمه بارؤ په یٰسین
دتطهر په لے روان دانسان دضمیرساز

چې بنا وه تړي مستي چې پیدا وه تړي هستي
په ځائے راوړو محمدؐ چې پیغام ؤ الستي
شو معراج دسړي توب په معراج دمصطفیٰ
لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰه

دقوسېنو یوکول که دوستي وي دعرب
او ادنیٰ شو پکښې زیات داحمدؐ اودچل رب
دا یوه لینده ددوؤ یوې غشے یوې (کرت)
یو دېښنه اویو هدف یوې قهر یو سبب
یولیدل او اوریدل یو نیول اویوې تلل
هلته داسې وه ادب چې غائبُ شولو ادب
هلته ورکه شوه دوي هم فنا ېُ شو مفهوم
هلته اوسوه پریبي دعلم چې یو پاتې شو معلوم
دا مقام ؤ دِالاّ هلته لا شو لاړو لا
لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰه ، لَا اِلٰهَ الا اللّٰه

لی مع الله وقتٌ ؤ یو حال د مصطفیٰ
دلته لله وقته مع الا احمدِ حَقّا
یو حبیب او بل ہلمه یو استاذے او محبوب
بیا کوربه ښکله کوربه چې سبحانَ حمیدًا
چې امکان ئې ؤ کُل کور چې لائق نهٔ ؤ دکور
وې چې کور مې دلہمو ستا د پاره دے اشنا
ستا لہمهٔ چې شي زما شي زما لہمهٔ دستا
چې شي ستا پهٔ اختیار هر هغه چې دي زما
چې دا "تا" او "ما" شي تم باقي پاتې شي یو "آ"
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

شو دا مدّ مې امتیاز د ناپوهو پهٔ منهاج
ګنې دا په حقیقت الہنیے ستا مې پهٔ سر تاج
تهٔ چې شوې راسره یو زهٔ قابل شوم دکتو
ګنې چرته دے زما تعیّن ته احتیاج
همګي زما پهٔ ځانے کاندي تا وته ندا
تهٔ پوهېږې پهٔ هر څېز چرته زهٔ چرته مزاج
زهٔ محل د حادثو ؟ دا اشنا نهٔ شي کېدے
چې کوم کار کېږي لتا غـآ لهٔ ما نهٔ شي کېدے
دا همه دے ستا صفت چې مخلوق کوي زما
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

جیبؑ اووې الهي زار لهٔ داسې بهـــانــو
تا لهٔ مېنځه اووېست ځان زهٔ دې کړم دنیبانو
زهٔ قبله شوم د حاجات هیڅ پهٔ دې کښې نشته شک
خو مورد هم شومه زهٔ د ګیلو او فسانو
واک دې راکړو شکریه، زهٔ مختار د تور او سپین
دا پهٔ سترګو مې قبول ستا د پټو خزانو
خو دا ځرنګه دے عشق چې دې زهٔ کړمه مشغول
کړې عاشق بهٔ هم پېرزو د معشوق د پاره نُول
دا چې ستا دي ستا دې وي زهٔ خو غواړمه یو ستا
لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ، لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

بیا هم واک وي پردے خپل زهٔ بهٔ څهٔ اوکړم پهٔ واک
نور کړه لرې الهي حجابونه د لولاک
پهٔ کرم دې بل کرم یو حجاب پهٔ بل حجاب
تېر بهٔ او نهٔ خورمه زهٔ ستا د مهر پهٔ ادراک
در ته ګورم مخامخ خو زما نه ئې غائب
څهٔ لیدل شو چې وي ستا او ستا د غیر اشتراک
دا سې پورته کړه پرده چې "ته" هم شي پکښې غیر
چې احساس او وهم ادراک د "زهٔ" هم شي پکښې غیر
چې ته هم او نهٔ کښې چې دا غیر ؤ لهٔ ما
لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ، لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

۲۱۸۰

پرده لرې شوه د مینځ وه ګویا په خپل زبان
شکایت یې له خپل ځان محبت یې له خپل ځان
که الطاف وُ که کرم که وُ واک او اختیار
وو همه له ده په ده که خندا وه که ګریان
اٰیئنه چې د نسبت وه فنا شوه په صفت
عکس ننوت په ذات نه حیرت وه نه حیران

شو منزل په انتها ابتدا شوه د احساس
محمد صلی الله علیه وآله وسلم وُ محمد پاتې هیڅ نه شو وسواس
د احساس وُ رخصتي یو د بل نه شو جدا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

زه حمزه وُوم په پرواز په عالم کښې د خیال
د عالم ته مې د عقل غوړولے وُ یو جال
ما وېل که چرته یو د معراج د کیفیت
شي دې جال وته راښکېل یو مارغه قدرې د حال
حال د قال هسې شو ورک شو راښده لمحه د خیال
خیال و حال وقال همه د محال په حق محال

شوه زما په التجا را په لاس یوه ګنجي
شو یو در راته ښکاره پرې لیکلي وو "علي"
نه شوه بېرته دروازه څوچې نه شوم بې نوا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

# درد

پهٔ وُجود کښې د اِحساس لکه خبر دے
چې د ژوند پهٔ کاریګر کښې یو هُنر دے
هغه هغه چې دې رُوند کړي څو نظر دے
د کردار پهٔ اینه بانډې جوهر دے
لرې کور پهٔ یخو یخو اوښلو کښې
د همت ګرمي پهٔ ماتو حوصلو کښې

غزونې د شیرینو ارمانونو!
نوحه ګر د ناکامۍ د سامانونو!
بلندي د عاشقۍ د اسمانونو
د غم ابر د ژړا د بارانونو
چې د ګرمو ګرمو اوښکو دُر فروش دے
پهٔ دریاب کښې د هستۍ لکه د جوش دے

هغه عیش دے چې پهٔ بل محل کښې غم دے
یو تریاق پهٔ بې محل استعمال سم دے
چې هوسه د بې خودۍ د پاره ګرم دے
د عمل د مېړتون د پاره دم دے
پهٔ اول کښې چې زمونږ دُنیا ته راشي
بې قراره شي پهٔ طفل کښې ژړا شي

جرګه اېښ د ارمانونو دے پهٔ زړهٔ کښې
ائینه د حیرانیو پهٔ لمحهٔ کښې
د خلوت نهٔ وي جلوت ته پهٔ کاتهٔ کښې
نشته هېڅ رته، خو بیا وي پهٔ هرڅهٔ کښې
پهٔ خرد باندې لړلے لېونتوب دے
عاشقۍ لره رنګین، اوسترے خوب دے

وي اغاز نې انتها، هغه اغاز دے
همېشه د انتها نه بې نیاز دے
د هستۍ د نغمې خوند، پهٔ خوند کښې راز دے
راشه واوره چې جاري د زړهٔ پهٔ ساز دے
کهٔ مضراب د بېدارۍ د چا پهٔ لاس دے
چې غفلت لکه د تار ترې پهٔ هراس دے

د مهجور د ناکامۍ یخه خندا دهٔ
د واصل د کامرانۍ دغریب ژړا دهٔ
یا مجنُون دے سرتر پایه تماشا ده
نهٔ غلط شوم د مئین د زړهٔ لیلیٰ دهٔ
اِضطراب د ژوندانهٔ لره هوس دے
شور د دهٔ نه، لکه پرے د جرس دے

اړخ نهٔ دے بدلوُونکے نهٔ بهٔ وخت شي
چې ویښ شوے اودهٔ نهٔ شو نهٔ بهٔ بخت شي
نرمو نرمو لره سختو لره سخت شي
پهٔ تخته یې وي استوګند کهٔ پهٔ تخت شي
اوشوه، دے که د خوارانو سره یار دے
هسې نه چې د شاهانو نه بېزار دے

جست او خېز بهٔ درته ښکاري پهٔ زینه کښې
د کوزن وهلي عکس پهٔ ائینه کښې
لکه وي د اور سپرغۍ پهٔ پشمینه کښې
بس هم داسې یو شرر دے پهٔ سینه کښې
پهٔ دُنیا کښې دا زموُنږ بله دُنیا دهٔ
کهٔ ترې دا وي هغه هم ترې پهٔ غوغا دهٔ

ACKU

دے کۀ گل چې اننګي اووینې اُور شي
خال ته اوګورې لۀ ځانه ئې زړۀ تُور شي
غم د زلفو ئې پۀ زړۀ باندې منګور شي
بیا پۀ خپلو اوښکو یخ لکه دسکور شي
محبوبې ته نذرانه پۀ مخکښې زړۀ کا
دحیران سَین پۀ سترګو کښې ستٔ وُکا

دے لا هغسې زلمے وي بل بۀ زوړ کا
د ارمان وینه ترې اوځښي ځان پرې موړ کا
چې هجران ئې د وحشت پېغو ته جوړ کا
شي راپورته پۀ کرېوان باندې زړۀ سوړ کا
شي زولن ئې د چپیا پۀ پرهر کُوکے
بوش دسوزې راپېدا کا نوے نُوکے

ئه کۀ " وړه کا " اوبیکلے شي نو ثانیه بۀ صحیح شي . لېکن د رسم الخط ضروریات ددې اجازت نۀ ورکوي " زړه کا " او " وکا " صوتي برابر والے سره لري نو پۀ دې وجه ماته دا صحیح ښکاري . (حمزه)

څومره پټ هومره ښکاره بغېر له شک دے

په کالسوټ کښې د خيال سکه نمک دے

بدرګه د عاشقانو د درک دے

د وسواس رهزن ترې ويره کړي ټوپک دے

کهٔ ئې ګورې په کاغذ تمثال د فرد دے

چې له هرې ډډې درد اولولې درد دے

لوارګے

---

اکتوبر سنه ۱۹۴۱

* * * * *

ACKU

# ژوند

ژوند یو مسافر دے پهٔ فطرت کښې ئې سفر دے
پټ ئې هم پهٔ دغه کښې سکون دے چې مُضطر دے

ژوند دے هغه غږ چې د جرس نه مروں دے
تل اوسي د ننه پهٔ ظاهر کښې کهٔ بهر دے

ژوند پهٔ مسلسله قهقهه روان دے خاندي
پوهٔ دي پرې هغه چې لهٔ فطرته دي زړهٔ سواندي

ژوند لکه د عکس پهٔ آئینه کښې د اِمکان دے
ژوند چې ځنې لا رشي اِمکان شته دے نو حیران دے

ژوند دے چې د امزکه هم اسمان ترې سرګردان دے
دے چې دي پهٔ مزکه هغه مزکه هم اسمان دے

دهٔ هغه سلګۍ چې شي نما پهٔ ځنکدن کښې
هم شي یو سبب د حرکت د مړهٔ پهٔ تن کښې

ژوند دهٔ دلکشي د ښغلوځونو پهٔ مستۍ کښې
دے ګویا وحشت د نکهتونو پهٔ مستۍ کښې

یا سرګرداني دهٔ د ګلونو پهٔ مستۍ کښې
شته دے د بلبل د اوازونو پهٔ مستۍ کښې

پټ پهٔ اسوېلو کښې د اِحساس زړهٔ پهٔ درزا کا
څومره ترخه شپه د اِنتظار خوبنه سبا کا

چرته مجتمع شي همه سترګو ته راغونډ شي
چرته د وريځ غونډې د ذرّه په اسمان پنډ شي

شي روانه اوښکه د ښو په څوکو رنډ شي
ګل شي په صحرا کښې په ګلشن کښې لکه خنډ شي

راځي ولې خوله ته د زبېرګيو لمن نيسي
يا خوشې اغزي د اسوېلو پېرهن نيسي

مرګ چې ورته وائي د هغه نوې لباس دے
ويره د فنا د حوادثو يو وسواس دے

وارۀ تغير د عناصرو ور په لاس دے
ګن په ائينه کښې د خالق يو انعکاس دے

وارۀ په هستۍ کښې هم دده نه اتصال دے
دا دے په وجود کښې چې سبب دانفصال دے

راز دجمعيّت دے چې دے نغښتے په کلۍ کښې
دائې چې خندا ښکاري دګل په پرېشانۍ کښې

ښکاري د نکهت د وحشتونو په مستۍ کښې
او کاندي شادابه غزوني په سبزۍ کښې

ژوند دے په جامه کښې د فنا چې تل باقي دے
بس په ميخانه کښې د فنا دغه ساقي دے

جمرود

مئ سنه ۱۹۴۵ء



ACKU

# اُمید

تهٔ پهٔ ائینه کښې د فطرت لکه جوهر یې
تندر دے خرام د حیرانئ د ذرهٔ خطر یې
ستړکو د تهذیب او تمدن لره نظر یې
عرش د ترقئ درته یو ګام هغه وذر یې
ډک دي د مُراد لهٔ ګُلو ستا واړه باغونه
ستا لهٔ لاسه دي د زړهٔ داغونه چراغونه

اے د کون پسرلے پهٔ تپه د وطن یاده
اے د غرهٔ بارانه پهٔ صحرا بیابان زباده
برقه زور اوره د وریځو نه آزاده
اے د غم پهٔ کور کښې تل اباده بناده بناده
نهٔ پرېږدي چې ځان ته دیاس ته هغه زور یې
سینه د حوادثو نه بهر لکه د شور یې

---

۱ د الفظ ما د خانه بدوش دپاره استعمال کړے وُ ۰ او ددې نه پس نورو شعراؤ هم ددې استعمال جائز او مناسب اوګڼلو ۔ (حمزه)

ته هغه مرکب يې چې کړې زغاښته تر اسمانه

لاره دې اوږده ده يو په دوه تر کهکشانه

يا مارغهٔ د قدس يې تښ پهٔ پرله لامکانه

ښکار د معرفت راوړې دنيا ته لهٔ ين دانه

تن کښې د ادم لرې استوګنه ملکه يې

تهٔ زمونږ پهٔ مزکه د بخت ستورے فلکه يې

ذرهٔ کښې د مريض يوه رڼا د شفا تهٔ يې

کوم ځائے چې دوانهٔ وي موجوده دوا تهٔ يې

تل د حوادثو په تيرو کښې فنا ستهٔ يې

تېرشي چې بيا راشي، چې بيا لاړشي، خو بيا تهٔ يې

واړه خواهشونه پتنګان دي ستا پهٔ شمع

سوزي نهٔ جاروزي وي پهٔ تا باندې راجمع

يې هغه کلمه د رکښې پنهان ګلستانه دي

يې هغه ماشوم چې چا کړاني دې ځوانه دي

ګل يې د سکون، ورنه جدا پريشانه دي

ستا لهٔ دمه دم دے پهٔ هستهٔ کښې ودانه دي

تهٔ يو پسرلے يې پهٔ خيال کښې د بلبلو

يا د غوټهٔ خوب يې چې راځې پهٔ واړ د ګلو

مل وي له فرهاده کارې تا کړې تېشه کښې
ستر که د حېرت چې ورته وه په تماشه کښې
ته لکه يو نمر يې د خاکې تن په بېشه کښې
شته دې د عمل سحر په هره پېلوشه کښې
ستا چې ده جلوه په کوم يو ځائے هلته ژوندون دے
روح يې د عقلونو بې له تا واره جنون دے

ښکارې انتها رنګينه ستا په ابتدا کښې
وې دې منتظره ابتدا په انتها کښې
زون دے همه ستا چې اورېدهٔ شي په چپيا کښې
بيا هم هغه ته ئې چې چپيا ئې په غوغا کښې
څوړند دے جرس د بېدارئ په تار نيولے
تا دے د مراد د قافلې مهار نيولے

نبض د مستئ د مريض پرېوځي چې ته سوړ شې
راشي د اجل ښکارې چې ته پرواز ته جوړ شې
تل ترتله ځوان يې هسې نهٔ ده چې به زوړ شې
ګېډه حوادث کړې خوړنهٔ او بدے يې نهٔ موړ شې
څهٔ چې اوخوري نور غواړي چې نور اوخوري نور غواړي
کور دې دُنيا دے په تا کور، ولې کور غواړي

۲۱۹۱

لاس دے د همّت د نمرغنډ وسکي ته دراز کړي
ځي هغه لوبغاړے چي اسمان په مزکه ساز کړي
ښکار د مّدعا وته د برق غونډي پرواز کړي
ته چي د تېوس په مرسته پاڅي جوړتړي باز کړي
ستا پنجو ته هيڅ نهٔ دي تارونه د وختونو
ته چي د چا يار شې غه ښې کړي د بختونو

ورک کړي اسوېلي همه په شېه د انتظار کښې
ساه د طوفانونو دهٔ جوړ ستا په اختيار کښې
فرش وي د مځين د نظر خور د يار په لار کښې
او پېرې کوهر ځي د وصال په هريو تار کښې
پرانېزې زبان' کړي د چپيا سره خبرې
کوړې تتو ستورد ته ورو ورو وائي سندرې

اوائي تيرې ته داروان کېسو دراز دے
اوائي نسيم ته شابا شابا وخت د ساز دے
بيا د ذرهٔ درزا ته وائي چپ' د چا اواز دے
اے اسوېلو اوزئ اوس لهٔ ميانه وخت دراز دے
زانګي تر سبا د رنګينيو په زانګو کښې
رنګ وي د ماشوم' د انتظار په اننګو کښې

هم د وعدې وړکړې د حرص بچے پخلا کړې
ته چې د جذباتو په لعلونو مشغولا کړې
څومره زاهدان په کاوشونو مبتلا کړې
خوب د جنت وینې، جهنم ورته دنیا کړې
سیند د مدعا چې کله اوښائ سراب شي
بیا هم د منزل تږي په تابانډې سیراب شي

پلار ده د عمل چې ناخلف بچے رانه وړې
راوړې ناکامي او کامیابي رانه په تله وړې
ښه راوړې، ډیر ښه ئې ولې تله چې کوې ښه وړې
څه دې دي راوړي، څه دې پاره؟ او بیا څه وړې
راشه د حمزه د زړه دنیا وته بهار شه
اے امیده ته د بیابانه سره یار شه

بهاریه مشاعره
اسلامیه کالج پېښور
۱۹۴۱ء

# اِنتظار

> پهٔ ۳۱، دسمبر ۱۹۶۰ء کښې چې ما دخوشحال خان بابا
> پهٔ قبر مشاعره کښې شمولیت کړے وُ ـ او ما یکښې "دشاعر
> دزړهٔ اواز" اورولے وُو ـ پهٔ اخر کښې دیوڅو صاحبانو پهٔ
> فرمائش ما دا نظم هم واورولو چې ما اوس اوس لیکلے وُ او دکاغذ
> پهٔ یو څو ټکړو ما څخه موجود وُ ـ (حمزه)

شپه لکه بلا ډګرې ستنې لاندې باندې وې
زلفې يې پرانستې وې دشپې ډيوې ترې لاندې وې
سروُ دسپرلي ښکلے وريځې تاندې تاندې وې
وخت د رُخصتۍ کښې دخزان سترګې نغلاندې وې
څهٔ اووې داوسېنې پهٔ ژبه ګړيال څهٔ اووې
خدائے زده څغه دم ماته همدم دخيال څهٔ اووې

سرائے ته د دُنیا وې را روانې قافلې د ګُل
یا نو د خوشبوئ له مېوه ډکې وې پیالې د ګُل
سپاندو نظرماتو زیاتولې حوصلې د ګُل
سترګې د بلبل وې لکه برق په تجلّې د ګُل
ناوې د سپرلي له خوبه ویښه په سنګار کښې وه
ډېره غزونې شادابې جوړ په ګلزار کښې وه

شول مې د ارمان بچي اُوده د رنګینۍ په خوب
ټوله شپه لیدل مې ګلزارونه د ځوانۍ په خوب
بندو د کلو سترګو لیدې ګلستانۍ په خوب
سترګو د وصال د بېلتانه پرېشانۍ په خوب
زه مې په راتګ شومه یواځې د ملګرو نه
څنګه چې په نمر کښې تېرې تښتي د بڅرونه

بیا نسیم په پانو کښې پېدا کړه د ګفتار ژبه
دنکو رنکو ونو اختیار کړه د دې خوار ژبه
چپ د محویت په یکسویۍ د اِنتظار ژبه
څه به د رته وایم زما ژبه شوه د یار ژبه
وې چې غم وهلیه ستا دُعا ته به اثر شمه
نیمه شپه به زه د ادېرې غاړې ته درشمه

ACKU

بیا شوه چپیا ما د خپلو سترګو ځمبار اورېده
زون لاندې د خیال مې د زړګوټي دد ذار اورېده
زهٔ ځمه تن غوږ وم د مینې مې رفتار اورېده
ماته راروان وُ جوړ خرام مې د یار اورېده
بوټي کهٔ خاڅي وي کهٔ نسیم وُ کهٔ ګلونه وُ
ماته د یار قد د یار خرام او د یار پلونه وُ

سترګې د تېرې شوې اموخته تیارهٔ پهٔ ماتې شوه
نورې پردې وسوې خو نقشه د اشنا پاتې شوه
مخکښې مې جذبه د عشق د یار پهٔ ننواتې شوه
ډېره موده پس نګاه پهٔ دې خوارې میراتې شوه
راغې لکه شمع پهٔ فانوس د ناز انداز کښې وُ
پوهٔ پتنګ د ذرهٔ شو دسوختن کار چې پهٔ راز کښې وُ

ځان لره مې ځان راغې واصل شو ځان د ځان سره
یا وُ ډک مکان چې شو یو ځائے د لامکان سره
بل جهان شو جوړ چې ګډ جهان شو د جهان سره
یا غاړه غړې د شمع نور د شبستان سره
ذرهٔ شو د نور شمع پټو سترګو بینائي اوکړه
څیرې د ګرېوان مې هم خنده د سبائي اوکړه



ACKU

دواړه مخامخ شي یو مو روح او دوه قالبه شو
راز ووکړه بیانه نو په دنیا په یوه ژبه شو
واړه المونه د وصال د تاؤ په تبه شو
بخت په لاس نیولی ، مرادونه له جلبله شو

ما به د هجران ګړو شکایت ده به له ما کاوه
یو به ګړله بل نه شومه پوی چې چاله چا کاوه

ما به لاس په زړه کېښود چې دا سرګرداني زما
ده په تورو زلفو چې سودا پرېشاني زما
ما به سترګې پورته کړې چې ګوره حیراني زما
ده به ځل تېر چې مېره ګوره باراني زما
ما د سینو زخمونه چې اغزي ئې لا په خوله کښې دي
ده په اشاره چې دي ښکاره زما په زړه کښې دي

ما زېړه ګونه چې څوک د زرو سره دانه کا
ده مراوي لمه چې د ګوهرو سره دانه کا
ما زخمي تهمت چې د مرمرو سره دانه کا
ده خالونه وران چې د عنبرو سره دانه کا
ما سوز اسویلے چې یې پیدا په جهنم کښې شو
ده صدائي غریب چې یې نقصان په ترنم کښې شو

وازه شکایت د بشکلي یار ؤ شکایت زما

تېر يې حکایت چې کړو د غم ؤ حکایت زما

دهٔ وکړه بنا په ملامت د ملامت زما

زباد يې عنایت کړو د وفا ؤ عنایت زما

ما به وې چې ته داسې اوده به وې چې ته داسې

ګویا چې هر یو به وې چې زه داسې او زه داسې

دهٔ به وې چې اې بناګسته زهٔ دې دَر په دَر کړمه

ما به وې چې اې بناګسته زهٔ دې کوروکی کړمه

دهٔ به وې چې اې بناګسته زهٔ دې بې نظر کړمه

ما به وې چې اې بناګسته زهٔ دې بې بصر کړمه

دهٔ به راته وې چې لونې دې زهٔ له عشقه شوم

ما به ورته وې چې سپېلنې دې زهٔ له عشقه شوم

عشق لکه چې پټ دے پاتې پټ شو جلوه ګر شو حُسن

هم د خپل وجود په خپله ژبه ثناګر شو حُسن

بیا لکه د نمر په مخکښې بل اوختو نمر شو حُسن

یا خو د نسبت په توره شپه باندې سحر شو حُسن

عشق په ګونګه ژبه وې چې ستا وجود زمانه دے

وې باران له ابر نه او ابر له باران نه دے

هېڅ نهٔ شومه پوهٔ چې یو اوبل ګله لهٔ چا کوي
زهٔ یې دغهٔ ځنې کوم کهٔ دے لهٔ ما کوي
کوم معشوقه لهٔ نازه ډکه ده خنــدا کوي
کوم پکښې عاشق دے پهٔ زړهٔ سوي چې ژړا کوي
نهٔ وُ امتیاز چې حُسن او عشق وُ دواړه یو سره
یا یو رنګي دوه څادره وو غوټه پلو سره

ناڅاپه بدل دسترګو رپ کښې شو دا حال زما
یا وه زلزله چې پهٔ وطن شوله دخیال زما
نهٔ پهٔ مخکښې یار نه هغه شپه وه نهٔ وصال زما
ګُل شوه د زړهٔ شمع نهٔ رڼا وه نهٔ جمال زما
زهٔ وُم تنهائي وه اسویلي وو ارمانونه وو
لاس کښې مې ګرېوان وُ د ژړا پرې بارانونه وو

وخت وُ دسحر دشفق پان وُ دآسمان پهٔ لب
یا سُرخي دوینو دعاشق وه دجانان پهٔ لب
یا نغمه نسیم کړه دحمزه د زړهٔ ارمان پهٔ لب
هورته پهٔ پټې کښې وه سندره ددهقان پهٔ لب
خوب وو دفردوس دننداري دځوانۍ وار زما
څومره ډک لهٔ خوندهٔ وُ چې تېر شو انتظار زما

★

۲۱۹۹

ACKU

# کار

ژوند ته اوګوره ژوند څهٔ دے، همه کار دے همه کار دے
هغه ژوند په مرګ حساب دے، په دنیا کښې چې اوزګار دے

نهٔ فرهاد يې په صفت کښې، نهٔ منصور يې په معنیٰ کښې
تا يو ګټ مات کړے نهٔ دے، وايې عمر مې په دار دے

پهٔ ډيوه دخپل عمل کښې د وجود وينه کهٔ تېل کړې
ستا دپاره تيارهٔ نشته هر وطن درته بازار دے

بې کارې بهٔ هم يو کار وي، خوحاصل ورځنې نشته
د مقصد مزل يې کوم شو، هغه اوښ چې بې مهار دے

دهستۍ پهٔ لويه لاره چې وختونه نهٔ وُدرېږي!
اے پښتونه ولې ناست يې ستا دچا ته انتظار دے

*
* * *
*

# سمه لار

نسخه دې د مرض د پاره نۀ ده لۀ قرآنه
پخپله خپل علاج کوې پخپله باوېړے شې

باران د ژړا ډېر دې د افلاس لۀ زوره وګړو
اسان دے درته دۀ د ترقۍ کۀ ننګيالے شې

افسوس دے چې موجود دې خو وجود دې ليدے نۀ شي
يو تېر غونډې داستان ې چې لۀ خلقو اورېدے شې

خطا دې سمه لار کړه اوس پۀ بلو بلو سر ې
نۀ وړاندې تېرېدے شې نۀ واپس راستنېدے شې

کوشش د ترقۍ دې د مذهب پۀ رڼا نۀ دے
خپل ځان هم پۀ تا بار دے پۀ تيرو کښې کله تلے شې

تېجنه زمانه ده د معاش بۀ دې سرسام شي
دارو د عمل بنۀ دې هسې نه چې اسوېلے شې

جوړېږي قسمتونه د عمل نه خبردار شه
چې مشق د غشو نۀ کړې نښه څرنګه ويشتے شې

پښتونه ګوره نور د ارتقاء د غېر اقوامو
پۀ غبرګو سترګو ړوند ې دې خوا څرنګه کتے شې

غمونه د خپل قام دي په سر باد کړه که همدم يې
دانه چي د ستومانه قام په سر باندې ورے شې

ښکاره چي درته ځان يې لاسو پښو شي کم همت شې
همت کړه چي په سينه د حوادثو کښې مهے شې

ستا ژوند څه دے؟ بس دا چي پېدا کېږې تش تور دروې
پېدا روښانه نوم کړه ترابده چي ژوندے شې

که ښکارې خندنے خو درکښې بويې د مينې نشته
يو ګل يې په ظاهر د ورور په سترګو کښې اغزے شې

که اوزغمې تراش خراش د سختو مصائبو
په ګوته د قامونو کښې به ته لکه غمے شې

دنيا همه ځنګل دے پکښې ښکار د خوشحالۍ نشته
اوس دا خو هم ستا کار دے چي له خويه امزرے شې

بل قام د جهالت د دنځ د وا چي په تعليم کړې
ستا سترګې د تقدير په طمع پټې شي زبېرګے شې

مکري د اسلام نه ځې ستا دوينې نه پښتونه
زور کړے که افلاس ئې ولې بيا هم ځواندے شې

باطن دې د ظاهر نه مکمل دے خو بېدار شه
په وينه هم ممکن دے چي په خوب کښې الوتے شې

چي تا ته رسېدلې پلوشې د نمر سپوږمۍ شي
فلک شه په همت کښې ته هغو ته رسېدے شې

کهٔ لاره د عمل ده سُوم دستېنې غونډې تنکه
د تار غونډې نرے شه پهٔ اسانه ترې وتے شې

شنوارے د ته وائې چې پښتون په حقيقت شه
پښتون بهٔ پهٔ نوم نهٔ شې کهٔ مومند کهٔ افريدے شې

*
* * *
*

# بهار

یوه مشاعره د ارباب مددخان مرحوم په حجره کښې په برتهکال کښې شوې وه. د ۱۹۲۱ سنه سپرلے و او په هغې کښې ما دا نظم اورولے و.
(حمزه)

تېر پېد ونکے د ژمي د فوځ يلغار شو
هېنګے ورغے فطرت ته، بې قرار شو
غزونې سپرلي اوکړه را پېدار شو
هنګامه په مزکه، پورته غرهار شو
د قدرت استاذ مے وائي چې بهار شو

وس تخليق شي د بنائست پټه په پټه
رنګ او بوئ سره يو بل نيسي له مټه
ژغ يې لرې د خزان کړلو له څټه
ګياه اووېستل تېغونه له هر خټه
خزان پټ په وچو پانړو کښې فرار شو

د ګلانو چې کلیه په غوړېدو شوې
مرغېړنې خوانده بیا په موسېدو شوې
په دنیا باندې نغمې په وږېدو شوې
د چمن بلبلې بیا په خوړېدو شوې
بوي د ګلو د سبا په اوږه بار شو

د بلبلو شوې په سرو ګلو مښوکې
تور بورا خوري په مزه د ګلو څوکې
رنګ او بوئ بې بدرګې شول کېږي شوکې
چرګ د مینې راز ښکاره کړو په ګوګوکې
چې ښائست به وي مغروره تار په تار شو

د نماښام په بې خودۍ سبا رنګین شو
ورک د ورځې د سرور نه نماز پېښین شو
د هر رند په اس د طبعې ، د کیف زین شو
یو صورت د بې خیالۍ په جبین شو
یو سکون په جولانګاه د عیش سوار شو

ACKU

د سپرلي د ناوې نن لرې پلو دے
خوب په تښته له وحشته ځي په دو دے
غوټه وځي په سحر د ګلو لو دے
اے زاهده چې بهر رانه شې ځو دے
له جنت در ته مانع د دوزخ ډار شو

شوخي لا د شوخو سترګو کړه رنګ زیاته
چنبیلي او رانبېل زیاته لونګ زیاته
د فطرت نغمه خاموشه، کړه چنګ زیاته
کړه د سوز قصّه د شمعې پتنګ زیاته
تور او سپین په تماشه د شینکي یار شو

سپرلے سپړي د ګلونو ډکه بډه
بلبلانو څکه باغ ته راوړه ګړه
بیا جذبه دے نوشه شوه په بوئ ګړه
د ارمان او ده ماشوم ګړه وي ډډه
بیا د مړېو د ژوند پو سره کار شو

جوړ په عطرو دهوا لمده لمن ده
نن مستي چې د مشام په انجمن ده
د اسپوږمۍ د څوارلسم د نور ميچن ده
چې ئې هره پلوشه د ستيې ښ بن ده
شوه اوده هستي، احساس ئې څوکېدار شو

ځان په ګل باندې شو بار زياته مستي شوه
په طلب کښې د مستۍ ورکه هستي شوه
په بالښت د اغزي سر بندي ناراستي شوه
دښمن هم د سپرلي له کيفه يار شو

شپه رنګينه نن پرون سحر رنګين دے
په ګلانو زلفې رنګ بشر رنګين دے
د ګلرخو په ديدن بصر رنګين دے
که په زړه دے د هجران خطر رنګين دے
موږ د هرې ننداري نظر نهار شو

خوشبویې دي چې روانې دي فضا ته
ښکته پېغلې پلوشې شولې دنیا ته
صفا داده چې صفا رسي صفا ته
ځي همزولې د همزولیو مشغولا ته
وس جلوو ته د نکهت قمیص تیار شو

سامعه چې ې د عقل نخښنه[1] نشته
په بهارې ځکه ډېره خوښه نشته
د قدرت سره سیالي اورخه نشته
اورېدے چې شي دروغ څه اعتبار شو

---

[1] نخښنه او برخه او خوښه اورخه زموږ په پښتو کښې خود بوازن صورت لري ځکه په دغو قافیو کښې صوتي صفایرت نشته. لیکن د قندهار په پښتو کښې نخه او خوښه خوشه تلفظ کېږي. لیکن ما د تخیل په مقابله کښې د عروضي غلطیو خیال ډېر کم ساتلے دے او هم دغه زه صحیح گڼم. (حمزه)

کړي دعوت د باصرې سبا ښکلا رنګ
ځا ئے ئې نشته په زمين اخلي فضا رنګ
لاندې باندې يو خوا بل خوا شوه دنيا رنګ
چې ئې رنګ کړو رنګ په رنګ کښې دے دچا رنګ
کائنات دچا د رنګ ځنې رنګدار شو

وائي رنګ چې داسې رنګ پېدا کومه
زه د ګل سره خپل ځان فنا کومه
د خوشبوئي په رنګ به ولې غلا کومه
چې مې اوپالي ترې ځم خطا کومه
د ده په در شو د مالک نه چې غدار شو

وائي بوئي چې زه د ګلو پېغامبر يم
کړمه زېري په بلبلو پسې سر يم
په خنده کښې زه د ګل سکه جوهر يم
هم په ګل يم دننه هم بهر يم
خبر هغه وړي چې خپله خبردار شو

د چشمانو حیرانیه وايې رنګ څهٔ دے
د اُلفت پښېمانیه وايې رنګ څهٔ دے
د زړګي سرګردانیه وايې رنګ څهٔ دے
د اُمید پرېشانیه وايې رنګ څهٔ دے
رنګ چې داغے نو د رنګ په مخ غُبار شو

سترګې سترګې دي غنچې په باغیچه کښې
کهٔ بنا نُست دے د فطرت په دریچه کښې
باغیچې د لطافت شته په غنچه کښې
مستیه ځائے اونیوو د عقل په طاقچه کښې
ګرېبان د ګُل پېښې کړې تار په تار شو

پټ پټانې کړې په سترګو کښې رنګونه
ائینې د نظر واخستهٔ زنګونه
د سپرلي قاصدان غواړي قدنګونه
عناصر دي چې رنګین کوي جنګونه
په دُنیا د لطائفو دندو کار شو

ACKU

۴۱۱

خوشبویی د وحشتونو خبر راوړ

رنګینی د لغزولو هنر راوړ

پهٔ سپرلي کښې لاله داغ پهٔ ځګر راوړ

خپل متاع چې دا چا څهٔ وُبهر راوړ

د حمزه شراب نوشی لره تلوار شو

*

* * *

*

# زما اختر

د سنه ۱۹۴۲ء د عید الفطر د رېډیائي مشاعرې دپاره

د مقصد په لې روان مې د زړهٔ ساز دے
هر یو هنګ مې د نغمې دیار اواز دے

هر یو ناز د خوبِ اشنا راته نیاز دے
هر نیاز مې د اشنا په مخکښې ناز دے

مرغېړن شباب مې بل اړخ بدل کړ
بیا بهار د خوشحالیو په اغاز دے

څلېدلے مې اختر د ارمانونو
اسویلے چې دَم ربابٔ نن دمساز دے

ګل د بوئ په ژبه راز د هستۍ اووې
"په خندا دې ولې نهٔ وې چې پرواز دے"

ژوندون څهٔ دے مسلسله قهقهه ده
د بلبل ژړا په هر موسم کښې ساز دے

یار زمانه ژبه پور د شکایت کړه
د ستم د انجام څومره ښهٔ اغاز دے

اوبه دې شپې ږې شوې د قدرمسې لنډې
پهٔ مرونډ ږې اېښے سرکېسو دران دے

دلته ځائے د حقیقت د جلوو نشته
پهٔ هغه لورې دې درومې چې مجاز دے

پهٔ درشل ږې د خلوت عقل ګذار کړه
بیا راځه کهٔ دې پکار د مینې راز دے

کهٔ بدې وې دلته شپه ،نیکي ده شمع
پهٔ یو وخت پهٔ یو محل سوز او ګداز دے

تل ترتله دې اختر وې کهٔ دا شان وې
ګني بل اختر د عمر سره ساز دے

خود پهٔ دا د خوشحالۍ د ملک سلطان شو
چې اشنا ئې شو محمود حمزه ایاز دے

* * *

# زما اختر

استاذي ته د غم يې بېرته کړے د زړهٔ ور دے
اختر دے خوشحالي ده يار زمانه مرور دے

لوګي د اسوېلو يې د جونګړې سنه د زړهٔ ځي
غېرت د مينې اُورشو ترې وتلے چې دلبر دے

جوهر يې د خيال د ائينې د سترګو سپين کړل
حېران يمه نهٔ ښکاري لطيف ترګهٔ مې نظر دے

دا چا کړو لهٔ نظره چې ورک شوې لهٔ نظره
د چا نه خبر شوے چې داهسې بې خبر دے

پهٔ ښهرکښې د زړهٔ مې ده ېبله دارمانونو
ويښې شوي جوړ پهٔ شپه دي ماشوماً عجب سحر دے

د غم د تورو زلفو څوک د فکر پهٔ سمال زانګي
چا زړهٔ ته نزدې کړے د ښو پهٔ ياد نشتر دے

د چا سترګو د خال پهٔ غم لهٔ کسو لاس وېنځلي
يا تور د عاشقۍ ئې لرې کړے لهٔ بصر دے

يو بل دے چې وعدو دې دا اشنا دوه ژبې کړې
خاموش لکه قلم شي کله کړ پهٔ شورو شر دے

دننه څوک په دې کښې اور د مینې لمبه کړے
دنیا غونډې فانوس کښې د خپل تن اوهم بهر دے

ژنګلې دې جوړیو د هیلتانه په بانې چغ کښې
دنیا د هوش نې چورلې ګرځېدلے باندې سر دے

هوا کښې د وصال یو د اُمېد په زانګو سور دے
ارهټ نې چې د عمر کله کوز دے کله بر دے

څوک ځان ګورې دیار د تصوّر په ائینه کښې
حواس ترې د حیرت په کور کښې ورک دے کورو کر دے

زما د ذرې دنیا بله دنیا ده په دنیا کښې
محشر دے په محشر کښې یو دننه بل بهر دے

لړلې د بهر فضا د توپو په لوګو ده
دننه په دنیا نې اسوېلو کړے حشر دے

بهر د کنډو رنډو هیڅ سوران دیتیمانو
دننه هر ارمان لکه ماشوم په ژړا سر دے

سنبالہ به کړه ما خپله دنیا بهرنۍ
خو څه کړم چې ورېنځ د ذرې دنیا ته نې خطر دے

رهبر نې چې د عقل نې د عشق له بدرګه وُ
تېرو په مخه واخستو خطا ترې روګودر دے

حمزه د جمعیت نه چې څوک بیل شي پرېشان شي
ناکام ګوم د تمام سره او دا زما اختر دے

(۱) یو مشاعره عبدالله لطفي
۱۹، دسمبر سنه ۱۹۴۳ء

# نماز دیګر

---

رڼې د نمر شوې په ورو ورو په پرېوتو کښې شو
زېړ په زنکدن کښې د زوال و په وتو کښې شو
زر شيندې سلګر وهي دنيا ته په کتو کښې شو
لړزند په مشرق کښې ماښامے په راختو کښې شو

راغله په غضب د شپې بلاوه بوټي کاڼي ته
تښتي ښاپېرۍ د پلوشو څې پټ پټانه ښي ته

د نګو د نګو ناويو د غونډوي دړيد کښېنو دي
نائينې د ماښام ورته د سوړ پوڅړيد کښېنو دي
زاڼيو د ارام د پاره ښکته غړيد کښېنو دي
پورته مزدوران شول په اوږو يې شړيد کښېنو دي

ډکه اربړے فضا په خوب يې سترګې ډکې شوې
سترګې د ګلانو د شبنم د پاره څکې شوې

پوره ته په فضا کښې د دنیا تیرې چنګو نه شي
پوره ته ذرې والوځي فضا واړه ګلګو نه شي
یو خوا بل خوا الوځي څادر د رنګو نه شي
ګوره د نماښام د بې پردې لیلی رنګو نه شي
رنګ وي یو خوا بل خوا وړاندې وروستو پوره ته ښکته رنګ
ګویا په دنیا کښې د جنت ورکوي پته رنګ

رنګ شو زعفراني ښکاره د ورځې د رنځور په مخ
یا فطرت د زرو واړه لوښي د مزدور په مخ
څنګه زرزري برقعه خوره شوه د مستور په مخ
ښائي چې څادر وي د جلوو د کوه طور په مخ
والوتې تورکې د نماښام له مخه جالو ته
پرانستې قلبې زمیندارانو لاس کړو پالو ته

راشه په فضا کښې د کارغانو اتڼ اوګوره
لاندې بني آدم چرته یو یو چرته ګڼ اوګوره
حال د الوتونکو په ګلشن او په بڼ اوګوره
پسته په آسمان کښې د انوارو انګڼ اوګوره
دیو د خاموشۍ چې واړه خلق بوځي خوب وته
ستورې په راوښې شي د آسمان په لمن لوبو ته

ګرد اسمان ته وړے رو داد د هر کاروان په لاس
څهٔ د مظلومانو اسویلے لکه طوفان په لاس
ځکلبنې ترې استاذ ے د جرس د بانګ بیان په لاس
تول یې د یزدان په لاس کښې تلهٔ د اسمان په لاس
مزکه د ادم لهٔ ظلم و جوره شکایت کوي
ګرد نهٔ دے تهذیب ے چې پاک رب ته شکایت کوي

راغله د نماښام توره ښلۍ د شفق پان په لب
ګوري د مجنون د حسرت خون د بیابان په لب
وُس بهٔ شي قصّه د قافلې د کهکشان په لب
بیا بهٔ شي چپیا لکه د مُهر د جهان په لب
چرته بهٔ بوکښېږي چې طفلان وینې پرهیان په خوب
یا لکه تنکۍ کلۍ چې اووینې خزان په خوب

دور د خزان د نایۍ دے مرود د ګلسو وړي
صبر په کسوت د وچوبې کښې د بلبلو وړي
زلفې د نماښام د ښلۍ ډول د سنبلو وړي
جوړ نرم باران د دیړو رنګ د کاکلو وړي
سپین لاړل زېړي لاړل سرهٔ لاړل تور بهٔ څې پسې
ورځ اوپلوشې او شفق لاړل شور بهٔ څې پسې

ل خوب وته او لوبو ته کامله قافیه نهٔ ده - صرف د زوَر او زور کې فرق لري - لیکن زما وجدان یې صحیح ګڼي - زما په خیال کښې بله موزونه قافیه رانغله - (حمزه)

یوړلو تېرې برسه پهٔ شاې دبخت ستوري شول

ځکه یو پهٔ دوه دهریوتن نه اوبدهٔ سوري شول

تتې اېنې شوې بې نظر دسترګو توري شول

ېټ پهٔ لوېښه دتورې شپې کښې لوري لوري شول

ونیوو حمزه دیار لهٔ هجره خپل ځګر پهٔ لاس

پیې دفلک راوړو پهٔ دوره کښې نماز دیګرپهٔ لاس

*

* * *

*

ACKU

# شاعر

په مزاج متلون په لوړتیا لکه فلک
همه ژوند يې په ګردش سرګردان لکه پتک
پوئ دستوريو په زبان ، په ساده فطرت ملک
اشنې غوندې ګويا ، خو حيران او بې درک
په وجود د تخيل يې ، چنبه د اسمان
په لمن يې وي د فکر لکه غاړې کهکشان

وي په خوب کښې به اوده يا په ويښه ويني خواب
په احساس لکه جاب په بخشش لکه درياب
بې مقصده شوګيرې ، بې غرضه اضطراب
انتظار د نامعلوم لکه زلفې پيچ و تاب
که وي ذوړ په زلميتوب ، زړبودې کښې وي زلمے
بس خو دے دخپل شباب ، وي يو سترے اسويلے

یو عالَم د عقل دے یو عالم د شهادت
په عالم کښې د خیال، د شاعر وي سکُونت
وي د عقل او د خیال په عالم کښې چې قُربت
وي عالم د شهادت په شاعر لکه قیامت
بس خو سورے غونډې وي په عالم کښې د اسباب
نهٔ لیدل نهٔ اوریدل نهٔ ئې سوال نهٔ ئې جواب

دهرځینز نه اخلي رنګ خو پخپله وي بې رنګ
په صفت وي د اوبو خو جمود ئې لکه سنګ
طبیعت لري د شاه، تواضع ئې د ملنګ
د خپل علم په مشعل، وهي سر لکه پتنګ
وي مئین پخپل خیال، خپله ناز خپله نیا ن
خاندي ژاړي لکه شمع خپله سوز او خپله سا ن

ګویا اوښکه ده د قام چې پړے په بانړهٔ
نهٔ ئې ځائے شته په زمین نهٔ ئې ځائے شته په لمهٔ
کړي ورزده بې نوائي، ګډېدهٔ او لړزېدهٔ
همه ذرهٔ شي په اخر بیا ئې مینځ نهٔ وي په ذرهٔ
په قالب کښې د خپل قام یو نظام وي د ژوندون
شي لمو ته ئې سُرمه، د خرد هغه جُنُون

خندے لکه دګل ، پرېشان سکه نکهت
ذرۀ چاودون ئې دکلي، داۍ راز دۀ شهرت
لري سترګې د بلبل، پسرلي ته د فطرت
پرې عیانې رنګینۍ ، د انسان د طبیعت
تل ئې کاندي په نغمو کۀ خنداوي کۀ ژړا
مسلسله قهقهه ، دے دپاره د دُنیا

جلا داره اٰئینه په بازار کښې د دُنیا
خپله نشته پکښې هیڅ ، خو هرڅۀ وي ترې نما
د خپل ځان دپاره هیڅ ، نۀ ئې سود نۀ ئې سودا
یا وي چپ لۀ حیرانۍ ، یا وینا صفا صفا
دے صفت ئې زود رنجے یو پوهے شي بانډې یار
خولن اوهه پرې لاس، بیا نۀ ګردشته نۀ غبار

د غلام وطن د ذرۀ یو خواخوږ دے اسویلے
په مرض کښې د افلاس د ذرۀ داو لره زبېرګے
د قام ژبه د قام خولۀ د قام درد او د قام سوے
د قام عقل خود قام په نظر کښې لیونے
لکه شمع د خپل قام ، انجمن کړي منور
خو په خپله لکه دود له مجلسه وي بهر

وي ئې ذره ګوشه نشين خو دماغ انقلابي
په باطن کښې مصفا په ظاهر کښې شرابي
د سر سترګې د کامتر، د زړه سترګې عقابي
وي دے ښکار د غريبه د ده ښکار وي نوابي
يا په حال وي د کاظم يا په رنګ وي د رحمٰن
يا حميد وي د ماشو ياد سراې وي خوشحال خان

کا به جوړ له خياله حسن او له حسنه جوړ کا خيال
حسن او خيال کا د اسې ضم، چې جمال کا په کمال
بيا ئې دا کمال جمال، په وجدان کښې جوړ کا حال
واخلي دا څلور عنصر يو پېکر ئې کړي د قال
څوک پرې پوئې شي په يو رنګ، څوک پرې پوئې شي په بل رنګ
که څوک پوئې پرې نشي هم، شي پرې مست لکه پتنګ

د حباب غونډې نازک، خو چې غونډې ئې زوړ
تل په سينه کښې د تنکسو خو بهر ترې لکه شوړ
لکه ابر د سپرلي، دلته ورک او هلته خوړ
هلته اوري ذره کا تش، بيا نماشي دلته نوړ
ګل ورين لکه حمزه چې با غونه کړي اغزي
خو دا دے کمال د فن، هم ګلونه هم اغزي

پېښور
۳، جنوري ۱۹۴۶ء



ACKU

# د کربلا سپوږ

ګرد وُ د هیبت غونډې چې جمع وُ د نمر په مخ
څهٔ یخه خندا وه چې ښکاره وه د سحر په مخ
راغلو زېړ ز ېخلے سحر رنګ د ماښکر په مخ
شنه د غم لوخړه پنډه شوې د منظر په مخ
غونډه پهٔ دې وخت کښې د تیږې د بلا سنډې شوه
نمر په راختو شو پوره ښکته ښکاره ړنډې شوه

راغلې تماشو ته اخته وې تماشې پهٔ غم
یا د زمانې لړم لړلې وې لشې پهٔ غم
تتې لهٔ غباره وې صفا د زړهٔ شیشې پهٔ غم
لړ زنډې ښکاره شوې چې سورې وې پلوشې پهٔ غم
راغلې زېړې زېړې ږېړ ونکې لړزېد ونکې وې
تا به داسې وې چې جوړ د نمر نه غورزید ونکې وې

نمر د نيمايه اسمان نه ښکته څې تـکل کوي
ژړنده د وختونو ده روانه کار د دَل کوي
مزکې تـه پهٔ ښکتـه پهٔ هيبت کاتـهٔ اجل کوي
ډيرې فرښتې د مرګ پهٔ وړاندې تړينه زغل کوي
ورځ لهٔ ډيره غمه مرغيږنه غريو نيـولې ده
يا پرده د امن پهٔ پنجه کښې ديو نيـولې ده

ښکاري څـهٔ خيمې لهٔ تندې شته سوې سينې پکښې
پاکې پاکې جوُنې نارينـه او ارتيـنې پکښې
اُور اخلي بې درلغه د ګرمۍ نه پښمينې پکښې
زياتـه ده د بهتّ نه کربلا شګې نينې پکښې
سيند هم لهٔ ګرمۍ د بيم وتاب راوړلے تاب نهٔ شي
ځان د سيند پهٔ مخ خودلے ستړګه د جاب نـهٔ شي

هورتـه مخامخ د ګرد پهٔ منځ کښې راوڅت شو ګرد
زغل کوي اسمان وتـه د ځانه پهٔ هيبت شـو ګرد
پورته اسوېلے د زړهٔ د مزکے پهٔ حسرت شـو ګرد
حيف چې خپل د خپل نه درومي نخښنه د فرقت شو ګرد
راغے پهٔ جولان وهٔ د ګردونو نه يو سـور اُوت
زړونه چې بې واکه شو د خلقو لهٔ خلې شود اُوت

ګوره ورته مخکښې دبدبه د امامت لري
شا وته صورت دغه زلمي دولديت لري
شان د خلافت او د عفت او د عصمت لري
څکه خو دستار په سر د شاهِ رسالت لري
روح هغه څلور دي خو پنځم ئې دا بدن ګڼه
بس خو سرتر پايه يو پيکر ئې د پنج تن ګڼه

اس ئې مطمئن په لاره ځي په جست وخېز نه دے
پوئے دے د خېل سور په زړه چې نيت ئې د جنګړېزنه دے
امن په دنيا کښې مدعا لري چې تېز نه دے
زوے د پېغمبر اخر زمان دے څه چنګېز نه دے
امن امن صلح صلح غږ د اس قدم قدم
غږ د حق اَو هو اَو هو اَو هو اَو حق چې اخلي دم

سترګو د دشمن په حېرانئ ورته نظر اُوکه
زړونو پرېشانو په درزا ترينه خطر اُوکه
راغے مخامخ مېدان ته غږ زوے د حېدر اُوکه
راغله خاموشي شوه پورته بنکته شور سفر اوکه
ساه د يزيديانو په فضا کښې پسې شوې
شور او په چپيا کښې پتې پتې ګنګوسې شوې

2226

ACKU

دې چې زهٔ مومن يمه باغونه دامان لرم
ډک دے د جنت له ګلو زهٔ هغه دامان لرم
توره مې پهٔ تيکې کښې ده لاس کښې چې قران لرم
اوګورئ چې شان د محمدؐ اخر زمان لرم
زهٔ يمه باران د رحمتونو چې امام يمه
اے بې لارې تږيو د بقا داوبو جام يمه

زهٔ يمه حسينؓ مور مې زهراؓ نيکهٔ سرور زما
پلار ابوتراب وُ دلاور علي حيدر زما
ورور مې حسنؓ پهٔ صلح مجتبیٰ شاهِ شبر زما
سروُ د جيش د مهاجرو ستره جعفر زما
مونږ هغه کسان يو چې دنيا مو مسلمانه کړه
اے عربو ستاسو توره خُونه مو روښانه کړه

اووې ورته دوي مونږه خبريوهر چې ته وائې
ښهٔ وائې کهٔ بد وائې خو اووايه چې څهٔ وائې
ته چې د يزيد پهٔ خوښه نهٔ وائې ښهٔ نهٔ وائې
هر څهٔ کهٔ سم سم وائې خو مونږ وايو کاږهٔ وائې
ياخو د يزيد د بيعت جغ وته ګردن نيسه
يا زمونږه غشو نيزو تورو ته دې تن نيسه

پوهه شو امام چې دوي به نرم په حجت نهٔ شي
توره چې کوم کار کوي هغه په نصیحت نهٔ شي
کار چې شي په زهرو هغه چرې په شربت نهٔ شي
جوړ به په دې وخت کښې بې جنګه څه صورت نهٔ شي
لاخو وُ په فکر کښې امام په لر او بر د جنګ
راوړو د لښکر نه ددشمن غشو خبر د جنګ

وې امام په جوش کښې چې زهٔ غشے زهٔ رماح یمه
زهٔ د ذوالجلال والاکرام یوه سلاح یمه
ځوان یم دجنت دجنتې ګلونو راح یمه
یم ېې له ګذاره شې زهٔ سور د ذوالجناح یمه
زهٔ نبي نیکهٔ په اوږه باندې ګرزولے یم
زهٔ یم چې حورانو په سندرو کښې ستائیلے یم

څوک به وي په تاسو کښې چې اوزغمي ګزار زما
تندر د اسمان دے که په لاس کښې ذوالفقار زما
راڅې شي په مخکښې چې د سر وي طلبګار زما
سر قلمولو ته دے ستاسو انتظار زما
زهٔ د بوتراب شاهِ مردان علیؓ ولد یمه
زهٔ له ماشومتوبه لا د جنګ سره بلد یمه

داسې پرې وركړ شو تا به وې ولاړ بهرنه وُ
اَس يې كړل صفونه تاريه تار جوړې لښكرنه وُ
تورې د نګولې خلقو ياد ورته سپر نه وُ
چا به چې د سر فكر كولو بيا به سر نه وُ
ستركو د عمر شمر چې برق د ذوالفقار اُوليد
ګويا چې حسينؑ يې په جامه كښې د كرّار اُوليد

خول به يې اوازه شو دوه نيم ورسره سر دوه نيم
زغرو به فرياد اوكه تهتر دوه نيم ځيګر دوه نيم
دلته به پياده وو هلته سور به وو اكثر دوه نيم
هر شے به د تيغ د لاندې پرېوت كوڼ او بر دوه نيم
چغه د وهئ وهئ به راغله په مرى كښې وه
توره د امام به يې رسا په كيرى كښې وه

چرته د وريځ غوندې د استورے به شو كېر پكښې
لا به ذوالجناح لكه برېښنا شو مخكښې تېر پكښې
ډېر به لاندې باندې شول په تښته به شو ډېر پكښې
وينې وې رُودونه ذوالفقار به نه شو سېر پكښې
كوڼ به چې دشمن شو له هيبته بيا به تيغ نه وُ
پرق به ترې د ستركو نظر يوړو بيا به تيغ نه وُ

پرق نهٔ یې د تورې پهٔ روڼو کډې ماتې وې
ساه د بزدلانو وې پهٔ تښتېدو تنې پاتې وې
تاخت وُ د اجل د ژوندانهٔ خونې میراتې وې
غښې تېښتې سرونه د امام یې ننه واتې وې
ماته د اَدمو شوه قلا تربېنه امام اُوت
باز د ملکوت وُ د دنیا لهٔ تارو دام اُوت

ماتې یې لیندې د ارادو وې زیږ زبېخلې وو
ژې نه یې د زړهٔ د حوصلو غښې وتلې وو
څوک پهٔ تښتېدو سر څوک لهٔ میدانه تښتېدلې وو
جوړې وې دلې تړې چې سرونه رغړېدلې وو
څوک دے چې دا وایٔ چې یو کس پهٔ زرو برنهٔ وي
څوک پهٔ دا سې وایٔ چې د سر د پاسه سر نهٔ وي

اورسېدو غاړې ته د سیند د اس نه ښکته شو
سیند وته ورشېر امام د تندې لهٔ جهته شو
غبن او کړو عمرحسین اشنا کهٔ له طاقته شو
پوهه شۀ چې شرم بیا نمونږ د پوزې نته شو
اولۀ یې پهٔ غشو چې لهٔ سینده بهره یاب نهٔ شي
جوړ کړۀ پرې باران چې دا سیند درنه سېراب نهٔ شي

ACKU

کښېناستو پهٔ غاړه لهٔ اوبوئې لپه ډکه کړه
یاد ئې ماشومان شو اراده ئې جل ته کلکه کړه
توږئې ئې اوبهٔ کړې بې لهٔ دوئي ئې کله څکه کړه
یو ظالم پهٔ خوله کښې ئې توبره دغشی لکه کړه
وینه ئې راماته شوه چې غشے کړو بهر امام
سور داَس دپاسه ددشمن راغے پهٔ سر امام

بیا ئې حمله اوکړله ورګډ شو پهٔ شامیانو کښې
تورې ئې دلورهسې لوَ وُکړو پهٔ کوفیانو کښې
تاب دامزري دجنګ وي چرته پهٔ ګیدړانو کښې
جوړ شو هیبنا تار پهٔ هر طرف پهٔ یزیدیانو کښې
ناساپه نظر چې دحسېن شو داسمان پهٔ لور
لاړ پهٔ تماشه کښې تماشه شو دجانان پهٔ لور

راغله داېندا چې اوس دفرض دې استکمال اُوشو
ستانه نمائش هم دجمال هم دجلال اُوشو
راشه لهٔ اسلامه اوس دکفر انفصال اُوشو
حق شو راڅرګند چې ستا پهٔ وینو استدلال اُوشو
راشه رنګینی دې دجنت پهٔ اِنتظار کښې دي
جوړ دے ارائش درته حورانې پهٔ سنګار کښې دي



ACKU

لاړمدافعت دتن چې روح پهٔ تماشه کښې شو
یا قدسي مارغه لاړو وطن ته پهٔ ثنا کښې شو
پړق دتورې ورک شو سرئې زوړند پهٔ فضا کښې شو
اس ئې سُم وهي پهٔ مزکه مزکه پهٔ سودا کښې شو
تاوُشو دشمنان ترینه دغشو ئې باران اُوکـــهٔ
وینو دامام پهٔ کربلا کښې گلستان اُوکــهٔ

سور دکربلا داس نه پرېوت دنیــا پرېوتـه
هورته پهٔ خېمو کښې ئې فریاد او ژړا پرېوتـه
ځکه پهٔ اُمت کښې ئې ترحشره غوغا پرېوتـه
راغله دحمزه دزړهٔ پهٔ غوږ کښې ندا پرېوتـه
خدائے چې محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت دپاره غوره کړ
آل ئې دعلي رض دهدایت دپاره غــوره کــړ

*
***
*

# ابر او مزدور

چې سحر د اُفق غاړې خندنې کړې
پهٔ ژړا ژړا راویښ او دهٔ مزدور شو

لا یې سرې لهٔ نیم خوبه وې مراوې سترګې
چې شفق لهٔ هرڅهٔ وړاندې پرې راسور شو

کړې د اوښکو دکې سترګې یې اسمان ته
یو مُسکې پکښې د ماتو زړونو نور شو

د افلاس پهٔ تېغ د هرې ورځې زخم
د مرهم لهٔ وسه اووتو ناسور شو

چې ناګاه د یو زړبازه غونډې ابر
پهٔ پسته خوله د مزدور سره مذکور شو

وې چې اے چې د غم بار دې پهٔ سر واخست
راپیدا چې پهٔ مستۍ کښې ترې سرور شو

اے چې لارې د ژوندون ښایې انسان ته
چې تهذیب د هر یو دور دې مشکور شو

هم پهٔ تا د تمدن ښفنو سنه چلي
تهٔ طبیب شوې چې وکړې دې رنځور شو



ACKU

د فطرت نه ټول انسان ارام طلب دے
خوښتا ذات دے چې دي ځنې نفور شو
ته فاتح د طبيعت او د فطرت يې
دا سبب دے چې ناکام په تا ضرور شو

(۲)

دا دنيا خو په اضدادو ده ودانه
چې تياره نه وي وجود د رڼا نشته
زه چې يک شمه اسفل وته مائل شم
چې فنا نه شم د نورو بقا نشته
ته چې ژوند تقسيم کوې ژوندون دے چرته
د ډيوې د لاندې ګوره رڼا نشته
يې له تا نه سرمايه شته دے نه علم
په ائين د سرې توب کښې ځلا نشته
دا منم سرمايه دار به د تا ضد وي
ولاکن بغير له دې ارتقا نشته
زه چې کوم وخت او ودرېږمه فنا شم
خو دا مه وايه چې بيا مې بقا نشته
څو ستم چې شي احساس دي راپيدا ر شي
د قدرت په هيڅ يو کار کښې خطا نشته

د ضارب او د مضروب چې وجُود نهٔ دي
پهٔ جرس د ژوندانهٔ کښې صدا نشته

بیا بهٔ دا سرمایه دار لکه مزدور شي
د هیچا سره د ورځو وفا نشته

د خالق نه ګیله پرېږده مرتقي شه
دا سلګۍ دې کهٔ نن شته نو سبا نشته

بغاوت د جهالت نه خلاف اوکړه
بې ددې نه بله لویه بلا نشته

کړه اسباب دې راپیدا لهٔ ځیله ځانه
بولاګي وته لبن فکر. د تا نشته؟

جال لهٔ ځیله ځانه جوړ کړي پکښې نښلي
پهٔ ځیل کور کښې ښکار لهٔ دې نه سوا نشته

فنا نهٔ لري موجود بهٔ پهٔ یو رنګ يئ
لکه زهٔ چې شم فنا خو فنا نشته

*
* * *
*

# دعلّامه اقبال په تصویر

تخیّل مې د خودۍ کلونه سپړده
رنګینو ېې زیاتوه د مخ جمال

زما فکر په ورشو د حکمتونو
را پیدا کړې ښکلې سترګې د غزال

د فطرت تلوده ساړه په اتحاد شول
شوه د ذهن کارخانه په اعتدال

د ضمیر په ساز کښې نوے هنګ پیدا شو
شوې سندرې د فطرت په اتصال

سخن وره شوه زما د فکر ژبه
ښکلولو ته ېې راغے استد لال

پټ جهان په هر ظاهر کښې راعیان شو
معنوي جهان شو ماته یو تمثال

کم فهمي مې د خودۍ پېښو لاهو کړه
حال د سیند او حباب اوې انفصال

انفصال او اتصال باقاعده شول
هر اجمال شولو تفصیل، تفصیل اجمال

د فطرت جمال می پورته یو حجاب کړ
ښه می اولیده جلوه د خپل جلال

زما سترګو د سرحد د نظر یې نه
لیدل اوکړل تر اوسه تر دنبال

زه حیران وم چې دا زه د څه نه څه شوم
د ناقص په یو لحظه کښې دا کمال؟

د خاکي قدم په عرش دسترګو دپ کښې
کسندونه غورځول په ذوالجلال

په اسمان د معاني کښې پرواز هسې
هسې زغاښت یې په عالم کښې د مثال

معجزه که وي نو بې له دې به څه وي
کرامت که وي نو بې له دې محال

په دې فکر کښې وم ناست په یو هوټل کښې
ما کاوه له خپله ځانه هسې سوال

انتقال د معانیو وه زما لور ته
که کاته می مخامخ له یو دېوال

هله پوهه شوم چې فکر می راغونډ کړ
یو تصویر و په دېوال کښې د اقبال

لواړګے

جون ۱۹۴۸ء

# د شاعر د زړهٔ اواز

دا نظم ما د خوشحال خان بابا پهٔ قبر په ۳۱ د سمبر سنه ۱۹۲۰ء
کښې اورولے وو . (حمزه)

ما کښې جهانونه دي درون داسې دنیا یمه
وي هره ذره مې لکه نمر هغه فضا یمه
یو ګړی قرار را لره نشته پهٔ غوغا یمه
عمر مې پهٔ دار وي اپوته یم پهٔ ژړا یمه
زهٔ یو داسې بنار یم پکښې ډېرچې بازارونه وي
ډک يې د خفګان او خوشحالۍ نه دوکانونه وي

زهٔ د ننه ځان کښې د سیندونو غونډې شور لرم
بل د ارمانونو ځپله شاو خوا کښې اور لرم
ما لره چې راشي ورته رنګ ورکړمه زور لرم
څو مره چې راتلونکي رانه لاړشي هومره نور لرم
کوم یو بند چې راشي نو زما ځنې جامه غواړي
ګویا زور مضمون راشي خو نوې سرنامه غواړي



ACKU

تنګ شي په اول کښې دراتلو چې ارمانونه کړي
زه هغه فانوس يم چې برېښنا پکښې برقونه کړي
هله يم ودان چې اوسېدونکي يې جنګونه کړي
اوچې نغمې، لوبې چې مضراب سره تاړونه کړي

ستاسو په دنيا کښې ښه او بد زما له شوره دي
ضد نه ضد او باسم بارانونه مې له اوره دي

ژارم په بلبلو کښې په ګل کښې خاموشي يمه
رنګ د شفق زه يم د شرابو مدهوشي يمه
تېر چې مجاهد کړم له خپل سرهغه جوشي يمه
زه د حسن او عشق د دواړو منځ کښې سرګوشي يمه

اورې به مې تل په نغمه کښې په زخمه کښې يم
چرته يمه خدائے زده په زخمه نه په نغمه کښې يم

زړه د سياست شي په درنا چې زه پېدا شمه
او تښتي نفاق ترې چې زه کوم محفل ته راشمه
هلته شي سحر د ازادۍ چې په خندا شمه
شپه د غلامۍ کړمه په بده چې رڼا شمه

فخر د دعا په ژبه تل کوي مذهب په ما
زه يم چې رنګين دي دفترونه د ادب په ما

یم جفاکشي د دهقانانو په ستـرو کښې
بانګ یم د همت د قافلې په مسافرو کښې
ډېر حکمتونه په ساده ساده خبرو کښې
نور لکه څوړلن ډېر لاندې پټ وي په بحرو کښې
شپه د غریبۍ چې وي پرې تل هغه جهان یمه
یم لکه قمر چې تیرې ته پرې روښان یمه

چرته سرښندمه په اور بل د جانانه زه یم
چرته د صوفیانو په مجلس کښې ترانه زه یم
خاندمه په روڼو پوړو هغه دیوانه زه یم
هرچا ته مفید یم هغه قول رِندانه زه یم
زه یم آئینه د سادګۍ د درد جـلا لـرم
نه ګورمه ځان ته ځکه عکس د هرچا لـرم

چرته زه حمید[1] یم چې استوګنه مې په اور لرم
ساه یم د سیندونو د چپو په شان زور لـرم
روح د فردوسي په بل جهان کښې که په شـور لرم
لونم مرغلرې هم سکروټې د پېغـور لـرم
چرته د پښتو ژبې شفیق لکه تورسم[2] یمه
چرته د پښتو ادب خلیق[3] لکه قـلزم یمه

---

[1] حمید ماشوخېل [2] د دوه سرو تورسم خان مرحوم [3] حکیم عبدالخالق خلیق د ماڼکي شریف

چرته بادشاهي داورنګ زما غرکه ده
کله راسره غاړه غړې ده کله ورکه ده
کله معشوقه ېې ده هندکۍ کله خټکه ده
کله راسره غاړه غړې ده کله ورکه ده
کله په دوستۍ ئې نفرین کړم په زړهٔ کلک یمه
چرته زړور دافریدیو په کومک یمه

زهٔ یم د مغل داس دسُم چې غبار نهٔ زغمم
تمام راته غورېز دے د زامنو ګزار نهٔ زغمم
بد زغمم عکسونه دستم ، انتشار نهٔ زغمم
څنګه ائینه یم د وېښتهٔ هومره بار نهٔ زغمم
غږ کړې پرېې بلبلې د دوام په بیاض باغ لرم
داغ دقامي درد په بوئې ګڼې ګُل د زړهٔ چراغ لرم

---

ئے دخوشحال خان بابا دې شعر ته اشاره ده .
چې ئې یخې شړوبې څبنم په وخت داورې
بادشاهي داورنګزېب زما غرکه

هرچرته موجُود یم وڼي بیا له مڼځه ورک یمه
چرته ګوهر چرته لهٔ مشکمو سپوا سپک یمه
هم ګوشه نشین هم سرګردان لکه پتک یمه
یو ځائے کښې حمزه یم په بل ځائے خوشحال ختک یمه

اوړي مې په غوږ خوږه باطن کښې زهٔ یو ړان یمه
اوړي پېژنم؟ زهٔ دشاعر د زړهٔ اوان یمه

*

* * *

*

# جرس

---

تهٔ که ذرهٔ یې ستا پهٔ ذرهٔ کښې هم یو ذرهٔ شته
ذرهٔ خو چپ وي خو د ذرهٔ پهٔ ذرهٔ کښې شور وي

ستا فریاد چرې آواز پهٔ صحرا نهٔ شو
نهٔ دی ستا پهٔ خواوُشا کښې چې ګرد خور وي

د جمُود ذرهٔ په درزا وي ستا لهٔ شوره
خاموشي دې و منزل وته پېغور وي

قافله د مغه قام د سُرور لوټ دی
بې مرکبه چې د تاغوندې نسکور دي

قال ترې اوچّې خو هله چې ضرب اوخوري
قال یې څهٔ چې قال یې نهٔ وي حال یې نور وي

زهٔ بهٔ څهٔ پهٔ تا غلط شم چې پهٔ دار یې
څوک چې مشر د کاروان وي مغه سپور وي

ستا کوکار جمُود اشناوُ ته غفلت دے
خوبنوُونکو د منزل ته پهٔ کښې اور وي

پهٔ فریاد دې مخکښې تګ دا هسې وایُ
هر یو پل دې پاتې شوو لره ګور وي

لوارګے
۱۹۶۵ء

# نفس

ژوندۍ پاڼې په تریاقو د مذهب شي
یو د رُوح دپاره روګ دے روګ بهٔ وي

پهٔ کښې پاڼې چې شربت د ښکلې نهٔ شي
دا بې خونده ګنې پوګ دے پوګ بهٔ وي

د فینې پکښې پرتې دي خبر نهٔ دے
بې خبر ته ځکه خوب دے، خوب بـهٔ وي

د مرګ سُوړه ده چې ول ځـنې اوباسي
ګني یار د نفس نو کوب دے کوب بـهٔ وي

*
* * *
*

# د شهید نه تپوس

د کلی له زړه چاوډونه د ګلشن د موسېدونه
د نامرادو غونډی ستر ګو ، د هر زړه د درزېدونه
د نمر شوخو پلوشو نه ، د شبنم د رپېدو نه
د هغهٔ د اشتیاق او د هر رم نه تپوس اوکړه

د نکهت د بې کوری نه بې مقصده پرېشانی نه
د حِنا له پټه رازه ، د شفق د روانی نه
د غرېب ځنو ارمانونو ، د بې سر او سامانی نه
د ونختونو د هر ګام او هر قدم نه تپوس اوکړه

د قامونو ملتونو ، د تعمیر د رنګینی نه
د تخریب له شکستونو ، د اصول د سنګینی نه
د قضا د بندو ستر ګو د لذت او شیرینی نه
د تسلیم د خاوندانو ، د سرخم نه تپوس اوکړه

چې ئې کړي د سيند د پاره د حباب له دې اشاره
د ساحل د تمکنت نه، د موجونو له د فتاره
په ګرداب کښې د بند شوو، د فنا له انتظاره
چې وي نمرته سترګې سترګې د شبنم نه تپوس اوکړه

له دې پورته کوهساره چې خاموش دے له دهشته
له دې ښکته لوئې ميدانه چې پسرهٔ دے له هيبته
له دې ګرده په فضا کښې چې لاړ غلي له وحشته
د ازادو قبائلو، د چم چم نه تپوس اوکړه

د پښتون له پريشانيو، د فرنګ له ستمونو
هتکړو د غلامئ نه، د فرنګ له سنګينونو
له توپونو ټوپکونو، د سپرو له يرغلونو
اے پښتونه راشه راشه د اسلم نه تپوس اوکړه

پرېښوړ

۲۵ ر دسمبر ۱۹۵۰ء

★

★ ★ ★

★

# خواهش

سمون ته هوا نهٔ پرېږدي دتلي اسوېلي هم
لوګي دي د اورنخښنه هغه هم کاږهٔ وارهٔ دي

غوښتل د محتاجۍ نه محتاجي دناقصۍ نه
کامله اراده د ضرور يا تو کمېدهٔ دي

حصول کېږي ئې خودي شته خوزهٔ تورکړي لږيقينه
هرڅوکهٔ لوګي اوزېږي لهٔ اوره خو سارهٔ دي

طوفان ئې سا ته بندېږي نهٔ شي اوښکې راخبرې
غريب نخښنه دشکست ده دکوهړو تو ښدهٔ دي

لهٔ تا چې نهٔ بيلېږي فطري رنګ دے عاشقي ده
اے ګله بوئې بهٔ څهٔ کړې چې آخر ئې رمېدهٔ دي

لمبه ښکاري لوګے دے دزړهٔ کهه کاندي تور ده
اورنهٔ دے دبهتې ترينه تاثير چې پيښدهٔ دي

ماشوم دے دعمل چې تېښتو ونکے دجمود دے
قرار ده صد هزار په تلون کېږي ئې اوو هٔ دي

پهٔ وخت د زوړېدو دېره کېږي ئې لا زور دزلمي توب وي
زلمي هزار هزار ددهٔ دلاسه نه زاړهٔ دي



ACKU

یو زوم د تلون دے چې جنجیا یې دي غموسه
څو څو د ناکامۍ جونه په دۀ باندې وادۀ دي

دښمن د تدبر دے که ساده غونډې پښتون دے
ظاهر باطن یې یو چې څۀ په خوله هغه په زړۀ دي

خوا ږۀ خوا ږۀ یې کوره چې لړلي په تراخو دي
تراخۀ تراخۀ یې هم کله د شهد و نه خواږۀ دي

قالب کښې د مذهب یې کړه تفسیر د نهي النفس دے
د مار د پاره چرته بې له سوړې سمېدۀ دي

*
* * *
*

# خالق او مخلوق

لا څو ده په اراده کښې چې بللي په هستۀ شي
دا محسوس چې هرڅۀ ښکاري دا فقط د صانع خيال دے

سلسله د صورتونو ئې په علم کښې دوانه
په را تګ ئې پيدا وشت شي او تر ې تګ د فنا حال دے

په هغه کښې دي چې څۀ دي لۀ هغه دي دا چې څۀ دي
يو د بل پېشانۍ نۀ دے ، ابتدا شته نۀ دنبال دے

چې ئې زۀ وخيال ته راغلم ، ما احساس د خپل ځان وکه
دا چې زۀ لاعين ې وايم ، دا اثر ئې د جمال دے

لا څو چون کېږي نکيا دے دا اصلي هستۀ د پاره
لا کاروونه بنيادي دي ، لا هغه محل محال دے

دا وراني او وداني څو د هستۀ نښانه نۀ ده
وار په وار سره ښکاره شي يو جمال او بل جلال دے

د مخلوق د وجود نقص ، د خالق د وجود نۀ دے
د هرڅيز ورځنه ضد شته دا دليل ئې د کمال دے

نۀ ماده شته نۀ ترکيب شته بلندي شته نۀ پستي شته
چې احساس دے د جنوب شو ځکه وائې چې شمال دے

ځومره علم چې د ځان وي، معرفت د اشیا هومره
لهٔ محسوس جهانه وړاندې یو قدم درله محال دے

د خالق خیال ته رسید شي، له محسوسه چې خیال تېر شي
علم بند شي خیال دې پرېږده کني هلته دې زوال دے

هلته تهٔ اورسې "تهٔ" تهٔ هم هغه یې څهٔ چې "تهٔ" یې
چې د "تهٔ" نه چې په وړاندې "تهٔ" به نهٔ یې دا محال دے

*
* * *
*

# ننګیالے خوشحال خټک

دا نظم ما د خوشحال بابا د مزار د افتتاح په موقع د هغوئ په مزار وئیلے وو.
چې د سرحد وزیران هم ورته راغلي وو ـ د قبر د اتعوید د کابل نه پښتو ټولنې
رالیږلے دو ـ مونږ ته په ستمبر ۱۹۳۸ئه کښې د اتعوید په کابل کښې ښودلے
شوے وُ ـ (حمزه)

پهٔ ننګ د پښتانهٔ له سره تېر خوشحال خټک
پهٔ پنجه د اجل کښې وو شمشیر خوشحال خټک

پرېشان وو دې د پاره چې پېدا شي جمعيّت
یو داغ ئې پهٔ زړهٔ یوړو د پښتون مرکزیت

نعرو د اتفاق بهٔ ئې کهٔ غرونه لـــړ زوُل
لاکن نهٔ کړو پېدا ئې پهٔ پښتون کښې قومیت

خپل نن ئې کهٔ هرڅو وو پهٔ تېرو کښې د تخریب
کړمونږ لره تعمیر ئې د وړ سبا د ملیّت

خپل عیش له قامه ځار کړلو دلېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

دریاب که حوصله يې وه همت يې و وسنګین
یرغل يې د مزري و په غور رزنګ کښې و شاهین
په علم او په هنر کښې يې لاره جامعیت
ادب کښې يې تخلیق لکه فطرت کاوه رنګین
فرهاد وو بې ستون د اقتدار ته د مغل
ګفتار يې په پښتون ځکه هر یو سکې شیرین
د پښتنو ته د پښتون لکه ګنهېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

تهذیب يې ځلېده په هر عمل کښې د افغان
مړدیه اولوړ همت ته يې مېدان و، کل جهان
له رزمه فردوسي که و له بزمه و حافظ
کالبوت کښې يې قدرت پوکلے روح د فرید خان
نسلونه د پښتون به يې په توره کاندي ناز
زاره چې پرې شنه کړې وه ښکر د شاهجهان
ورمات يې تاره ګړه کړ په اجمېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

یوذره و چې د قام په محبت کښې بلېده
تیر د باندې د قام لکه د شمعې ژړېده

هر څوک ئې نظر ونه دوه د وخت لکه د برق
بانه ئې د ننګيالي ورځني هم نه رپېدئ
تنکسې ئې رامروړلي حوادث به ئې نغړول
محفوظ به ؤ د توري په برهر به موسېدئ
برېښناؤ چې يوځل نه شو راګېر خوشحال ختک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال ختک

له داسې ننګيالي له کبنلي ننګه مې سر زان
دا نوم چې په خوله اخلم په خاطر ئې مشه بان
د ذرې د ائينې ئې لطافت دے رامعلوم
شايد چې دغه نوم هم د مغل شي پرې غبار
ژوندی د دغه جذبه وه پښتنه دغه جذبه
کړې ژوندئې غزونې په تعمير کښې د مزار
څوک وائي چې په خاورو کښې دے زېر خوشحال ختک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال ختک

دا وې به ئې نمکړے خو پښتون وو د پښتو
ژوندون که په دنيا دو خو ژوندون وو د پښتو
صحرا په بيابان په کهستان چې وو تل سر
پښتو لکه ليلی ئې ده، مجنون ؤ د پښتو
د برسنه ئې پېژندلے وو رفتار د وخت د نبض
لقمان که د خود د ؤ افلاطون ؤ د پښتو

بې نیاز له حادثو د وخت په خېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتنانه له سره تېر خوشحال خټک

پښتون په اتحاد کښې خولاشته خبرې شته
لاکن په دې ادب کښې دالوت وزرې شته
نه ښکارې که هر څو په کښې لمبې د قومیت
دیوان د خوشحال خان کښې خولا اور د سرې شته
اخر به ددې ساز همه تارونه واخلي سُر
بې صبره په کښې ډېرې لېونې سندرې شته
ملت به د پښتون نه کاندې هېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتنانه له سره تېر خوشحال خټک

معلوم به وې هر چا وته قانون دے د قدرت
هرګز نه جدا کېږي د دنیا څخه جدت
لاکن وو پښتنو لره بابا اور اور کے!
راځه دنیا ترې واخله په کښې نشته حرارت
هر څو که دے په حق کښې د پښتنو د پهلیهلک
پښتون د پاره دے ؤ په ګلانو کښې نکهت
دا څکه خو له ذره دے راچاپېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتنانه له سره تېر خوشحال خټک

پښتون کښې دې خدائے نه کړي څرشي قحط د رجال
هر څو که دغه قام دے د قامونو په دنبال

ACKU

لا شته په پس منظر کښې ئې غښتلي روايات
سيالمه کښې د سيالانو خولا سيال ډېر چې وُ سيال

نمانځلے چې اقبـــال وُ حکومت د پښتنو
بيا څرنګه کېدے شول چې ترې هېر به وُ خوشحال

حمزه که نن له مونږه شولو هېر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تېر خوشحال خټک

*
* * *
*

# ژوند او مرګ

ژوند لهٔ مرګه پیدا کېږي مرګ له ژونده
د کلي چې زړګے او چوي بوټي ئې خور شي

د سپرلي لهٔ زوره بوټي چې پهٔ پورته
مېوه دار چې شي نو مزګے ته نسکور شي

مرګے څهٔ دے؟ نو ژوند لړي شي د حِس نه
لکه جوړ چې شي لهٔ سینده فنا شور شي

اور چې پرېږدي خپل محل وائي چې مړ شو
بیا چې لاړ شي بل محل ته ژوندے اور شي

د غنم زړهٔ لهٔ پیدا او فنا چا اوُد دے
چې هر څو مره فنا موي هو مره نور شي

ژوند د جنس سره شمول بویه، مرګ نهٔ دے
قالب هلته سکُون مُومي چې پهٔ ګور شي

تیارهٔ څهٔ ده؟ پهٔ رڼا د ماتم نخښه
چې تړي ځي ورسې ځ د دُنیا تور شي

د احساس لمهٔ بېشا، د ژوند رڼا کړي
نو د تکل ځني د تلو ورباندې سپور شي



ACKU

یو حالت دے په موقع موقع بدلیږي

تاؤ د اُور دے چرته سوے چرته تهکورشي

هغوئ څه زده د فنا بقا له وهمه

وهغو وته چې پرے هم منکورشي

حمزه مرهغه ته هم وائي داخلق

مسافر چې شي په ژوند جدا له کورشي

پېښور

نومبر ۱۹۴۱ء

*

* * *

*

# دَ فدا مطهر په مرګ

کهٔ شاعر وي کهٔ ادیب چې لهٔ جهان ځي
لکه ژوند د افسانې نه چې عنوان ځي

غم وي دا چې دانشور لهٔ دنیا پاڅي
کنې هسې نو روان دے هر انسان ځي

دا جهان یو هسې کور د آئینې دے
چې حېران ورله راغلي وي حېران ځي

د قدرت دي عجیبه غوندې کاروونه
چې ذارهٔ پهٔ دنیا پاتې شي څوانان ځي

د کاروان سالاره پام چې ازان نهٔ شي
مطهر فدا هم ستا سره روان ځي

که زړګونه ارمانونه ئې پوره شي
نو چې بیا ئې له جهانه په ارمان ځي

چې د ګل د جمعیت نه جُدا کېږي
د بوئي برخه نو هم داده چې پرېشان ځي

په خندا کښې هم شاعر څیرې ګرېوان وي
او هم بیا لکه د ګل څیرې ګرېوان ځي

مطهره خوشحال خان ته هسې وایه
چې دې نن په سلو لارو یو افغان ځي

و رحمٰن بابا ته وایه پښتون ورک دے
په چقړو د الحاد کښې سرګردان ځي

هیڅ جذبه د شهادت دې پاتې نۀ ده
که حمزه دے هم له مرګه هراسان ځي

*

* * *

# لوئے جنګ

چې د نخوري زمانې پرهېز اونهٔ کړو لهٔ الحاده
هدایت ئې د مذهب د حکیم او وپښتو لهٔ یاده
د موجد پهٔ ځائے ئې جوړه یارانه کړه لهٔ ایجاده
چې سُراب ته ز غلېدله پرېوته لهٔ لاده بباده

ز نکدن د انقلاب تر ېنه همت د هستۍ ستُون کړ
سوړ او سست ئې یو پهٔ دوه ورلړه نبض د ژوندون کړ

د دُنیا د محفل شمع جوړ دیوه د سبائۍ شوه
کله ردّ د عمل کېږي په سڼکو چې جدائۍ شوه
وران شو ساز د خوشحالیو کورپهٔ کوډ بې نوائۍ شوه
ترقي د نوي دور جوړ تېپه د سودائۍ شوه

پتنګان د حکمتُونو شول بې کوره پهٔ تیارهٔ کښې
د شرابو پېمانه شوه رانسکوره پهٔ تیارهٔ کښې

د جرمن اټلي لېوانو په تهذيب اوکړې لښکرې
د جاپان غوايه ارم کړې تمدن ته خپلې ښکرې
د حريت په جولان راغے د ايجاد اغوستې ذغرې
د مذهب د عمارت نه يې چاپېر کړو اور د سرې
په لمده اُوچه اورونه په هوا کښې شو اورونه
ښکته پورته وړاندې وروستو په دنيا کښې شو اُورونه

شوه ورمخ برطانيه چې يو دېوال د حوصلې دے
يو نغښې له جمعيته د دشمن د فيصلې دے
د همت قوي کړه د ده د مذهب د سلسلې دے
محافظ د سرنه تېريو د جمهور د قافلې دے
لا دشمن يې نه دے ذبر برطانيه که مېړنے دے
کېږېدل يې په ډېر زور دي دغه فيل چې ليونے دے

اے پښتونه چرې ستا که د مذهب سره وي مينه
پاسه بنده محوريان به کړې دا پاکه لاره سپينه
د مذهب او قوميت د پاره توې کړه خپله وينه
مدد کړو نے دانګرېز شه که دُعا اخلې له چينه
د الحاد او د حريت په تيارهٔ شاق برطانيه دے
په دُنيا کښې د مذهب د ډيوې طاق برطانيه دے

ACKU

پهٔ فنا د حکومت کښې پهٔ دا پوښه شه ستا فنا ده
روح چې لاړشي راته وايه بيا د تن کوم بقا ده
کهٔ وي ستړکوله راېخهٔ شې ستا پهٔ برخه کښې دنيا ده
ځان دې قوم لره مېډه کړه غازي داتويه غـزا ده
قوي چوُل د حوصلې کړه کړه سپر سينه نېزې تـه
دشمنان دې پهٔ يرغل کښې رانږدې شو دروازې تـه

جانثار د حکومت شه چې ديو نه دوه شي پاسـه
تېق وتلې چرې نهٔ دے پهٔ کوشش لهٔ يوه لاسـه
جدا ځان ته کهٔ لمبه شي خلاصٌ بهٔ نهٔ يې لهٔ هراسـه
چې سپرغۍ لهٔ اوره اوځي هغه مرهٔ شي پرې دپاسـه
د پښتون زويه پښتون دے اسوېلو ته کله جوړ دے
لوګے نهٔ وے چې لهٔ اوره پيدا کيږي ولې سـوړ دے

تهٔ د جنګ سره بلد يې چې سپاهي ې لهٔ فطرتـه
ستا جوهر د توري جوړ دے لهٔ ظفره لهٔ نصرتـه
ننګيالے او غېرتي يې پيدا شوے لهٔ قـدرتـه
ستا وطن بهٔ لتاړيږي تهٔ به ننګ شې لهٔ غيرته؟
ودشمن ته دانګريز پهٔ ګرت کښې غشے د اجل شـه
قوي زړه د حوصلې کړه ښناڼے ته دې پهٔ نغل شـه

چې سېلاب دِانقلاب دې نړوي ښکلي کورونه
بیا چې اخلي دې جونګړې دېمونو نه اُورونه
چې د ښځووي فریاد د ماشومانو دي شورونه
مخوریان کړي بدې چارې اوستا نهٔ رسي زورونه

پاسه چاره د جنګونو د انګرېز سره کړه سمه
کړه مدد ئې لهٔ دِرمه هم لهٔ دم قدم قلمه

*
* * *
*

# زغم

سرزوري چي ذاوبو کړي په زړه تېره
ځکه اُوچه کلکه زمکه گُلستان شي

چي د زړه کلي په تاؤ د شباب اوچوي
زغم د بوي غونډې پرېشان ځني روان شي

بيا که خوله راټولوي نه راټوليږي
د خندا قوت يې لاړ شي چي خندان شي

مُنفعل شي د شبنم نه اوښکي پود کا
ځوړند سر په انتظار کښي د خزان شي

هغه ځوان دے هلک نه دے چي يې زغم شته
هغه پير ازموده کار کښه چي ځوان شي

بس چي موريې تواضع ده پلار يې صبر
که چاکر وي په معنیٰ کښي خو سلطان شي

زغم هغه ردِّ عمل دے چي صحيح وي
لکه يخي چي وريځې شي باران شي

نه هغه چي د بنه کار په نتيجه کښي
بر مشکل شي ورته پېښې او پښيمان شي

# د حسینؑ غم

داوړه د جرس نه د فطرت چې څهٔ صدا ځي
ګوره دا کاروان د سرې توب چې پهٔ ژړا ځي

غریو نیولې ستورې ترې پهٔ مخکښې پهٔ ژړا ځي
څنګه تپېدلې قافله د سپین سبا ځي

اودا یه فطرته چې د ژوند حقیقتونه
څرنګه نن واړه پهٔ طرف د کربلا ځي

بُعد پهٔ ازل او پهٔ ابد کښې پاتې نهٔ شو
داسې ابتدا وه چې د حد تر انتها ځي

ورکې د "امثالو" نه جوړ نن خپلې هستۍ دي
بېرته "عقلِ کُل" ته څُکه واړه وارخطا ځي

نن اِنسانیت حیوانیت سره بېرې کېږي
نن تیرې تیارو ته رڼا لورته د رڼا ځي

شوې پهٔ اننګو د سرې توب کښې دیوې بلې
ځائے د قربانۍ ته چې زامن د مرتضٰی ځي

پېښور
۱۲ اپریل سنه ۱۹۶۰ء



ACKU

# پاکستان

داسې په وينه دهمّت کښې کړه روان پاکستان
چې هريوتوپ دې دزړۀ وائي پاکستان پاکستان

ورق ورق به کړم راجمع دملّت دجهاد
زما د ژوند دافسانې دې وي عنوان پاکستان

ګويا دګوتې دے غمے دهندوستان پاکستان
ځکه مسلم لره ګلے ده دچشمان پاکستان

شي په نقشه دهندوستان کښې به عيان پاکستان
چې نقش شوے دے په زړۀ دمسلمان پاکستان

داجمعيت دے دمسلم اوجمعيت دے ژوند
دهندوځکه جمعيت کړو پريشان پاکستان

نجن نظرته به اودس ودکړم په ترمو اوښکو
چې پاکستان کتوته پاک شي داچشمان پاکستان

زۀ مسلمان يم چې دسر شندل اسان دي په ما
بيا په حصول کښې څنګه مانه به وي ګران پاکستان

کهٔ ناسته پاسته وي يوځائے جګړ مسجد بيل دي
وي دهندو دې هندوستان دمسلمان پاکستان

اوس شوکيرې دې دغلامو اسوېلو سره ځئ
دازادۍ د خوابهٔ خوب دے شبستان پاکستان

دے وجداني ثبوت يې داچې مسلمان نه بنه دے
يوچې هندو لره سبب دے دخفګان پاکستان

چې لا يمسّه اِلاّ المطهرون اولولـم
اوشي باور مې چې اصول دے دقران پاکستان

هندوچې وائي مسلمان نه چې عرب لـره ځه
پهٔ هندوستان کښې ځکه اخلي مسلمان پاکستان

جناح پهٔ ستورو دهندوانو هسې چارې اوکړې
لکه پهٔ نمرچې پهٔ سحر کښې شي اسمان پاکستان

حمزه شمارې دبنګال اولهٔ اسامه کوه
دپنجابي سندهي بلوچ او د افغان پاکستان

۲۴ نومبر ۱۹۴۵ء

*

* * *

*

ACKU

چې تراش خراش ئې د رشک د ائینې کا
یکښې ځائے به شي که عکس تول جهان شي

ګذارونه دې کړي پلک د حوادثو
د حواسو جمعیت ورته سند ان شي

څوک به پوره په ځیل ځ د بل تهوکل کړي
نو بس هغه چې علي شاه مردان شي

چې کاروان د زغم ئې راشي د زړه سرائے ته
ګران که جنس د ارتقاء دے خو ارزان شي

تېرول جمع کول دي د هرول دي
د اجناسو په کثرت مکان دوکان شي

زړه چې لوئے وي د غم چغو ته ګنبد وي
زړه چې تنګ وي زغم ئې نه وي بیابان کښې

حمزه داړي د ے ولاړ قاموسونه واړه!
چې ترمنځ ئې شي پرېشان لکه زبان شي!

# اِنسان

پوهې نهٔ دے چې وېله وړې جنګ دے دِ انسان
پراخ لهٔ جهان زړهٔ، د اوړې تنګ دے دِ انسان

شوم پوهے چې لا موجود حيوانيت دے پهٔ انسان کښې
چې واورم پهٔ انسان باندې قلنګ دے دِ انسان

خواهش د ماسوئ، لرې غبار د زړهٔ پهٔ شمع
کهٔ ځير شو "حقيقت" خو يو پتنګ دے دِ انسان

علوي عالم ته واړه پهٔ هيبت لـهٔ ارتقـاء دے
چې فکر پهٔ ويشتلو کښې خدنګ دے دِ انسان

هغوئ پهٔ توجه دي پهٔ خپل ځان کښې مشغول کړي
خواهش د ائينې دپاسه زنګ دے دِ انسان

لهٔ پورته جهانونو نه پرتو پرې راپرېوځي
داځکه يو تربله سره جنګ دے دِ انسان

پهٔ ځان کښې لا مشغول دے کهٔ لهٔ ځانه خبردار شو
داواړه کائنات ديوه چنګ دے دِ انسان

ACKU

دا نمر ته کهٔ سپوږمۍ ته راکښوله چې دوان دي
دا څهٔ؟ خو یو پټ ... ل بانديې غورځنګ دے د اِنسان

لږ څېر کهٔ شي خپل ځان وته فطرت هم مستعد دے
تسخیر د کائنات ته چې آهنګ دے د اِنسان

ورک شوے چې سېر ترې د توحید دے پرېشان شوے
کثرت ځکه د سر دپاسه سنګ دے د اِنسان

ترې ورکه په زوبنه فطرتي حیوانیت کړه
اِنسان ته فکر اوکړه چې نهنګ دے د اِنسان

لواړګے

۷ر جون ۱۹۵۹ء

★
★ ★ ★
★



ACKU

# کامل انسان

د نسیان د هلک مور خود غـرضي ده
چي له انسـه برخه اوموي انسان شي

د آدم انسان تر منځ حیوانیت دے
د ربغه د املکیت يې چي ترمیان شي

جراثیم ترې شي پیدا د غفلتونو
ظاهر ژوند دے په باطن مرض دځان شي

که مـلا ترې د دا ړو نه د مذهب وي
یقیني ده چي صحیح بـه يې بحران شي

چي حواس په یو مرکز شي انسان دا دے
چي بوږي بوږي رایوځاے شي کاروان شي

ائینه د سړي تـوب حیوانیت دے
چیا چي اولید یکښې ځان هغه حیران شي

د والعصر نه مې حال د انسان زده کړ
خاسر نه دے چي په بنغه لا ررواں شي

وسوسې د سړي توب له جزه نه دي
عشق چي نه وي په کوم زړه کښې سرګردان شي

چې يو ځاے شي د انګا بنګا بادونه
اتحاد يې د عمل او شي طوفان شي

اتحاد د زړهٔ د عقل سره بنهٔ دے
چې بادشاه او وزير يو شي کار اسان شي

اتحاد اسره پايه د کاميابۍ ده
چې خاتهٔ او کوزېدهٔ يې پهٔ يوشان شي

د مذهب شش جهتۍ رڼا کړه غوره
ضلالت بهٔ لکه سورے ګرځان شي

پښتون

۱۵ ر ستمبر سنه ۱۹۴۲ء

# په تېره ارمان

وخت دځان سره موقع دعمل یوسي
هله پوهه شي سړے چې خطا څهٔ کا

دعادت بلبله بوئې دِخرد سبهٔ دے
ګل چې مړاوے دځوانئ شي، نوا څهٔ کا

غوږ به څهٔ کا، نښانې دقدم ګوره
کاروان لرې وت صداد ږې راڅهٔ کا

درېغه دا مې وے دهغه پهٔ ځائے کړے
غم دهغهٔ چې راپاتې شو دا څهٔ کا

ارمان څهٔ دے؟ ویرکول د تمنّا دي
نامردان بهٔ مړي بې لهٔ ژړا څهٔ کا

چې سبا ئې وي دنن پهٔ دام ترلے
نن عملے وایه غم دسبا څهٔ کا

سلیمان دبخت راځي مهر ے صفت ته
چې همه تلاش تلاش وي غِنا څهٔ کا

نن دهوش دیوه شوه بله چې کاروان شو
پهٔ تیارهٔ دپرون شپې بهٔ رڼا څهٔ کا

* * *

۲۲۷۳

# ننګے پښتون

څو چې پېش دَم هومره پس یُم
نا پوره غونډې هوس یُم

پهٔ هر چا مې چې لاس رسي
زهٔ دُښمن د هغه کس یُم

وسله نشته خو پښتون یُم
اِکي یو د زړو بس یُم

غوښنه بویه کهٔ د ورور وي
څهٔ پهٔ ډُرور چې مور پهٔ نس یُم

بس دیو پېرې کمے دے
د کاروان تیار جرس یُم

زهٔ یم کم پهٔ خرڅ دچانه
د هرچانه یو پهٔ لس یُم

اور بهٔ بل کړم پهٔ کفارو
خبر کهٔ اوس ئې دپښتو خس یُم

قام مې مړ دے مُودهٔ اوشوه
زهٔ اجل پهٔ کښې نفس یُم

غلامی کښې اموخته شوم
د ښخوا نه په قفس یم
زه که غلا کوم خوزه یم
ولې نورو ته عسس یم
زه د مړې شمعې پتنګ یم
په سر نه یم په تش تس یم
کړم حرص کوتهٔ اندېښه
منګل مرور مه مکس یم
تل مې لاندې د سبقت وي
که هر څو له تولو پس یم
پروت اغيارو ته په پښو کښې
د خپل ورور د ستر کو خس یم

برتاکال
سنه ۱۹۶۵ ع

*
* * *
*

# لټون

څې د اور او د خاشاک له ژغه خلاص شي
خپل مرکز ته د لوګي رسيد اسان شي

د عنصرو په ځلو رګو ته کښې ګېږه
مکان پرېږده چې دې ځانے په لامکان شي

دا د پوهې د طالب د پښو چراغ دے
پو هوونکے د رښا سوے زبان شي

نه موندل دي د حواسو د خامۍ نه
عقل طفل وي زلمے په امتحان شي

مضطرب لري فطرت هغه جوهـــر دے
د تحقيق په آئينه بانډې خنـــدان شي.

*
* * *
*

# ژوندون

دمقصد په لے روان مې دزړۀ سبان دے
هریو هنک مې دنغمې دیار 'اواز دے

مرغیړن شباب مې بل ارخ بدل کړ
هر نیاز مې داشنا په ځکنبې ناز دے

ځلید لے مې اختر دارمانونو
اسوېلے چې دم رباؤ نن دمسان دے

ګل د بوئ په ژبه راز دمستر اووې
په خندا دې ولې نۀ وې چې پرواز دے

ژوندون څۀ دے؛ مسلسله قهقهه دۀ
دبلبل ژړا په هر موسم کښې ساز دے

یار زمانه ژبه پور دشکایت کړه
دستم دانجام څومره ښۀ اغاز دے

اوږې شپې مې شوې دقدرهسې لنډې
په مرونډ مې اېښے سرکېسو دراز دے

دلته ځائے دحقیقت دجلوو نشته
په هغه لورې دې دروې چې مجاز دے

پهٔ درشل مې د خلوت عقل کو زار کړه
بیا راځه کهٔ دې پکار د مینې راز دے

کهٔ بدي وي دلته شپه نیکي د ه شمع
پهٔ یو وخت پهٔ یو محل سوز وګداز دے

تل ترتله دې اختر وي کهٔ داشان وي
ګنې بل اختر د عمر سره سان دے

خود پهٔ دا د خوشحالۍ د ملک سلطان شو
چې اشنائي شو محمود حمزه ایاز دے

ریډیو مشاعره پېښور

عیدالفطر سنه ۱۹۴۴ء

*
* * *
*

ACKU

# مینه او بیلتون

رنګ شه ورک د هغو مینو ترې وتلې چې خمار دے

خوند هغه د بې خودۍ زده چې خودي لرې هوښیار دے

شي پیدا د ښکلیو قدر چې خوارهٔ یې قاصدان شي

چې ماشومه کلۍ ګل شي د نکهت ځنې رفتار دے

لهٔ اوښکه پرسان اوکړه چې تکمیل د عشق بهٔ څهٔ وي

او به وایئ منتظر یې قدردان د انتظار دے

کټ د مینې هله جوړ شي چې یې ننګه وي لهٔ هجره

غه اوده پهٔ خوارهٔ خوب شي چې ارام ترینه فرار دے

د اغزي لهٔ ډېره عمره د ګلانو ستازه یادوي

د خزان ښکله مزاجه کله هېر زما بهار دے

د هستۍ د کالبد ژوند دے د ګرمۍ او د یخنۍ نه

ارتقا د سړي توب دهٔ مرګ او ژواک چې وار په وار دے

کهٔ دې غم پخوي دوره د سینې پهٔ تبه خبر دے

چې ننګولي ته دې مینې د بېلتون تبه پکار دے

★

۲۲۷۹

ACKU

# پښتو

پښتو د ننګ او شجاعت نوم دے
پښتو د پت او د غیرت نوم دے

پښتو یواځې یوه ژبه نۀ ده
د یو تهذیب او ثقافت نوم دے

پښتو خو مرسته د مظلوم سره ده
د هر ظالم نه د نفرت نوم دے

پښتو تورسرو ته درانۀ کاتۀ دي
د پېغلو جونو د عصمت نوم دے

پښتو د دین او د ایمان نخښه ده
د دیانت او شرافت نوم دے

پښتو د توري نه مخ نۀ ګرزول
دا د جرأت او شجاعت نوم دے

پښتو مېلمه نه مال وسرجارول
د دیانت او سخاوت نوم دے

پښتو، بې وزلو ته پناه ورکول
د قربانۍ او د همّت نوم دے

خو د فرنګ د مُلا هم واوره
وائي پښتو د جهالت نوم دے

وائي چې نيمه کافري ده پښتو
د ګمراهۍ او ضلالت نوم دے

خو په جواب کښې درته وائي حمزه
پښتو خو ګرانه د جنت نوم دے

لواړګے

۱۱ر مارچ

ACKU

## چې لوګې ج ته تلو دا مې ورته

## اورو سے وُ

همه نیاز اُوسه چې همه ناز اووینې
لوګیه تهٔ بهٔ ثمره دخپل نیاز اووینې

چې اورېدلے پهٔ الست دې وو پهٔ خپلو غوږو
پهٔ مدینه بهٔ پهٔ لېمو هغه آواز اووینې

هغه جذبه د محبّت بهٔ دې تکمیل دموي
هغه محبوب کښې به د ښکلیو هر انداز اووینې

پهٔ هېڅ یو دام کښې بهٔ دې بیا د زړهٔ کوترنهٔ راځي
کهٔ هغه سترګې مسرهنې لکه د باز اووینې

هلته په راز به د مجاز او حقیقت پوهه شي
غاړه غړې به حقیقت سره مجاز اووینې

دغه ډرخاورې رانجه کړه چې نظر او موږې
ښکني تاثیر به د رنجو د امتیاز اووینې

ستا به افکار شي د اضدادو د دنیا نه اوچت
چې د رته وران ښکاره کېدل هغه به ساز اووینې

همه لویان به د جهان د رته واړه ښکاره شي
د اپه طواف د بیت الله کښې به اعجاز اووینې

تل دې قائم وي مبارک دې شه، حمزه وائي
چې په مجاز کښې دې د ژوند نوے اغاز اووینې

لواړګے

۲۲ ر نومبر سنه ۱۹۲۳ ء

*

* * *

*

# دازادۍ جذبه

چې یې پښوا د هرڅهٔ هرڅهٔ نه فطرت غواړي
چې پهٔ ضمیر کښې یې موجود انسانیت غواړي
پهٔ شد و مد یې چې هر قام و هر ملت غواړي
هغه یو څیز دے هغه دا چې حُریت غواړي

دغه جذبه، زړهٔ د ژوندون پهٔ حرکت کښې لري
دا حرکت دے چې ژوندون پهٔ حفاظت کښې لري

چرته چې نهٔ وي ازادي هلته ژوندون چرته
چې د لیلیٰ نهٔ وي وجُود هلته مجنون چرته
چې انتشار یې د افکارو وي مضمون چرته
بې د سپرلي نه پهٔ چمن کښې زړهٔ رابنکون چرته

بغیر ددې نه منتشره شیرازه پرته وي
پرته یې هر کس و ناکس ته دروازه پرته وي

پهٔ افغان هم وُ یو چپاوُ د استعمار راغلے
وُ د مغرب نهٔ ستمگر پهٔ لاس کښې دار راغلے
پهٔ زور او شور کښې پهٔ یو لار پهٔ بله لار راغلے
ښکلے له رنګه خو پهٔ خوئ وُ لکه مار راغلے

نهٔ وُ خبر د پښتنو د مرتو به ځنې
د ننګ پهٔ کار کښې د هغو لهٔ لپونتو به ځنې

پښتنو حق د خپلواکۍ او حریت ګټلے
پهٔ ډېرو ډېرو پریشانو ئې جمعیت ګټلے
د سر پهٔ داوُ ئې خپل وطن او خپل مِلّت ګټلے
پهٔ خپلو وینو ئې عزت او شرافت ګټلے

نهٔ ل مسلمان دے د پښتونو پهٔ خوشحالۍ کښې شریک
چې د غه تام شو د قامونو پهٔ سیالۍ کښې شریک

پښتون خو خود د پښتنو پهٔ خپلواکۍ ویا ړي
کهٔ منتشر دے خو د قام پهٔ ورورولۍ دیا ړي
دے داول نهٔ پهٔ خپل ننګ او پهٔ سیالۍ ویا ړي
چې قام ئې ښهٔ وي هم پهٔ داسې خوشحالۍ ویا ړي

اِنسانیت بهٔ کاندي فخر د افغان پهٔ تورهٔ
بیا بهٔ تل ناز کوي افغان د نادر خان پهٔ تورهٔ

* * *

# پښتو ژبه

په پردۍ ژبه خبرې پښتون نهٔ کا
بې لیلٰی بله سودا څو مجنون نهٔ کا

څو د خپل ادب باران باندې اُو نهٔ شي
بل باران به د قام فصل زرغون نهٔ کا

غېرو ژبو کړې لاهو خپل تهذیب کښې
بې پښتو به دې وس هیڅوک راستون نهٔ کا

خپلې ژبې خپل تهذیب وته چې شا کړي
ملګرتیا لهٔ هغه قامه ژوندون نهٔ کا

اول خپله ژبه پسته نورې ژبې
بې بنیاده عمارت څو ستون نهٔ کا

فرنګیان د پښتو ژبې خوشه چین دي
خو دې درمن ته نظر هم پښتون نهٔ کا

بې لهٔ دې کهٔ ټول جهان هم ورته پرېږدي
بل میراث به ستا نسلونه ممنون نهٔ کا

پاسه پاسه د عمل جذبه پیدا کړه
یو ملّت هم ترقي په افسون نهٔ کا

پېښور

۲۱ر جون سنه ۱۹۳۹ء

۲۲۸۶

# خپله ژبه

پردى ژبه که ګل وي نکه بوئ ترينه رفتار کړه
لري دې رنګينه خو خپله ژبه ورته خار کړه
په خپل زبان ئې ستائې ، پردى ژبه چې وائې
دا څوک وائې خوله خپله په پردى ژبه ګفتار کړه
پښتو اوکړه پښتونه خپله ژبه اختيار کړه

لوړتيا د خپلې ژبې کړې د قامه سره مينه
دکور ګلې ورشو کاندې د بامه سره مينه
بلبل د ادب ګل کړه ، هر ګل نکه بلبل کړه
پيدا دې شور وشر له خاموشې نکه بهار کړه
پښتو اوکړه پښتونه خپله ژبه اختيار کړه

غړی د پښتو دنګه به د ژبو په ګلشن کړي
راټوله لکه سروې که له هر څه يې لمن کړي
چې ژوندے جاودان شي سپرلے شي که خزان شي
قمری ته د ذره وايه چې نغمې دې پرې نثار کړه
پښتو ډکړه پښتونه خپله ژبه اختيار کړه

رباب د ژوندون وران شو د ژوند برخه دې پسې دې
څنګه لې دې سندرو د بولیو نه مستۍ دي
عادت د رقم واخله مضراب د قلم واخله
هر تار دې د سخن له اِضطرابه نغمه بار کړه
پښتو وکړه پښتونه خپله ژبه اختيار کړه

صيقل دې د اصلاح په ائينه د خپل زبان کړه
هر عکس د مفهوم د سادګۍ په خوله بيان کړه
مخ نمر ته د عرفان کړه ، افغان همه روښان کړه
حيرانه وينس اوده دي ارمانونه رابيدار کړه
پښتو وکړه پښتونه خپله ژبه اِختيار کړه

حمزه دا د زړهٔ داغ دې د پښتو د ناوې خال شه
خروار دې دا یوه دانه په درمن کښې د خیال شه
مشعل يُ د منزل کړه ، بېلي يُ د محمل کړه
.رس د زړهٔ ته اووايه چې تل ځي کوکار کړه
پښتو اوکړه پښتونه خپله ژبه اختيار کړه

*
* * *
*

# د سپرلي يوه شپه

دا د نګي دنګي وني جوړ نقشې د انتظار دي
يا په غېږ کې په چمن کښې د سپرلي قطار قطار دي
خندا کوي ګلان د خاموشۍ په انتظار دي
ذرهٔ جمع د بلبل چې ورځې ډېرې د بهار دي
سپوږمۍ د نور ميچن ده پلوشې ترې را دلېږي
هر څاڅکې د شبنم دے د سپرلي ډيوه بلېږي

کېفونه د شپې راغلل شور و شر ئې کړو په بره
د ورځې مسافر د هنګامو پور ته کړه کړه
جذبه د مے نوشۍ راغله مشام ته په بوي ګړه
په نوکو د مستۍ د ذرهٔ ماشوم ګروي ډډه
سپرلے دے رنګيني ده نيمه شپه ده خاموشي ده
ساغر کښې د سپوږمۍ نوري شراب دے بې هوشي ده

۲۲۹۰

ACKU

سپوږمۍ د پلوشو نه په ډنها لړلې شپه ده
ګلانو غوړېدليو په خندا لړلې شپه ده
څوک نشته د کتو په تماشا لړلې شپه ده
زېړې ده جوړ ېنولې په سودا لړلې شپه ده
تک زېړ دے د شپې مخ چې جوړې ورځ شومه ويرېږي
سپړلے جوړ د فطرت نه هم په مخکښې چې تيرېږي

صهبا د بې خودۍ ده چې ويرېږي د فضا نه
بربنډه فضا ښکارې د وريځو ړ ږدانه
ويستلي ستورې ، ښغلو پلوشو د مشغولانه
کړے نۀ شي پټ پټانې د سپوږمۍ د ډنها نه
جلوې سکون په غېږ کښې چرته کښېني څړ پاڅي
دعوت دے نوشۍ دے په ټپ ټپ چې بڅه څاڅي

ګلشن کښې ځائے په ځائے ناستې جرګې ښکارې د ګلو
سپرلي جوړ کړے فرش دے د شين زړۀ نه د بلبلو
فطرت نن خوشبوئ رنګينې ويشي په منګلو
مشام او زړونه سترګې ګلشنونه شول د ښکلو
رويونه د سپرلي دي ورسره راڅي ژاړي ته
د خوب د پاره خوب زاري منت کړي بېدارۍ ته

بوُرا په کښمالو' دبېدارۍ نه ئې ذرهٔ تور دے
بلبل چمن چمن ويښ پهٔ خوب کښې چې سمسور دے
فطرت لره قدُرت د اضطراب وړکړے پور دے
پټ پټ پهٔ کائنات کښې خاموشه غونډې شور دے
کېفوُنه د عمل پهٔ مېږ توُن باندې صوسۍ دي
بېدارې خاموشۍ دي پهٔ جمود کښې کنګوسۍ دي

غلے د فضا پهٔ آئينه د نمي زيم دے
جوهر د پلوشو لکه غبار ورسره ضم دے
تيارهٔ لاړه کجل شوه چې نظر دستورو کم دے
رڼا چې سترګې اوومې علاج ئې پهٔ تورتم دے
جامه شي غم د ياره' خوشحالي پهٔ پسرلي کښې
را اوځي سندره ايزشي اسويلي پهٔ پسرلي کښې

ګل وائي چې کمال ته رسېدل سرګرداني ده
مقصد وائي کلۍ د ذرهٔ چاوډون ګلستاني ده
نکهت وائي لهٔ خيله کوره تلل پرېشاني ده
اغزے وائي وجوُد ئې پس دګل نه حېراني ده
سپرلے وائي زما د زرهٔ درزا واړه ټوټوون دے
فطرت وائي چې داخو يو زما رنګين جنوُن دے

نعره ده د تیرې زهٔ د فطرت د زُلفو رنګ یُم
راتاوٌ ترینه رنها شوه چې بدرنګې زهٔ دې لنګ یم
چپیا وائیٌ لښکر د شور و شر سره په جنګ یُم
ښکالو اوکړه یو څاڅکي، وے چې زهٔ دې په سرسنګ یمٌ
احساس د پسرلي د رنګینۍ په خوب اُودهٔ شو
نظم د ننداري د شیرینۍ په خوب اُودهٔ شو

هر څیز دے ائینه د ننداري په ننداره یُم
هر شے ښکاره په ما کښې زهٔ په هر څهٔ کښې ښکاره یمٌ
یو راز یُمه چې زهٔ لهٔ خپله عقله اواره یُم
هر څو که دریاب عقل دے خو زهٔ ئې کناره یُم
چپه د ننداري راشي وجدان ورته ساحل شي
یو بې مطلبه څیز دے لاړشي پاتې ئې حاصل شي

حاصل د ننداري مې اوس په لاس کښې د خیال دے
د ذرې شمع مې بله ده پرې فکر مې مشال دے
تیارهٔ د خواوٌ شاباندې خندیږي یو جمال دے
فنا په مینه راغله چې بناُست لره اکمال دے
اشیا وو مختلف په جدا رنګ متمیں وو
یو څیز دے په هر یو کښې هم په دې متغیں وو



ACKU

نما ښام دے؟ نه! هغه خو کور و کړدے د سودا نه
سپوږمۍ ده؟ نه! هغه خو خلاصه نهٔ ده د صفرا نه
نمر سوے تور کودے کښه د خپل ذرۀ د ځلا نه
پخپله تماشا شو سرګردان د تماشا نه
سحر کهٔ د سپرلي وي خو هغه پسینکي وهلے
سپرلے هم زمانه ده مُدعا شینکي وهلے

بُلبل د اسویلو د خوشبویۍ د رنګینۍ نه
د یخو پلوشو ، د ږغلو ځونو د ځوانۍ نه
د ګُل د غوړیدو او موسیدو ، د زعفرانۍ نه
یو جوړے شو پهٔ ذهن کښې صورت د حیرانۍ نه
کثرت خو د وحدت د ناوې مخ لره پلوُ دے
ډېر ډېر کهٔ څهٔ شمار شي خو عدد ورځنې یو دے

تښ وزم دا صُورت نهٔ دے لباس د بل صُورت دے
راپاتې د جوهر د عناصرو لطافت دے
دوېٔ شوه ځنې جوړه جمع شوے چې کثرت دے
پرده ده لا پرته پهٔ حقیقت پاتې نسبت دے
دلۍ د رنګ او بوېٔ لا پهٔ بهار کښې د خواهش دي
برقونه مضطرب هې پهٔ کنار کښې د خواهش دي



ACKU

بس یو ھي غوره کړے چې د دېرو نه بهتر دے
په یو کښې ښکاري یو او په دېروالي کښې اکثر دے
د دېر ظهور نه پس د دېرې پتې نه اظهر دے
یو مسبې رنګ رنا چې مبتدا او هم خبر دے
مقصد که د لېمو یو اڅې ځې پلوشې وي
بینا دي پرې خبر د ذرو نظر لره لښې وي

دا تموله سلسله وه د کثرت د یو دپاره
معلول دے د ممکن او که علت د یو دپاره
سپرلے که رنګیني ده که نکهت د یو دپاره
بلبل دے او که ګل، ریح و راحت دیو دپاره
په ذرو کښې د حمزه چې د وحدت ځنې رنا شوه
ګواه پرې موذن شولو صدا د الا الله شوه

مشاعره نوبنار
۴ر جنوري ۱۹۵۲ء

*
* * *
*

# بنځه

هغه راز چې په افشا کېږي ئې بل راز دے
هغه رنګ د بې رنګۍ ځنې چې ساز دے
هغه ناز چې لوند په عطرو د نیاز دے
هغه ګل چې رنګ او بوئې درله غماز دے

یا پېرځې غزونې د فطرت ده
چې له خوبه بېداري ئې قیامت ده

لکه شور د جذباتو په دریاب کېږي
لکه زور د عشق او مینې په ګرداب کېږي
یو عالم د نازکیو په حباب کېږي
یو طوفان دے پټ د حُسن په نقاب کېږي

هغه حُسن چې نقاب سره نقاب دے
هغه برق چې په وریځ کېږي بې حجاب دے

چې ئې نهٔ راځي پهٔ خوله د ذړه خبرې
حال ئې وائي ګرمې اوښکې مرغلرې
رخت د صبر تهٔ ئې غم وي اور د سرې
د غم چغې ئې پهٔ ژبه شي سندرې
يوه شمع د خپل سوز نه پهٔ ژړا ده
پهٔ محفل کښې د امکان پهٔ دې رڼا ده

يو صورت دے چې ساده ښکاري وجدان ته
ائينه د لطافت ښکاري ګمان ته
چې کاتهٔ حېران حېران وګوري حېران ته
لاړ شي بې واکه لاسونه ګرېبان ته
د خرد اوسيزي درمن جادوګره
سراسر د خپل افسون نه بې خبره

پهٔ دوو دريو اوښکو جوړ د څهٔ نه څهٔ کا؟
فولادي زړهٔ د حباب غونډې اوبهٔ کا
چې پهٔ سرو لبو تراخهٔ خواږهٔ کا
زړهٔ پهٔ ډېرو ډېرو بد پهٔ يوې ښهٔ کا
کله زهر چا ته ورکړي پهٔ شربت کښې
کله زهر کړه د شهدو پهٔ لذت کښې

یا خو دي د بې خودۍ نه نیم بربنډه
کله شخړه د حیا ټې په مخ پنډه
کله شي له نانځې په چمن د ننډه
کله دا په خارستان کښې ځي په منډه
د بلا نه شي سوا په انتقام کښې
په الفت کښې زار قربان په هر کلام کښې

د مئین د زړه خوند د ناکه ولوله ده
یو سترګک ئې په هستۍ کښې زلزله ده
د ښائسته ښائسته خوبونو سلسله ده
د ناشونکو تعبیرونو قافله ده
هغه حُسن دے چې سوزي په خپل اُور کښې
بد رګه ورله غله شي په خپل کور کښې

بل که سمه سمه وائې نه ده سمه
که په خپله کاګه وائې نه ده کرمه
له صورته ښکاري رامه په خوئې دمه
خاندي خاندي سترګې ډکې کړي له نمه
د اهو پښان ئې ژوند په مهرتون دے
ژوند ئې څه دے خو تفسیر دیو جنون دے

پهٔ نغمه کښې زهرهٔ رانښکوي ددې لهٔ خیاله
د سندرې هر مضمون ددې لهٔ خیاله
اوښکې اوښکې جګر خون ددې لهٔ خیاله
د لېمهٔ پهٔ کور شب خون ددې لهٔ خیاله
پهٔ ګلانو د ادب کښې رنګیني
پهٔ نباتو د سخن کښې شیریني

هم ددې له سترګو قدر د صهبا دے
کیف د ډوډ سره ساغر د زړهٔ اشنا دے
تبسّم ئې پهٔ سرو لبو مسیحا دے
سرور ئې د ډوډ ون بېرته پخلا دے
چې پهٔ شا لاړه شي اوخاندي نګاره
توبه هم شي د توبې نه توبه ګاره

دا فتنه پهٔ مینه رنګ پهٔ ماشوم توب کښې
د ځوانئ د محشر خوب وینې پهٔ خوب کښې
کړي ځواني ئې روح روان پهٔ ښونتوب کښې
پهٔ خپل لاس خپله دنیا کړي پهٔ اشوب کښې
پټ بنائست ئې د جامې نه بهر اوځي
د فانوس نه نور د شمعې کړي بروځي

د ژوند اب د حیرانیو په چینه کښې
کړي چپې یې ارمانونه په سینه کښې
حُسن یې وړې د خودبینۍ په سفینه کښې
د خپل عکس نه غواړي داد په ائینه کښې
شته نظر ته یې فریب په هر انداز کښې
یو سوغات د حقیقت دے په مجاز کښې

یا خوشالګے د اوبو یا دریاب دے
که نیشته که شته لکه حباب دے
د بناست تږي سراب نهٔ شي سراب دے
دا مجاز د حقیقت په مخ حجاب دے
یا نغمه د عندلیب د تهنیت ده
لکه ګُل د رنګ وبوئ نه عبارت ده

چې رنګینه د دُنیا پرې افسانه ده
چې په مخ یې د ذرهٔ شمع پروانه ده
چې د عشق د جذباتو استانه ده
چې د ورانۍ د ودانۍ نښانه ده
د تهذیب او تمدن ده بنیاد ښځه
بیا که ګورې دے لباس لره ده ښځه

***

# يواشناته

نهٔ هغه زړهٔ هغه دماغ اونهٔ هغه زهٔ پاتې يم
خدائے زده چې څهٔ وُم بيا بهٔ څهٔ يم او اوس څهٔ پاتې يم

نهٔ بد دې بد او نهٔ په ښو د ښو يقين کېږي
بده خو دا شوه چې پوهٔ نهٔ يم، بد که ښهٔ پاتې يم

داخري سپرلي کلي شوه، زما زړهٔ د ارمان
پهٔ جهان راغلم نهٔ شوم وا، هغه لمهٔ پاتې يم

د خود دارۍ ناوې ترکانو دافلاس يوړه
د احتياج هسې يرغل دے چې بس خوله پاتې يم

کهٔ احساسات مې وو زغمچن، دومره نازک شول اوس
چې زهٔ پهٔ زړهٔ کښې داکړم چې همه زړهٔ پاتې يم

بس خو اوس زهٔ يم هغه او ښکه چې د يار سپه تګ
شوم د جلب له دمه پاتې پهٔ بانهٔ پاتې يم

ما ته مراد د نامرادۍ هم پهٔ لاس رانغلو
اُور د سخن کرمه جليا، خولونه واښهٔ پاتې يم

سلام ته کم څکه درځم چې د بر حضور ښهٔ نهٔ وي
بيا د ظالم سارهٔ لهٔ لاسه پهٔ کالهٔ پاتې يم

تنازې ته دبقا به اوس وسله بډ دمه خود
چې دصحت لاسوُنه شل شولو لهٔ تلهٔ پاتې یُم

ساه دهمّت شوه لنډه ګنډه همږي اوســوه وزر
دشخصیت پهٔ بلندو لهٔ الواتهٔ پـاتې یُم

ماوې نسکورکهٔ یُم فلک بهٔ پهٔ معنیٰ شمه نهٔ
اوس پهٔ ځیل فکر پسې سرپهٔ زنګانهٔ پاتې یُم

تاب دسخن مې پاتې نهٔ دے نوریکلے نـهٔ شـم
دیو ناتوانه اسویلي غوندې پهٔ زړهٔ پـاتې یُم

زهٔ دعمل پهٔ حقله اوس پهٔ مړو حساب یُمه
پورته کېدل مې ناممکن نسخه د پلهٔ پاتې یُم

خدائے تهٔ زده چې ژوند ولې شیرین دے ماحمزه وته اوس
چې لهٔ هرعیشه پهٔ دُنیا لهٔ ژونـدانهٔ پاتې یُم

* * * * *

# یو زاهد ته

---

ښېځن د خولې دې ځکه شوه چې اودې وتې دارې
سپین بډېریا د لوې ځکه خبرې لوارې لوارې

زاهده تنستې دې د ګونـــو سستې پستې
چې چرته تور څادر اووینې ځې دې له خولې لارې

ما سنګیا شکر اوکړه چې دې سر له وښتو پاک شو
ښکرې ددې ښې نه دې د سپږو ډیځو لارې

چې سپینه خوله ئې درکړه ولې ګورې په خوا بل خوا
خپل ځان درځنې ورک شو که له یاره نور څه غوارې

داړېږېوتې د مینې د نخـــتر نــه فـقـیـر وړنیــا
هجران دې د وصال په خوله کښې ژاولې کړې غنجارې

ما سنګیا د کمر نه به ګندکی وته ګنداز شې
ځان اوساته ګنجیه د هړان په سـر ولاړې

حمزه دسپي په برخه دغوړو خوراکـه نـه وي
اشنا چې راته مخ کړو رقیب لاړو چینګې دارې

۲۳۰۳

ACKU

# گرېجوېټ او اېډوکېټ ته

گرېجوېټ او اېډوکېټ شوې، اوس دې څوک په دُنیاسیال دے
که څهٔ علم دے نوستا دے، که څهٔ خیال دے خوستاخیال دے

دیورپ تهذیب پخپله خودکشي کوي لګیا دے
اے غافله گرېجوېټه، هېر دې قول د اقبال دے؟

گوپیا یوسې پنبه مانه، بیا په ما ئې بها پلودې
دا چې ماته پرې کړې ندهٔ کړه، زما علم زما مال دے

لکه نهٔ وُ بیا به نهٔ وي دا یو وخت دے پرې راغلے
ابتدا ئې ده اوس تېره، درنګ ساعت ته ئې دُنبال دے

دحکمت د دریاب کب شوې چې پټلون دې اختیار کړ
دا ډوډوُن نهٔ دے چې دې، دا بناس مهٔ کنه چال دے

هېڅ دې ځکه دمشرق نه مسې رنګه هېڅ پیدا کړ
چې سجده ممکنه نهٔ ده، خیال د رب دې هم محال دے

---

۱ تموپ ی

۲ کرکه، نفرت

دکوټـټـې او شکسـپـیــر پهٔ قدم قدم روانـه!
راشه لار د کاظم واخله، هم حمید شته هم خوشحال دے

خبر نهٔ یې چې تقلید دے، وظیفه د جاهـلانـو
چې پهٔ غیرو پسې درومي دا فنا ده دا زوال دے

چې روش بناځې پښتون ته، د هارون وایـه چې ولې
خوځي د بیز جوړ راوتلے، دځوانه ستا پـهٔ فال دے

اے نامرده خوله دې څپله، پهٔ پردي ثبه خبرې
ستا د حال بهٔ څنګه رنګ وي هسې رنګ دې چې د قال دے

د مشرق میړونه لاړل، مشرق هغسې مشرق دے
کهٔ بناغلي راپیدا شول، د مشرق بیا هغه حال دے

مشرق ځائے د نمرخاتهٔ دے، مغرب ځائے د پرېواتهٔ دے
پهٔ مشرق کښې د زړهٔ نور شته په مغرب دېرې جال دے

پهٔ مشرق کهٔ زوال راغے خو مغرب یې پس خورده خوري
چې پیدا شي لهٔ زواله، دا زوال دے کهٔ کمال دے

د مغرب پهٔ ائینه کښې د پرېوتې مشرق عکس دے
دا چې دے پرې حیران مست دے، دا همه پردے جمال دے

کړهٔ ورهٔ ځپل او پردے حُسن، د کالبد د نظام اُور شي
د ظاهر دل فریبي یې، دلوګي پرېشانه تال دے

غلبه د مادیت یې، لهٔ یو رنځه سوا نهٔ ده
دا چې ډک او معمور ښکاري، ضرورت یې د قیفال دے

ستا چې هغه تهذيب نوښ شو څهٔ غلام دې ذهنيت دے
کهٔ څهٔ وخت دې داسې تېر کړو ، دفنا دې اِحتمال دے

وجودي تشخصات چې کوُم يو قام ساتلے نهٔ شي
پهٔ قانون کښې د قُدرت يې دا چې کاره ژوند محال دے

هغه هم مسلمانان وو چې مغرب يې حاجتمند وو
اوس هم شته خو هغه نهٔ دے چې وغېرو ته يې سوال دے

کهٔ پهٔ لار د محمّد شوې پهٔ مشرب د حيدرؓ لاړې
بيا هم هغه ورځې شته دې هغه نمر هغه هلال دے

شه مسلم د زړهٔ له صدقه ، هم رنړا شته هم اذان شته
دبدبه داسلام شته دے هم سلمانؓ شته هم بلالؓ دے

ددُنيا پهٔ دې مېدان کښې لا شهيد شه لا غازي شه
پاتې مهٔ شه پهٔ دې منځ کښې چې بقا لره قتال دے

چې ډکرې درځنه وروره ، داِسلام د مکتب نشته
ستا ژوندون د قام دپاره يو وبال دے يو وبال دے

پښتون
سنهٔ ۱۹۲۶

# زمیندارته

څهٔ غوټې غوټې خوله چې ستا پهٔ سینه راشي
وتره شي د ژوند ، د معشیت زړهٔ پهٔ درزا شي

ستا پهٔ ساه چلیږي د هستۍ همه نبضونه
وار دې خطا مهٔ شه ، چې دُنیا بهٔ وارخطا شي

ستا نه چرې تلے تښې جولۍ نهٔ شي وختونه
وېش د خوشحالۍ ، ستا لهٔ کبله پهٔ دُنیا شي

څهٔ دي ستا کیلونه خوبس کرنې د قسمت دي
ستا پهٔ پاله خار د غریبۍ لهٔ زړهٔ جُدا شي

ستا لهٔ زړهٔ چاوَدُونه د دولتمند شول غم رنګي
تهٔ کړې وینه اُوچه د دُنیا وینه پیدا شي

تهٔ چې ابر اووینې خپل یُوم پهٔ اُوبه کېږدې
ستا موسېدهٔ ستړګو د اِفلاس لره برېښنا شي

وینبس دې شي پهٔ زړهٔ کښې عمل وکړي غزوُنې
خال چې د سه پهٔ تندي ستړګه د سبا شي

درمن د اسمان کښې شي جارو د دنيا تېره
ستورې چې په لاس د غلچکي سحر تالا شي

ورشې په تيارهٔ کښې ته په پولو پټو ګرزې
ستا تېرې په کور وي په پټو کښې دې سبا شي

اے چې لکه لاس کړې ورکول پخپله تش يې
اے چې لکه سترګه ځان ته کور بل ته بينا شي

تهٔ خو کروندګر کوې د ژوند خو دا مې واوره
دربغه چې ژوندون دې دې حاصل لره بها شي

تهٔ که را ژوندے شوې ژوند بهٔ دې شي زميندارہ
بنهٔ دانه يوه وي خو حاصل ترې نه خروار شي

ستا د غريبۍ دے يو علاج او هغه دا دے
داسې کرونده کړه چې حاصل يې هم د تا شي

تاکهٔ د چېل فصل پرورش ته فکر اوکړه
راز بهٔ د انسان د ارتقا درته نما شي

ډېو د غريبۍ بهٔ درته نهٔ ښنايې غاښونه
ستا د پټو لوګه ته بهٔ ښکم د غنا راشي

ځمکه بهٔ د دنيا د نظام ښکته شي ستا ژغ ته
ستا پولي پټي که په دښتيا سره هم ستا شي

پېښور ۱۵ مې سنه ۱۹۷۷ء

★

★ ★ ★

# پیر صاحب ته

ربه ډک که له اعجازه مې قلم شي
هر رقم یې چې د ذرې په سر رقم شي

لاس په نوم دې اجابت زما دعا ته
په خاطر د پاک حضرت شاه امم شي

په خاطر د رسالت د امامانو
له میانه دې نابوده همه غم شي

فخرِ علم ته چې زه مخاطبه کړم
که کاڼه کاڼه وي ټول کوم چې سم شم

اے چې سپورے د علي زمونږ په سر یې
ستا دې سیورے دلواړ په درست عالم شي

اے د پاک نبي د باغ بې اغزي ګله
د بقا رنګ و خوشبوئي دې په تا تم شي

د غلام دے څه مجال د پند کولو
خو هغه شي چې له قدره مبرم شي

یا بهٔ مونږه خوشحالي عیش و نشاط کړو
یا زمونږ د زړهٔ په خونو کښې ماتم شي

کله وُو چې مو پهٔ عرش وو نوبتونه
او اوس ستغې سپورې مونږ ته چم په چم شي

چې دنیا د صداقت زمـــونږه لاره
چې ذره خبره څوک اوکاندي ګرم شي

څهٔ خو مونږه بهٔ هم شا وې ګرزولې
ولې یخه برق خانه چې شي تورتم شي

چې د چېل اختیار واګې بل ته ورکړي
ګویا روغ ئې وي لاسونه خو قلم شي

دا لېوهٔ دي، دې رمې وته پهٔ څېر دے
چې دا شپون وي دا رمه بهٔ هم درهم شي

څنګه شېدې کوي ستـا د نغـزولو
چې اظهار ئې پهٔ قلم او نهٔ پهٔ فم شي

زهٔ پوهېږم پهٔ رمه دې پروا نشته
کهٔ همه پهٔ یو ساعت کښې کالعدم شي

ولې رحم پهٔ هستۍ د خلقو بویه
چې د شپې او ورځې څومره پرې ستم شي

---

له بجلي ګهر
۲۳۱۰

ACKU

یو زما سره چې څهٔ کاڼي دي کړې
دم مې بند شي راپهٔ یاد چې هغه دم شي
کهٔ لهٔ دې شېطانه تاته نقصان نشته
خو بچې د سلسلې بهٔ پرې کرم شي
کهٔ خیال دې د اصلاح وي مبارک دے
خو ممکن نهٔ دے بې زهرو بهٔ لرم شي
دَ امرد د مینې دام چې درته خورکړ
لهٔ شېطانه دا کارونه پهٔ قسم شي
اوس لا وایې باطني مولا موږ زهٔ یم
ستا سو سر بهٔ پس لهٔ دینه راته خم شي
وایې راز دے د مرشد زما پهٔ زړهٔ کښې
چې څهٔ وایم هغه بهٔ کړي کهٔ وران عالم شي
زهٔ منم چې دا دروغ وایې داز نشته
خو ممکن ده ترې پیدا د وسواس یم شي
خلق ډېر دي پرې شک من چې راز بهٔ څهٔ وي
خو دېخپله زما هم پهٔ زړهٔ الم شي
دے خو پرېږده چې دا نور هم څهٔ کم نهٔ دي
لهٔ غروره پهٔ یوه ډېنا برهم شي

ـه زرین ددزي

حیثیت امتیازي ټې قبضه کړے
خدائے زده څو دوئ د ظلم نه اسلم شي

څوک همځنګ دي د ګدۍ څوک خلیفه دے
د چا کشف ته ناځینه جام د جم شي

بیا سره دديٰ همه دي بد تهذیبه
اهلِ علم ترې کړي کرکه چې راسم شي

طریقت او کم ظرفان؛ توبه توبه ده
عجیبه چې د جاهل په لاس قلم شي

عرب وائي چې کارغه د قوم سردار شي
هغه قوم د هلاکت کندې ته سم شي

زهٔ منم چې ستاسو صبر د حسینؓ دے
یو پهٔ سله دې پهٔ تاسو دا کرم شي

ولې صبر د هغوئ پهٔ مصیبت ؤ
هسې نه چې ناحق وینې جوش ئې کم شي

ستاسو فرض به څنګ پوره شي چې خاموش ئ
باران څرته چې وریږي کالعدم شي

زهٔ خو خبر امتیازي حق بهٔ بې نهٔ وي
خو سیّد ولې پهٔ شمار کښې د عجم شي

اختیارکهٔ د سیّد وے ما به څهٔ وے؛
اشرفۍ چې نهٔ ارزیږي څهٔ درم شي؟

ځم حیران چي په ابدال بللے کېږي
چي پردي مالونه خوري کذاب اظلم شي

ترقي د سلسلې ئې کړله بنده
بد نامي ئې لا سوا د زړونو غم شي

چي شي زنګ د ائینې سره ملګرے
شي پرې تته خود بخود قدر ئې کم شي

بحیبه مثال ئې فکر دته راغے
دریغه دریغه چي حضور ته مسلم شي

شي له انسوئې شیطان[2] ونفس نمایه
چي ذاتي نفس وشیطان ئې کالعدم شي

که له دخته د اسکان موکوري نه کړه
په دې هر به کوي جنګ چي منقسم شي

دے پخپله ئې یقین چي هېڅ ئې نشته
نه به چرې په پرهر زما ملحم شي

په ضمیر مو چي هرچا ته غبار راشي
څوک دي نه وائي په سل کاله به کم شي

خواجګانو ته د چشت ئې ځان سپارلے
هم هغوئې دې د بې دم سره هم دم شي

---

[1] ذرین د رزي

[2] ذرین او عبدالرشید

یقیني ده چې کوم کار لره پکار وي
هغه لوښې په هم هغه شانې سم شي

که زه لاړشم درسره به یم حق وینم
بوټې دګل وي که پکښې وي که ړي دم شي

نه به تاسو چېرې خپله بله نه کړئ
او نه اوچ به د حمزه د سترګو نم شي

★
★★★
★

# د سحر چرګ ته

ناوې د دُنیا پرته اُوده په تُور سالو کښې وې
شمع د قمر فلک نیولې په تالو کښې وې
جوړه بستره چې د بورا په کشمالو کښې وې
بوټې چې د عاشق د تورو وښو په بالو کښې وې
ستورې چشمکونه کوې نور چې د قمر نه ځي
رو رو چې حجاب د تاریکۍ نخ د سحر نه ځي

رو رو جلالت د توري شپې جمالیت اخلي
حسن فطرتي نه کائنات چې ملاحت اخلي
توره تاریکي چې ملمع د صباحت اخلي
باد چې د سبا د چا د زلفو نه نکهت اخلي
وینه چې ژړا کښې د عاشق د چشم تر نه ځي
رو رو چې حجاب د تاریکۍ نخ د سحر نه ځي



ACKU

ځپ د تورلې شپې نه وي ګلونه منتظر د چا
سر په اختلوکښې محو شوے چې وي سر د چا
زلفې چې سبا په ګستاخۍ کړي منتشر د چا
ژوند په تبسم وي د ګلونو مختصر د چا
نور چې د افقِ مشرقي د سپین خادر نه ځي
رو رو چې حجاب د تاریکۍ مخ د سحر نه ځي

مرغ د ملکوت چې وزر اوځنډي ثنا لره
ژبه په تحلیل سره چې پرانځي الله لره
بانګ دے یو جرس بېدارۍ شي وهر چا لره
اے د سحر چرګه ته نقیب نورِ سبا لره
ګویا چې نغمه ده د جنت د هر وزر نه ځي
رو رو چې حجاب د تاریکۍ مخ د سحر نه ځي

بانګ دې زاهدانو ته خطاب د پاسېدو کوي
دې وخت کښې تګل زمینداران د وېښېدو کوي
چغې د عاشق عرش ته کوشش د رسېدو کوي
دود اهِ نیت د بل فلک د جوړېدو کوي
ستا نغمه عجب چې عاشق د ذرهٔ د سر نه ځي
رو رو چې حجاب د تاریکۍ مخ د سحر نه ځي

بانګ ته خزانه د ستا د وخت وايم که څه وايم

ستا سحرخېزۍ ته خېږ د بخت وايم که څه وايم

پرخنډل باران دي د زربفت وايم که څه وايم

ستا د بام په سر د بخت نشست وايم که څه وايم

ستا د بانګ سره شور د مسجد او د مندر نه ځي

دو روڼې حجاب د تاريکۍ مخ د سحر نه ځي

برق هسې سدا دې د اذان خورۀ فضا کښې شي

موج د تلون پېدا د توري شپې د بلا کښې شي

برق دې د حيات چې دا پېدا په مړه دُنيا کښې شي

شور د کائناتو د ثنا ګډ په هوا کښې شي

کيف او مسرّت د کائنات د شورو شر نه ځي

دو روڼې حجاب د تاريکۍ مخ د سحر نه ځي

دا سحرخېزي قابل ستا د احترام دۀ

ستا د بېدارۍ چرچه هر ځائے سبا مابنام دۀ

ژبه د مدحت ستا په صفت ګويا مدام دۀ

ناوې د دولت ستا د سرو تاج ته په سلام دۀ

ځکه تجلي حمزه د شعر د ګوهر نه ځي

دو روڼې حجاب د تاريکۍ مخ د سحر نه ځي

ACKU

# ډپټي اسلم خان ته

خدائے دې داسې ورک کړه چې د ورکې نه هم ورک شي
خدائے دې داسې سپک کړه چې د سپرې نه هم سپک شي

ماخو وې چې لاس وي د حاکم د مُوروپلان
نهٔ وُم خبرداره چې بهٔ پهٔ سر زمونږ ښختک شي

ماخو وې چې تهٔ بهٔ يې شريف د شريف زُويه
پوسے نهٔ وُم چې تهٔ بهٔ يو بنګش زوې د ختک شي

تېر دي فرعونان او هامانان پهٔ مخ د مزکې
ورک شوي د خيبر نه د چيل کور نه بهٔ هم ورک شي

زرده چې پهٔ ګوټ کښې بهٔ دې لاس د قدرت واخلي
کاڼے بهٔ د غم وي نشانه نهٔ بهٔ ناوک شي

لاړې لاړې تېرې شوې چې ستا د ظلمونو
غرق بهٔ د بېړې سره پهٔ سيند کښې د اټک شي

اے اظلمه تا لکه حبش نوم د کافور کړے
خدائے چې ګنډېرے کړې وايه څنګه بهٔ پالک شي

تا نو په خپل نیت مونږه تیار کړو ګدای ته
ا ـــه غوایهٔ صفته د بهابر ســره بالک شي

یاده لره دا هي پېش ګوئي ده ستا یه حق لــه
لره موده پس بهٔ په ژړا ســکه هــلک شي

دریغه محمد اوچي اسلم دي نامه نهٔ وے
خدائے دي په جل مړ کړه سرګردان لکه پتک شي

داده وروبي هجوله ازار کهٔ بــد دعـــا ده
څکه چي ظالمه تهٔ هم لر په دړهٔ نازک شي

پاتي په دُنیا کښي کهٔ زما چرې دیوان شـــو
دا لره یقین چي ځائے په ځائے بهٔ پکښي سپک شي

ډېر بهٔ ئې بدنام کړي کهٔ حاکم نوشېروان وي
ته چي په ماتمت کښي ورسره لکه بخنک شي

*

* * *

*

# زمیندارته

وینه او غوښه دې سره یو شي چې محنت کوي
ګویا چې د خپل بدن په وینو زراعت کوي
نمر سپوږمۍ ګواه دي چې دا هومره مشقت کوي
یوه او به غور کښې چې په ځان څومره کلفت کوي
کار خو د دنیا د ترقۍ او د رحمت کوي
خپل کور دې ودان نه کړو د نورو منفعت کوي

نور خلق په یو اخلي دوه ته په یوه سل اخلي
نور چېرې چونګ ګټي اخلي ته دکه منګل اخلي
چولې بیابان ډګ د ازغوي ته ترې ګل اخلي
حیف دې د ختو په ځائې چې بیا هم پرېوتل اخلي
نفس دې مطمئن نه شو هرڅو که ریاضت کوي
خپل کور دې ودان نه کړو د نورو منفعت کوي

شپه ورځ دې دهوېي د افلاس ونیځ خوصفانهٔ شوې
خورې وهل په کانو په خنده يې پهٔ زړا نهٔ شوې
خورې غوټې پهٔ سینه کښې د ذلت نو مرجونها نهٔ شوې
یو حرف مهمل يې چې رضایٔ هم پخلا نهٔ شوې

چې عار د ذلت ته څو تکل کهٔ د دولت کوې
خپل کور دې ودان نهٔ کړو د نورو منفعت کوې

واېٔ پهٔ رباب دېې کارې د مفلسۍ تپې
تار دې د ژوندون کړې پهٔ ژړا دېې کسۍ تپې
کړې د نا امیدۍ لهٔ هر یو کار په واپسۍ تپې
تږ ته د بولۍ چې کښې کړې بیا پهٔ لسۍ تپې

تهٔ د غل خوېٔ او جوار کړ سره صحبت کوې
خپل کور دې ودان نهٔ کړو د نورو منفعت کوې

راشي سود خوارهٔ چې لا دې فصل هم غوبل نهٔ وي
گویا ناوې درې درنه چې خوړي لا اوربل نهٔ وي
سوزي دې زړګې د ډېرهٔ غمه اور پرې بل نهٔ وي
قرض کښې دې حاصل لاړ شي خوراک له دې شفتل نهٔ وي

تهٔ دربانده کال شي سود خورو لا مشقت کوې
خپل کور دې ودان نهٔ کړو د نورو منفعت کوې

تهٔ چې اے پښتونه سود خورو نه پهٔ سُود پورا خلې
داسې ئې کمه خپلې جونګې له بهٔ اور اخلې
پور پهٔ اس د فصل تهٔ لا پرله پسې نورا خلې
تهٔ ګذار د تندر شوه معلومه چې پهٔ شکورا خلې
کار د عقله نهٔ اخلې د خدایه شکایت کوې
خپل کور دې ودان نهٔ کړو د نورو منفعت کوې

قرض داسې بلا ده چې بهٔ پاس چا ته کتے نهٔ شې
تهٔ به ترې د ښو خوږو دوستانو صحبتے نهٔ شې
اوړې به بد رَد بیا بهٔ پهٔ مزکه ننوتے نهٔ شې
غوڅ وزر بهٔ تهٔ د مجبورۍ نه الوتے نهٔ شې
بیا سره ددې چارو فکرونه د دولت کوې
خپل کور دې ودان نهٔ کړو د نورو منفعت کوې

قرض داسې چنجے دے چې مدام بهٔ دې جرونه خوري
قرض داسې مُلخ دے چې ددین دنیا فصلونه خوري
قرض یو چې دا نهٔ ده چې ستا سرو مالونه خوري
قرض ننګ د غیرت او استقلال حیا شرمونه خوري
قرض لکه سراب دے چې طلب ئې پهٔ سرعت کوې
خپل کور دې ودان نهٔ کړو د نورو منفعت کوې

پوه شه چې تېنچې دے دستا مینې محبت له قرض
بې تورې تمپکه دې کاڼي دے هلاکت له قرض
بې فضول خرچې نه به سبب دې شي عسرت له قرض
اصل کښې شومتیا ده که ته اخلې سخاوت له قرض

لږه خوشحالي اخلې په غم ملاؤ مت کوې
خپل کور دې ودان نهٔ کړو د نورو منفعت کوې

ښهٔ کلکه په لاس کښې اوس رسي د خپل مذهب نیسه
پرېږده شاړې وارې لار د علم او ادب نیسه
پرېږده د هوا متابعت کلام د رب نیسه
پاسه اوس په سینه کښې د تعلیم د حکمت کب نیسه

وایي حمزه ښهٔ به شي که کار د کفایت کوې
خپل کور دې ودان نهٔ کړو د نورو منفعت کوې

*

* * *

# مراد علي ته

غوږ د زړه دې ماته کړه چې پوره مې په بيان شي
خدای دې هسې نه کړي چې په تېره پښېمان شي

اې زويه! د ستړي پلار په پند دې عمل اوکړه
اوکه نه اسمان که شي نو هم به سرګردان شي

دوه ورځې رڼا ده د دنيا د ستړګو نوره
زده کړه داسې خوی چې د ړو لويو چشمان شي

سنګال دې روژې هم وې ساتلې زه خبر يم
ته د جهالت له لوږې تندې په امان شي

ورځ د اختر راغله زه په ښهر ته به کلي
زه که درسره يم اوکه نه خوشادمان شي

ته خو ښه خبر يې د خپل پلار د مسکينۍ نه
واخله دوه روپۍ خو هسې نه چې پرېشان شي

دوه درچې ټوندون ته يوه ورځ اوبله شپه ده
وينې يې بيا اوده شي يې خفه کله شادمان شي



ACKU

دین او دنیا دواړه دیوړب د پاره واخله
او منه باطن او هم ظاهر چې مسلمان شې

کوم کار چې کېدے په دوه روپیه په یوه نه شي
یو چې وي په بل پسې به ډېر ستړے ستومان شې

دوه روپیه دي دوه که په بیل بیل جیب کښې یووي
تا ځکه چې شته دے خریدار به د سامان شې

پاتې چې یوه شي هغه کار به د یوې کړې
کار به شي نیمګړے په مینځ لار کښې به حیران شې

دین او دنیا دوه دي خو مقصد ورځنې یو دے
تګ وي یو منزل ته که په دوه پښې روان شې

بنه مراد علي یې چې په لاره د علي یې
لاره د یزید که اختیار کړې څه که خان شې

مشر به د قوم شې چې ادب کړې د مشرانو
خدائے به لوئي درکړي په ورو که مهربان شې

حرف د مدعا به په کتاب کښې د خپل قوم یې
غوره خاموشي کړه په هر کور کښې به ګویان شې

مه کوه پروا د غریبۍ د ګزارونو
څو چې نوري ګزار هومره به کلک لکه سندان شې

ته که د خپل پلار و میراث ته هوسېږې
علم هم ادب کړه اختیار چې پلار ته ګران شې

ACKU

داڅهٔ کمال نهٔ دے چې ځوانيه ته اورسېږي
هله به ځوان مرد ئ چې پهٔ علم ادب ځوان شې

سوال کړه لهٔ فاروقه کهٔ دې شوق د شاعرۍ وي
شوق بهٔ دې پيدا شي چې ناظر ته نګهران شې

ستا د تن پهٔ لوخي کښې اوبهٔ نهٔ دي ځخېږي
دا مې وره صفا رڼا ته مخ کړه چې روښان شې

مهٔ شه مقابل ئ چې د علم وادب نمر وي
سوري غونډې ته بهٔ لهٔ دې لارې ګرځان شې

نوم بهٔ د حمزه د سري توب جامه درنهٔ کړي
او نيسه لمن د نېک عمل ئ چې انسان شې

دا ګمان پهٔ خدائے لره چې تا بهٔ محتاج نهٔ کا
"څاڅکے سينه اشنا" اوسه چې بحر بې پايان شې

مهٔ کړه شاعري بې لهٔ ساداتو لهٔ الفته
پاک چې لهٔ پاکانو شې تلميذ به د رحمٰن شې

ښهر دے د علم محمد صلی اللہ علیه وسلم ور ئ علي رض دے
جهل ته بهٔ ورشې کهٔ د دوي نه روګردان شې

نشته ترهغې درلره سود پهٔ تصوّف کښې
څو چې قرآن ذده نهٔ کړې او پوے پهٔ سود او زيان شې

ښهٔ کمه پيران نو د هغو مريد چې نهٔ شې
پوے بهٔ پهٔ ځان نهٔ ئ تابعدار بهٔ د شېطان شې

رسي بولهب ته لار خطا چې د احمد کړي
حيف چې بې د شرعې نه په بل لوري روان شې

فرق په اصل نقل کښې کول مراد مندي ده
ځکه کښې سيند او سراب يو ته به نادان شې

اصل شريعت دے نور همه ئې حاصلات دي
يا فته ائينه کړه پېژندونکے به د ځان شې

ډک له تخمه ګل شه د نېکۍ که بيا فنا شوې
بيا دې تل بقا ده په معنیٰ چې ګلستان شې

لوے اختر

---

۱۳۶۱ھ

*

* * *

*

# طالبعلم ته

والدینو چې د غېږې نه جُدا کړې
یو نظر ئې پړندو سترګو ته عطا کړې

ته خپل غږ لره ګنبد ئې خبر دار شه
وس دې خوښه ده چې هر رنګه صدا کړې

خدائے وریځ کښې د حکمت د نیسان څاڅکے
په صدف کښې مرغلره ئې بها کړې

د مکتب د اُفق ستړیه لارویه
ته دنیا به لکه ستر د سبا کړې

د ژوندون ده یوه ورځ او هغه نن ده
دے پرون درځنې هر څه سبا کړې

لکه سترګه جهان وینې ځان دې هر دے
ئې عالم ته تماشه چې تماشه کړې

که ذره ئې خو زانګو ئې د انوارو
دې رهرو خو نمر د علم رهنما کړې



ACKU

چپُو د ومره سمندر د مُصیبت کښې
غوپې د دکړې چې اخر ئې مرجونا کړې

ته د تمام ئې د ذرۀ شمع تل بلیږې
په تیرو د خواوشا باندې ژړا کړې

ئې ښو دُ ونګے که په سترګو لیدۀ نۀ شې
په ذرو کښې سرایت لکه ضیاء کړې

په سبا بۀ د حمزۀ د سترګو نُور شې
نن په اور د عمل ځان که توتیا کړې

مشاعره مشن کالج پېښور ۱۹۶۶ء

* * * * *

# پښتون ته

وس کهٔ لعنت د غریبۍ نه پاکېدل غواړې ته
کهٔ د افلاس موذي مرض نه جوړېدل غواړې ته
کهٔ مهذب قامونو منځ کښې اودرېدل غواړې ته
غار ته پرېوتیه د ذلّت کهٔ پاڅېدل غواړې ته
بیا کهٔ معراج د ترقۍ ته رسېدل غواړې ته
رسم رواج پرېږده کهٔ بیا اوچتېدل غواړې ته

نن منتشره د ملّت دې شیرازه وینمه
تل زوړند سر دې د سود خور په دروازه وینمه
دَر په دَرشیه ورځ دې مشغول په درېوزه وینمه
بې اندازې دې په هر کار کښې اندازه وینمه
ولې په سیند کښې د غمونو ډوبېدل غواړې ته
رسم و رواج پرېږده کهٔ بیا اوچتېدل غواړې ته

ACKU

افسوس افسوس داغ دې په زړه د جهالت اولګېد
مرض د ستا په هستۍ څکه د عسرت اولګېد
رنګ د تهمت دې په لمن هم د عزت اولګېد
په فضولیاتو دې د پلار نیکه دولت اولګېد
ګوره تعلیم که له دې د نحسه رغېدل غواړې ته
رسم و رواج پرېږده که بیا اوچتېدل غواړې ته

که عزت غواړې اعتصام په جعل الله کړه پاڅه
څه د اسلافو نمونه ځان کښې پیدا کړه پاڅه
صادق مومن شه زړه فارغ له ماسوا کړه پاڅه
واخله افتاب د علم شپه په ځان سبا کړه پاڅه
که په دنیا کښې لکه ستورے ځلېدل غواړې ته
رسم و رواج پرېږده که بیا اوچتېدل غواړې ته

سرفروشۍ دې پخوانۍ د مسلمان هېرې کړې
قصې د فتح دې د روم او د ایران هېرې کړې
د استخلاف هغه وعدې دې د قرآن هېرې کړې
د شجاعت دې کارنامې هم د افغان هېرې کړې
مخ کړه مذهب ته اوس که بیا پورته کېدل غواړې ته
رسم و رواج پرېږده که بیا اوچتېدل غواړې ته

پښتونه وایه د مذهب نه دې مخ ستون شو ولې
لږ خو ځان پوې کړه چې خوراک دې ځګر خون شو ولې
نن د اسمان د لاندې تنګ په تا ژوندون شو ولې
ستا په حشمت د عسرت پوړې مېړتون شو ولې
کباب د سیخ شوې یو خوا بل خوا اوړېدل غواړې ته
رسم و رواج پرېږده که بیا اوچتېدل غواړې ته

تازه شراب د زړه په جام کښې د یثرب واچوه
او هم چاشنې پکښې د علم او د ادب واچوه
عمل د پاره لمخامخ کلام د رب واچوه
په زړه کښې شوق د ترقۍ د لوې طلب واچوه
بیا که په دَر د پاک الله کښې قبلېدل غواړې ته
رسم و رواج پرېږده که بیا اوچتېدل غواړې ته

بې دریغه ستا په غلامۍ راځي ملال پښتونه
تا نه حمزه په ډېر ادب کوي دا سوال پښتونه
مېږ په ګرداب کښې چې یې ځان دې کړه سنبال پښتونه
په ډوبېدو یې څه خو ځان ته وکړه خیال پښتونه
که مرغلرو پسې نن غوپه کېدل غواړې ته
رسم و رواج پرېږده که بیا اوچتېدل غواړې ته

مشاعره د پېښبود د ډېرېو سنه ۱۹۳۸

# د زلمي افغان سندره

دا نظم ما د افغانستان د حکومت د هغه اعلان
په سلسله کښې کابل ته استولے وُو۔ کوم چې هغه
د قامي سندرې د اِنتخاب په سِلسِله کښې کړے
وُو۔ په دې موقع د سرحد نورو شعراؤ هم ليکلي وو
سنه ۱۹۲۵ء (حمزه)

نوے پسرلے دے زهٔ دګل هسې خندان يم
نن لکه د سروې په چمن کښې خرامان يم
زهٔ د قامي فتح او ظفر بلند نشان يم
زهٔ زلمے افغان يم، زهٔ زلمے افغان يم

نوے پسرلے نوې ځواني نوي ګلونه دي
دي زاړهٔ خوبونه ولې نوي تعبيرونه دي
زهٔ پخوا تېر شوے ددې خپل چمن خزان يم
زهٔ زلمے افغان يم زهٔ زلمے افغان يم

داغې پسرلې جوړ جذباتو کړو محشر زما

اخلي د نزهت نه دچمن بوسې نظر زما

وایمه تامې سندرې زهٔ هزار داستان یم

زهٔ زلمې افغان یم زهٔ زلمې افغان یم

نن هغه زما دغم نفس سبا دباغ شو

داغ د سوي زړهٔ مې دتامې تېروچراغ شو

ساه کښې مې شمیم دګل پهٔ منځ کښې ګلستان یم

زهٔ زلمې افغان یم ، زهٔ زلمې افغان یم

زهٔ هغه کالبوت یم چې ټوټې ټوټه وران شوې یم

پښتونولانه ې د غېرو وران ویجاړ بیابان شوې یم

تېر شو محشرونه زهٔ وس بیا نوې جهان یم

زهٔ زلمې افغان یم ، زهٔ زلمې افغان یم

ګېر یمه مدام د انقلاب پهٔ طوفانونو کښې

بنده مې کشتۍ وي دحیات پهٔ ګردابونو کښې

کور لرم پهٔ ګل کښې خو دبوې غوندې پرېشان یم

زهٔ زلمې افغان یم ، زهٔ زلمې افغان یم

زهٔ سوخته مدام د قام دمینې پهٔ مجمر یمه

اور د اِنقلاب مې وي پهٔ بجره کور وکریمه

سوزم خو ګډېږم دسپند غوندې شادان یم

زهٔ زلمې افغان یم ، زهٔ زلمې افغان یم

څوک مې چې په بلوسه د وطن څېرې راغلې دے
درمن د ژوندون يې ما په سرو لمبو سېزلے دے

ابر د بلا کښې يم خو تندر د اسمان يم
زه زلمے افغان يم ، زه زلمے افغان يم

زه يم چې مې جوش د شهادت دے موجزن مُدام
تُوره مې په لاس ترلې ما په سر کفن مُدام
زه يم توريالے څه شي که بې سرو سامان يم
زه زلمے افغان يم ، زه زلمے افغان يم

تاؤ يې چې د نمر فنا کړي زه هغه شبنم نه يم
نقش يې چې فنا کړي استبداد هغه قدم نه يم
خورم چې ګذارونه لا قوي لکه سندان يم
زه زلمے افغان يم ، زه زلمے افغان يم

زه هغه صدا يم چې ګنبد کښې وي ګذار زما
غوځ يې کړي ستم د فلک بيا پيدا شي سر زما
غوځ مې شي سر بيا پيدا شي شمع شبستان يم
زه زلمے افغان يم ، زه زلمے افغان يم

خورم چې ګذارونه لا قوي شم د سندان پشان
ورو ورو ترقي کړم په تنکسه کښې د ايمان پشان
قحط که دښمن مې په وطن وي زه باران يم
زه زلمے افغان يم ، زه زلمے افغان يم

فقر و شجاعت یې دي زده کړي د حیدر رضؓ څخه
عدل و سیاست یې دي زده کړي د عمرؓ څخه

صدق ابوبکرؓ سخاوت کښې زهٔ عثمانؓ یم
زهٔ زلمے افغان یم، زهٔ زلمے افغان یم

زهٔ لکه مزرے یمه پښه ده شجاعت زما
زهٔ حمزه افغان یمه پښه ده شجاعت زما

هم په باغ د شعر کښې طوطي شیرین بیان یم
زهٔ زلمے افغان یم، زهٔ زلمے افغان یم

ACKU

# یوه نعره

قام ولي لکه لیلیٰ ته چې مجنون شه
د خپل قام نه شه قربان هله مفتون شه

ته تر ډېره لکه بزے وُځربېدلې
راشه اوس خودې ځان اوپېژنه شپون شه

په معنیٰ کښې بهٔ محیط لکه فلک شې
د خپل ځان په معرفت سر په زنګون شه

که په خپل وبله بیل چې مونږ دې یو دے
ډېرې پرېږده یوې لارې ته راستون شه

ګوتې ږده د وخت په نبض د قام شاعره
په تېښته زمانه کښې افلاطون شه

نوے پښت وته دې نن ځلند سبا کړه
ګویا تک دې نه وو تک هغه پرون شه

د ملت زګونه پلے دې مرغزن دے
د غیرت له بوشه وینه د ډوندون شه

تهٔ پهٔ باغ کښې د سیالۍ بهٔ لکه ګُل شې
خو کلی غونډې اشنا د زړهٔ چاوُدون شه

ازاده ځې د ازادو پهٔ ښّهر اوسه
ویرېدلیه اوس لهٔ غاره رابېرون شه

د حمزه کلامه اوس درته حاجت دے
پهٔ غافل قام کښې تاثیر اوکړه افسون شه

مزار د عبدالرحمٰن بابا

۲۷ م رمارچ سنه ۱۹۴۹ ء

*
* * *
*

# دچیلم نعره

ګورم په یوه سترګه هرڅاته وفاداریم
زهٔ دهرچا یاریم
څوک مې چې راوبلي خدمت ته يې تياريم
زهٔ دهرچا ياريم

اور د بل د پاره تل په سر باندې وي بل زما
غم ژړا وي مل زما
خلق مې بند بند کړي جدا وي مېلمه اجل زما
زور کښې وي غوبل زما
مرم او ژوندے کېږم خوش دم ټک دخماريم
زهٔ دهرچا ياريم

هغه صوفي نهٔ يم چې معمور شم په خنداشمه
بې اثر صداشمه

زه هغه صوفي يم چې شم ډک نو په ډراشمه
ويره کښې سېواشمه
خېښمه کښې فرياد کوم په خوله بند له گفتار يم
زه د هر چا يار يم

ده مې يارانه د هر هندو او مسلمان سره
زوړ سره او ځوان سره
پرېښبودم جهود ما نقصاني کښې گمان سره
نه مې پرېږدي ځان سره
پاڅېږ او سکرتونه خوښوي خو زه يې بيلاد يم
زه د هر چا يار يم

زه په پاس انفاس او حبس دم کښې مشهور يمه
تل په زړه ناسور يمه
اور مې بل په سروي خو حق کوم منصور يمه
هر چا ته منظور يمه
خوند يې رانه نه ځي همېشه ډک د خمار يم
زه د هر چا يار يم

زهٔ یمه چیلم تا لره خپل دروں خراب کړم
خپل جګر کباب کړم
پاک درله لوګے د خپلې خېټې په تالاب کړم
خپل ځان په عذاب کړم
ګوره نمونه پخپله زهٔ د خپل ایثار یم
زهٔ د هر چا یار یم

زهٔ یمه خادم خو د خودۍ ډک بې نیاز یم
سوز یمه هم ساز یم
خوله مې چې په خوله کېدې نو ستا د زړهٔ آواز یم
زهٔ ګویا یو راز یم
خوب راله د شپې او ورځې نهٔ راځي بېدار یم
زهٔ د هر چا یار یم

ګران یمه په خلقو چې لذت د مے خمارې زما
فیض د مے جارې زما
حال دیو دبل نهٔ وایم ګوره عیارې زما
دا پرده دارې زما
هر سړے مې یار ګڼي زهٔ داسې پرده دار یم
زهٔ د هر چا یار یم

ACKU

تل چې سوزېدهٔ اوکړېدهٔ د چا عادت نهٔ وي
هیڅ طمانیت نهٔ وي
سوزم ځارم زهٔ خو ې لهٔ ځایه حرکت نهٔ وي
ما سره وحشت نهٔ وي
یم چې صاحب شوے د مقام نو برقرار یُم
زهٔ د هر چا یار یُم

مل چې د تېرې سره پهٔ نیمه شپه سکوت شي
تورتم پهٔ ناسوت شي
روح دې مضطرب لهٔ غمه زړهٔ دې چې مبهوت شي
سخت دې د زړهٔ قوت شي
ډیو د خاموشۍ د ے ورسره کړ پهٔ پېکار یُم
زهٔ د هر چا یار یُم

زهٔ کم ظرفه نهٔ یم چې پخپله نشه موړ شم
اور نهٔ یم چې سوړ شم
لا بې د نشې قوت سېوا کړه چې زوړ شم
زوړ چې شم نو جوړ شم
هضم بې څو څو ځلې نشې کړې خونهار یُم
زهٔ د هر چا یار یُم

جوړ يُ کړو دوزخ دانئ تهمت پهٔ کلال نهٔ وایم
بد پهٔ فعال نهٔ یُم
څښتن مې چې ناپوهه هلکان کړي وبال نهٔ وایُم
پیلا د ته يُ حال نهٔ وایُم
بد یم پهٔ ظاهر خو پهٔ باطن د ښهٔ کردار یُم
زهٔ دهر چا بیار یُم

ډول چې شي خالي کړي اوازونه ډک دجوش دي
د پر پکښې خروش وي
زهٔ یُمه صادق چې شمه تش خوله مې خاموش وي
مل راسره هوش وي
نهٔ کړمه رضا څپله د نورو تابعدار یُم
زهٔ دهر چا یار یُم

څوڅوځله خلق پهٔ اور اوسیزي جګر زما
اوري شورو شر زما
ما خلق زهیر لا ولې سترګه نهٔ شي تر زما
ښکته ورته سر زما
زهٔ مضطرب نهٔ یُم همېشه پهٔ اِنتظار یُم
زهٔ دهرچا یار یُم

زۀ چې ژړا اوکړم اسویلي د بل په خوله کوم
کار د حکمت څۀ کوم

اوساتمه اوښکې د لوګي ساتنــه نۀ کوم
بد نۀ کوم ښۀ کوم

غم د اوبۀ خورچې کوي هغه زمینــدار یَم
زۀ د هرچا یار یَم

*

* * *

*

# نمر او ذرّه

## (نمر)

---

په سر تاج د پلوشو، د مشرق نه شم عیان
بس زما شي یو قدم، تر مغربه کُل جهان
ټوله شپه ئې راته ټک، د دُنیا رند و ذرّو
بینائي کړم درعطا، ټول وُجُود مو شي چشمان
پټ زما په تبسّم، سحر ستاسو د دُنیـــا
توره شپه وي په هغو، ترېنه شم چې زهٔ پنهان
زما کښلې پلوشې، د ژوندُون لـــرې کړې
هلته مرګ کړي حکومت، چې کُوم ځائې نهٔ یم عیاں
وشبنم ته کړم عطا، یو جهان د پســرلي
یا زما له هجره وي، د بُلبل زړونه لړزان
ذرّو ستاسو پرېشاني، تر هغه به وي په ځائې
چې زما په جمعیّت کښې، فاني نهٔ کړي خپل ځان

ستاسو نیمه خوشحالي، هم مو برخه عمر نیم

کله یې تښې ړندې، کله پرانېزي چشمان

کړئ تکل مې د وصال، بښه د راشئ کهٔ راځئ

پهٔ پرده رڼا شي خهٔ، څو چې ځان نهٔ وي روښان

راشئ زده کړئ رانه عقل، لکه اخلي چې رڼا

ځان پهٔ ما کښې کړئ فنا، چې مو ژوند شي جاودان

بې زما نه ده وراني، پهٔ دُنیا کښې هر طرف

دا خو زهٔ یم چې جهان همه دے پهٔ ما ودان

# ذرّه

تهٔ زما د اجتماع، یو وُجود یې اسماني

زهٔ د زمکې پهٔ تورتم ته اسمان کښې نوراني

نهٔ پهٔ ما کښې وه رڼا، نهٔ پهٔ تا کښې وه رڼا

رڼا داوړي جمعیّت، رڼا یوسي پرېشاني

زهٔ مُسکی ستا پهٔ رڼا، ستا رڼا پهٔ ما رڼا

شو فانوس زما د تن، ستا وُجود لا عریاني

د افراد و اِتحاد، پهٔ افرادو شي حاکم

اِتحاد لري طاقت، وي طاقت حکمراني

عقل تل د جز نه دے، خو طاقت پهٔ کُل کښې وي

د مشیر پهٔ مشوره، تل چلېږي سُلطاني

ACKU

زۀ هم ستا لۀ اصله يم خو ناقص مې دے وجُود
دکمال پۀ اِکتساب راغله ستا نه اسانې

کۀ ماشُوم مې دے وجُود، خو ذانګو دۀ ستا دنور
د ماشُوم پشان لۀ تا، تهوله ورځ وي ننګرانې

زۀ پرېشانه پخپل ځان، تۀ اودۀ پۀ خوارۀ خوب
تۀ پرېشان سکون اشنا، زما ژوند پرېشانې

تا غني کړي لۀ رښا، جمعيّت او اِتحاد
ما طالبه کړې دضو، پرېشانې او ځان ځانې

هم ديو اصل افراد چې شي بېل لۀ جمعيّت
کړي بېلتون يې کالعدم، پۀ نظام کښې تابانې

اجتماع وي داکثر، نۀ دکُل وي اِجتماع
کُل هغه چې جُز لري، جُز وي کُل لره بانې

هرڅۀ کُل نه هرڅۀ جُز، ځنې کُل او ځنې جُز
د ورانه او ودانه، اِتحاد شي ودانې

د ورانه چې دے وجُود، دے صفت د ودانه
وي حاصل يې ودانې څو چې ښېښه شي ورانې

پۀ وجُود کښې دشجر، دتخمُونو خزانه
پۀ دانه کښې وي دُنيا داشجارو نهانې

ستا خودي زمانه دۀ، ستا ظهور زما نه دے
شي ښکاره دراختو، ستا زما نه نښانې

تۀ يو نمر لويه ذرّه، مُونږ ورې يو همه نمر
تۀ بۀ هم يې چې ترڅو وي زمونږ زندګانې

# چغه

يا خو مهٔ ژاړه لهٔ درده يا دې درد لره دوا شه
اموخته د بارانو نو څهٔ خو باغ لره سبا شه
كهٔ شاهين يې پهٔ صفت كښې د ملګرو نه جُدا شه
كهٔ كا متريئ پهٔ معنیٰ كښې نو د سېل سره همرا شه
يو خو شه د ربّ تعٰ د پاره كهٔ هغه نه يې نو دا شه

پهٔ فرېب او رنګينئ د زمانې شوې پهٔ لشه كښې
كړې لړم د زمانې خلقو ته زهر پهٔ لشه كښې
تماشا بهٔ شې مشغول كهٔ نهٔ شوې خپله تماشا كښې
دا وړه يو د خوشحالئ سحر پهٔ هره پلوشه كښې
لكه نمر شه را دبره د قامې تيرې رڼا شه

دې ناقص پهٔ احتياج نورې كچكول د هلال وينم
چې ته خو څې هومره لوېښږي پهٔ رفتن كښې كمال وينم
پهٔ معنیٰ كښې د بوډې د تمال د فكر دې تمال وينم
ډک دمے باغ د تصوّر پهٔ رنګينئ د خيال وينم
شه دوران د زمانې را شه واپس لكه پخوا شه

پهٔ خوبن لن دِانتها کښې د بحر و ابتدا شه
اسوېلي بهٔ دې ژوندے کړي د فطرت ورشه فناشه
یا پهٔ شونډو د فطرت یو تبسم حیات افزا شه
رنګ او بوئ د ګل دپاره شه پهٔ زړونو کښې وفا شه
چې کړمې د ژوند خوره کړي د سپرلي د زړهٔ درزا شه

وینښ شه پاڅه د وطن د ارمانونو مُنتظره
دخمار ډکه نظره غریب نیولیه زیړه نمره
ده سودا دې کوږو کړه بیا دې تن ته راشه سره
اے اُفق نه دقامې دبدب خفه رنګین سحره
تهٔ عروس د ترقۍ لره ذلمے د مُدعا شه

داګمان او نهٔ کړې خدائے دې نقص ابنيے پهٔ فطرت کښې
مُدعا د کاریګر خوي ښېګړه پهٔ صنعت کښې
خو خواري شته د منزلو هر اِنسان لره رفعت کښې
کهٔ راحت شته پهٔ دولت کښې نو کُلفت هم پهٔ دولت کښې
تکېدو ته ځان نیسه رنګ دې اوباسه حنا شه

درکښې پاتې وس صفت د اورکې نهٔ شو پښتونه
د مذهب نشته دنیا رڅخه پاتې شوې لهٔ یونه
چې عمل دې پاتې نهٔ شو بې ثمر دې دي وختونه
چې کوم ځای نهٔ وي ضربونه ملته نوي اوازونه
ځان کهٔ نغاړې لهٔ غفلته تن د عیش لره جفا شه

بیا د جوش د انفعال نه گریبان پاره پاره کړه
دا ذلّت او جهالت دې د خپل کورنه اواره کړه
بیا دنیا د اسلامي مینې د شمعې رانښکاره کړه
پهٔ دنیا لکه د نمر شه ننداره ، هم ننداره کړه
چې بېکاږې چرې نهٔ وي د حمزه د زړهٔ سبا شه

مشاعره پېښور ۲۵ ، مارچ سنه ۱۹۷۰ء

*

* * *

*



ACKU

# خوشحال خان بابا د پښتو ژبې په حقله

په شپږد وکښې یوه مشاعره د محمد ثمین جان خان وزیر تعلیم
صوبه سرحد د صدارت د لاندې په ۲۳ جولائي ۱۹۶۲ ء شوې وه. په
هغې کښې ما دا نظم اوروله وو.

کۀ د علم نوش حرامو ته سرکه یم
نو د ژبې کجر وانو ته تیندک یم
د پښتو ادب چمن لره درک یم
د سخن په بڼ کښې بوټې د مینکک یم

چې احساس مې د اساس د چپل زبان کړ
مرمفهوم مې په ژوندې ژبه ګویان کړ
څوکۀ ژوند مې مصائبو سرګردان کړ
خو د جهل جل وهلیو ته پتک یم

ما چېل کښې د تشبیه د ناوې خال کړل
په علمې سرمه ېې تور لېمه د خیال کړل
د مثال په دنداسه ېې شفق حال کړل
د بندش په انګیو کښې نمک یم

د صحت ېې قافیې ته حُلا ورکړه
په سم بحر ېې وېنا لکه ګوهر کړه
هر ترکیب ېې رنګینه ردا په سر کړه
د تجنیس په باغ کښې څانګه د ېړبک یم

د اِبهام مارغه د فکر په جال نیسم
حال د خپلې دوانۍ نه په قال نیسم
د الفاظو رعایت په کمال نیسم
اور د شوق ېې وي په واک کښې مرڅنک یم

هم پښتو ده زما ژبه هم ېې ننګ دے
هم ېې خوئ دے څپله ژبه هم ېې رنګ دے
په پښتو ېې د اورنګه سره جنګ دے
خوين خوږ و لږ ه ترخو ته پهلپهک یم

زۀ کۀ نن د علم پریوزم څۀ ارمان شته
چې وشاته یې سپوږمۍ ستوري روښان شته
ډېر دي ډېر فوزيات لۀ ډېرو کاظم خان شته
د دې صفه زما لمحۀ زۀ یې کوچک یم

زۀ باده یم د سخن ترې مخمور شته
زۀ شفا یم د پښتو ادب ناسور شته
زۀ دوا یم د پښتو ژبې رنځور شته
د اکسیر و غوښې بس ورته یو کک یم

عبارت د پېغلو ځونو د ځوانۍ نه
د ګلونو د نکهت او رنګینۍ نه
د بلبل د اسوېلو او پرېشانۍ نه
نقش شوي د احساس په مردمک یم

حقیقت دے ورته نۀ وایم سترې
لا وختونه کړي زما په خوله خبرې
زمانه ده یو مارغه، زۀ یې وزرې
بې نیاز د واقعاتو لۀ کومک یم

نهٔ یواځې ژبه وریم زور مې ډېر دے
پهٔ ډېښنه مې تل یرغل لکه د شېر دے
کهٔ مې عمر پهٔ شماره ترشپېتهٔ تېر دے
خو پهٔ کار د سوارۍ لکه اُزبک یم

د شېطان لهٔ ښنګه مالرې کړه ځوره
د خودۍ جوهر مې بیل کړ لهٔ غروره
د افغان پهٔ ننګ مې اوتړله توره
ننګیالے د زمانې خوشحال خټک یم

څوک نه چې د ادب به شې ښاغلے
پرورش ته حمزه اوسې ملا تړلے
ماده ستاسو د ادب پېرده ساتلې
لا تراوسه مو د ژبې تربوزک یم

*

* * *

*

# خوبونه

چې دې زلفو ته نظر کړم لیونې خوبونه وینم
چې دې اوو ینمه سترګې غرځنې خوبونه وینم

شوګیرې کړې غزونې ستا د سترګو شبستان کښې
اوښکې راشي بیا فنا شي لکه ستورې په اسمان کښې

غریب دې لوبې کړې په شونډو ستا بې خوده ځواني رپې
سلګۍ راشي ستا مرۍ ته یو لوګن شي په چشمان کښې

ستا مرکز د نظر نشته دخُمبار کړې دې تلې
دلېمو تښې دې بېړته، مېلمه نشته په مکان کښې

خیال دې بل جهان ته تلے، خپله ته هغه جهان شوې
زار دې دې خبرې نه، ګلشنې خوبونه وینم

نسیم نرمه شانه راوړه، سنګار ېږه چې سحر دے
خوب په نیم پرانستو سترګو، نیم دننه نیم بهر دے

غمزونې ارخ بدل کړ ارمانونه راویښیږي
پټ پټانې پلوشې کړې، وار خطا دِ ستا نظر دے

ACKU

اُور د حُسن دې تازه شو، اسوېلے ترینه لوګے شو
یو پوکے دې شباب ورکړ، ستاګوګل دے که مجمر دے
تولہ تماله اِضطراب يُې، جوړ نغمه د چپل شباب يُې
ارمانونه مې رقصان دي سپېلني خوبُونه وينم
چې ته لاس په سینه کېږدې زما فکر پخپل زړهٔ شي
چې د زړهٔ مې خولې ته راشي ستا د زړهٔ نه لاس په خوله شي
شونډې کېکاږدې په غاښونو شي د زړهٔ، په زړهٔ کښې پاتې
ضبط مې سترګو ته راشي، سره کړوینه او به شي
داسې سم اُوبه دهٔ بانډه مې د قسمت د کوتاهۍ نه
د کافرو تورو زلفو، خوئې اوبوئې واخلي کابنهٔ شي
وې هغه خمارې سترګې، خوګړي ژوند په مېړتون مې
په دم خوښې تصوّر دې غرځني خوبُونه وينم
ديرون په التفات دې نن به څرنګ سُود زما شي
د نن شپې زړهٔ به روښانه، په رڼون تللي دنيا شي
معشوقه بیا مروره شي چې کوم ساعت پخلا شي
شي اِثبات يُې په خوله نفي، نارضا ښکاري رضا شي
څهٔ چې وايم ته هغه کړې، هغه مهٔ کوه چې وايم
بویه بیا دې په خوب وينم، بې مقصده به سبا شي
د هجران په استانه کښې، د تېر کال په بستره کښې
ذهٔ حمزه د خيال په سترګو سبزني خوبُونه وينم

مشاعره مشن کالج پېښور سنه ۱۹۴۶ء

# پریشان خیالونه

کال زلمے شو خوشحالي شوه، فطرت بل کړه څراغونه
لکه ستوري دي په جام کښې د لاله د زړه داغونه

د مینوښې په دارشوې د کال له رعایته
اشتیاق د انتظار شو، د سپرلي له برکته

ښکلي هم لکه د ګلو رنګا رنګ رازونه کاندي
انکار نه کړي له د وصلته، خوشکوه کړي له فرصته

د شفق په حِنا سره کړه د فطرت ناوې لاسونه
کړه رنګین زما نمابنام هم د ساقي د سترګو سته

کال په کال چې د ګلونو پیماني راځي د دنیا سته
خلوتیانو سبق واخست، د قدرت له اشارته

د رندانو ملګرتیا ئې چې خلافه له مشرب ده
ورته غوره میکشي کړل، د باغونو نه راغونه

د سپرلي نرګس لیمن دے، که پیاله څنې کړه ده
د ے ازاں د انتظار که، د سوسن ژبه تروه ده

دا کړه وره دا ادم ګل چې، څه مهمن غوندې ښکارېږي
جوړ په ځ ئې پوري شوې، د ګلاب د ګل لمبه ده

ننګ تهکور دے پهٔ مشام کښې د راښېلو کاروان راځي
ئي حواس ئے سندره اېن کړل، پهٔ دُوړاکښې بو رچمبه ده

د سپرلي پيغام پهٔ شونډو، څهٔ رنګ رنګ ګلونه راغلل
چې جهان ئې پهٔ سر واخست داوادهٔ دےکهٔ سده ده

د فضا دمېخانې نه ، دشبنم باده ورېږي
کهٔ صحرا ده کهٔ ګلشن دے همه ښکاري ايا غونه

دي مسکي غونډې وختونه ، دبهار پهٔ ائينه کښې
زمانه شيندي ګلونه ، د رفتار پهٔ ائينه کښې

دمستۍ لړې پلو دے ، طاوسي دي منظرونه
مستقبل ښکاري مدهوشه ، دخمار پهٔ ائينه کښې

ګل د يو بل ائينه شو، يو او بل ته ګوري خاندي
ائينه پهٔ ائينه کښې ، يار د يار پهٔ ائينه کښې

مجبوريو غرونډۍ دي اچولي پهٔ زاهد کښې
ګل رخان ورته موسېږي، د اختيار پهٔ ائينه کښې

پرېشانې ده خوري زلفې دڅونډون زړهٔ پهٔ درزا دے
شول د بوئې غونډې خوارهٔ دخلوتيانو دماغونه

زاويه کهٔ چرې نهٔ وي دمېن د سترګو تنګه
پهٔ نظر د محويت کښې ګل جدا ښکاري لهٔ رنګه

دهستۍ پهٔ پسرلي کښې دا رنګونه دکوم مخ دي
د سحر پهٔ زيرې نمرکښې، ښوس ادکړه له کړ ونګهٔ

ئے پهٔ پښتو ژبه کښې جړوبې يا ابشار ته وائي۔

پهٔ نظر کښې ئې دنیا وي پکښې ځائے د فانوس چرته
دوه لیدل څو مینه نهٔ ده، راشه زده کړه لهٔ پتنګه

پهٔ طلب د مغه څخ کښې لهٔ مرکزه مهٔ جار وځــــه!
د خوشبوئ غونډې بهر شه هم پشته د ګل تر څنــګه

پهٔ ثنا کښې ئې بلبل شه، پهٔ اخفا کښې لکه ګل شه
خندنے لکه بهار شه چې ماحول دې شي با څونه

پېښور
اپریل ۱۹۲۵ء

*
* * *
*

ACKU

# جونګړه

راڅه چې یوه جوړه کړو جونګړه په څنګل کښې

راڅه چې د وصال جوړه دنیا کړو په دنیا کښې
د ګل په خاموشۍ او د بلبلو په نوا کښې
پیدا چې د خندا نور افشاني کړو په ژړا کښې
ترهغه ګورو یو بل ته چې ورک شو په یو بل کښې
راڅه چې یوه جوړه کړو جونګړه په څنګل کښې

ډیوه د مشغولا شي زمونږ بله چې نماښام شي
نماښام د لیلی لاس کښې د شفق د میو جام شي
بد ځان به شي له پامه چې دستورو په مونږ پام شي
د مینو پټ پټانې وي د سترګو په څنبل کښې
راڅه چې یوه جوړه کړو جونګړه په څنګل کښې

منّت د پاره پېغلې پلوشې کۀ د نمر راشي
جولۍ کۀ غوړولې راته ګل پۀ بستر راشي
هر څوکۀ پرېشانې پۀ لاس نسيم د سحر راشي

ستا سر دې وي زما او زما سر ستا پۀ څنګل کېنې
راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه پۀ ځنګل کېنې

چې جوړ کړو د سپوږمۍ د پلوشو ځنې تالُونه
ځُوټې چې نرۍ نرۍ راله راکړي نکهتُونه
اغوستي مو د ګل د رنګينۍ وي څادرُونه

ترهغه وخته زانګو چې وخت ورک شي پۀ زانګل کېنې
راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه پۀ ځنګل کېنې

جذبې چې د پرېشانه غونډې سينې کړو راجمع
دوه شوې زړونه يو کړو ترې پېدا کړو يو شمع
ساز واخلي پتنګان چې شي راټول د سوز پۀ طمع

احساس چې فرق او نۀ کړے شي پۀ سوال او سوزېدل کېنې
راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه پۀ ځنګل کېنې



ACKU

فضا د پسرلي چې ګل ورينه خندا کاندي
ستا مسکې شونډې چې وريښميه خندا کاندي
ژلمې چې د ارمان سحر جبينه خندا کاندي
پېغلې درته د شپې ناڅنه ستورې په اوربل کښې
راځه چې يوه جوړه کړو جونګنه په ځنګل کښې

راځه چې شو بهر د دغو شپو ورځو له جاله
پرواز په داسې حال اوکړو چې اووځو له حاله
يو حال داسې پيدا کړو چې موحال اوځي له خياله
بيا خيال يوه کړي کړو د وصال په سلاسل کښې
راځه چې يوه جوړه کړو جونګنه په ځنګل کښې

وتلي اسوېلي مو چې دريځ هلته د نور وي
هجران شړلي اوښکې مو چې څاڅکي د سرور وي
برېښنا مو د ښائست د تبسم د زړه په طور وي
احساس چې شي د خود او بې خودۍ په جار وتل کښې
راځه چې يوه جوړه کړو جونګنه په ځنګل کښې

جهان مو يو جهان وي د جهان د حِس نه لرې
مکان وي يو مکان د لامکان د حِس نه لرې
ټل دواړه يو حمزه يو د وجدان د حِس نه لرې
ازل ابد چې دواړه شي فنا زمونږ په ټل کښې
راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کښې

جنوري ۱۹۴۴ سنه

*

* * *

*

ACKU

# پښتنه فقيره

زېړې زېړې پلوشې شوې د افق نه مسافرې
شفق اووې چې د ورځې لاړې اوسولې وزرې
لږ يوه بله په ستر ګو، شروع ستوريو کړې خبرې
د ښکالو کډې بارېږي، خاموشي وا يئ سندرې
ذړه بهرته لکه ګل ځي، د سپرلي رنګين نما ښام دے
بې غمي لکه مارغه ده، تماشه لکه يو دام دے

عنبري ګردونه ګرځي، په رو رو پښه نيولي
جوړ سپرلي دي څادرونه په فضا کښې څنډ وهلي
لوئ واړه لکه ګلونه، د خندا نه غوړېدلي
لکه وي چې نکهتونه، بې مقصده راوتلي
صدقه د پسرلي ده چې حواس ئې هم غنيان کړل
کړه چشمان ئې مشامونه، مشامونه ئې چشمان کړل



ACKU

د هلال کچکول ته ګوره ذرهٔ ته د اږ ودګرهٔ محتاجه
کهٔ نوري وي چې ناقص وي، نهٔ وي خلاص لهٔ احتیاجه
پهٔ رفتن رسي کمال ته، سبق زده کړه لهٔ امواجه
لکه وخت د تګ صفت چې بهر نهٔ کړي لهٔ مزاجه
کړي چې شپه د افلاس تېره، سپین سحر د غنا مومي
د تېرو له برکته، ستوري څېر د رڼا مومي

شفق نهٔ دے دا د وږمې، د حسن د وینو رنګ دے
دا همه پهٔ کائنات کښې د ژوندون د پاره جنګ دے
دا هستي لولي ګډیږي خو جهان ورله تنګ دے
د غم شور چې اوریدهٔ شي، د پانړو شرنګا شرنګ دے
د وجود پهٔ سیند کښې واړه دا اشیأ دي حبابونه
د ګدا کاسه پهٔ سرشي، د ژوندون لهٔ زړهٔ چاودونه

همه ذرهٔ وي خو پیاله شي، ګل چې اورسي کمال ته
وشبنم ته خندنه شي، د ګل خوله پرانیزي سوال ته
د بلبل همت پېدا شي، سوال هم شي بنهٔ وي خوشحال ته
د رېغه وے خو په دا پوهه چې زاري کوي تمثال ته
ګل د څهٔ د پاره خاندي د بلبل پهٔ زړهٔ کښې څهٔ وي
څوک چې سوال کړي لهٔ پریشانهٔ هېڅ جواب ورله نهٔ وي

تول اشیاء لهٔ خپله نقصه، دیو بل خېرات خوارهٔ دي
څوک اوبهٔ دي پهٔ سکروټو، څوک لرګي د تنارهٔ دي
د پیاده وجود چې شته دے، پهٔ دُنیا ځکه سپارهٔ دي
کهٔ چارپای چارپایه خور دي، سرې هم سرې خوارهٔ دي

دیو جنس کمے پوره شي، همېشه لهٔ بله جنسه
خو بښېګړه بې غرضه چرې نهٔ کړي اِنس لهٔ اِنسه

دِانسان وختونه تل دانقلاب پهٔ اُور ستي وي
زمانه یې وي تبجنه، واقعات یې اسویلي وي
حسرتونه دتعمیر یې، سامانونه تعمیري وي
بې حاصله یې حاصل وي، چې حاصل ترې نه لوګي وي

تږغوني لهٔ فطرته، پهٔ کوشش څهٔ خندني شي
د خندا چپې یې راشي، خو پهٔ خوله کښې یې زبېږي شي

زهٔ پهٔ دې فکر کښې محوه بې مقصده تلم روان وُم
پهٔ ظاهر کښې چپ نکهت وُم، پهٔ باطن همه بیان وُم
لکه ګل وُم لهٔ صورته، خندنے بښکارېدم ځوان وُم
جمعیت مې ظاهري وو، پهٔ باطن کښې پرېشان وُم

دِانسان دنفسیاتو، دکتاب مطالعه کښې
وُم ورک شوے کهٔ شور ورک وو، پهٔ بازار قصّه خوانه کښې

ددې فکر په دُنیا کښې تلمه تلمه تلمه تلمه
د وجدان پښې پې روغې نهٔ تیندک ډو، نهٔ لوېدمه
نهٔ خپل ځان لهٔ ماخبرؤ، نهٔ له ځانه خبرېدمه
ؤم ښکالو په خپل جهان کښې خپل جهان نهٔ اورېدمه
خوشحال غږ د یو کوچوان پې، په دُنیا کښې زلزله کړه
د بچ بچ صدا پې قطع ، دغه سترې سلسله کړه

دیو شور نه رابهر شوم دلته هم هغسې شور دے
ژوند خو یو خاموشه سیند دے، خو دا شورئې همه زور دے
دا هستي چې همه شور ده ، پکښې نقص لکه اور دے
د انسان فطرت اخستے، اضطراب لکه د پور دے
نهٔ خوراک دے نهٔ پوشاک دے چې انسان ترې سرګردان دے
په دریاب دسرې توب کښې دا خواهش دے چې طوفان دے

یو نوا بل نوا لګیدلې ، په بازار کښې دوکانونه
چا په مزکه غوړولي ښکلي ساما نونه
چا خوانچې په سراخستې، کړې په زوره اوازونه
یو او بل ته انسان ایښې، خپل معاش لره داموَنه
چې څهٔ ورکړي څهٔ به واخلي چې څهٔ ورنهٔ کړي څهٔ چرته
چې څهٔ را نهٔ وړي دے ځائے ته، راته اووایه وړهٔ چرته؟

دا وجود مې چې تاؤجن شو، رانږدې خو چړته اور دے
د مچانو نه سوا چې د سرو وربانديې شور دے
امرسو ته اشاره کړي، څوک حلوا وته نسکور دے
دا دوکان د لاهوري دے، چې د خلقو باندې زور دے
زهٔ برسات وته راستون شوم چې ضیاء او قمر وینم
چې دا روح او بدن وینم چې لمحهٔ او نظر وینم

چې ناڅاپه یوه پېغله پهٔ ټوک ټوک څادر کښې نغښتې
ریندے پرې د افلاس وو، د یخنې لاسونه سکښتې
داسې ښې یې چاؤدې چاؤدې لکه وې د برسات خښتې
ټیټ نظر ته یې حیا وې چې ورځه تښته کهٔ تښتې
پهٔ سپین مخ گردونه خیري، سپوږمۍ تر تندر وه بیولې
د ښائست دا اسمان بیا شت وه، خېر غوښتو ته راوتلې

وه پهٔ لاس کښې یې پیاله، کهٔ د پښتون یې مهره زړهٔ وو
گویا ډک وو د تش تیا نه ځان ته ډک وو، بل ته نهٔ وو
هر اندازې یې احتیاج وو، هر اندام یې گویا خولهٔ وو
ملگرتیا یې ژبې نهٔ کړه، چې مقصد غرض یې څهٔ وو
ریبده یې غونډه زنه، د معاش سینه یې چاک وه
پهٔ سپرلي کښې یې د غاښو، گلابې یخنې خوراک وه

ACKU

هغه مراوې تورې سترګې چې شوخي پکښې ژړا کړه
شبستان دهغه قام دې چې ويښ ويښ اوسه سباکړه
په ککو کښې جمع شوو ، اسوېلو ئې مشغولا کړه
د ښو په سر په رقص وې ، دوه درې اوښکو ئې بلاکړه
دادوه درې ستورې وُو پاتې په آسمان دغريبۍ کښې
لاړل پرېوتل فنا شول ، په کړېوان دغـريبـۍ کښې

ګورې ګورې تورې زلفې ، بې ترتيبه راخورې وې
يا په سر ددې فقيرې ، دپښتون دبخت تيرې وې
څه ديو بل سره نښتې ، څه ورې ذرې ذرې وې
څه وې لنډې څه اوږدې وې ، دپښتون جنې پرې وې
دوپښتو لمحئ ئې نه وې څه برهمه پرېشانې وه
پښتانه وېښته ئې کړې وو ، خو په دوئ کښې ځان ځانې وه

داِحساس دسترګو نورو هغه حُسن بې ترتيبه
د فطرت ساده تصويرو ، بې نيازه له ترکيبه
جوړ شاهد دحقيقت وو ، بې دېباره بې رقيبه
بې شريکه بې حبيبه ، بې مثاله بې نصيبه
خدائے دحُسن خبر غوارې ، په جامه کښې ددروېش دے
که اِنسان وينې برعکسه ، دا دحُسن دخدائے وېش دے

ACKU

خو ظهور یې تل په غېر وي، څوک په حُسن لکه نمر دے
پرهو تل یې هم ختل دي، دا دي ستوري دا قمر دے
حقیقت کښې یې قیام دے که هر څو ښکاري بسفر دے
په خلوت کښې په جلوت کښې هم دننه هم بهر دے
چې پیاله ډکه او اخلي، دا یې حُسن د عطا دے
چې په تېښتو سترګو سوال کړي دا یې حُسن د ادا دے

سوال یې ژبې ته کړي هیڅ خو لمن یې حیا نیسي
لمتوي د سوال حرفونه، خو زبان یې خطا نیسي
احتیاج یې ذره دادِه کړي، کلک همت یې ملا نیسي
داسې ښکاري داده ماته، اوس پیاله ډکه نیسي
ښکاري نوې ګدا کړه چې له خېر غوښتو یې ننګ شي
چې داده او داسې وي نو دا قابل جوهر به زنګ شي

اعتدال د جُزوي چرته، چې مزاج د کُل خراب شي
ذره بې نوره د ذرې شي، په کسوف چې افتاب شي
چې فطرت د کوم یو تام طوفاني لکه دریاب شي
هر یو فرد یې وي تنهاکه، په سینه لکه جاب شي
کله وران وي کله ساز وي، د وختونو روانې کښې
تل چې د حوادثو یې ساقي په پرېشانې کښې

ACKU

یو مرکز د افغان نشئه خود نظام د ښځه ورک دے
د غلجي په دښمنۍ دے، که شنوارے که خټک دے
هسې د ننګه ځان ځاني ده چې هر کس په ځان کښې ورک دے
بیا خپل ځان هم ورته ګوره، له پردیه ځانه سپک دے
ښښتنه فقیره ماته، که خپل ځان وته یې سوال دے
خو خپل ځان د پاره شوم دے ګوره دغه د ځان حال دے

شوې طمع له مالنه، شول او دده بانه یې ښکته
جوړ فرعون مزاج یې ورکړه، محتاجی ته یوه لته
ذره زما یې قرار نه شو، د معصوم نظر له سته
څه پروا وه چې په خپله، زه فارغ وم له حاجته
ښکلے سرې لاړې په ښکته په ورو ورو په سینه پرېوت
ګویا خپل مایوس نظر یې، لاړ په خپلو پښو پرېوت

پښتور

اپریل ۱۹۴۵ء

# دسنه ۱۹۷۶ د روناچےنه

## ۸ محرم سنه ۱۳۹۶ھ

د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په اهلِ بېتو مېړنو مې سلام
په کربلا کښې د یثرب په مېلمنو مې سلام

امامه ستا په صبر و شکر و شجاعت مې درود
ستا د اصحابو د ایثار په ولولو مې سلام

چې سورې مشک یې ژړېده د سکینې په تنده
د علمدار په غوڅو لیچو مړوندو مې سلام

غشي خوړو ته منتظر چې به اصغر وی پکښې
په هغه ځائے هغې خېمې هغې زانګو مې سلام

چې کړو اُمت یې د بابا د ژړیا نه اوچت
د اکبر ځان هغه لهٔ اس په پرېوتو مې سلام

چې د قیامت دورځ سیلي هم ترې امان غواړي
غم د کبرې په هغو سترېو اسوېلو مې سلام

تا به داوې چې اوس د نمرنه دادي پرېوتلي
د کربلا په بوږنېدونکو پلوشو مې سلام

د لاسو پښو نه د عابدؒ چې یې شرف اوموندو
د عمر و سعد په څنځیر او زولنو ہې سلام

چې په نعره به یې اوبه شول دکوفیانو تریخي
د مرتضیٰؓ شیرخدا په امزرو ہې سلام

چې قربانیږ یې تربیت اوکړو د عقل اوخِرد
په کربلا کښې د اسلام په لیونو ہې سلام

حمزه دوانې فریادي چې وي د عرش په طرف
هغه په سرخاورې شپندونکو بربوکو ہې سلام

*
* * *
*

# صفائي

چې صفا د ګرد غبار څخه فضا وي
یو په دوه د خندنو ستورو برېښنا وي
هره ښغله پلوشه سر په خندا وي
د اوبو سره په شوخه مشغولا وي
د صفا اوبو په زړه کښې ګلزار جوړ شي
په روانه دوانه کښې بهار جوړ شي

ائینه د زړه اول صفا پکار ده
سړي توب لره دیاره د سنګار ده
د جنت غازه د مینې په رخسار ده
شیریني د مستو حورو د رخسار ده
لکه نور د جنتي زلمو د مخ وي
چې نصیب شي د هرچا د هغه سخ وي
د هرچا چې زړه صفا شي بصر صاف شي
د بصر د صفائۍ نه نظر صاف شي

د نیکۍ دنیا کړي مخ د بشر صاف شي
لکه تندر د تیږې نه قمر صاف شي

د هر چا ئې په دیدن شي سترګې یخې
چې پکښې د شرافت برېښېږي نخښې

صفائي ده چې فطرت کښې د انسان ده
صفائي چې په عادت کښې د حیوان ده

صفائي د فرښتو د خوئ نښان ده
صفائي چې روح روانه د جهان ده

صفائي د څیز په خپل حالت لرل دي
صفائي غنم ریبل غنم کرل دي

صفائي به دې د زړه رب ته قریب کا
صاف لباس به دې د ښو خلقو حبیب کا

صفائي به دې د زړه راحت نصیب کا
صاف لباس ، په امیرانو کښې غریب کا

وي ظاهر او هم باطن دې صفا دواړه
مسلمان ته ښه دې دین او دنیا دواړه

ښکلې ځائے په ناپاکۍ ښکاري ناپاکه
ناپاکۍ سړے بېزار کاندي له ژواکه

سبزه ګوره کړي د زمکې سینه چاکه
څه صفا تر و تازه اوچې له خاکه

ACKU

صفائي د هر مکان زيب وزينت ده
مکان څۀ چې دا مکان زيب وزينت ده

بيږه ځان ته ځائے صفا کړي چې څملي
ځان څټي پۀ خپله ژبه سپي ناولي

تا وَزر بۀ د مارغانو وي ليدلے
د مښوکو پۀ ګومنځو غوړېدلے

مرغه او خوري پېيشو پاک کړي خوله او نوکه
مردارخور کارغۀ هم اوڅنډي مښوکه

د کوم کور چې وي مېږن ښځه پوهړه
د کور لوښي لرګي خړ پۀ خپله خړه

د کوټې لارې جال جال او تور پۀ شخړه
د ځانو پړي ميله پۀ تاخ کښې ګوړه

زوئي ئې ناست پۀ خاورو خړو هې کوکارې
ابتـه پۀ خپلو بولو کښې نوکارې

لا بۀ سپږه لټوي او لا به وربده
پۀ خبرو ډېره ډېره پۀ کار لږه

وړي پۀ خپله ئې نمږي لۀ لاسه مړه
د خاوند پۀ لږ قصور شي جنګ ته جګه

پۀ څمڅئ ئې ميل او خيږي هر زمان وي
لس اتۀ بۀ پکښې نښتي مرۀ ځان وي

کهٔ عادت پهٔ صفایئ نهٔ ئ عادت شه
پاسه څو بهٔ لاندې لاندې ئ اوچت شه

راشه پوهٔ د صفایئ پهٔ برکت شه
پهٔ کور کلي، پهٔ وطن کښې په عزت شه

صفائئ بهٔ دې ژوندون کاندي کامیابه
ستوري او بریښي چې اوځي له سحابه

پېښور
سنهٔ ۱۹۴۵ء

*
* * *
*



ACKU

# کفایت شعاري

سبق ذده کړه د استاذ نه د فطرت
د عالم د نظام ژوند دے کفایت

کفایت کښې نۀ افراط او نۀ تفریط شته
پۀ اوسط کښې شته کمے نۀ زیادت

حرارت یٔ دے پۀ نمر کښې دومره اینجے
معتدل چې ډیخند کاندي شدّت

چې باران د حد نه زیات شي رحمت نۀ دے
پۀ یو تهکي کۀ رحمت وي شي زحمت

لا حاصله دولت سیند ته غورزول دي
دے اسراف د حد په هور ته سخاوت

پۀ خپل ځان کښې فکر اوکړه ځان خبر کړه
چې بهر له حده نۀ ځي طبیعت

کوم یو دین دے قبول شوے پۀ عالم کښې
چې د حد نه یٔ سوا وي ریاضت

یوه شمع ده دډوند په شبستان کښې
ترېنه تورې تیرې کښېني د غربت

هغه ګل به کاغذي د تمدن وي
چې پکښې دکفایت نهٔ وي نکهت

یو بناوُست دے دخوبرو یو ښې سنګاره
اسویلے د عاشقانو د حسرت

دحسد چینجي پکښې نهٔ پیدا کېږي
د زړهٔ ونه راوړي بار د قناعت

چې دغم قلم پرې چرې راکښه نهٔ شي
دے همه د خوشحالۍ نه عبارت

سندره اېږ دصریو قام پرې ګلستان شي
چې نغمې کړي دابلبل د تهنیت

دے غرض لهٔ یوې ژبې دوؤ غوږونو
وینا کمه ډېر پکار دے سماعت

کم خوراک، کمه وینا او کم خرخوبنه
پهٔ کښې شته، صحت، عزت او شرافت

لواړګے سنه ۱۹۷۹ء

*

* * *

*

# خودي

چې لګام د ضبط د نفس مې پسند شو
یو قدم د سخن ملک مې د سمند شو

سینه د طبعې مې صورت د طوفان جوړ کړه
کله کله چې په ډب د قبض بند شو

زمانې چې څو په ښکته غور زولم
تخیّل مې د پخوا نه لا بلند شو

حقائق زما په ذهن کښې مُسکي شول
چې ازاد مې د خواهش له قېده ژوند شو

امارت راته ښکاره شو بې نمکه
چې نعمت د مسکینۍ مې د خولې خوند شو

چې هوا د حکومت مې په زړهٔ نشته
بادشاهي شال هم زما په اُوږه کنډ شو

نزدیکت راته دولت چرې او نهٔ کړ
بل چې څوک راته نزدې شو دولتمند شو

په نظر مې دریا پروني سوزي
که اشنا نهٔ خیروم خوراځرګند شو

تصوّف راته تهذیب د نفس عطا کړ
که مې زهر چا ته ورکړ هغه قند شو

دا سې علم را عطا شو له علیمه
چې دا علم مې نظر وته سپند شو

چې نسیم د ملکوت دے پرې الوتے
هر یو ګل د تخیل مې سپرلے خند شو

چې رندانو اشنائي راسره اوکړه
اوس چې هره بې لوته وایمه پند شو

چې وختونه مې کړل ورک پخپله وخت شوم
بې نیان یم د هر څهٔ نه ورک ګزند شو

چې مې طبعه معتدل لکه اوبهٔ کړه
هر یو زخم مې پخپله جوړ پیوند شو

حوادثو مې سبیل کړې په د نفس کړه
راپیدا د علویاتو وند روند شو

د صافي قصور په قدر د تخلي
د ذرهٔ سترګو ته پهٔ مخه کښې الوند شو

ګوم یو خیال چې لکه طفل ما ته راغے
برخوردار مې د حکمت کړو ارجمند شو

تمنّا مې کهٔ بخلیٔ وه پهٔ همّت کښې
خوچې غم ئې پرورش اوکړو فرزند شو

جست اوخېژ بهٔ ئې د ذرې ورته رسيدګا
پړوکې پړوکې د نظر زما کمند شو

۲۰۵۰
د غنم پورې ميدان د سُخن جوړ دے
د حمزه د تخيّل ښکاره مروند شو

جمرود ۲ ر جنوري ۱۹۷۷ء.

★
★ ★ ★
★

# دحسینؓ قرباني

اوښکې کړې باروې طوفان د غم شو
شول تازه د زړهٔ زخمونه محرم شو
يو پهٔ دوه مې پهٔ دا غم د زړکي دم شو
لا سېوا مې لهٔ دې دمه د زړهٔ غم شو

ن بهٔ نهٔ کښې دا غم چې پرونے دے
ګویا هر پروسکال نې سګنے دے

زما ضبط او اسویلي مشت وګرېوان دي
اوس ترې دروي کهٔ زبېرګې مې پهٔ زړهٔ کړان دي
د زړهٔ څاڅکي د سلګوسره لړزان دي
سترګې دوې ته هغه سترګو ته چشمان دي

ابتدا د غم کومه نوے کال دے
پهٔ اول چې زړهٔ خفه شي بیا خوشحال دے



ACKU

څوک چې ډېر د امام غم کا ډېر خوشحال شي
د ایمان شجر په دې اوښکو نهال شي
د سرور لباس ګنډلے په ملال شي
نقصانونه پیوندونه د کمال شي
اوښکې چرته د مېن د زړهٔ په تل کښې
مینه نهٔ پرېږدي تراوهٔ په چل محل کښې

لوېے زنځیر د رسالت وته نظر کړه
سلسلې د هدایت وته نظر کړه
ولایت او امامت وته نظر کړه
د شروع نه نهایت وته نظر کړه
انبیاء خو همېشه د تخم کر کا
امامان یې بیا په وینو اوبهٔ خوړ کا

مکمل چې هدایت لره معیار شو
د عاقل فطرت نه خوب لاړو بیدار شو
د انسان د ارتقاء سرک تیار شو
د ملک نه د خاکي مخکښې رفتار شو
ورو ستو پاتې د صفاتو رنګینې شوې
چې حاصل د ذات له وصله شیرینې شوې

ACKU

چې اسلام له محمد ﷺ ده مکمل شو
خود پخپله په نبیانو کښې افضل شو
په اخر کښې د راغلے خو اول شو
اولین او اخرین چې دا د حل شو

خوله دې چې مستفید شې یو معیار دے
که پوهېږې درته وایمه ایثار دے

که نیکه په انبیاؤ کښې بهتر و
نو نمسے په امامانو کښې سرور و
که نیکه د نبوت د اسمان نمر و
نو نمسے په قربانئ کښې روڼ قمر و
که نیکه په نبوت کښې لاثاني و
نو نمسے په قربانئ کښې لافاني و

قرباني ئې هم بیا داسې قرباني وه
خود پخپله چې خپل ځان لره ثاني وه
لوږه تنده لاچاري وه پرېشاني وه
د نېزو غشو د تورو ارزاني وه
یو خوا بل خوا د بیبیانو اسویلي وو
څه سلګئ د ماشومانو څه زېرکي وو

څهٔ لهٔ اوره پاتې نهٔ شوې پهٔ خېمو کښې
دچاکوښې پاتې نهٔ شوې پهٔ پښو کښې
څهٔ پروني ئې تومبلي پهٔ نېزو کښې
څه اوچت دکربلا پهٔ برېوکو کښې

بې حجابه خاندان د محمد صلی الله علیه و آله وسلم شو
د جفا او د ستم د ظلم حد شو

پهٔ . . .[2] ــ ــ ــ ــ ــ ــ شو پرهرونه
پهٔ سلګو د اصغرؑ پلار ته نظرونه
د قاسمؑ د ادرک عمّي اوازونه
د عباسؑ پرې شوې سر او مروندونه

نور د دې نه هم زغملو ته تیار دے
خو بېعت دیو فاسق نهٔ ئې انکار دے

چې یواځې پاتې شوے پهٔ داحال کښې
فرق ئې نښته دے ذره پهٔ استقلال کښې
لا زیاتے ئې تنکسو اوکړو پهٔ کمال کښې
کړې جمال بهٔ شمعې بلې پهٔ جلال کښې

چې ښکاره ترې کله کله پرېشاني شي
غواړي داچې ئې کامله قربانی شي

---

[1] د ښځو یو قسم پېزار
[2] دکاغذ دشکستې لهٔ سببه ونهٔ لوستے شو.

د امام چې مکمل انسانیت وُ
یو عنصر په کښې غالب ملکیت وُ
حق يې ځکه وراثت د امامت وُ
چې هم دے قائم مقام د نبوت وُ
بل د چا به بې د دوئ نه دومره توان وُ
په گردن يې چاره تله او ثنا خوان وُ

چې يې نيت د تګ وُ کړے له يثربه
اصحابانو ورته وې عالي نسبه
ته چې درومې دا خبره ده عجبه
جوړ اجل دې اَس نيولے له جلبه
ته خبر يې؟ د يزيد چې څومره زور دے
ستا قدم د هلاکت د غار په لور دے

هم په دوئ کښې عبدالله ابن عمرؓ وُ
هم په کښې ابن عباسؓ نامور وُ
له راتلونکې واقعې هر يو خبر وُ
اوريدلے يې حديث د پيغمبر وُ
چې په برخه د حسينؓ کښې قرباني وه
ليک په څټ يې د تېغونو رواني وه

ACKU

لهٔ یمنه چې علي په کربلا شو
کربلا باندې چې داغه په ژړا شو
یو صاحب ترې په پرسان د مدعا شو
په غریب غریب کښې بو تراب ورته ګویا شو
چې دا ځائے بې د اولاد د شهادت دے
دلته هلته د فلانکي فلانکي تربت دے

تعجب دے لهٔ اصحابو به دا هېر ؤ
چې مدام به د نبي نه ګېرچاپېر ؤ
دا پاکان د خدائے په نوم لهٔ سره تېر ؤ
خو ښهٔ راز دو چې په دې کښې تروبېر ؤ
هغه دا چې شي ایثار په بې کسۍ کښې
نهٔ د زور په مساوات او په سیالۍ کښې

نهٔ شوې پاتې وسیلې نهٔ سببونه
د سالې د عراقیانو نه اسونه
څومره سخت د قربانۍ دي منزلونه
ملګرتیا چې په کښې نهٔ لاندې خپل پلونه
اسرې ټولې په دې لار کښې لکه ګرد شي
همدردي ئې خواخوږو آهِ سرد شي

چې تولے د دوی اویاو تې شهید کړ
اِسلام دوه اویا تولي یزید پلید کړ
یو تولے ې د سادا تو پرې مزید کړ
مسلمان ې تفرقې وته رسید کړ
اوس هغه په درې اویاو کښې ناجي دے
چې له صدقه حسنئي او حسینئي دے

په فلک د قربانۍ کښې منـوّر شو
متحد ې کړل بخرې جوړ ترې نمر شو
په ایثار کښې رهنما د هر بشر شو
د اُمّه نه ترد ې دمه سرور شو
که ې سیال د قربانۍ وي نبي کوم دے؟
که ې مثل د ایثار وي ولي کوم دے؟

ورسره چې هغه پاتې دوه اویا وو
خیال او نه کړې د اِمداد او د وفا وو
نو مثبت د قربانۍ د مدعا وو
لنډه داده چې د کل سره اجزا وو
که لازمه بې کسي ې وه جمال ته
نو قتال ې هم پکار وه خه جلال ته

مېړني پېغمبري زلمي اتلس

ننګيالي او هاشمي زلمي اتاس

کربلا کښې کوثري زلمي اتلس

لهٔ اسلامه قرباني زلمي اتلس

پهٔ محشر کښې پهٔ اتلس زړه قامه

وايه څوک بهٔ يې شي سيال لهٔ خاص وعامه

# په خوب کښې

ما وې چې بيوړ اوده قوم به زمانه څخه وېښ شي
معلومه شوه ما غږ کړو خوبولو ته په خوب کښې

نوحه د مفلسۍ ده چې مې اوښکې ساتي ويښې
بيوړ نه شومه په عمر هم بدلو ته په خوب کښې

غفلت ئې داسې يار دے چې ئې ستائي په رښته
اشنا ته لکه څوک ورشي کنځلو ته په خوب کښې

ماشوم د اېشيا به د يورپ نه څه ازاد شي
ورکړې ئې ګوډۍ ده لوبولو ته په خوب کښې

چې ټوله ورځ مې ستا په غم کښې د ننې شي ژړلي
بېدار ډم مرغلرې تويولو ته په خوب کښې

*
* * *
*

# دجرود پهٔ دشت کښې

دجرود پهٔ دشت کښې ناست یم، دخېبر درېٔ ته ګورم

شرابي وریځې کرځي، دسپېلي نماز دیګر دے

ډوبه ساه دپلوشو ده چې تېرو ورے بره دے

پښه نیولے ګرد پهٔ غرونو، څهٔ راخور تر نرے دے

دهوا پهٔ اوږه باندې، خوشبوئي لکه ورے دے

دے ښکالو ته اچولے، خاموشیو تېر سرے دے

چې کوم موج دهوا راشي، زخمي زړهٔ لره کورے دے

دجرود پهٔ دشت کښې ناست یم دخېبر درېٔ ته ګورم

دشنکي ښکر راوتے، دي تېغونه ئې ویستلي

یا دتېرو فاتحانو ارمانونه لړزېدلي

دعدم لهٔ اوږده خوبه ترهېدلي بوګنېدلي

د دختونو پهٔ ګوډونو درزېدلي تکېدلي

ژړېدلي غندېدلي، لکه شمع بلېدلي

دلوګي غوندې لهٔ بزمه، دفاني دنیا وتلي

دجرود پهٔ دشت کښې ناست یم، دخېبر درې ته ګورم

خر خوړے دے کبرجاپېره ، کنډې کنډې ويرانۍ دي
دلته شنې د بناغليو ارمان جنې افسانې دي
سرکوډانې په فضا کښې د شاهانو مېخانې دي
په دې ځائے د اسمان جاهو پاتې شوې پېمانې دي
دا کوکېنې دي که دا ، دکوم فاتح د زړه دانې دي
دامرغان د هغو شمعو ، دا ايرونه پروانې دي
د جمرود په دشت کښې ناست يم د خيبر درې ته گورم

دومره ډېره خاموشي ده چې په تول راغه ده لومه
چرته ځون چې مرغے وکړي اندازه ئې شي معلومه
گويا دا زما حواس شوه ، خارج شوې له مفهومه
هيڅ ئې علم راته نشته دا په دې چې شوه معلومه
په زانگو ددې فضا کښې په خوبږ خوب اوده ماشومه
نه خبره د خپل کار نه اګاه له خپله نومه
د جمرود په دشت کښې ناست يم وخيبر درې ته گورم

لکے سر[1] را اوچت کړے لا تر اوسه تماشه کا
دلته سکهوله اکبر[2] خانه ، په يرغل راغله دغاکا

---

[1] د دره خيبر يرغو چې د درې قطب ته راتښ دے .
[2] دامير دوست محمد خان زوے چې په جمرود ئې سيکهانو له شکست ورکړے وو .

د خیبر په دروازه کښې، د ښغو نو مشغولا کا
گویا تندر د اجل دے، کومه توره چې برېښنا کا
دا شمشیر د اکبرخان دے چې شته سره به وارخطا کا
دا تکبیر د پښتنو دے چې د سکه خودي هوا کا

د جمرود په دشت کښې ناست یم، د خیبر درې ته گورم

یو نظر په هندوستان او بل نظر ئې په ساغر دے
چې په خوړ دے هم بې خوده، دغه ویښ او ده بابر دے
اسیني ورته څه اووې ترې په ډډه سکندر دے
په کښې عکس د جهان گوري، په خبر کښې بې خبر دے
دا محمود غزنوي دے چې غازي او دلاور دے
دا سرے د احمدشاه دے، د پښتون د افق نمر دے

د جمرود په دشت کښې ناست یم، د خیبر درې ته گورم

هم پښتون دې پرې قابض وي دا مرید د هندوستان ده
دا عزت د پښتنو دے، دغه پوزه د افغان ده
کڼه ئې سپر هره غونډه ده، هره څوکه ئې سنان ده
هر یو بوټے ئې علم دے، هره کمره ئې پاسبان ده
هر یو اړخ ئې سنگر دے، هره ژړه ئې بس کمان ده
هر شیر غنے ئې دے غشے، دره څه ده چې طوفان ده
د جمرود په دشت کښې ناست یم، د خیبر درې ته گورم



ACKU

کهٔ مرۍ د هندوستان دهٔ د افغان داوښ مهار دے

پهٔ ورمېږ د هندوستان کښې هم دغه د شه رګ تار دے

د هر چا پهٔ لاس چې کیو زې د کاروان هغه سالار دے

چا چې سرو رباندې داؤ کړ، هغه سر هغه سردار دے

چې فرنګ پرې قبضه اوکړه ګل افغان ځنې په دار دے

چې ئې دا ورته مورچه کړه افغان څل کور کښې حصار دے

د جمرود پهٔ دشت کښې ناست یم د خېبر درې ته ګورم

جمرود

سنه ۱۹۲۵ء

*

* * *

*



ACKU

# يوه زانې

يو سحر مې سترګې ړنګې وې له خوبه
شوق مې رابښکودو مهار د زړه صحرا ته

نسيم لمسه په طرف د چمن راکړه
پرېشانه زړه وېل چې څه به پېدا ته

د مے چې دير کړي د څوانۍ سندرۍ نه دي
غوږ دې مه ږده د بلبل سوې نوا ته

دا ګلونه دي زړه چاودي کړېوان څيرې
د خندا ګمان يې مه کوه خندا ته

دا سبا ده په کوم بوې پسې پرېشانه
دا خوشبوې هم اِنتظار کوي سبا ته

بوې د ګل، د ګل له زړه وتلے راز دے
چې نسيم يې د سوي تولې دُنيا ته

دا وطن دے د زړه چاودو پرېشانو
دلته شور وي د قيامت وهرې خوا ته



AGKU

هوښیار دلته په پرده او سېد نه شي
نه د ذرې پرده ښودې شي وصرحاته

په صحرا کښې کنګوسه د اطمینان وي
دروازه د الهام ښېرته وي چپیا ته

اراده د شوق او شوق د زړه په لاس کښې
زړه د زړه په لاس کښې لاړمه صحراته

خیال مې سترګې د ګلونو په شان دکړې
مرغیزنه څوانۍ جوړه شوه خنداته

صحرا څه وه؟ جوړ د خیال بشکلي جنت و
بېديا څه وه؟ ګویا راغلمه ماوٰی ته

نه وم اوس په ابادۍ کښې چې کوم زه وم
هغه زه وم چې زه هم و حیران ماته

یو ناڅاپه مې قدم په یو څېز پرېوت
چې د درد چغه ئې پورته شوه سماته

په هیبت له دې رنګین خوبه راویښ شوم
یوه زانې خوله پرانستې واوېلا ته

ما ویل چې دفعتا د سینه مانګیه
د صمت وسله دې کښېښوده لوړتیا ته؟

د کابل نه تر اجمیره په یو ساه تلې
ناتوانه دې لوېې واچولې ساه ته

مخ ئې اوواهه پهٔ پرو دائې اووې
اتفاق د قام یې اوغورزاوه شاته

لار ئې ورکه کړه د سیل نه چې جُدا شوم
غوږ ئې نهٔ کړو نصیحت د رهنما ته

پهٔ الوت ئې ماته حوصله شوه
خو د سرې یم رسوائې دې بلاته

چې د پړو نه یو بیل شي هغه ورک شي
څوک چې ورک شي هغه مړ شي وهر چاته

چې ما شوم د زړهٔ ئې زانې ته غوږ کېښود
ځنډ ئې پرېښود شو خبر خپلې خطاته

اطمینان غوښتل د بیل د کمزورې دے
تکلیفونه راحتونه دي دانا ته

زهٔ له زانې ئې خبر زړګې راستون کړم
وې چې غوارې کهٔ عقبا راشه دنیا ته

*
* * *
*

# شپون او شپیلۍ

دا نظم ما پیکلے خو په سنه ۱۹۲۲ کښې وُو. خو په اګست سنه ۱۹۲۸ء کښې مې د کابل ریډیو نه هم نشر کړے وو. په دې کال مونږ اته کسان د افغانستان د ادیبانو په دعوت د جشن اِستقلال په موقع کابل ته تلي وُو او پښتو رسم الخط په شاؤ خوا کښې مو خبرې اترې کړې وې. (حمزه)

څوانه ورځ د اوړي تکنده غرمې کړه
شوې خوله ئې ستړې تماشا ته

سوے رنګ د پیلوشو په چل اورکښې
د شبنم لوګي ختلي وو سما ته

د فلک وو په هر چا نظر د مهر
د غره سورې هم ورتلے نه شو صحرا ته

د انسان سورې فنا شو په انسان کښې
لاړې بېرته جوړې ټېږ ې ځېلې دُنیا ته

ACKU

تور ګلونه شول په فرش د دنو سوري
چې تلې نه شول د ښاپه نه خواوشا ته

تاؤ د شپون د ذرې څه سوړ په اوبو نه شو
د بتک خندا يې تنده نه کړه ما ته

يو تربله وهي سر دونو ښياڼې
د سپرلي ښېره کوي ګرمي هوا ته

ګډې بزې دونو سيورو وته لاړې
څه په تړه تړه راغلې د شپون خوا ته

د چنار ونه سوالونه کړي د ژمي
سل لاسونه يې راويستي دي دعا ته

شپون له ډېرې ګرمۍ اونيو يخنۍ
تاؤ د ذرې يې ستړې جوړې کړې ژړا ته

چې تنګسه په طبيعت اوکاندي پېښه
ضروري مدافعت شي وهرچا ته

د حواسو ټول لښکر را اولړزېږي
شي راغونډ د ارادې کلکې قلا ته

په قوت که په هڅه که په هرڅه وي
مقابل شي طبيعت هرې بلا ته

پام د شپون چې د ګرمۍ نه غلط نه شو
طبيعت يې تکل وکړو مشغولا ته



ACKU

## (۲)

نور تړې واړه رو ګودر وو خطا شوے
خو د بډې نه شپېلۍ ئې رابهر کړه

د غرمې فضا همه شوه سنډره ایزه
شپېلۍ جوړه هنګامه د نماز دیګر کړه

غُرونو شپُون لره داد ورکړو لهٔ ارخیو
شپُون چې دوئ ته د چپیا شاباشي ورکړه

شپُون لهٔ چېلي نغمې سینه پهٔ مخه واخست
موج د شوق پهٔ محویت کښې غوټه ورکړه

همکلام وو د شپېلۍ سره پهٔ زړهٔ کښې
چې هغې ورته خبره د حسن کړه

وې چې اے د مصائبو نه داړنه
د داړن د ناکامۍ نه ځان خبر کړه

سنډر غاړے کړمه ز غم د مصائبو
زما دد اوسوري تن ته خو نظر کړه

خو د شوې پاتې د کړمۍ لهٔ معرفته
مشغولا دې چې دې توري ته سپر کړه

کړمې اوپېښ نه پسته کړمې نښته
دروازه د عنصر بېرته پهٔ عنصر کړه



ACKU

اِعتدال د شخصیت د کالبُوت رُوح دے
کهٔ هوښیار دې ځځو کرمو ته تن ورکړه

حوادث لکه زردارهٔ مسافر دے
بې لهٔ تا ئې کودر نشته ځان خبر کړه

لهٔ هر رنګه حوادث چې راشي تېر شي
بېرته بیا د سرې توب دکوتې ورکړه

واردات کړه همه ځائے پهٔ ځپل کالبُوت کښې
د هستئ قطره پهٔ رنګ د سمندر کړه

تهٔ هم تهٔ اوسه هر څیز پهٔ ځان کښې ځان کړه
چې پهٔ تا کښې نهٔ شي ورک هغه بهر کړه

ستا غذا لره پېدا دي چې اشیاء دي
شي بهٔ مور خو طبیعت ورته نهر کړه

لهٔ اِحساسه کړه صفت د تېښتې لرې
همېشه لهٔ سیمابي خویه خطر کړه

پهٔ دې دې اور دې کهٔ سیماب د اِحساس اوددېد
د هستۍ دا مسین لوښي واخله زر کړه

★

★ ★ ★

★

# هُنر ډې څهٔ دے

چې پهٔ خدمت کښې ډې د قام لاړ نهٔ شي سر ډې څهٔ دے
چې د مسکین یتیم پکار نهٔ شي نو زر ډې څهٔ دے
رګ د باطل چې نهٔ کړي غوڅ وایه نشتر ډې څهٔ دے
چې پرې صیقل د صداقت نهٔ وي خنجر ډې څهٔ دے
زراعت کهٔ کړے د نیکئ ډې وي ثمر ډې څهٔ دے
چې د سیالئ لاڼې کوې وایه هُـنر ډې څهٔ دے

کوې روزګار د بې کارئ او دولتونه غوارې
پهٔ ویښه تهٔ د خوب لیدلي عشرتُونه غوارې
د ترقئ پهٔ شان د نورو معراجُونه غوارې
سیالي د اَس کوې چندخ هسې نعلُونه غوارې
غوارې دارو وایه حالت چې د پرهر ډې څهٔ دے
چې د سیالئ لاڼې کوې وایه هُنر ډې څهٔ دے

لکه د نورو ته هم خدائے په بنه فطرت کړي پيدا
لکه ثمر يې ډک د خوند او لذت کړي پيدا
قصور د چا ؟ د خپل کمال چې نهايت کړي پيدا
دا کمزوري ده چې موقع د شکايت کړي پيدا
وکړه پرې غور دې کښې تقصير د مقدر دې څه دے
چې د سيالئ لائق کوي وايه هنر دې څه دے

تياره د جهل کښې د علم چې رڼا غواړې ته
د غريبئ د توري شپې سحر سبا غواړې ته
نظر دې کم مطالعه کښې مدعا غواړې ته
عينک دې نشته خو د خپل خواهش رضا غواړې ته
ستوري ليدل غواړې په ورځ وايه نظر دې څه دے
چې د سيالئ لائق کوي وايه هنر دې څه دے

منم چې اور دې د غيرت پوره يخ شوے نه دے
منم چې حال دې د ذلت چې لاخوښ شوے نه دے
عزت دې مړ دے خو په قبر کښې ښخ شوے نه دے
وائې چې ژوند مې لا اعراف دے دوزخ شوے نه دے
دا سې حالت ته چې اعراف وائې سقر دې څه دے
چې د سيالئ لائق کوي وايه هنر دې څه دے

خزان چې تېر شي په ګلشن باندې بهار راځي بيا
مارغان ګلونو ته په جوش او په چغار راځي بيا
ستا په خزان باندې خزان ولې بار بار راځي بيا
ستا په خمار د غريبۍ ولې خمار راځي بيا
اوو ايه ته که ناسوتي نه يې عنصر دې څه دے
چې د سيالۍ لائق کوې وايه هنر دې څه دے

تل د وجود په ابتدا کښې انتها وي پته
هره ذره چې وي آخر کښې يې خندا وي پته
لکه ګنبد کښې د صدا نه پس صدا وي پته
پښتونه ستا په انتها کښې ابتدا وي پته
کوې ګردش معلومه نه شوه چې محور دې څه دے
چې د سيالۍ لائق کوې وايه هنر دې څه دے

ګوم حيثيت دے پښتنو سره چې ځان سموې
لکه ماشوم ځان په خندا او په ژړا لوبوې
ترياق د علم ته په سم د جهالت بدلوې
هسې په ګړه ګړه د بلو سره خوله خوږوې
تاکه دنيا د ته ښودلے وي هنر دې څه دے
چې د سيالۍ لائق کوې وايه هنر دې څه دے

هوښیار چې سیند کښې د ذلت پرېوځي گوهر لټوي
د بصیرت پیاله په لاس شګه کښې زر لټـوي
مخکښې توښه پوهه سري دخپل سفر لټوي
ناپوهه راځي شي د بساط وـنه بستر لټوي

پښتـُونه وایه توښه ستا کومه سفر دې څـهٔ دے
چې د سیالۍ لاف کوې وایه هُـنر دې څـهٔ دے

هغه حسرت یُ چې رهین د ناکامۍ نهٔ یُ تـهٔ
هغه شُهرت یُ چې پیدا په بدنامۍ نهٔ یُ تـهٔ
هغه دیوال یُ مُنهدم چې لهٔ خامۍ نه یُ تـهٔ
هغه محکُوم یُ اموُخته په سلامۍ نهٔ یُ تـهٔ
پوهه په تا نهٔ شوه مزه چې لوږ ژور دې څهٔ دے
چې د سیالۍ لاف کوې وایه هُـنر دې څـهٔ دے

مشاعره پېښور دېرپوښتلۍ ۱۹۳۸ء

*

* * *

*

# سندره ایز پسرلے

شوې بې کوره خوشبویۍ سبا راغله لهٔ ګلشن
پهٔ پنځو کښې د وحشت، شوه زما د هوش لمن

ګلان سترګې سترګې دي سنبل درګې درګې دي
پهٔ خندا شو بیابان، سپرلي څېرې کړو ګرېوان

د وریځو شو لښکر پهٔ فضا کښې د اسمان
تندر او ویستو شمشیر بمباري شوه پهٔ خزان

کهٔ سترګک وهي فطرت بخۍ شلېږي د حسرت
وار پهٔ وار کېږي باران سپرلے څېرې کړو ګرېوان

هر یو څاڅکے د باران ګویا تار شو د نغمې
شوې وریځې شرابي زړهٔ سرشار شو د نغمې

د فضا سینه رباب، نسیم واخستو مضراب
سندره ایز شو ګلستان، سپرلي څېرې کړو ګرېوان

پېغلې وني د دُنیا سنګارېږي پهٔ سیالۍ
د پرېوتي پېچ وتاب کړل ګُلان ورته والۍ

بس پهٔ پورته دے روان، هر یو شے دے خرامان
دے دماغ ئې پهٔ اسمان، سپرلي څېرې کړو ګرېوان



ACKU

په فردوس کښې د خیال، سپرلي اوکړې دروازې
د مستو راغله غلمان ، د توبو کړې جنازې
د ساغر په میو ګل کړې مېنا ورسې قُـل
نُقل نُقل په دهان، سپرلي خیرې کړو ګرېوان

اهینګې د مې دیو رِند که سپرلې لوني شبنم
هر یو څاڅکې په شینکي ، ائینه ښکاري دَوَرَم
د نمر یخې پلوشې ، دي حیرت لړه لښتې
زړونه زړونه دي لړزان سپرلي خیرې کړو ګرېوان

د سپرلي لمده فضا ، ائینه د رنګینی
رنګ د ګل کړې په حیرت، پلوشې وې لیونی
پورته لاړ د لاندې رنګ، کوز شو کوز د بالا رنګ
د رنګ الوځي مرغان، سپرلي خیرې کړو ګرېوان

کړې بورا د ګل تکل، ځم به ځم به ځم به ځم
عندلیب اووې زړهٔ چاق چاق چرته چرته ځم
چرګ اووې ګلو ګلو، کوبکو بکو بکو
ګل سحر شو ګل اذان، سپرلي خیرې کړو ګرېوان

یم د ګل په تماشه، ګل د ګل په تماشه
نرګسي لېمهٔ په ترخ ، د بلبل په تماشه
تماشه کړې تماشه، تماشه وړې تماشه
نهٔ حېرشته نهٔ حیران، سپرلي خیرې کړو ګرېوان



ACKU

پهٔ غر ګُل پهٔ کمر ګُل پهٔ سر ګُل پهٔ تهتس ګُل
پهٔ لر ګُل دے پهٔ بر ګُل، بصر ګُل پهٔ شجر ګُل

ځانګه ځانګه ګُل پهٔ لاس خوانګه ګُل پهٔ لاس
شفق فق د ګُل پښان، سپرلي خیرې کړو کړوان

غازه ګُل، انګي ګُل، ګُل ګُل دپا سه ګُل
ګُل د پیان، پهٔ شونډو ګُل، ګُل حنا، له لاسه ګُل

ګُل شو ګُل شو هر څهٔ ګُل، پهٔ زړهٔ ګُل پهٔ لېمهٔ ګُل
ګُل بدن شو ګُل رخان، سپرلي خیرې کړو کړوان

بلبلان کوي انګے، ګُله وایه مل دې څوک
پېت پتهانهې د بورا، چې رېحانه غل دې څوک

چرته غل د مل پښان، چرته مل د غل پهٔ شان
مل د غل کړي امتحان، سپرلي خیرې کړو کړوان

غروتو د ځوانېر، ارمانو نه کړهٔ تازه
چې بناتسو لهٔ ستمدشنهٔ خاتونه کړهٔ تازه

اُمېدونه شو ګُل پوش، اسویلي نکهت فروش
خندهٔ ځے شو ګریان، سپرلي خیرې کړو کړوان

چرته پروت وي ګُل پهٔ ګُل، چرته ګُل پهٔ ګُل ولاړ
چرته ګُل پهٔ سر د جل، چرته ګُل پهٔ پالتار

لاس پهٔ ګُل نظر پهٔ ګُل خوله پهٔ ګُل نظر پهٔ ګُل
ستايي ګُل سخنوران، سپرلي خیرې کړو کړوان

ګل د پېغلې پلوشې د شبنم په ګل کښې ګل
ګل په مخ سپند ورې خال ښکارې سم په ګل کښې ګل

الوتونکې د غه ګل ، رژيد ونکې هغه ګل
ګل فنا بوې ٔ پرېشان ، سپرلي خيرې کړو ګرېوان

د ګلرخ دسترګو ګل ، دک له رازه ذرّه کا شـــين
ګل د عقل شي پرېشان ، نه شي بوې په تور او سپين

ژړېدل ٔ په خندا ، غوړېدل ٔ پـه خندا
که رژېږي وي خندان ، سپرلي خيرې کړو ګرېوان

نمر د مخ دے بې حجاب ، ذېړ شو ذيــړ زما بشر
ګورې تا وته حمزه ، لکه نمر ته ګل د نمر

لړې ذره ٔ داغ پـه داغ ، که ګل ګل دے لکه باغ
ستا د مينې چراغان ، سپرلي خيرې کــړو ګرېوان

د پېښبور بهاريه مشاعره

سنه ۱۹۴۲ ع

★

★ ★ ★

★



ACKU

# پېچ او چوارې

## چوارې

---

پهٔ خدمت د بندګانو کښې راست نهٔ يې
راشه راشه دغه خوئې بدل کړه نور شه

تل پهٔ خوړ ئې تل نهړې اې حريصه
تور کړې غم د ځان زما پښانی تور شه

د ارمان منګلي تل تر ستا مروړې
د راحت رڼا د ستا دپاره اُور شه

زهٔ ګنديګې د خلقو پاکه کړم اُود هٔ شم
درته چا هسې ويل چې ګنده خور شه

لړې کور کهٔ ده موچېه لهٔ نهړو ډکه
حرص تا ته اژدها کړې ورک دې کور شه

پهٔ هر ځين کښې خواړهٔ کړې مرضونه
ستا لهٔ لاسه خلق شور کا ورک دې شور شه

کور دې نشته خو چې چرته کښېنې اوچ شې
نهٔ دې کور شته نهٔ دې ګور شته ورک دې لور شه

# چ

---

زېړې سترګې توره ډبه چواړيه
په خپل زړۀ کښې شرمنده له خپل پېغور شه

زۀ چې تل درته په خور ښکارم خبر ئې
راشه توره څۀ خبر په سپين او تور شه

زۀ ګندکي پورته کوم له هره ځايه
ے بايد چې ته زما پشانې چور شه

مرضُونه خورُوم که ورکه وُم ئُې ؟
اے ناپوهه دواړه سترګې دې په ګور شه

کور زما دپاره ګور دے بې خبره
کارنده چې کور لري هغه نسکور شه

په کوُم ځائے چې خدمت ختم کړمه اُوچ شم
شي سرسبز به خوماځل زما په لور شه

دګندګي صفا کول څۀ خدمت نۀ دے
که خدمت کوې راځه ددې نه نور شه

حقيقت د صفايي که غواړې دا دے
ګند صفا څۀ کمال نۀ دے ګنده خور شه

* * *

۲۴۱۲

# تیلے

تعلق د حقیقت او مجاز څهٔ دے
دین دنیا چې سره یو شول ودان کور شو
عشق او عقل یو تر بل غوټه پلو شول
پهٔ معنیٰ کښې اخرت د دنیا ورور شو
یو د بل پهٔ پښو سر او مښود رښا شوه
سرکوزي چې تیلي او کړه پیدا اور شو
لرګے بې لهٔ اُوره ، اور بې لوګي چرته
چې دوه لاسه یو شو، تږق د عمل خور شو
جُدائي او ځان ځاني څهٔ وه، خواري وه
چې خوارهٔ خوارهٔ را یو شو پیدا زور شو

عشق او عقل چې یو ځائے نهٔ وي تیارهٔ ده
چې د اور لمبه شوه خلاصه تیلے تور شو

*
* * *
*

# جنګي پسرلي

زور د بهار راغې دېغنې لښکرې ماتې شـــوې
څاڅکي څاڅکي وینې په صورت دګل کښې پاتې شوې
مات غرور د غرونو شو په سمه یې نڼواتې شوې
لارې ترې د واورو لوپټې غونډې میراتې شـوې

غونډه شوه سبزه د پولو ختلو اړخو څنګ لـــره
اوویسته تېغونه بوټو هم د بقا جنګ لره

توره په شوخۍ کښې شوه نظر ته د سوسن ژبه
داغ د رېدي ګلې هر مېین ته د خوږلن ژبه
ستر ګه د نرګس شوه بې دیدن ته د لېچین ژبه
ډوک کړه د اغزي د بلبلانو د اسکن ژبه

تاد په تار ګلونه د مېنو کو په بیاتي شولو
نشته بدرګه چې رهزنان هم په زیاتي شولو



ACKU

تندر لکه توپه پهٔ دنیا ګوله باري کوي
ابر شو ښنکر د سپرلي باد يې سالاري کوي
لار د پلوشو د غشو نشته کهٔ خواري کوي
څوکهٔ دوئي د خوارې مورچې د مزکې ياري کوي
لاړه يې کړه پرې لکه څوابېچې جرمن کړله
داسې ده حمله لکه سدا بهٔ چې جرمن کړله

راغله پهٔ ګلشن د بوراګانو جهازونه دي
پټ شو ننګهتونه د خطرې الارمونه دي
شنځرې د سحر دي کهٔ خوارهٔ وارهٔ کېسونه دي
وچ د چنار ډانډي اسمان خولي ټوپکونه دي
واچوه (ډينګري) د ګېس دوېرې نه نقاب پهٔ مخ
جوړ د آدم مګر شو د هېبته نه اعراب پهٔ مخ

ماته يې مورچه د وچتوبې پهٔ بارانونو کړه
ډاګ يې د خزان قلا د څاڅکو پهٔ بمونو کړه
خولهٔ د خشکۍ ماته سېلابونو پهٔ ټېنکونو کړه
څوکهٔ ځان ساتنه يې پهٔ سپر د حبابونو کړه
داسې خزان لاړ د اوچو پاڼو بوټو شور سره
څنګه چې جرمن پهٔ شا کړو روس د پياده سپو ر سره

ACKU

زیږ مخونه راغله ډېر ګلونه د زعفران په شان
ګویا دي پرېشان له مکافاته د جاپان په شان
څوک خپلي مستۍ پاره پاره کړه د ګرېوان په شان
داړې پرېشاني ګڼه که بشکاري د خندان په شان
اوس که هر څو خوله راټولوي راټولېدے نه شي
ذره چي شي ترحده پرېشان جمع کېدے نه شي

نه تبنتي خزان پرې ډېر دباو چي دبهار نه وي
لاس نه څي شرابو لره زور چي دخمار نه وي
نشته ودانۍ چي په دنیا جنګ او پېکار نه وي
خاوري چي دانه نه شي حاصل تربنه خروار نه وي
بد چي د نېکۍ سره تر کومه مقابل نه شي
هېڅ نه شي معیار د نېک عمل به هم کامل نه شي

PROPERTY OF ACKU 12473

اوچي پاڼي توی شي په ونو کښي تازه راشي
اوچ ګلونه څي دخزان کور ته سبزه راشي
ډېر چي شي کلان د ارزانۍ اوازه راشي
پس له سېرلي هر یو شي پخپله اندازه راشي
دغه شاني جنګ دے چي ترې پسته ارزاني راځي
هلته کراني څه کاندي کوم ځاے چي قرباني راځي

* * *